
Afghan Salar Library

# اهار

وایه تا چي بریالی وژلی نه دی
دا په غیږ کي دي پرېکړی سر د چادی؟



مولانا عبدالغفار بریالی

Downloaded By: Afghan Salar Library

بسم الله الرحمن الرحیم

اَحْمَدُاللّٰهَ حَقَّ حَمْدِهٖ.

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ وَاٰلِهٖ وَبَارِکْ وَسَلِّمْ ط

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

# اهار

## د اروابناد مولانا عبدالغفار "بريالي"
## د اشعارو ټولګه

سريزه

د محمد ناصر " نصرت" نيازي

۱۳۸۲ لمريز کال

مكتبه قاسميه

كاسي روډ كوټه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

# د خپرووڼکي يادښت

د خوښۍ ځای دی چې په دې وروستيو کې د نورو کتابونو تر څنګ د هېواد د نامتو او پیاوړي شاعر ارواښاد عبدالغفار بريالي د کلیات د خپراوي ویاړ زموږ په برخه شو. که څه هم دا کتاب څه موده له مخه په ۱۳۷۷لمريز کال په کندهار کې د طالبانو د حکومت لخوا کمپوز او چاپ شوی و. خو دا چې هغه وخت په کمپیوټري اسانتیاوو کې لا پښتو دومره ځای نه و موندلی او یا خو دوی ته نه و رسېدلی. نو دوی مجبور وو چې په عربي لیکنو یې ولیکي او د پښتو هغه توري (حروف) چې په عربي ژبه کې نشته په لاس ورکړي، خو که څوک د عربي او پښتو توري سره پرتله کړي نو په پښتو کې ډېر داسي توري شته چې هغه نه په فارسي او نه هم په نورو ژبو کي شته خو البته په فارسي او اردو کې د عربي په پرتله د پښتو لږ داسي توري دي چي هغه نشته. له همدې کبله په کتاب کې د تېروتنو ترڅنګ د کتاب ترتیب،اوډل او کچه هم سمه نه ود.

څکه نو موږ ددې کلیات و یو ځلي بیا کمپوز. له سره ترتیب او چاپ ته متي رابډ وهلې. په ډېره هڅه او هاند سره مو دا کار په مخه بوتی او تر ډېره حده په خپله موخه کي بريالي شو. خو البته بیا هم لکه چي وايي " انسان له غلطیو خالي نه دی" که چیرې بیا هم کومه تېروتنه راڅخه شوې وي هیله ده و مو بخښئ او عفوه راته وکړئ.

بايد يادونه وکړم چي ددې کتاب په ترتیب کي ښاغلي عبدالرؤف حقیار صاحب ډېره مرسته کړې چي اداره مننه ترې کوي. خو نوموړی یود خبره کوي چي په دې کتاب کي د واو ته خانګړې پاملرنه نه ده شوې، چي اصلاح یې دی د اوس مهال لپاره د وخت د کمي له کبله د خپل خان له اړخه ګرانه بولي. او زیاتوي چي په بل ځل چاپ کي بايد اصلاح شي، هغه په دې معنی چي د مفرد لپاره باید هغه واو چي پر سر یې همزه وي ولیکل شي لکه (ؤ) او د جمعي لپاره باید دوه واوونه څنګ پر څنګ ولیکل شي او همدارنګه ښاغلی عبدالنافع افغانزی چي ددې کتاب په کمپوز او ډیزاین کي یې بې دریغه زیار ګاللی. اداره د زړه له کومي مننه ترې کوي.

په درنښت "اداره"

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


ددې کتاب دچاپولو هر ډول حقوق زموږ سره محفوظ او خوندي دي .

# ددې ټولګې پېژندنه:


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | اهار |
| شاعر | :: | اروانباد مولانا عبدالغفار "بريالی" |
| سريزه | :: | محمدناصر "نصرت" نيازی |
| لومړی خل چاپ | :: | ۱۳۷۷لمريز کال د کندهار د اطلاعاتو او کلتور رياست |
| دوهم خل چاپ | :: | ۱۳۸۲لمريز کال |
| د چاپ شمېر | :: | يوزر (۱۰۰۰) ټوکه |
| کمپوز، ډيزاين | :: | د هيواد کمپيوټر اداره |
| کمپوټري چارې | :: | عبدالنافع افغانزی |
| خپروونکی | :: | مکتبه قاسميه کاسي روډ کوټه |
| د چاپ ځای | . | لاهور |
| بيه | . | (    ) |


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



اروانښاد مولانا عبدالغفار بریالی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

چه په سمندر سپری سرشته د تیوزنه کی
دا تماخیر دی د ساقی په پیمانه کی

ټول لکه گل ئی پټ کړی دی دیوانو
مناسب وی سرکښان په زولانه کی

لنډی زلفی تور شپی مخ یې بهار دی
شپی وی نیمی د بهار په زمانه کی

چه قسمت ئی د شرابو وی کم سوی
بربخش ورته ای خوب په میخانه کی

حبشی زلفی یې شیول پر لا پوښنه و
افعی مار وهی کلچه په خزانه کی

ښاپیریو بازار په پښو وی لږ شرمه
چه شروع کی گل سنگار په پیښ خانه کی

بریالیه په هجران کی وصل غواړه
پیدا کیږی مدام گنج په ویرانه کی

د ارواښاد مولانا عبدالغفار (بريالي) پخپل لاس ليکلی شعر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

# فهرست


| شمېره | سرليک | مخ |
|---|---|---|
| | **لومړۍ برخه** | |
| ۱. | سريزه د محمد ناصر"نصرت" نيازي... | ۱۵ |
| ۲. | د شهيدمولانا بريالي صاحب په ياد د ابوالمغفور مولوي عبدالحکيم نظم... | ۲۷ |
| ۳. | ولاړ | ۲۸ |
| ۴. | ابوالفيض | ۳۰ |
| ۵. | تفصيلي حالات | ۳۲ |
| ٦. | د ميوند افتخار | ۴۱ |
| ۷. | بنيادي خاطرې (متوکل) | ۴۲ |
| ۸. | د خو خاصو نظمونو ښکلې | ۴۲ |
| ۹. | بلنليک | ۴۲ |
| ۱۰. | د جبب لـه کتابچې څخه | ۴۳ |
| ۱۱. | از محبس | ۴۳ |
| ۱۲. | د خانقاه د مسجد بيتونه | ۴۴ |
| | **دوهمه برخه (اشعار)** | |
| ۱۳. | مناجات | ۴۷ |
| ۱۴. | نعت شريف | ۴۸ |
| ۱۵. | محبوبا | ۴۹ |
| ۱٦. | د شاعر هيله | ۴۹ |
| ۱۷. | څېرته رند، څېرته | ۵۰ |
| ۱۸. | زره او خوله يوه | ۵۰ |
| ۱۹. | ميوناب | ۵۱ |
| ۲۰. | قبيح او مليح | ۵۱ |
| ۲۱. | د المرتب صنعت | ۵۲ |
| ۲۲. | مات | ۵۲ |
| ۲۳. | ښکاري سترگې | ۵۳ |
| ۲۴. | کنبنوست | ۵۳ |
| ۲۵. | واخيست | ۵۴ |
| ۲٦. | واوښت | ۵۴ |
| ۲۷. | مفت | ۵۵ |
| ۲۸. | گل نه دی ملامت | ۵۵ |
| ۲۹. | د ژبې اور | ۵٦ |
| ۳۰. | ساقي ته | ۵٦ |
| ۳۱. | د سترگو غمزې | ۵۷ |
| ۳۲. | د کبر غندنه | ۵۷ |
| ۳۳. | غوث | ۵۸ |
| ۳۴. | عبث | ۵۹ |
| ۳۵. | خاج | ٦۰ |
| ۳٦. | موج | ٦۱ |
| ۳۷. | اصلاح | ٦۱ |
| ۳۸. | صبح | ٦۲ |
| ۳۹. | روح | ٦۲ |
| ۴۰. | مخ | ٦۳ |
| ۴۱. | شوخ | ٦۳ |




Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


۴۲. پوخ ........................................ ۶۴
۴۳. وچ ........................................ ۶۴
۴۴. رنځ ........................................ ۶۵
۴۵. شپه او ورځ ........................................ ۶۵
۴۶. ږمونځ ........................................ ٦٦
۴۷. هیڅ ........................................ ٦٦
۴۸. د خانه سره بد ........................................ ٦٧
۴۹. هنر ته خطاب ........................................ ٦٧
۵۰. عبث ژوند ........................................ ٦٨
۵۱. کنبښود ........................................ ٦۹
۵۲. ملذوذ ........................................ ٦۹
۵۳. ډاډ ........................................ ۷۰
۵۴. ستا ښکلا ........................................ ۷۰
۵۵. قلندر ........................................ ۷۱
۵٦. نسته باور ........................................ ۷۱
۵۷. سترخوان ........................................ ۷۲
۵۸. د عشق زور ........................................ ۷۲
۵۹. بې معنٰی ښکلا ........................................ ۷۳
٦۰. عزرائیل ........................................ ۷۳
٦۱. شعر ........................................ ۷۴
٦۲. لــمر ........................................ ۷۴
٦۳. بــور ........................................ ۷۵
٦۴. د زلفو شور ........................................ ۷۵
٦۵. د میني فقیر ........................................ ۷٦
٦٦. ناز ........................................ ۷٦
٦۷. اړ ........................................ ۷۷
٦۸. ولاړ ........................................ ۷۷
٦۹. لوړ ........................................ ۷۸
۷۰. سرابښ ته ........................................ ۷۸
۷۱. خسیس ........................................ ۷۹
۷۲. هیله ........................................ ۷۹
۷۳. سرابښ ........................................ ۸۰
۷۴. خوبښ ........................................ ۸۰
۷۵. وکیښ ........................................ ۸۱
۷٦. اخلاص ........................................ ۸۱
۷۷. د حرص غندنه ........................................ ۸۲
۷۸. د میني مقراض ........................................ ۸۳
۷۹. عرض ........................................ ۸۳
۸۰. قرض ........................................ ۸۴
۸۱. فیض ........................................ ۸۴
۸۲. نشاط ........................................ ۸۵
۸۳. نوی خط ........................................ ۸۵
۸۴. و ساقي ته ........................................ ۸٦
۸۵. غلط ........................................ ۸٦
۸٦. حظ ........................................ ۸۷
۸۷. د شاعر طبع ........................................ ۸۷
۸۸. د میني رنځ ........................................ ۸۸
۸۹. فقیر ته خطاب ........................................ ۸۸
۹۰. طلوع ........................................ ۸۹
۹۱. د طلوع ........................................ ۸۹
۹۲. د شاعر نظر ........................................ ۹۰
۹۳. ترجا ........................................ ۹۰
۹۴. پیلي اوښکي ........................................ ۹۱
۹۵. دمیني اور ........................................ ۹۱
۹٦. زه و ساقي ........................................ ۹۲
۹۷. ښه ملگری ........................................ ۹۳




Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


۹۸. د عشق جلوه ........................ ۹۴
۹۹. د مینې ډک ........................ ۹۴
۱۰۰. لـه هجره شکایت ........................ ۹۵
۱۰۱. د زړه زنګ ........................ ۹۵
۱۰۲. بل ........................ ۹٦
۱۰۳. ول ول زلفې ........................ ۹٦
۱۰۴. پاخه ویل ........................ ۹۷
۱۰۵. تا کړم ........................ ۹۷
۱۰٦. د عشق تور ........................ ۹۸
۱۰۷. نه سم ........................ ۹۸
۱۰۸. د بېلتون محکمه ........................ ۹۹
۱۰۹. د الست یم ........................ ۹۹
۱۱۰. جانسوزه آه ........................ ۱۰۰
۱۱۱. خوښ یم ........................ ۱۰۰
۱۱۲. ښه یم ........................ ۱۰۱
۱۱۳. د المطرح صنعت ........................ ۱۰۱
۱۱۴. د المکرر صنعت ........................ ۱۰۲
۱۱۵. هجران ........................ ۱۰۲
۱۱٦. زه او زړه ........................ ۱۰۳
۱۱۷. د شاعر تحیر ........................ ۱۰۳
۱۱۸. د نفس هوا بندي ........................ ۱۰۴
۱۱۹. د طبیعت ښکلا ........................ ۱۰۴
۱۲۰. د مینې پانې ........................ ۱۰۵
۱۲۱. د مینې سربازي ........................ ۱۰۵
۱۲۲. د مینې های و هوی ........................ ۱۰٦
۱۲۳. سرې لمبې ........................ ۱۰٦
۱۲۴. مایوسي ........................ ۱۰۷
۱۲۵. چتې سترګې ........................ ۱۰۷
۱۲٦. دغزلو جنګ ........................ ۱۰۸
۱۲۷. بسمل ........................ ۱۰۸
۱۲۸. رو، رو ........................ ۱۰۹
۱۲۹. وینې ........................ ۱۱۰
۱۳۰. خونې خنجر ........................ ۱۱۰
۱۳۱. یو ، یو ........................ ۱۱۱
۱۳۲. بیده وو ........................ ۱۱۱
۱۳۳. آه ........................ ۱۱۲
۱۳۴. د یتیم وینا ........................ ۱۱۲
۱۳۵. قهرجن کاته ........................ ۱۱۳
۱۳٦. خپله سوبه ........................ ۱۱۳
۱۳۷. قلم ته حیرت ........................ ۱۱۴
۱۳۸. د زمانې خخه شکایت ........................ ۱۱۴
۱۳۹. د شاعر تخیل ........................ ۱۱۵
۱۴۰. د زلفو ستاینه ........................ ۱۱۵
۱۴۱. محبت یې زه ګټلی یم په پچه ........................ ۱۱٦
۱۴۲. څه! ........................ ۱۱٦
۱۴۳. سره څه؟ ........................ ۱۱۷
۱۴۴. مسته هیله ........................ ۱۱۸
۱۴۵. ښه ده ........................ ۱۱۸
۱۴٦. حیرانې ده ........................ ۱۱۹
۱۴۷. د مسخرو غندنه ........................ ۱۱۹
۱۴۸. منده خوله ........................ ۱۲۰
۱۴۹. پند ........................ ۱۲۰
۱۵۰. د بېکارۍ غندنه ........................ ۱۲۱
۱۵۱. زړه ........................ ۱۲۱
۱۵۲. شاعرانه تصور ........................ ۱۲۲
۱۵۳. کره ........................ ۱۲۲




Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


۱۵۴. د زړه بلبل ته........................ ۱۲۳
۱۵۵. د مینو پښه........................ ۱۲۳
۱۵۶. برنده هیله........................ ۱۲۴
۱۵۷. د زړه لـه جوشه........................ ۱۲۴
۱۵۸. زما یاره ګلرنګه........................ ۱۲۵
۱۵۹. د خوښي اظهار........................ ۱۲۵
۱۶۰. د مطلوب په هڅه........................ ۱۲۶
۱۶۱. هیله........................ ۱۲۶
۱۶۲. او که یه؟........................ ۱۲۷
۱۶۳. غتي اوښکي........................ ۱۲۷
۱۶۴. سوخي........................ ۱۲۸
۱۶۵. د چا دی؟........................ ۱۲۸
۱۶۶. ادب دی........................ ۱۲۹
۱۶۷ څه سبب دی؟........................ ۱۲۹
۱۶۸. افکار........................ ۱۳۰
۱۶۹. د محبوبانو دوپوسته صداقت........................ ۱۳۰
۱۷۰. څه خبر یم........................ ۱۳۱
۱۷۱. فریادي ږغ........................ ۱۳۱
۱۷۲. د میني زور........................ ۱۳۱
۱۷۳. خوږلی دی........................ ۱۳۲
۱۷۴. نیولی دی........................ ۱۳۲
۱۷۵. په کار نه دی........................ ۱۳۳
۱۷۶. راوپاڅه........................ ۱۳۳
۱۷۷. نه دی........................ ۱۳۴
۱۷۸. د زماني تقاضا........................ ۱۳۴
۱۷۹. بنه دی........................ ۱۳۵
۱۸۰. د مینانو طریقه........................ ۱۳۵
۱۸۱. معاند ته........................ ۱۳۶
۱۸۲. نا آرام زړه........................ ۱۳۶
۱۸۳. د زلفو سیوری........................ ۱۳۷
۱۸۴. لـــري........................ ۱۳۷
۱۸۵. بد وړي........................ ۱۳۸
۱۸۶. بې دردانو ته........................ ۱۳۸
۱۸۷. زوړ پرهار........................ ۱۳۹
۱۸۸. د عشق وظیفه........................ ۱۳۹
۱۸۹. د ساقي په انتظار........................ ۱۴۰
۱۹۰. په تقدیر رضاء........................ ۱۴۰
۱۹۱. خپل عرض........................ ۱۴۱
۱۹۲. راغی........................ ۱۴۱
۱۹۳. سنجیده خبري........................ ۱۴۲
۱۹۴. د دولت مفهوم........................ ۱۴۳
۱۹۵. د میني وصف........................ ۱۴۴
۱۹۶. د پیماني تاثیر........................ ۱۴۴
۱۹۷. ملالي سترګي........................ ۱۴۵
۱۹۸. د عشق بستر........................ ۱۴۵
۱۹۹. تاولي؟........................ ۱۴۶
۲۰۰. بریالی........................ ۱۴۶
۲۰۱. پروت وي........................ ۱۴۷
۲۰۲. د زلفو سایه........................ ۱۴۷
۲۰۳. که نه وي نه دي وي........................ ۱۴۸
۲۰۴. د دلبر دبدبه........................ ۱۴۹
۲۰۵. د ازل مینوشي........................ ۱۴۹
۲۰۶. زیبا مخ........................ ۱۵۰
۲۰۷. د میخاني بستر........................ ۱۵۰
۲۰۸. نصیحت........................ ۱۵۱
۲۰۹. مطرب ته........................ ۱۵۱




Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

۲۱۰. د غاړي هار ............ ۱۵۲
۲۱۱. د شاعر خطاب ............ ۱۵۲
۲۱۲. څلوريځي ............ ۱۵۳
۲۱۳. مخمس ............ ۱۵۸
۲۱۴. د رحمت الله بابا پر غزل مسدس ............ ۱۵۹
۲۱۵. ترتيب بند ............ ۱۶۱
۲۱۶. معماوي ............ ۱۶۶
۲۱۷. ادبي توتې ............ ۱۶۸

دريمه برخه (متفرقات)

۲۱۸. نشره ............ ۱۷۳
۲۱۹. خانګړې نشره ............ ۱۷۵
۲۲۰. نور عربي ............ ۱۷۸
۲۲۱. صدرالانام ............ ۱۷۸
۲۲۲. ما وليدی رشتيا ............ ۱۷۹
۲۲۳. رمز جهان ............ ۱۸۰
۲۲۴. سخي جانه ............ ۱۸۱
۲۲۵. د بغداد پير ............ ۱۸۲
۲۲۶. يا امام رباني ............ ۱۸۳
۲۲۷. د شاه نقشبند صاحب شجره ............ ۱۸۴
۲۲۸. اسمای مشائخ گرامي ............ ۱۸۶
۲۲۹. د بابک صاحب مرثيه ............ ۱۸۸
۲۳۰. د قصې تفصيل ............ ۱۹۱
۲۳۱. شېروشکر (مربع نظم) ............ ۱۹۶
۲۳۲. د پښين په اصطلاح ............ ۱۹۷
۲۳۳. د غماشو د لاسه شکايت ............ ۱۹۸
۲۳۴. د وطن ترانه ............ ۱۹۹
۲۳۵. ملي بيرغ ............ ۲۰۰
۲۳۶. بې خايه مېلمستيا ............ ۲۰۱
۲۳۷. سرابن سري ته ............ ۲۰۲
۲۳۸. د پسرلي ورمه ............ ۲۰۳
۲۳۹. نن يو رنګ سبا بل ............ ۲۰۴
۲۴۰. باطن بې د شيطان ............ ۲۰۵
۲۴۱. نسته ارمان ولي؟ ............ ۲۰۶
۲۴۲. بيا زر درخم وطنه ............ ۲۰۷
۲۴۳. د يو نامراد خلمي فرياد ............ ۲۰۸
۲۴۴. عناد ............ ۲۱۱
۲۴۵. ګيله دي لـه خانه څه ............ ۲۱۲

څلورمه برخه (غزليات)

۲۴۶. مطلب جاني ............ ۲۱۵
۲۴۷. دا خوب که لېونتيا؟ ............ ۱۱۶
۲۴۸. ساقي ............ ۲۱۷
۲۴۹. اوښکي درياها ............ ۲۱۷
۲۵۰. ساقيا ............ ۲۱۸
۲۵۱. صفا مې ............ ۲۱۹
۲۵۲. بې پروا يار ............ ۲۲۰
۲۵۳. زيبا مخ ............ ۲۲۱
۲۵۴. لب شراب، شراب ............ ۲۲۲
۲۵۵. سر غواړي سوغات ............ ۲۲۳
۲۵۶. مست ............ ۲۲۴
۲۵۷. لونګ ............ ۲۲۵
۲۵۸. د وصل لذت ............ ۲۲۶
۲۵۹. خمار ............ ۲۲۷
۲۶۰. سياه چشمان ............ ۲۲۸
۲۶۱. تور ............ ۲۲۹



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


۲۶۲. منظور.................... ۲۳۰
۲۶۳. ای مسیحا! .................... ۲۳۱
۲۶۴. کم یو دی؟.................... ۲۳۲
۲۶۵. جل وبل.................... ۲۳۳
۲۶۶. توري زلفي.................... ۲۳۴
۲۶۷. د گل.................... ۲۳۵
۲۶۸. گل.................... ۲۳۶
۲۶۹. د گل احتیاج.................... ۲۳۷
۲۷۰. د عشق سفر.................... ۲۳۸
۲۷۱. د عشق مناجات.................... ۲۳۹
۲۷۲. مدام.................... ۲۴۰
۲۷۳. درخه خم.................... ۲۴۱
۲۷۴. د میني تور.................... ۲۴۲
۲۷۵. آه وفریاد.................... ۲۴۳
۲۷۶. د عشق معذور.................... ۲۴۳
۲۷۷. پیر مغان ته!.................... ۲۴۴
۲۷۸. ډېر دي نوکران.................... ۲۴۵
۲۷۹. د پغمان سېب.................... ۲۴۶
۲۸۰. ستا تجلي.................... ۲۴۷
۲۸۱. های های.................... ۲۴۸
۲۸۲. خواږه او شیدې.................... ۲۴۹
۲۸۳. کباب.................... ۲۵۰
۲۸۴. د زلفو ارمان.................... ۲۵۱
۲۸۵. د سترگو تېغ.................... ۲۵۲
۲۸۶. گلستان .................... ۲۵۲
۲۸۷. سمندر.................... ۲۵۳
۲۸۸. د ژوند ډبوه.................... ۲۵۴
۲۸۹. د مژگانو جنگ.................... ۲۵۵
۲۹۰. د ملایانو پېغور.................... ۲۵۵
۲۹۱. پانسي.................... ۲۵۶
۲۹۲. تلقین.................... ۲۵۷
۲۹۳. فرېب نمایه.................... ۲۵۸
۲۹۴. درواغ.................... ۲۵۹
۲۹۵. چابک.................... ۲۶۰
۲۹۶. تیم.................... ۲۶۱
۲۹۷. لقمان.................... ۲۶۲
۲۹۸. الماسي توره.................... ۲۶۳
۲۹۹. اوبنتی کندهار.................... ۲۶۴
۳۰۰. خنجري وروخې.................... ۲۶۶
۳۰۱. لبوال.................... ۲۶۷
۳۰۲. دوک.................... ۲۶۸
۳۰۳. چوک.................... ۲۶۸
۳۰۴. لمن.................... ۲۶۹
۳۰۵. پېشلمی.................... ۲۷۰
۳۰۶. کونده لیلی.................... ۲۷۱
۳۰۷. خابنت او تعوید.................... ۲۷۲
۳۰۸. بانو.................... ۲۷۳
۳۰۹. سره لمبه.................... ۲۷۴
۳۱۰. سکروټي.................... ۲۷۵
۳۱۱. غلبلي.................... ۲۷۶
۳۱۲. قبرتیار دی.................... ۲۷۷
۳۱۳. د ریا پردې.................... ۲۷۸
۳۱۴. د هجران شک روژه.................... ۲۷۹
۳۱۵. بېهوښه.................... ۲۸۰
۳۱۶. د ډک زړه کباب.................... ۲۸۰
۳۱۷. په وینو لحد.................... ۲۸۱




Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


۳۱۸. پوج ویل........................ ۲۸۲
۳۱۹. د خیګر وینه........................ ۲۸۳
۳۲۰. اینبی دی........................ ۲۸۴
۳۲۱. ښخ........................ ۲۸۵
۳۲۲. اندیوال........................ ۲۸۵
۳۲۳. کاني........................ ۲۸۶
۳۲۴. لاري لاري........................ ۲۸۶
۳۲۵. ولچک........................ ۲۸۷
۳۲۶. میوند........................ ۲۸۸
۳۲۷. ټال ټال........................ ۲۸۹
۳۲۸. سپین شفق........................ ۲۸۹
۳۲۹. تر لېمو اوښکي........................ ۲۹۰
۳۳۰. ولاړی ولاړی........................ ۲۹۱
۳۳۱. محکم........................ ۲۹۲
۳۳۲. محراب او کعبه........................ ۲۹۳
۳۳۳. کمیس او شرمښ........................ ۲۹۴
۳۳۴. لیلة القدر........................ ۲۹۴
۳۳۵. بېلتون........................ ۲۹۵
۳۳۶. ملائکي........................ ۲۹۵
۳۳۷. لښدی........................ ۲۹۶
۳۳۸. مسلماني........................ ۲۹۷
۳۳۹. اضطراب........................ ۲۹۸
۳۴۰. سپی رقیب........................ ۲۹۸
۳۴۱. حوض کوثر........................ ۲۹۹
۳۴۲. بناغلی........................ ۳۰۰
۳۴۳. د پښتورګو سوز........................ ۳۰۱
۳۴۴. د مدرسي عشق........................ ۳۰۳
۳۴۵.


*　　*

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# لومړی برخه

## ســريــزه

### شعر او شاعري:

دا چــي شــعر او شاعري څه شی، شعر په څو ډوله او د کوم شاعر شعر مو خوښ دی؟ هغه پوښتني دي چــي پــه دې باب ډېرو سترو. سترو ادب بوهانو او ليکوالانو د اخبارونو او کتابونو په وسيله د خپلو عالمانه افکــارو د څرګندولو په رڼا کي ډېري ليکني پر کړي او بيا بيا هم ډېر څه پرې ليکل کېدای سي خو زه لنډ وايـم چي: مؤثر شعر که د طبيعت د ښکلا، رنګيني يا د مظلومو انسانانو د سرو آهونو د نقش (تابلو) وبولو. نــو طـبعاً به واقعي شاعر د هغي ښکلي او مظلومي دنيا (انځورګر) وي. څکه چي شاعر دی چي د طبيعت د جمال او ښکلا په ننداره په ځان کي د سرور او خوښي احساس مومي او يا د انساني همنوعي په بناء د روزګــار پــه څپېړو وهلــو مظلومو انسانانو په ليدو روحاً زهيرتيا مومي؛ چي زه خپله د همداسي شاعرانو د همداسي مؤثرو شعرونو طرفدار يم

### پښتني ادب پروره خاوره:

د کــندهار علمــي باستاني محيط چــي په خپل غېږ کي يې متبحر عالمان، نوميالي پاچهان، د توري مــردان د ژبي او قلم څښتنان روزلي دي پر ځای خبره ده؛ څکه چي طبيعت د ادب پروري په پېرزوينه په دې سـيمه کي د افغاني شاهانو خول، د فقيرانو کچکول، او حتی د ځينو پتمنو مېرمنو پلوونه يې لا هم د ادبــي نعمــتونو څخه يې څه نه دي پرې ايښي؛ چي ددې خبرې د اثبات لپاره د پښتو د پخوانيو شاعرانو دېوانونه، پښتو آثار او تذکرې هم شاهدي ورکوي او دا هم په ټينګه ويلای سو چي د اوسني پښتو ادب د نهضــت بنســټ ايښــوونکي ددې سيمي هغه ستر ادب پوهان، مقتدر ليکوالان او پاخه شاعران دي چي د خــپلو عالمانــه هڅــو، تتبعاتو او پخــو لــيکونو پــه برکــت يې د پښــتو ژبي زيات نوموړکي او د نظره وتلي شــاعران، اديــبان او پښــتو آثار د ادبي شهرت ډګر ته را ايستلي دي چي يادونه يې اوس د پښتو ادبياتو د تاريخ د ژوندي. ساتلو د وياړ ډک فصل و باب لري.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## تاریکه فضاء:

چې تر دې را تېر سو، بیا هم ددې سیمې په شاوخوا کې ډېري داسې ادبي څېرې او ولسي شاعران یادولای سو چې څېنو ته یې د پښتانه شعرا کتابونو د یادوني خای ورکړی او څېني یې اوس لا هم د نظره وتلي پاته دي. چې همدااوس یې د (بهار جانان) او (گلزار سید احمد) د پښتو چاپي کتابونو له مخې فقط نمونه را پاته او په یقین سره ویلای سو چې زیاتره به یې د اشعارو د دېوانو او نورو مستقلو آثارو خاوندان هم وه؛ چې له بده مرغه د تېرو وختونو د بې قدرۍ له کبله اوس، اوس د خپلو ادبي آثارو سره، سره په تورو خاورو کې گمنامه پراته دي.

## ځلانده فضاء:

له ښه مرغه ډېر کلونه وړاندې کله چې د کندهار په ادب پروره فضاء کې د (طلوع) لمر ځرک وواهه په خپله پراخه خلا سره یې د پښتو ژبې زیات ادیبان او شاعران د ادب ډگر ته را ووتل چې د علمي او ادبي آثارو په خرگندولو او خپرولو سره یې یو د خپل محیط پښتو ورځپاني ( طلوع افغان) ته ښه رونق ورکړی او بل یې د خپلو گټورو لیکنو او آثارو ذخیرې د ابد لپاره ددې ورځپاني پر مخونو باندې روښانه پاته دي چې کېدای سي یو وخت د علم او پوهې د خاوندانو د زیار، هڅې او قلم په برکت د مستقلو گټورو آثارو په بڼه د علاقمندانو د استفادې وړ وگرزي.

## اصلي مطلب:

که وویل سي چې د انسانانو ژوند د ډول، ډول واقعاتو او خاطراتو مجموعه ده، بې ځایه به نه وي: ځکه همدا د ژوندانه د طبیعي جریان اساس دی چې د هري ورځې، هر گړی او حتی د هري لحظې پېښې او حالات په بېل بېل ډول او ښو نښانیو سره صورت مومي.

یعني د یوې ورځې حالات د بلې ورځې له واقعاتو او پېښو سره ډېر متفاوت وي چې دا به بیا له دوو حالاتو خالي نه وي چې یا به د خوږو، خوږو یادونو څخه ډک، او یا به د ناخوالو پېښو په بلا لړلي وي. چې ښه یادونه به تر ډېره وخته د ذهن پر صفحه پاته او د څېنو نورو به یې د وخت او زمان په تېرېدو سره خط کوره کېږي، خو زه دلته د یوې داسې خاطرې یادونه کوم چې یادابښت یې د تقریباً د (٥٠) کلونو راهیسې تر اوسه زما د ذهن پر صفحه رڼا اچوي هغه دا چې :

ما د ۱۳۲۳ل. کال په اوائلو کې له دې امله چې له یوه پلوه مې د پښتو ژبې سره علاقه لرله، او بل ښتو ژبې یو توری موری ویلای او یوه لیکنه میکنه مې هم کولای سوای په رسمي توگه مصروفیت

Downloaded By: Afghan Salar Library



ومونـد. چـي زمـا د هغـي ارزو د سر ته رسېدو يوازينی مرجع د هغه وخت د مطبوعاتو په مدیریت کي د (اداري چارو) يوه وظيفه وه. کله چي ما په هغه وخت کي د لومړي ځل لپاره د وظيفې د اشغال لپاره پل اېښـود، هلته د معمول سره سم د اداري همکارانو تر پېژندګلوۍ وروسته د يوې داسي متبسمي او بشاشي څـېرې سره هـم مخـامخ سـوم چي ياد يې اوس دلته زما ددې ليکني "اصلي هدف" دی، ددې بشاشي څـېرې څښـتن يو بيدار او حساس ځلمی معلومېدی، چي د مامورينو د کوټې په يو کونج کي ناست، او د شاګرد په څېر يې د پښتو : ژبې ليکني لپاره قلم او کاغذونه مخي ته پراته وه وليد.

دا ځلمـی عـبدالغفار نومـېد چـي د هغـه وخـت د مطـبوعاتو د مديريت د سرکاتب ملا محمد شريف (جانان) اخښی يې باله؛ د وخت ضرورت وو، ما هم د نورو همکارانو په ګډون لـه هغه ځلمي سره اشنايي مونـدلي او زياتـره وخـت بـه مـو راشـه درشه سره لرله؛ څرنګه چي هغه وخت د مطبوعاتو د مديريت په چوکـاټ کـي په پښتو ژبه د (طلوع افغان) ورځپاڼه هم خپرېدله چي په هغه کي به د کندهار د هغه وخت د تکـره، تکـره لـيکوالانو د ډول، ډول اجتماعي، اصلاحي، اخلاقي، سياسي او نورو موضوعاتو د مقالو پر خـپرېدو عـلاوه د پښـتو ادبـياتو هم ځای درلود. چي په دې برخه کي به د کندهار د پخوانيو او معاصرو اديـبانو او شـاعرانو په زړه پوري اشعارو ته هم ځای ورکول کېدی. وخت دی تېرېږي د مطبوعاتي ملګرو تـر اشـنايي څـو کلونه وروسته بيا ورو، ورو د ورځپاڼي د قلمي ملګرو او شاعرانو سره هم زما تماسونه پيدا سوه، چي په دې لړ کي د لومړي ځل لپاره د سيد احمد (بېزار) چي د ښه اواز خاوند او شاعر هم وُ، او تر مـا يې کلونـه کلونـه دمخه د نوموړي (عبدالغفار) سره ښه رفاقت درلود اشنا سوم؛ ښاغلی بېزار (چي اوس وفـات شوی دی،خدای تعالی ﷻ دي يې وبخښي) هغه وخت په ښکارپور (ښکاپر) بازار کي د پتري سازۍ دکـان کـاوه چـي هلـته به زياتره وختونه د مازيګر لـه خوا دغه دکان د کندهار د زياترو اديبانو او ولسي شـاعرانو ناستون او د چـا خبره د يو ادبي محفل شکل يې غوره کړی وُ. ښه مي په ياد دي، چي دلته به هغـه وخـت د پښـتو ژبـي زاړه او ځلمـي شـاعران او اديـبان لکه رحمت الله (بابا)، ملا عبدالمنان اخند، عبدالحکـيم (شـيدا)، محمد رسول (مسلم)، محمد نسيم (نوري)، ملا محمد شريف (جانان) او نور، نور چي حتی خيني شوقيانو به لا هم هلته ناسته ولاړه درلوده.

او دا مـي هـم ښـه پـه يـاد دي چي کله کله به د مشاعرو په تېره بيا د يوې پسرلنۍ مشاعرې د سلسلي ناوي هم هلته سينګار مونډلی، او بيا به يې د (طلوع) پر ځلاندو ورانګو باندي سترګي روښېدلي. خبره ده ياديـږي يـو مازيګـر ښـکارپور (ښکاپر) بازار ته د ښاغلي (بېزار) د دکان په نيت رهي او چي د مددخان د جـامع د دکـانو راستي ته ورسېدم، ناڅاپه د اشنا (عبدالغفار) د عطارۍ پر دکان پېښ او چي دورنګ هڅه مـي وکـره ومـي لـيدی چـي هغـه د غزلي په ليکلو مصروف، او چي زما په ليدلو يې د خپلي ليکني څخه لاس لند کړ، تر السلام عليکم وروسته ښه ګړی سره ناست، او بيا د خدای په امانۍ وروسته د سيد احمد (بېزار) د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



دکان په نیت وخوخېدم، هلته مي ښاغلي (بېزار) ته دغه قصه بيان کړه چي هغه بيا په خندا راته وويل: (هو! هغه ډېر ښه شاعر، او د ډېره وخته يې د (عبدالغفار) په نامه ډېري ډېري غزلي ويلي دي چي اوس يې د (زخمي) تخلص خانته اختيار کړی او غزلي يې دومره سوزناکي او له جوشه ډکي دي چي په ويلو يې د شوقيانو ستوني داغ او مجلسونه اور اخلي).

وروسته دغه خبره تر ډېره وخته زما په ذهن کي پاته وه، خو يو وخت مي په ارام فرصت په خندا کي ورته وويل: عبدالغفار جانه! ښه دی چي ستا د شاعری څخه هم آګا سوم، ده پر خپله طبعي متبسمه څېره علاوه په خندا راته وويل: دا بيا چا ويل؟ ما ورته وويل: چي اوس خبره پټه نه پاتيږي؛ څرنګه چي په هغه وخت کي د شعرا و شاعری خبره پورته کښته کېدله نو مي موقع غنيمت وګڼله د خبرو په ترڅ کي مي ورته وويل: خوښه مو نه ده چي وخپل سرشار شاعرانه خيالي قلم ته اجازه ورکړئ چي نور د خپلو ليکونو څوکه د خپل محيط د ناوړو، دودونو او نورو اجتماعي اصلاحاتو په لوړ وڅوځوئ؛ يعني تر دې وروسته د خپل اخبار (طلوع افغان) سره خپله قلمي مرسته او رابطه جاري وساتئ؛ څو ستاسي د اجتماعي، اصلاحي او نورو په زړه پوري اشعارو په خپرېدو سره دا ورخپانه بيا بيا هم د لوستونکو د محبوبيت وړ وګرځي. دا خبره تر ډېره پر دغه خای پاته وه، خو يو وخت د ښاغلي عبدالغفار (زخمي) له خوا د ورخپاني د نشر لپاره (زما لومړنی شعر) د (قلم ته حيرت) په عنوان ګوتو ته راغی چي د ۱۳۲٦کال د طلوع افغان ورخپاني په (۷٦) ګڼه کي په دې توګه خپور شو:

نن حيران و خپل قلم ته سومه پاته — په عجيب زينت يې خان ښکاره کړ ماته
له نقابه يې صورت وو، را ايستلی — له ډېره نازه څه يې نه کتل هيڅا ته
ګاه به يوپ سو په ګرئ د تورو وينو — ګاه به بېرته سو راستون د وچي خواته
ګاه غوړپل يې سره شراب له ابي جامه — دا طلس د لنګ شغلي يې تلې سما ته
ګاه يې غورځول د سپين بلوړ پرمخ — لګول به يې برقونه مخ وشاته
راته وې ليکل پر روڼ زبرجد باندي — ويل وګوره د داښکلو ښکلا ته
په کوګل کي کړه د ميني ډېوه بله — اهميت مه ورکوه وما سېوا ته
دا يې ووې نو يې آه کړه سو دوه ځايه — په فغان يې تمهيد کښېښود و ژړا ته
ول که ژبه کړم د عشق په داستان ګډه — اور به واچوم يوې او بلي خوا ته
دې دوو سوزو وُفرياد متأثر کړم — د حيرت په ورطه ډوب يې سوم وينا ته
زما د زړه درياب هم تېز په څپو راغی — سو، له چوشه تېر د ژبې وصحرا ته
تقاضاء يې وه چي وصف د يار وکړي — ليکن پرېښودی (زخمي) نن و سبا ته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



دا شعر نه یوازي دا چي د شاعر د شاعرانه تخیلاتو او نازکخیالیو ځخه ډک وو، بلکي هغه وخت یې په خپرولو سره د ادبي محفل په ملګرو کي هم یوه خاصه غلغله جوړه کړه. د ښاغلي (زخمي) د پورته شعر تر خپرېدو وروسته بیا هم دده دومره په زړه پوري ادبي، اصلاحي، اخلاقي او اجتماعي شعرونه په ورځپاڼو کي خپاره شوي او خپرېدل چي د طلوع افغان ادبي صفحاتو ته یې یو خاص زیب او زینت باخښه.

خبره ده یادېږي یوه ورځ په یو ځای کي د ښاغلي (زخمي) د محترم قبله ګاه مولوي اختر محمد صاحب سره مخامخ شوم، تر تعارف وروسته د نورو خبرو اترو په ترڅ کي یې راته وویل: "زما زوی عبدالغفار جان ډېر بیدار، ځیرک او په سبقانو کي دومره غښتلی دی چي په کوچنیوالي کي مي زیاتره علم دین کتابونه په خلاص کړي دي، خو شېرینه یې لا داده، کله چي عبدالغفار جان وړوکی وو، او د سبقه لپاره به مو د ځېل کلي ځخه بل کلي ته استاوه د (شرح ملا جامي) کتاب چي د لویو، لویو ملاپانو د درس کتاب دی، د مکتبیانو د بستې په رقم به مي تر شا ور غوته کړی او چي هغه کلي ته به ورسید، هلته به یې (استاد) هغه کتاب له شا ځخه ور خلاص کړی او چي درس به یې ورته ووایه د بېرته راتګ پر وخت به یې (استاد) بیا هغه کتاب تر شا ور غوټه کاوه. ځو کور ته به راتلی. ته ووایه آیا په داسي کم سن کي د علم دین د کتابو خلاصېدل او بیا په وړکتوب کي د داسي معتبر کتاب ویل د غښتلي توب علامه نه ده؟"

خیر دا خبره هم دلته پرېږده! وروسته مو ولیدل چي د طلوع افغان د ادبیاتو صفحه د ښاغلي (زخمي) د اجتماعي، اصلاحي او نورو ګټورو موضوعاتو د اشعارو په خپرولو سره دومره په زړه پوري سوه چي خپرولو ته به یې هر ∴کله د لوستونکو تلوسه زیاته او هم به دده د پېژندني په باب تقاضاوې کېدلې، ځو یو وخت مي د فرصت موندلو په صورت کي د ښاغلي (زخمي) سره یوه لنډه کتنه کړې او چي د سوانح په باره کي یادونه ورته وشوه؛ نوموړي په خپله هغه خندانه ځبره چي طبیعت یې په برخه کړې وه، زما غوښتنه منلې، او دمخه تر هغه چي د خپل ژوندانه حالاتو په شاوخوا کي ځه وو ایي په خندا یې راته وویل چي: اوس ما خانته د (بریالي) تخلص غوره کړی دی چي له همدې امله ما هم خپله خوښي ورسره ځرګنده کړه. ښه وخت لا تېر شوی نه وو، چي دده د ژوندانه حالاتو او ادبي دنیا په باب یو لړ یاداښتونه ګوتو ته راغلل چي هغه بیا د طلوع افغان د ورځپاڼي د ۱۳۲۶ ل کال د اواخرو په یوه ګڼه کي په دې توګه خپاره سول.

( ښاغلی عبدالغفار "بریالی" ځلمی شاعر دی چي ځه وخت مخکي یې د (زخمي) تخلص ځانته غوره کړی او اوس د بریالیتوب ډګر ته راوتلی دی، دا شاعر (۱۸) کلن او په قوم کاکړ دی چي د کندهار د سرپوزې په ګیلان نومي کلي کي پیدا شوی او د پلار یو زوی دی دده د روزني او پالنې زیاتره برخه په ښار کي سوې ده. پلار یې هم تکړه عالم او مولوي اختر محمد صاحب نومېږي چي اوس هم ژوندی او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



د پنجوایي ولسوالي په یو مسجد کې امام دی، دې شاعر له کوچنیوالي تخمین څلورنیمو کلو راهیسي په خصوصي توګه په خپل درس شروع کړې او د لوست د ډېرې برخې زده کړه یې په خپل کور کې له خپل پلاره څخه کړې ده.

ښاغلی "بریالی" فصیح اللسان د ښې قریحې او خوږې طبع خاوند او یوه خلمی دی. په پښتو، فارسي او عربي علومو کې هم ښه مهارت لري چې تر ممکني اندازې درس هم ورکولای سي، ښاغلی "بریالی" له ډېره وخته په شعر ویلو لاس پوري کړی او د ۱۳۲۶المریز کال څخه یې د طلوع افغان په قلمي ملګرتیا کې برخه اخیستې او خپل لومړني ادبي اشعار یې د طلوع افغان پر صفحاتو د عبدالغفار " زخمي" په نامه خپاره کړي دي. ددې شاعر د اشعارو زیاته برخه عشقي، اجتماعي او موږ ته دده شاعرانه سوز دده د نشر سوو شعرونو څخه ښه څرګند، او ددې عصر د پیر محمد" کاکړ" پیرو یې بللای سو).

دا هم باید وویل سي لکه څنګه چې د ځینو پخوانیو شاعرانو د اشعارو په دېوانو. او یا نورو مستقلو آثارو کې د غندني یا خو د ستاینې نښې وینو، همداسي په هغو وختو کې د ښاغلي "بریالي" د سوانح په خپرېدو سره د طلوع افغان په اخبارو کې یوه داسي فضاء رامنځ ته سوه چې له یوه پلوه د ځینو خوانانو شاعرانو په زړو کې د کینې او کدورت اورونه بل سوي چې بیا یې اثرات په شاعرانه رموزاتو سره د ورخپانې پر مخ خپرېدل؛ همدا رنګه له بله پلوه د نوموړي د سوانحو په مطالعه سره د ځینو متعلقینو په ذهنو کې مغشوشو اثراتو خای نیولی او دده په باب لیکونو ته یې د مبالغې رنګ ورکاوه چې په وروسته کې د همغې انګیزې له کبله د ښاغلي "بریالي" سره د زیاتو عالي درسونو ویلو تلوسه هم زیاته سوه؛ خو اوس دلته د ښاغلي "بریالي" د هغو ځینو اشعارو د مقطع یعني وروستي بیتو څو نمونې چې په شاعرانه رموزاتو او کنایاتو سره یې ځیني " خوان شاعران" مخاطبوله دلته راوړو:

"بریالی" له تعجبه په خندا سم
چې سر تېزي ژبې نه وي "بریالیه!"

چې وهي راباندې خوشې واعظان موج
هرګز نه به سي ژوندی زور د طلوع

"بریالیه!" که نه داري ور روان سه
آطلوع! خان کره خالي و "بریالي" ته

د طلوع پر میدان جنګ دی د غزلو
په اوه بیته یې نه ماتیږي لوبه

"بریالی" یم د ادب د کوخې خاوري
"بریالی" یم تر هغو به لغاز وایم

مه مې بوله د دردمن‌زړه قیل و قال مفت
خو چې ستا پر سر در واړومه خاوري

"بریالي" ته چې منصب د شعر ورکئ
ادباء د کندهار یې کره خاموش

په خوانو شاعرانو کې د "طلوع" پر مخ د ادبي مشاجرو فضا لاخره پره وه، چې ښاغلي "بریالي" بیا د خپل زړه ادبي ارمان په دې ادبیاتو سره څرګند کړ:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ساقي پاخـه مسـت خمـار دی د طلـوع — نوبـت راکـړه بـيا مـې وار دی د طلـوع
چـې مـې ژبـه اخلـې اور لـه ډېره جوشه — زه پوهـېږم بخـت بـيدار دی د طلـوع
سهار خـوان بلبل بـه بـيا ووزي لـه حاله — شـگوفه گـل و گلـزار دی د طلـوع
د "پښـتو بـيدلـه!" ورک مـې رغـېږه — سـتا و خـوا تـه انـتظار دی د طلـوع
نوميالـی پتـنه! څـان بـاندي مکـوټ کـړه — شـمعه نـه ده جـور انگـار دی د طلـوع
د څـيگر يـاقوت خونـي کـړه لـه قلمـه — مناسـب مـخ پـه نـثار دی د طلـوع
انعکـاس د "بريالـي د ويـنو ښـکاري — يـا خونـبار يـا لالـه زار دی د طلـوع

وروسته يې بيا د خضوع سرگرېوانه ته کښته کړی او ويلي يې دي:

پـه نامـه د"بريالـي" مـې هلـته سـتايه — کـه پـه شـعر مـې لـه مخکي قارون وکينې

يا دا چې:

د پښـتنه گـې مقـام لا، دی آ "بريـاليه" ليري — خوشـي پـه محضـي افسانو سره دي څـان کې پوخ

ښـاغلی "بريالـی" چې د ۱۳۲٦ل کال څخه بيا د ۱۳۳۳څه زيات و کم کلونو پوري يې لـه طلوع افغان سره د قلمي ملگرتيا ښه سلسله وساتله، تر اوسه يې د رنگينو او مؤثرو اشعارو په ساتلو او لوستلو سره د ادب د مينانو او شائقينو په زړونو کې د وجد او خوښۍ خاطرې ژوندۍ پاته دي.

ښـاغلی "بريالـی" نه يوازې دا چې زموږ معاصر پښتو ژبې د ادبي ښې يو نازک خيال، خوږ ژبی اديب او شـاعر دی؛ بلکـې اشعار يې د طبيعت د ذاتي حسن په پېرزوينه د دومره ښکلا او رنگينۍ څخه ډک دي چـې زياتره يې د ادبي فنونو د معنوي او لفظي صنايعو په گينه سامبال ښکاري؛ چې همدا اوس اوس يې د شـعرونو د مطالعې د فيض لـه برکته په زړونو کې خاص کيف او نشاط احساس مومي. د ښاغلي "بريالي" د اشعارو مجموعه چې لـه ښه مرغه همدا اوس زموږ په اختيار کې ده پر څو برخو مشتمله ده چې يوه يې هغـه غزلـې دي چـې کلونـه کلونـه وړانـدې پـه خاصو طرزونو سره د "عبدالغفار" په نامه ويل شوي او د شـوقيانو پـه خولو کې جاري وې. اوبله زياتره برخه يې هغه ادبي اشعار دي چې د " زخمي" او "بريالي" پـه تخلصـونو پسوللي او په تېرو کلونو کې د طلوع افغان په ورځپانو کې په متفرق ډول خپاره سوي دي؛ چـې دلـته د نوموړي ټول هغه اشعار چې زموږ گوتو ته راغلي دي په داسي صورت چې لومړی مو ادبي اشـعارو او بيا مو غزلياتو ته ځای ورکړی دی؛ دا لـه دې امله چې د ادبي اشعارو په ترتيب کې يې د وسه سره سم د رديف مراعات سوي او نوري غزلي يې نسبتاً لـه دې ترتيب څخه بېلې ښکاري؛ علاوه پر دې پـه دې مجموعـه کې د ښاغلي "بريالي" نورو په زړه پوري متفرقو منظومو اشعارو ته هم ځای ورکړه شوی دی؛ چې ددې مجموعې د فهرست لـه مخې يې ښه درک کېدلای سي، بله خبره دا ده:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



یـو بـل وخـت خدای خبر چې کوم کال به و؛ خو شاید د ۱۳۳۳ل کال را وروسته کلونه به وه، وامي وربـدل چــې ښاغلی "بريالـی" مصـمم دی چــې يو په خپل باب د خپنو معاندينو د غرضه ډکو انګېزو ته واقعـي رنـګ ورکـاندي او بـل دا چـې نور د خپل طبيعي استعداد او ځواکت سر شاره علمي سرمايه بې بهـري پـرې نـږدي يعنـي د پاته کتابونو د بشپړولو لپاره عالي درسونو ته دوام ورکړي چې آخرالامر يې د مشـرانو او دوسـتانو تر مصلحت وروسته د خپل کلک تصميم د سرته رسولو لپاره پېښور ته چې د لوړو سويو د علومو مرکز وو، د تللو اراده کړې ده نوموړی د مخه تر هغه چې دخپل هدف پر لور (پېښور) ته ورسيږي د لومـړي ځل لپاره يې د کوټي د پښين د کليو په يو مسجد کې بستره اچولې او طالب سو. هلته يې تقريباً يو کال تېر کړ، ځرنګه چې هغه وخت د هغه ځای په کليو کې د غړي (خيرات) رواج وو چې مسجد ته به اسـتول کـېدی. ( غړی خو، نو د تبی هغه مزه ناکه ډوډۍ ده چې دوې، درې ډوډۍ سر پر سر پخيږي بيا پـه غوړو باندي لاندي باندي غوړېږي چې وروسته يو څه بوره هم پر پاشل کيږي) ځرنګه چې هغه وخت پـه مسـجدو کـي د غـړي پـه بـاب پـه مقتدیانو کي يوه داسي بې خونده اصطلاح پاته وه چې کله به د کلـيوالو لـه خوا مسجد ته غړی ور وړه سو، هغه به د مخه تر هغه چې د مسجد طالبان يې نوش جان کړي د هغـه ځـای مقتديانو به سر شکوني پر جوړ کړ چې دغي وضع پر طالب "بريالي" صاحب ښه اثر نه کاوه. خـو يـوه ورځ يې د دې نـاوړه رواج پـه غندنه کي انتقادي غزله جوړه کړه او چې د شپې لـه خوا يې د مسجد پر دېواله ورته وځروله، په هغه شپه يې خپله بستره وتړله او د پېښور پر لور ور څخه وخوځېد.

## غزله دا ده:

کـه پـه رشـتيا يـو خـو خـبري بـر مـلا سـي
خـندا بـه دي پـر راسـي د پښـين پـر اصـطلاح

پـــه شـــپه د غـــړو دوري دوري
کـــه زورور وي کـــه کمـــزوري
ابلکـــي ســـترګي ورتـــه ګـــوري

وهـي حمـلې لـه دېـره شـوقه پـه غوغـا سـي
خـندا بـه دي پـر راسـي د پښـين پـر اصـطلاح

کـــه دائـــرې تـــه غـــړی ورســـي
هغـــه ســـاعت پـــر ده اخـــتر ســـي
وطالـــبانو تـــه بـــبر ســـي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



لکـه چغـال تـه چـي مـرداره ورپـيدا سـي
خـندا بـه دي پـر راسـي د پښـين پـر اصـطلاح

کې څـوک د مخـه غـرى کښـېږدي
دده چـارخول بـه ورتـه ريـږدي
پـه والله بـالله کـه يې پرېـږدي

مـلا بـه دعـا کـوي دده پـر بسـم الله سـي
خـندا بـه دي پـر راسـي د پښـين پـر اصـطلاح

کـه دي گولـه کـره خينـي پورتـه
دى گـډوي خـان وسـره اورتـه
واى څـه حاجـت دى شـر و شـور تـه

لکـه چـي تـوري يې د سـږو څـه جـلا سـي
خـندا بـه دي پـر راسـي د پښـين پـر اصـطلاح

کـه دده نـس پـه غـړي مـوړ سـي
دده هـا گـرم څـاى پـه سـوړ سـي
لـه هـره درده څـه بـه جـوړ سـي

لا ډېـر خوشـال دى کـي بـدل ديـن په دنيا سي
خـندا بـه دي پـر راسـي د پښـين پـر اصـطلاح

د مجـمې څـنگ تـه ناسـت وي غلـى
لکـه غويـو چـې وي مرورلـى
پـر بريـتو لاس تـېر کـړي ښـاغلى

عـبدالغفار بـېريږم دواړي بې خطـا سـي
خـندا بـه دي پـر راسـي د پښـين پـه اصـطلاح

لکـه څـنگه چي ويل کيږي کله چي سهار سو او مقتديانو د مسجد پر دېواله دغه غزله څوړنده وليده، زښته متحير شوه، څو بالاخر د پښين په کليو کي ددې غزلي په برکت هغه د غړي د خوراک ناوړه دود او

Downloaded By: Afghan Salar Library



اصطلاح لـه منځه ولاړه.

کلـه چـې ښاغلی "بريالی" پېښور ته رسېږي هلته له دې سببه چې يو د مسافرۍ او بل د طالبۍ ژوند و؛ چې دا حالت به ښايي د مشکلاتو څخه خالي نه وي، خو بيا هم ښاغلی بريالی هلته د خپل کلک عزم په بناء خپلو درسونو ته دوام ورکاوه.

هـو! ښکاره خبره ده چـې د مسافرۍ او هغه هم د طالبۍ ژوند ډېر سخت وي؛ چې ښايي ښاغلی بريالـی بـه هم د درسونو د يو ځای بل ځای په اوسېدو کله کله د سختيو سره مخامخ کېدی؛ بل دا چې په داسې حالاتو کې د خپل وطن حب او علاقه هم لـه زړه څخه نه وزي چې لـه همدې امله (خبر نه يم کوم ځای به وو) د زړه لـه سوزه د خپل وطن په ياد او د هغه ځای په غندنه کې غزله وېلې او هغه دا ده:

کـه خـدای دا واری خـلاص کـړم د پـردو لـه انجمنه ... بـــيا ژر درخـــــم وطـــــنه
کـه سر مـي را بهـر کـې ګويـا خـلاص سوم لـه کشتنه ... بـــيا ژر درخـــــم وطـــــنه

* * *

سپېرې غـتـې غونـډۍ سپېره ځـتـان پـه سـپېرو دوړو ... فقـــــط لکـــــه د مـــــړو
مخلـــوق يې پـــه ډبلـــه ژبـــه وايـــي اړو، اړو ... ګويــا جــنـګ دی د انــدړو
تـر دغـه ژونـد مـي خـوښ د کـندهار مـرګ بې کفـنه ... بـــيا ژر درخـــــم وطـــــنه

* * *

نېکبخته بخت مي دې ځای سکونت سره منحوس سو ... خوشـنو د حال مي معکوس سو
طالع مـي شاهي بـاز وو پـه جـوار کـې د تـپوس سو ... بـــېکاره او خــــروس ســــو
ثانـــي د نحســـت نـــه لـــري تـــر چيـــنه او چمـــنه ... بـــيا ژر درخـــــم وطـــــنه

* * *

بـــازار او آبـــادي يې لکـــه ښـــار د چغـــالانو ... مرکـــــز دی د پـــــېريانو
هرګـــز نـــه دی لائـــق د ســـکونت د انســـانانو ... محـــــبس دی د ډېـــــبانو
د کومـــي خـــوا نصـيب دلـــته ډېـره کـړمه غمجـــنه ... بـــيا ژر درخـــــم وطـــــنه

* * *

چـې نـوم دې را پـه زړه کـړم پـه هـډو مي راسي تبه ... بې واکــــه مــــي ســــي ژبـــه
پـه دار ځوړنـد ځوړنـد خـوښ يم نه تا کې بې موجبه ... د عقـــــل وحـــــس مخـــــربه
يـم هلـته "بريالـی" کـه تلـم لـــه تـــا اې مخـتـورنه ... بـــيا ژر درخـــــم وطـــــنه

د معلومـاتو لـه مخـې د مسافرۍ په عالم کې د زياتو تکاليفو، پرېشانيو د مخامخ کېدو حالاتو د زغملو سـره سـره ښـاغلی "بريالـی" څـو کاله په پېښور کې خپلو درسونو ته دوام ورکړی؛ څو بالاخر د ستر علمي موفقيت او بريالیتوب د فراغت د سندونو په حاصلولوسره د خپل اصلي ټاټوبي "کندهار" پر لور را وخوځيد.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



نباغلي مولانا عبدالغفار "بريالی" کندهار ته تر را رسېدو وروسته لومړی په ښار او بيا يې د هغه په شاوخوا ولسواليو لکه خاکرېز، پنجوايي، او ميوند په کليو کي په امامت او تدريس پيل وکړ چی په هر ځای کي به زيات شمېر طالبان پر اوسېدل؛ چي ورسېته بيا د ميوند کي د ولسوالی د "مورچې" د کلي په مسجد کي امام او مدرس سو.

تر دې وروسته ددې خبري هم ډېر عمر کيږي، خو دومره مي ياد ته راځي چي کندهار ته د مولانا "بريالي" صاحب تر راتګ څو کلونه وروسته بيا موږ دوه ځلي سره ملاقي شوي وو، چي هغه د زياتو، نه ليدنو، کتنو موجبه به يې ښايي د دوی د مدرسې د درسونو زيات مصروفيت او زما د رسمي وظيفې زياته پابندي وه؛ په هر صورت يو وخت د ښاغلي "بېزار" په ملګری ميوند ته ورغلو، هلته د مدرسې په يوه حجره کي چي مولانا "بريالی" صاحب د خو تنو عالمانو سره ناست وو؛ تر روغبړ وروسته موږ هم سره کښېنستو؛ څه ګړی چي تېر سو، يوه يې مولانا "بريالي" صاحب ته مخ ور وګرځاوه او د خوش طبعی په لهجه يې ورته وويل: مولوي صاحب! ستا او ددغه خوان چي ( زه يې يا دولم او ښايي چي ډېره به مي هم خريلي وه) څه مناسبت سته؟

مولانا بريالي صاحب په خندا ورته وويل چي: (دا مي د تور پيکي اشنای دی!) چي دا خبره تېره، او ښه ګړی نور مجلس هم سره وسو؛ بيا زه او ښاغلی "بېزار" د ښار پر خوا را و خوځېدلو؛ بله پلا بيا ( ددې خبري هم ډېر عمر کيږي) يوه ورځ د کندهار د ارګ په کتاب پلورنځيانو کي تصادفاً د مولانا "بريالي" صاحب سره مخامخ سوم او چې څه پوښتنه ګروېږنه سره وشوه د خبرو په پای کي مي ورته وويل: مولانا صاحب! اوس لا ښه دی سره ژوندي يو؛ خوښه دي نه ده چي ستاسو د تيتوپرکو اشعارو په راټولولو لاس پوري سي؟ ده په تحير مګر خندا کي راته وويل: ژ تر اوسه مي د هغو ويلو اشعارو دوسيه لا ينحله پاته ده؛ نبخه چي څه به راسره وسي؟)

څرنګه چي د هغه وخت څخه د ښاغلي "بريالي" د زياتو اشعارو مجموعه زما سره موجوده او خيال مي درلود چي په يو فرصت وخت کي يې په چاپولو لاس پوري سي؛ خو کله چي د مولانا صاحب په هغه ضمني نه رضائيت خبره پوه سوم زه هم قلبًا د خپل تصميم څخه وګرځېدم؛ تر دې وروسته په دې منځ کي کلونه کلونه تېر سوي او حتی د ژوندانه په خره پره فضا کي دومره ناوړه تحولات منځته راغلل چي د انسانانو مالونه، هستي او هر څه تالا سوي بلکي په سرونو لا هم لوبي وسوې.

په هر صورت د اشعارو د چاپېدو خبره يادوم هغه دا چي په دې نژدو را وروسته دوو. درو کلونو کي مي وليدل چي په کوټه کي د عبدالاحد "همنوا" کتاب پلورنکي له خوا د (جزئيات بريالی) په نامه د اشعارو کتاب دوه ځلي چاپ سوی او بازار ته عرضه سوی دی؛ څرنګه چي د هغه کتاب په خپرېدو سره يو هغه زما د زړه غوټه خلاصه سوې او بل هغه طبع سوي کتابونه د معنوي او طباعتي نيمګړتياوو څخه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



هـم خالـي نـه وه. نـو ځکـه تر هغه وروسته بيا د وسه سره سم د مولانا "بريالي" صاحب د مشر زوی مولانا وکيل احمـد "متوکل" پـه مصـلحت د بناغلی بريالي صاحب د اشعارو په راټولولو، تر تيبولو او مقابلې په هڅـه کي سوم چي په دې باره کي د نوموړي لـه خوا د "بريالي" صاحب د يو شمېر نايابه منظومو آثارو د راسپارني وروسـته مـي بيا ددې مجموعې په برابرولو لاس پوري کړ؛ چي لـه دې امله هم د اخندزاده صاحب وکيل احمد "متوکل" د مرستي څخه زياته مننه کوم؛ او هم بنايي چي ددې مجموعې د اشعارو د نقلولـو او لـيکلو پـه وخت کي به زما څخه هم خيني معنوي يا لفظي تېروتني سوي وي چي د مطالعې په وخـت کـي يې د ادب پوهـانو او د فکـر د خـاوندانو د ګوتنيوني پر ځای د ليکونو په توسط د اصلاحاتو اړوني په انتظار کي يو.

دا وې د ډېرو د مخنيو کلونـو پـه دوران کـي د ژوندانـه په عادي او ادبي دنيا کي زما او د بناغلي عـبدالغفار بريالـي د ابتدايـي اشـنايي، ليدنو، صحبتونو، او ارتباطاتو په متعلق څو ضروري او په زړه پوري يادونـي؛ خـو تـر دې وروسته بـيا هم د مولانا عبدالغفار بريالي صاحب په وروستي ژوندانه کي د دوی د ادبـي او علمـي سـتر مقـام انداز، چي د افغانستان په ګوټ ګوټ کي يې د پراخ علم په برکت د فيوضاتو خپرېدنه او محبوبيت او بالاخر د ژوندانه په اخر کي د بيت الله شريفي د زيارت تر ادا کولو وروسته خپل وطـن " کـندهار" ته په رارسېدو سره يې د ظالمانو لـه لاسه د ژوند او مرګ پته ورکېدل، او نورو خصوصي ډول ډول حالاتو او اړخونو باندي يې د بنه رڼا اچولو معلومات، د مرحوم مولانا بريالي صاحب د دوست (ابـو المغفـور) مولـوي عبدالحکيم صاحب لـه طبع څخه د يوه اوږده منظوم اثر په مطالعه، چي په ډېرو مؤثرو او مهيجو عباراتو تنظيم سوی او په دې مجموعه کي ځای لري درته روښانه کېدلای سي:

چـي يقيـن د چـا پـر حـق خـبره راسي
که څوک خان کاندي تسليم د تقدير کړو ته

د دنـيا مشـکل بـه واړه ورتـه واسـي
وسوسـې بـه يې لـه زړونـو پـه هواسـي

د ازل تقسـيمات هـيڅ تـبدل نـه کـا
د قسمت راضـي بـه هـر کلـه خوشنود وي

خوشي خوشي د هر چا زړه کي سودا سي
څـه چـي بـرخه وي هغـه بـاندي رضا سي

شـکايت لـه زمـاني څـه عبـث کـار دی
خـود مقـام بـه د هغـه عـالم بـالا وي

هوښيار کلـه پـه دې بـاب ګـډ په وينا سي
چـي د خـپل علـم عـامل او پـه تقـوا سي

د دنـيا مانـي پـه علـم ده ودانـه
بدبختـي د هغـه قـوم بـه وي پـه بـرخه

بې بنـياده تعمـير چـا ويـل بـالا سـي؟
علمـاء او فضـلا چـي تـرې جـلا سـي

د صـالح اولاد ثمـر هالـه خرګـند سـي
د مـرحوم (ابوالفـيض) يـاد دي وي په خير

چـي آخـر عمـر د پـلار د لاس عصا سـي
سـه هـر څـو يې هـروم را پـياد بـيا سـي

د " نصـرت" بـه ورتـه دغـه دعـا بـس وي
پـه ديـدار دې د الله سـترګي بينـا سـي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ابوالمغفور مولوي عبدالحکيم

# د شهيد ابوالفيض " بريالي" صاحب په ياد مرثيه

د الله پـــه اراده کـــــي تغيـــير نســـته　　پـه فـرمان کـي يې تعطيل او تقصير نسته
د هـر چـا پـر تـندي کښلي هغـه کـيږي　　پـر تقديـر بـاندي ويـل د تدبـير نسـته
مســتغنی د کـــل جهانـــه بې پـــروا دی　　چـي پـه ذات کـي يې تأنيـث او تذکـير نسـته
پـر هغـه زړه بـاندي خـتمه سـنگدلي ده　　چـي پـر ده د يـار لـــه غمـه تاثـير نسـته
د اسمان اوښکي باران سوې ځاځکي ځاځکي　　د دلـبر لـــه غمـــه هســـي دلگـير نسـته
پـــه نـــارو او غلـــبلو ســـوه پـــه چـــيغارو　　خـوک بـه وايـي پـر تـنا بـاندي ويـر نسته
د شـفق سـترگي سـوې ډکـي پـه سـرو ويـنو　　بې فـراقه يې نـور غـم پـر ضـمير نسـته
فلـک چـخ پـه لـړمانه تـيغ د هـلال کـړ　　بې ديدنـه يې د يـار بـل اکسـير نسـته
نـور څـه نـه دی " ابوالفيض " ورځخه ورک دی　　د "عبدالحکـيم" پـر زړه نـور تفسـير نسـته

*　　*　　*

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/　Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# ولاړ

ضیافت ته د الله په ست نګار ولاړ
ابو الفیض حاج مولانا عبدالغفار ولاړ
دا جهان چې یې د فیض په نور روښان کړ
د تنویر په قصد پر خوا د عقبی الدار ولاړ
علامه تفتازاني وو د خپل عصر
که جامي عبدالرحمٰن ددې دیار ولاړ
خوشبویي یې د تدریس عالم خوشبوی کړ
بې نظیر د باطني عطرو عطار ولاړ
د تعلیم خریداري ځیني کېدله
د تدریس پرهتی ناست وو دکاندار ولاړ
د دنیا له ګلستانې پرواز وکړ
دا بلبل د آخرت پر لاله زار ولاړ
په دنیا کې وو صائم د یار له دیده
د فردوس باغ ته په خاص نیت د افطار ولاړ
بلبلان د علم واړه په چیغار سول
له حضوره یې دا ښکلي مرغزار ولاړ
د تعریف ؛ یې حاصل کړ په دنیا کې
آخرت ته منور په رحمت بار ولاړ
چې سطر یې د ساقي پر مخ بیانه سو
له چشمانو مې د سرو وینو انهار ولاړ
خنګ مې وواهه د غم وبسترې ته
مستغرق مې خیال په فکر کې د یار ولاړ

آتشي آه د کوګل د تناره خه
خیژي زما "عبدالحکیم" د زړه قرار ولاړ

* * *

مولانا ګل د بهار وو، بریالی
په نامه "عبدالغفار"وو، بریالی
در ګوهر یې را ایستل د زړه له ذکره
پوه د شعر په سینګار وو، بریالی
مستعمل وو د لغتو په شعرو کې
خوښ د بیت په ابتکار وو، بریالی
بلاغت او فصاحت یې د "سحبان" وو
په عروضو کې نامدار وو، بریالی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



پـه کـلام کې باریکـي او نکـات ډېـر وه
معمـــاوو کـــي بـــیدار وو، بریالـــی

چـي لقـب د "بریالـي" يې وو پـه بـرخه
لـــه نامـــه يې همجـــوار وو، بریالـــی

لـه "حمید" سره پر څنگ وو په شعرو کي
لـــور شـــاعر د کـــندهار وو، بریالـــی

هـر غـزل يې وه دفـتر پـه حقیقـت کـي
نـــوم يې وړی پـــر کـــنار وو، بریالـــی

پـر مـــیدان د امـــتحان اول نمـــره وو
پـــه ســـامان د شـــعر تـــیار وو، بریالـــی

چـي اشـعار بـه سـوه تقدیـم و مشعرې تـه
پـــه هـــر وار تحفـــه بـــردار وو، بریالـــی

پـه آخـر کـي سـو نومـیال د شـاعرانو
چـــي قـــائل پـــه ښـــه گفـــتار وو، بریالـــی

لـــه شـعرو يې اخیســـته کـیږي تـر اوسـه
پـــر مـــنزل د مســـتعار وو، بریالـــی

و مقصـــد تـــه واصـــل سـوی وو کامـیابه
چـــي لقـــب دده مخـــتار وو، بریالـــی

د "رومـي" یـا د "سـعدي" یـا د "اقـبال"
د "رحمٰـن"، "خوشـحال" پـر لار وو بریالـی

وو حـــافظ شـــیرازي د پښـــتو ژبـــي
د خـــورې ژبـــي ســـالار وو، بریالـــی

مکـــرر "عبدالحکـــیم" بریالـــی راوړئ
چـــي پـــه زړه کـــي يې تکـرار وو، بریالـی

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# ابوالفیض

یـــار مـــي ولاړی د ناترســـو لـــه ســـتمه
حیرانـــي ده چـــي ژونـــدی گـــرځم لـــه غمـــه

ابوالفـــیض صـــاحب رشـــتیا د دیـــن مشـــال وو
خـــاص الخـــاص بـــنده عـــارف د ذوالجـــلال وو
قرائـــــت او کتابـــــت یې پـــــه کمـــــال وو
لـــوی عـــالم منـــبع د فـــیض او د کـــرمه
حیرانـــي ده چـــي ژونـــدی گـــرځم لـــه غمـــه

مـــنور پـــــه نـــــور مـــــنفع المـــــنافع
هـــم د قـــال او هـــم د حـــال علـــم جـــامع
پـــه مـــنقول او پـــه معقـــول کـــي و رافـــع
پـــه ادلال او اســـتدلال کـــي وو محکمـــه
حیرانـــي ده چـــي ژونـــدی گـــرځم لـــه غمـــه

د دینـــــي تعمـــــیر یې وکـــــړه ودانـــــي
لـــــوړ عـــــالم بحـــــرالعلوم وو، ربانـــــي
نې درلـــودی پـــه خـــپل عصـــر کـــي ثانـــي
لـــه نکـــتې یې را ایســـتی لـــړمون پـــه دمـــه
حیرانـــي ده چـــي ژونـــدی گـــرځم لـــه غمـــه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



په هر فن کې يې د علم عالي لاس
دبېر ښه پوه د معانيو په اساس
په عروضو کې اول نمره شناس
د هر فن باندي تمامه وه عالمه
حيراني ده چې ژوندی ګرځم له غمه

په درياب کې وو غواص په طريقت
له طوفانه په امان په شريعت
و بابک صاحب تې کړی ارادت
رابطه يې وه مربوطه له صنمه
حيراني ده چې ژوندی ګرځم له غمه

و حضور ته بې تشريف راوړی قضات
مقابل چې به سوه دوی ته مشکلات
په تفصيل سره بې ورکئ معلومات
مسئله يې حلوله مسلمه
حيراني ده چې ژوندی ګرځم له غمه

هيڅ يو شعر يې له تاثير نه و خالي
بې اختياره سي راپښه موم دلي
چې سامع سم په غزل د بريالي
مشک عنبر يې تويوله له قلمه
حيراني ده چې ژوندی ګرځم له غمه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# تفصيلي حالت

"ابوالفـيض " چې لـه کـناره سـو جـلا پـر هـر شـي تأثـير د غـم سـو هويـدا
سـر پـه کـانو وهـي خـود نـارې نـارې يـار مـي نسـته اوبـه وايـي فقـرې
گـل لـه غمـه پاڼـه پاڼـه د گلـباغ سـو د لالـه پـر زړه د يـار د هجـر داغ سـو
پـه ظاهـر کـه زرغونـه ښـکاري حـنا سـور لـړمون د ويـنو ډک يې دی پـه خـوا
د طـيور آه و فغـان پـر جانـان ډېـر سـو د گلـباغ گـل گلشـن سـرود يې هېـر سـو
فلـک پاشـي د سـحاب خـاورې پـر سـر ورنصـيبه جدايـي سـوه د دلـبر
کـو اکـبو پـه ژړا کـړې سـترگي سـپيني لـه چشـمانو د شـفق سـوې جـاري ويـني
خوشـنودي يې لـه خاطـره سـوله لـيري آسـمان کړه پر ځان د اوريځي کالي څيري
د آنـار شـونډي لـه غـم غـځـه شقه سوې پـه شـکم کې واړه ويـنـي علقـه سـوې
د خاطـر دربې يې هر چيري محسوس دی جـرس ژاړي د وصـال غـخـه مـايوس دی
پـه سـېلاب د خـپلو اوښـکو سـېلابي سـو هـر عاشـق د زړه پـه ويـنو گلابـي سـو

Downloaded By: Afghan Salar Library



الغرض د یار په غم سرګردان څرخي — کواکب شمس وقمر، و اسمان څرخي
چي د غم باد يې وهي ساه يې رمق — د اشجارو څکندن د هر ورق
د خاطر مي سوه سودا په دې کي بنده — سوانح که د "استاد" سي راڅرګنده
ابتدا کړم د خاطر د ناز په مرام — د توفيق خواهش لرم پر اختتام
له عدمه چي وجود ته کښ احد — تر درې سوه و يو زر تېرو، ابجد
په تعين کي دلسمي سوه دا سنه — د تاريخ هجري شمسي سوه دا سنه
مهنور يې " کندهار" د نور په فيض — علامه عبدالغفار وو ابوالفيض
سر پوزه خصوص "ګيلان" يې وو مولد — هو ابن المفتقر اختر محمد
و روزلي پرورش د ابوين — حتی تېر چي تر مدت سو د حولين
دی لا وړ وو والده يې سوه وفات — د "بابا" په لاس کي پاته سو حيات
پلار يې و امام د کلي پرهېزګار — امامت به يې کاوه پر خپل ديار
لکه پلار، د پلاره يو و پالي "خور" — مهربانه حجاني پر تنکي ورور
د خپل پلاره سره و په حجره کي — د تعليم نصيب يې و په حجره کي
په اميد د وراثت د انبياء — پر بابا يې د سبق کړه ابتداء
يو ورکړی غني خدای وو استعداد — بل وو ډېر په زيار کښي کوښښ اباد
په کم سن تر بالاسن پوه په تعليم — شوق يې ډېر وو له کتاب سره صميم
د تحصيل په عشق تارک وو د لعب — هر ګفتار او هر کلام يې په ادب
مشتغل وو د کتاب په اشتغال — پر مقام يې له استاده کاوه سوال
پر خپل لاس چي بابا لوی کړ بنه فرزند — په طلب کي يې د علم ور کړ پند
تزايد يې وو د علم ور د جاه — په لږ وخت کي مقدم تر قبله ګاه
مهربان بابک يې ورکي اجازت — تعلم پسي اختيار مسافرت
په طلب يې د سبق په شالحاف — استبدی د کندهار پر چار اطراف

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



برخې وګتل د علم په خدمت
وو خادم د هر استاد په صداقت

صبح وشام يې سر، و كار وو د كتاب
په خاطر كي يې څه نور نه وه احباب

تېز نظر يې لګوئ پر هر سبق
په مضمون به د كتاب وو مستغرق

څو موده پر "ملاجانان" اخند په ښار كي
استېدی به پر قريب ښكارپور بازار كي

څو موده هم دكاندار وو، هم طالب
اشتياق د سبقه باندي غالب

څو كلونه شاوخوا پر كندهار
بيا شاګرد پر مولانا عبدالستار

عالم شوی وو د هر فن په مضمون
اختتام تې رسولي وه فنون

بيا يې سوله اراده و پاكستان ته
د عالي تحصيل و نوي پوهستان ته

په اول خل يې په "پښين " كې سو نزول
په اختيار يې د "سېمزي" كلی قبول

ددې كلي اوازه ذ ښه ملا وه
د طالب د مطلوب هم دا مدعا وه

و حضور ته يې تشريف راوړی دلبر
خای پر خای يې كړ همدلته څپل بستر

په آرزو چي د تعليم ؤ آمده
خود پر خای يې سوه خواهش او اراده

نصيبه يې وه د علم پر تندي
پسله څو مياشتو يې نيت دستاربندي

په منقول او په معقول كي درايه
په غرض كې مدرسه اسلاميه

پر نوموړي مدرسې باندي اختر
چي داخل سو علامه په پېښور

پرافق د پېښور سو لمر راپورته
په كنار كي چي يې سو دلبر راپور ته

ابوالفيض په مدرسه كي سو داخل
په الفاظ د مرحبا سو دواخل

چي نزيل يې "اكوړه" سوه د سكون
وه شروع په دې محل كي زيات فنون

په اختيار يې د خواهش كړه ابتدا
هغه فن چي يې د زړه وه مدعا

په تدريج سره روان و مخ په وړاندي
محاصل د حاصلاتو لاندي باندي

احاديث، فقه، اصول او تفاسير
فارسيات، نحو ؤ صرف علم تحرير

كه عروض وه كه منطق وه كه حكمت
كړه حاصل يې معاني او بلاغت

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



د میراث او د تجوید په قواعد — مهارت ؤ د ماهر په عقاید
د حساب په فن کې زیات ؤ باشهرت — په هر فن کې یې تر حد ډېر ځیراکت
معلومات بې په تاریخ او په لغت — لو رتبه یې وه د علم مساحت
لوی طبیب متخصص په نبض پوه — ستر واقف ؤ د معدون په نقض پوه
المقصد جواهر و خزانه وه — په سینه کې د یاقوتو گنجینه وه
چې حاضر به سو پر وخت د امتحان — مدرسه کې وه غښتلي طالبان
د هر سوال جواب بې درست ورکی دلبر — په انتاج د امتحان اول لمبر
پر میدان د امتحان چې وو قیام — استادانو تحائف ورکړه انعام
چې د علم په دریاب کې سو غواص — فوائد یې کړه راجمع خاص الخاص
معطر یې په دې عطرو کړ دماغ — چې یې ځای د سکونت سو علمي باغ
مولانا عبدالرحمٰن یې معتمد سو — لنگوټه یې وتړله مستند سو
گڼې ژبې چې ورزده کړې زیار د علم — کندهار تې کړه راټول اثمار د علم
کندهار کې قدم کښېښود مولانا — په تدریس یې شروع وکړه ابتدا
د فنونو په گلانو وو گلزار — د بلبلو طالبانو پر چغار
په پسې د طالبانو وه سېلونه — په سینه کې یې وه رنگارنگ علمونه
د تعلیم بازار یې تود کئ جم ؤجوش — پکښې ناست ؤ معلومدار جوهر فروش
چې راوړی یې تشریف پر کندهار — ځای د درس یې کړ په ښار کې اختیار
پرانستلې چې د علم دروازه وه — شاوخوا یې د تدریس ښه آوازه وه
بیا منزل یې په خاکرېز کې "کارزالي" — مدرس وو، دې مقام کې "بریالی"
د تعلیم د عطرو نرخ یې کړ ارزان — چې پیدا سو داختن پر دې مکان
امامت یې په خاکرېز کې وو ثبات — په دې وخت کې یې "بابا" وکی وفات
د هغه ځای یې تشریف راوړی "موشان" ته — و دې کلي د حاجي غلام حیدرخان ته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



پـه هـم عصـرو علمـاوو کـې فـائق وو — هـر طالـب یې سـبقه تـه زیـات شـائق وو
هـیخ مـلا یې پـه تدریـس نـه وو تجنـیس — هسـې شـان یې پـه تحقـیق کـاوه تدریـس
المـــــرام د مـــــنابعو وو منـــــبع — د ظاهـــر او د باطـــن علـــم مجمـــع
یـــو څـــو کالـــه دا مقـــام وو ښـــه معلـــوم — وړه فـــایده بـــه علمـــاوو بـــالعموم
چــې مـیوند کشـکینخود یې سـو قسـمت — سـو په درس یې "چهل ګزي" ځای د رحمت
ســـبقان بـــه یې ویلـــه پـــه تحقـــیق — پـه رڅـې د تـېز فکـرئ نکـات دقـیق
کتابـــتون یې وو د پوهـــې دربچـــه — اختـیار یې پسـله څـو کـالو "مورچـه"
د تدریـس یې پـه مورچـه کـې تـزاید سـو — طریقـــت کې د انـــوارو فـــراید ســـو
آوازه یې د اخـــلاق وه پـــر آفـــاق — هـر سـړی یې و مجلـس تـه وو مشـتاق
مدرســـې تـــه یې راتلـــه ډېـــر طالـــبان — د هـــرات وو د کـــابل او ترکســـتان
پـــر شـــروع د احادیـــثو وه دوره — اختـتام بـه پـه هـر کـال کـې وه پـوره
چـې خـادم الاحادیـث د پـاک نبـي ؤ — ګـل ګـلاب پـه ګـل ګـلاب ګـل ګلابـي ؤ
لـــه دهـــن پـــه جواهـــرو وو لافـــظ — پـر شـروع چـې ؤ کـتاب خواجـه حـافظ
تقریـــرات یې یاقوتـــات وه لاړ پـــه لاړه — د طلابـــو د ذهـــنو پـــه لاړ بـــه ولاړه
د هـر چـا پـر طبیعـت چـې ؤ راسـته — ؤ مجلـــس د همنشـــینو پـــه ښایســـته
مدبـر پـه هـر څـه پـوه باشـجاعت ؤ — د یتیم، کونـډي، مسکین پـه حمایـت ؤ
پـر دې ځـای بـاندي خـادم العلمـاء ؤ — پـه نامـه "شـهید حاجـي رحمـت الله" ؤ
محـــدث عـــبدالغفار وو، کـــان د علـــم — پـه تدریـس سـرې معلـوم ؤ شـان د علم
لـــنګوټې بـــه یې تـړلې هـر هـر کـال — طالـــبان یې رســـول پـــه ښـــه کمـــال
رقعـــات یې شـــاوخوا ســـوه پـــر کـــنار — چـې بـه وخـت سـو د تـړلو د دسـتار
رابلـــل یې عالمـــان پـــه احـــترام — مدرســـه وه د "مـــورچې" جشـــن مقـــام
ښـــه محفـــل ګـــل ګلشـــن بـــه ســـو تـــیار — پـه صـفوف صـفوف بـه خلـک وه قطـار

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



پـه خوښـي پـه خوشـحالي يې كـار تمـام — پـه هـر كـال هسـي تنظـيم ؤُ انـتظام
د مـتون نـاوې يې كـړې پـه آپاشـي — پـه عطـرونو د شـروح ؤُ حواشـي
تـرمذي او بخـاري يې كـړل سـينګار — رسـالې او چغمـنې يې زرنګـار
چـي تشـريح يې ښكلې كـړې دې كـتاب — هغـه شـرحه د خلاصـة الحسـاب
چـي ويـنا يې پـه مـيراث كـي رواجـي — ښـې ليكنـي يې پـه نـاز د سـراجي
نوشـته يې پـر غفـور بـاندې نكـات — هـم دي دُر، هـم جواهـر هـم ياقوتـات
چـي اصـلاح يې كـړې شـرحي د مـراح — يـو لـه دوو، وه حنفـيه بلـه فـلاح
د پښـتو ژبـي شـاعر ؤُ بريالـي — ؤُ نامـتو پـه شـعري حسـن بريالـي
بريالـي يې تخلـص ؤُ پـه شـعرو كـي — "ابوالفـيض" يې د حاشـيو پـه كـنارو كـي
مرثـيه يې د مرشـد عبدالغنـي — ؤُ مـرحوم د كـندهار د كدنـي
سـر تـرپايه يې پېژدلـي دي غمـي — د معـناوو د الفـاظو كـيف يې نامـي
د "حمـيد" غونـدي ښايسـته لـري اشـعار — لكـه بـڼ چـي پـه ښـكلا سـي د بهـار
سـياحت بـه يې هـر كـال د زيـارتو ؤُ — يادګـار بـه يې منظوم پـه دې لفظـو وو
(دا دسـتخط دى سـتا حضـور تـه يادګـار — پـه دعـا يـاد كـره ناخـيل عـبدالغفار)
بدعتـي او بې مذهـب چـي بـه پـيدا سـو — ښـتبدى لـه مـناظره بـه پـر شـا سـو
پـه سـنين ؤُ پـه ايـام ؤُ پـه شـهور — جـم ؤُ جـوش يې په تدريس كي وو مشهور
داؤدخـان پـه دې دوران كـي ؤُ جمهـور — ابوالفـيض ؤُ مـنور د درس پـه نـور
چي لـه پيښي تېښته نه سته٫كره د خداى دي — آه افسوس پر كار كرده ويل بې ځاى دي
كـه څـه هـم يې پـه تسـليم پورته وي كفه — د اجـل مرمـى نـه منبـلي بې هدفـه
د داؤد پـر انقـلاب شـوه كودتـا — ازمايښـت مـو د هسواد سـو راكوتـاه
ؤُ مخكـښ د كودتـا رژيـم خلقـي — پـر قـانون چـي ؤُ روان د شـوروي
اسـتبداد ؤُ ظلـم ډېـر سـو پـر افغـان — شـر و شـور يې آوازه سـوه پـر جهـان

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



علماوو صلحا بې قتلوله — مشران معتبرين به يې وژله

هسې شان پر مسلمينو باندې جبر — چې يې پرې کړلې د بعضو پښې په تبر

په طلب او تجسس کې وه خلقيان — چې به کله گرفتار کړي روح جان

ابوالفيض صاحب په قصد د بيت الله — نيست يې کړی د زيارت د دلربا

سو، روان پر هغه لور چې تمنا وه — وُزيارت ته د کعبې يې اشتها وه

و مکې ته چې تشريف وروړی دلبر — باندې اورې رحمتونه د اکبر

په تعظيم سو چې نژدې سو پر اطراف — ابتدا يې په لبيک کړه په طواف

بيا يې قصد کړ شاؤخوا د زيارات — څو نژدې سو هغه وخت د عرفات

مراسم يې کړه پر ځای د عرفې — بيا يې تګ سو پر منا، مزدلفې

خير خلص حالات بې کرم درته ظاهر — تيمم يې د زيارت ابوالطاهر

معطر سو په اعطار د گل نگار — چې داخل يې کړ قدم پريثرب ښار

په زيارت سو مشرف د مشرف — خوشبويي يې د مرقد پر هر طرف

تحائف يې د سلام و تصلي — ده ويل پر پاک نفس په تلبيسي

دلارام له دلا رام اجازت واخيست — په الفاظ د الوداع يې رخصت واخيست

را رهي له مدينې سو ابوالفيض — را رهي مخ پر کعبې سو ابوالفيض

که وُرجم او که حلق يا کار د نحر — دا يې واړه کړه پر ځای د علم بحر

بيا يې وکی پربيته باندې طواف — په اکرام يې بوسه واخيسته د غلاف

مبارک يې سوه په مسحه دواړه يد — چې يې کښېښودل پر حجرالاسود

مبارک د مبارک په برکت سو — بيا يې قصد د خپل وطن د حرکت سو

دا گفتار به وو په خولو کې د حجاج — هلته مه څه علماء يې کړه تاراج

ويل راوړی مو ايمان چې پر جليل دی — توکل مو پر هغه رب الوکيل دی

(ذالجلال ته چې منظور وي هغه کاندي — کبرياء دی که څوک ژاړي که څوک خاندي)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



را رهي افغانستان ته نازنين سو — ورته پټ خلقي ظالم كمين نشين سو
پر ميدان د كندهار چي سو معلوم — آمده وه انتظار ته د مظلوم
چي را كوز له طيارې سو حق شناس — ظالمانو فوراً ونيوى تر لاس
اجازت ورلره نه سو بالا نور — نه يې وليدى قريب عيال و كور
رباني شيخ الحديث چي سو مسجون — كندهار له ډېره غمه سو محزون
يو زر درې سوه اوه پنځوس تاريخ — شل د قوس وو پر جانان سو اوقات تريخ
رفقاء يې راستانه سول يک تنها — سو راتگ يې و قريو ته په ژړا
(ابوالفيض) يې برابر بوتي محبس ته — د هوا آزاد مرغه ولاړى قفس ته
چي يې ونه ليدې چا خماري سترگي — په نس ولاړې د عاشق د فراق ژرگي
حال احوال يې د خطه په رابطه — نور يې نه وه په دې منځ كي واسطه
چي پوښتنه يې د حال و سوه په خط — د خطه جواب يې ؤ په دې نمط
(كه د غم د زانگو تال غواړي محبس دى — دغه يو تال يې تر مرگه پوري بس دى )
خلور مياشتي زيات و كم پكښي ايام — وو بندي په كندهار كي گل اندام
چي يې وروسته له دې پس نه سو درک — د عاشق د زړه پر تپ خاخي نمک
گوره چېرته يې خارج كړ له محبس — را خه ورک سو د بدن شېرين نفس
اغلباً مي پر زړه دا راخي شهيد دى — ربه اغفرشهادت يې پر توحيد دى
معلوم نه سو هيځ منزل او مقبره — د مرحوم د مدفن ځاى و هديره
آه افسوز دى بيا افسوز دى آه افسوز — هم بيا وايم چي افسوز ځاى دي د سوز
نه مدخل نه يې ښكاره يو نښانه سوه — نه يې حال نه يې احوال نې نمونه سوه
غني خدايه مستغرق يې په رحمت كړې — د برزخ حالات يې واړه په راحت كړې
مخ يې كړې بدرالمنير په ورځ د نشر — تر اظلال د عرش يې لاندي كړې په حشر
چي در وړې يې د علم قباله — د كتاب ملک يې يمين كړې حواله

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ثقالـت يې د مـېزان پـه حسـنات کـړي ترازو يې پـه خفـت د سـيئات کـړي

يـو نـدا د لاتخـف کـړي پـر هـاتف پـر صـراط يې کـړي مـرور بـرق خـاطف

پـه فـردوس کې ملاقـي کـړي د لقـاء ور نصـيب کـړي د سـاقي د کوثـر مـاء

همنشـين يې د سـيد المرسـلين کـړي مجلسـي يې د خـاتم النبيين کـړي

د عـيوب پـر تـن مـو کـړي ستر جامـه ربـه خـير د هـر مؤمـن کـړي خاتمـه

دا تذکـير مـو تذکـره کـړي پـر عـالم د زخمـي زړو پـر تـپو يې کـړي مـرهم

مهـيا سـوه بنـه ليکـنه پـه تذکـار مرثـيه ده د سـخي عـبدالغفار

اسـتخوان بـه مولحـد کـي سي تـراب يادگـار شـايد باقـي وي پـر کـتاب

لـه ناظـره څـه خواهـش کـرم پـه منظور پـه دُعـا کـړه د خـيرياد "ابوالمغفـور"

لـه ظـرفه دده هـم سـلام تقديـم
هـر کـه يـاد کـړي پـه سـلام "عبدالحکيم"

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



نباغلی احمد "صمیم"

# د میوند افتخار

د مغلـــــو پـــــه لاس کښـــــېووت "بریالـــــــی" عـــــبدالغفار
د فـــــراق رود مـــــي لـــــه ســــترگو را بهـــــېږي بې اختـــــیار

* * *

پـــــه صـــــوفیانو کـــــي مجـــــذوب وو د رسول پـــه عشق کي ډوب وو
د ســـــلوک پـــــه مدرســـــه کـــــي طالـــبان شـــوه خـــورا، و زار

* * *

د تدریـــــس پـــــه پوهنـــــتون کـــــي د مـــنطقو پـــه مضـــمون کـــي
ســـــــقراط او افلاطـــــــون یې لا هـــــم نـــــه کـــاوه انکـــــار

* * *

هـــــم پـــــه شـــــرعه کـــــي محکـــــم وو پـــــه مـــړانه کـــــي رســـتم وو
کـــــــــتوری د شـــــــــهادت یې پـــر سـر پورتـــه کـــړ یـــو وار

* * *

د شـــــــلم قـــــــرن "حمـــــــید" وو د ادب غـــــوث یې مـــــرید وو
د تقریـــــــــــر ابوالکـــــــــــلام وو د تحریـــــــر ســـــپه ســـــالار

* * *

چـــــي هـــــر شـــــعر یې نمکیـــــن دی خو "صمیم" یې خوشه چین دی
د یادگـــــــار محـــــــراب یې پاتـــــــه پـــــه "مـــــیوند" کـــــي افـــتخار

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# بنيادي خاطرې

د شهيد علامه "بريالي" په اړوند د وخت ډېرو شاعرانو نظمونه ويلي دي همدا راز په راډيوګانو او مطبوعاتو کي ورباندي کله نا کله مضامين ريکارډ او خپاره شوي دي؛ دا چي يوازي دده د يو دوست "ابوالمغفور" نظم ته پاملرنه و شوه او د مجموعې په څنګ کي نشر ته وسپارل شو د جامعيت او اشتمال په خاطر. ولي هسي خو د ټولو اخلاص او عقيدت د قدر وړ دی.

# د څو خاصو نظمونو بېلګې

د مولانا بريالي صاحب څه منظوم ليکونه او د ځينو زيارتونو لپاره خاص شعرونه يې په ګوته کوي چي څه پاشلي ابيات يې هم سته د بېلګې په توګه يې څو لاندي نمونې وړاندي کيږي:

پــــه شـــرف د نازولـــــي محـــــترم ــــ پـــــه حضــــور د معظـــــم و مفخـــــم
پــه ادب و پــه اعظــام و پــه تکــريم ــــ ســـلامونه و دعـــاوي دي تقديـــــم
په ظاهـر و په باطـن لـوړ د اوصـافو ــــ ستر مديـر پـه کـندهار کـي د اوقـافو
نـــنه شـــپه د فقـــيرانو مهمانـــــي ده ــــ کـه تشريف راوړئ دا لـو مهربانـي ده
موضـوع صـرف دسـتاربندي د طالـبانو ــــ پـــــه دعـــــاء او تـــــبرک د مشـــــرانو
ځاى "مورچه" کشکنخود نژدې مرکز ته ــــ دا ادرس دی وخپل ګـران او معـزز ته
کـه جـواب پـه نعـم ورکـي انـتظار تـه ــــ لـوړ شرف دی ابـوالفـيض عبدالغفار ته

# بلنليک

پــــه حضــــور د محــــترم عالــــي مقــــام ــــ غائـــبه تحفـــه دعـــا مســـنون ســـلام
تـر کوتـاه دېـباجه پـس اظهـار د حـال ــــ طالـبان دسـتاربندی تـه لـري خـيال
شـمولي مجلس پــه حيــث د افــتخار ــــ لـــري ستاســـو و تشـــريف تـــه انـــتظار
کـه منظور عاطـر د ماغ ته اجابت سي ــــ شـبقدر بـــه پـــه ورځ د ســـعادت ســـي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



مزې په هیڅکله دا کتاب شائع کړی نه وای؛ خو ماتو ګوډو مخکنیو خپرونو اړ کړو ـ هو! څرنګه چي په عامو خلکو کي د جهل ریښې تینګي شوي وې او په نا مناسبو مجلسونو کي به یې اشعار ویل؛ یو همدا سبب وو چي حضرت بریالي صاحب د خپلو شعرونو د خپرېدلو څخه تل ډډه کوله.

# د جیب له کتابچې څخه

بې لـــه اذنـــه منـــتظر د کـتا مـــه ســـه ... درتـه سم وایمـه کور دي خراب مه سه
کـه پـه سـمه ویـنا نـه یې اړ، نـو واوره ... ولاحولـــه ولاحولـــه (...) مـــه ســـه
چـي پـه هـر ښـانک کـي لوېږې پرتـې ... بې عـزته سـولې مـثل ذبـاب مـه سـه
دا بـه سـتا دپـاره نـه یـي ښـه ناشـوقه ... کوتـاه فکره پر هر خای په عذاب مه سه
کـه عاقل یې نو په نیمه پوه سه بس کړه ... چاره کنبړده و خپل تن ته قصاب مه سه
مطلـب دا دی کـتابچه مـه ګـوره نوره ... بریالـی یـم نـور قـائل پـه جواب مه سه

# ازمحبس

بـرخم شـعر خـم سـنګ پرهـیز مـیزنم ... دیـــوان شـــاعری را بابریـــز مـــیزنم
جز نعت آن حبیب که سالار کشور است ... هـــر دفـــتری زسـینه بـــه لـبریز مـیزنم
شستم کـتاب خال وخط به آب ندامت ... پرویـز قلـم گشـته بـه چنگـیز مـیزنم
گردانـی جګر خویش را به اشک توبه پاک ... ایـن عـرض رابـه یاریـزی سـرتیز مـیزنم

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



له څو تیتو شویو بېلګو څخه یې یوه توته هغه ابیات دي چې د سید شیخ عبدالنافع رحمة الله علیه د خانقاه په مسجد کې یې لیکلې وه:

# "د خانقاه د مسجد بیتونه"

د مســجد امــر دي پــاک پــروردګار
ســید شـیخ عبدالـنافع یې ســو معمـار

څهارشـنبه د اسـد نولـس شمسـي کــال
زرو درې ســوه اووه څلویښـت پـه شـمار

او کـه سـوال د قمـري هجـري سنې وي
وجــواب تــه یې کافــي عــبدالغفار

پـر تقـویٰ ایښـودل سـوی دا اساس دی
هــم دغســي امــر کــړی رب الـناس دی

ســـعادت دي مــبارک وي ربانـــي
ســید شــیخ عبّدالــنافع ربانـــي

د بـابک مـبارک روح دي پـه خوشنود وي
ترقــي د دې دربـار دي پــه بهـبود وي

هفـــته دال واو د اول جمـــاد یـــا
اســد درســته تــېره کــړې وه جــوزا

شمسـي کـال پـه جـوزا کـم بیـت الاذکار
قمـري هجـري وه ۱۳۸۸ کـال عـبدالغفار

* * *

کله چې یې د خانقاه په مسجد کې د اعتکاف اراده وکړه نو دا دوه بیتونه یې وویل:

پــراخه مخکــه راتــه تــنګه کــړه ګــناه
ملتجـــي یمـــه راغلـــی ســـرپناه

پــه اخـلاص کومــه نیــت د اعــتکاف
رب کـریم دی څـه عجیـب کـه سم معاف

زما یادیږي چې یوه ورځ یې ماته د کوچنیوالي د خط زده کولو پرتخته دوه بیته ولیکل چې یو مې داسي په یاد دی:

خـط کـاږه وکـیله که غواړې چې ملاسمه
یـا یـو ښـه تکړه میرزا یا یو لو بده بلا سمه

بل وخت یې زما د مشري خور حجانې لپاره چې هغه وخت ماشومه وه داسي لیکلي وه:

لویــه خدایـــه د حــیات پــه پــیمانه
کـــه یې ښـــاده نـــازولې یحانـــه

که تر دې راتېر سو نو بې ځایه به نه وي چې که د خپل شهید ورور خلیل احمد او نورو ورونو نومونه هم یاد کړم: دریم مو حافظ مولوي محمد "حماد" ورپسې مولوي جلیل احمد او بل مو احمد "فیصل" دی.

والسلام دعا ته اړ وکیل احمد "متوکل"

Downloaded By: Afghan Salar Library



# دوهمه برخه

# "اشعار"

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# مناجات

بـاري خوـله مـي كـرې گويـا پـه مناجات　　را نــازل كــړې ســتا د فضــل بــركات

چـي وجـود مـي سـر تـر پايـه مبارک سي　　را تــه حــل ســي د دې دهــر مشـكلات

د خـيگر داغ مي ډېوه د لمر په شان كړې　　چـــي پـــه وويـــنمه ارض وســـماوات

د اُميد غـنچه مـي گـل ستا په كرم كړې　　چـي پـه بـوی يې معطركـړم شش جهات

پـه محفـل كي د عرفان مي ترجمان كړې　　د اســرار وخــه مــي ډک كــړې عــبارات

د الفـاظو تـر هـډو مـي ذهـن تـېر كـړې　　راتــــه وښـــيې د مغـــز درجــــات

برېالـي د خــوف لمــن پــه رجــاء ډكــه

[illegible] ســتا و فضــل تـــه ســـوغات

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# نعت شریف

افــــلاک د ادراک دی مقـــــام ســـــیدا
امــــلاک د لـــولاک دی انعــــام ســـیدا

تابـــان پــر اســمان دی انـــوار د عظمـــت
نبســـــان د عـــــرفان دی ابشـــــار د عـــــزت
احسان پـر جهـان دی لـوړ شـان و شـوکت

اســـماک د ســـماک دی اعظـــام ســـیدا

پـــــه تـــــاج د معـــــراج ســـــرفراز عربـــــي
عـــــلاج و ســـــراج دی اعـــــزاز عربـــــي
پـــــه بـــــاج و تـــــاراج يې ممــــتاز عربـــــي

چـي لات دي كـړ مـات پـه اسـلام سـيدا

پـــه شـــپه د اســـراء مرحـــبا و قـــدوم
اجـــلال د وصـــال درکـــي رب القـــيوم
تطهـــير وتـــنوير دي ســـو کشـــف الظلـــوم

صـــاحب د اکـــرام احـــترام ســـیدا

اجـــــــود الوراســـــــيد المرســـــــلين
رفعــــــت اللــــــوا رحمــــــة العٰلميــــــن
واهـــــب العطـــــا شـــــافع المذنبيـــــن

دی عـبدالغفــار ســـتا غـــلام ســـیدا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# محبوبا

گټلی نام و ننگ سره تر تا جار محبوبا دلکشه دلنوازه و دلدار محبوبا
زما روح و بدن دواړه ستا روح ته سپلني قربان له مدینې سره کندهار محبوبا
که ټول جهان جنت سي بې له تا راته دوږخ دی پر جنت البقیع غواړم مزار محبوبا
رشتیا مي ستا په زلفو دی ترلی خپل ایمان پایتخت مي ستا د سترګو د زړه ښار محبوبا
که سوم دي دمریې مریی پښتون عبدالغفار
د خدای حضور ته وړم دا افتخار محبوبا

# د شاعر هیله

صبحګاه سوه ساقي خلاصه میخانه کا د صهبا په یوه غوړپ مي دېوانه کا
صراحي رنګ په فنا کي بقا مومم و دې اور ته مي جانسوزه پروانه کا
د رفدا سم انتظار دغومره بس دی در داخل مي د دې ور په استانه کا
قلندر له عقله تللی مرور یم درندی په سر شوخي مي مستانه کا
که یو څاڅکی یې په آب حیات ګډ سي مهتر خضر(ع) به له ژونده بېګانه کا
سر بې هوښه، مست نشه پروا یې نه کړم زاهدان که مي په خولو کي افسانه کا
شوریده لا ابالي وحشي مسلک سوم ګنه بخت مي د عنقا په اشیانه کا

بریالی یم بریالی باده مشربه
صد ساله می، مي په نام را پیمانه کا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# چېرته رند، چېرته حیا

چیغـي مـه وهـه زاهـده د بـیا بـیا
چــېرته زه چــېرته توبــه چــېرته تقــوا

د بَـل اور مـخ پـه خاشـو کلـه راګرځـي
چـېرته رنـد، چـېرته شـوخي، چـېرته حـیا

د ریـا ژړا لــه مـورِه خــه مـه غــواړه
چــېرته مــی چــېرته مسـتي، چــېرته ژړا

د پرهېز پښې مي ساقي کړې غبرګي ماتې
چــېرته شـل، چـېرته مـزل، چـېرته صـحرا

پـه خلـوت کې مي زهره چوي ګرم نه یم
چـېرته دښـت، چـېرته ماهـی، چـېرته بقـا

خوشـي خوشـي راتـه مـه وایـه طبیـبه
چــېرته مــړ، چــېرته لحــد، چــېرته دوا

ملامـت یـم چـي لـه شیخه رندي غواړم
چـېرته خـس، چـېرته جمـاد، چـېرته ویـنا

هر سرور، د دې درد نه دی بریا لیه
چېرته تاج، چېرته شاهي، چېرته ګدا

# زړه او خوله یوه کړه

چـي د زړه الفـت يې نـه وي پـه رشـتیا
خــه پــه کــار ده د درواغـــو مرحـــبا

پـه خولـه لاپي د دوستۍ وهي دوه رنګه
پـــه باطـــن کـــي يې وي پـــټه مدعـــا

کوم دي عقل کوم کمال دی اې ناپوهه
چــي دي لــوړه تــر هــر چــا ده تقاضــا

خـپل دي زرعیـبه کړه پټ زما دا یو وایې
لـــه وجدانـــه وکـــړه لـــږ شـــرم و حـــیا

زمـا ورورِه! لــږ انصــاف درلــره بویــه
هســـي نـــه چـــي زه نعـــم وایـــم تـــه لا

زه د خـان پـه غـم لا خومـره خفـه نـه یم
لیکـــن ســـتا د شخصـــیت وړ نـــه ده دا

خـپل ګریوان دي محکمه عقل قاضي کړه
ملامـــت کـــړه خـــان د فکـــر پـــه فـــتوا

د زخمــي ویــناوي واړه دي ســتا ګــته
او کـنه هـر څه چي کړې پړ به سې بیا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# میوناب

دا دی راغــی مــیراث خــور د مــیوناب
بـــیا بـــه ولـــتوي اور د مـــیوناب

چـي نـه خـم او نـه يې جـام لري جواب
پـــر ســاقي بـــاندي يې پـــور د مـــيوناب

مرشـــدان د صـومعې بـه امـن غـوارې
پـه نوبـت چـي جـوړ سـي شور د میوناب

زاهـدان مـیخوري کاندي په محراب کي
زه فـرار سـوم پـه تـش تـور د مـیوناب

دا عبـــث داد و انصــاف دی منصـــفانو!
لا هـم غـوارې تـاوان نـور د مـیوناب

**بریالی** تـه کـه هـر ځـای دارالفرح سي
ستاسـو سـه ډیلـی لاهـور د مـیوناب

# قبیح او ملیح

در ښـکاره بې کـرم کـه نـه کـوې عـتاب
د پاخـه ځـيگر لـه زخمـه څـه کـباب

چـي مي مازي ور نژدې کی پکښي ډوب سو
غـم کشـته زړه مـي د مینـي پـه دریـاب

عبـث مـه وایـه چـي کاږه يې په ورو، ورو
را څـــه وشـلېدی د صـبر تـیـنگ تـناب

کـه هـر څومـي پسي زور کی نه په ولاړی
د آه غشـــی پـــه رقیـــب خانـــه خـــراب

ښـه دی پـروت دي وي چي خيشت پکښي وکاږي
ســور شـهید تـن مـي د هجـر پـه خونـاب

چـي زحمـت وربـاندي راغـی سـو بېتابه
د مطـــرب لـــه گوشـــمالیه څـــه ربـــاب

تـــر پـــزوره لا کـــرار، کـــرار خوږیـــږي
خـــوږ سینه مـي پـه کـتو د شـوخ قصـاب

کـه شل کاله پکښي پروت وي سوړ به نه سي
د عشـق سوی که ځان یوپ کړي په گرداب

پـه زاریـو او پـه وریـن تـندي يې راکـړه
اې ســاقي يـو جـام تـازه گلگـون شـراب

کـه لـه دغـه قسـمه غـوارئ صنعتونه
**بریالـی** ورځخـه ډک لـري کـتاب

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د المرتب صنعت

ښه پوهېږم چې يې غم کې را قريب
اول عشق، دوهم فراق، دريم رقيب
ورېتوي مې په دوږخ د جدايي کې
اول بخت، دوهم فلک، دريم نصيب
زهر مار يې د شفا په جام کې راکړه
اول شيخ، دوهم ناصح، دريم طبيب
زما د زړه پر ښار په زور حکمراني کا
اول سوز، دوهم الفت، دريم حبيب
تر ګرز لاندي يې بهي رنګه تک ژړ کړم
اول درد، دوهم ايـاس، دريم لبيب
د تقوا جامې يې وکښې زما له تنه
اول ناز، دوهم ادا، دريم غضيب
دې درو خيزو پر بېدردو بريالی کړم
اول شور، دوهم جوش، دريم شغيب

# مـات

دا سېلاب سو د سرو اوښکو په طوفان مات
که د نوح(ع) په جزيره کې سو اسمان مات
د غمزو قطاع طريق چې دې ياغي سي
په يوه حمله مې کړي د زړه کاروان مات
دا دې سرې شونډې مايلې په خندا کړې
که په کان کې د عقيقو سو مرجان مات
چې د سرو سترګو زمريان دې لېوني سي
له هيبته په ځنګله کې سي زمريان مات
غل په پټه د شپې کور چوروچپاو کړي
ګل مې کې په سپينه ورځ د زړه دکان مات
شکسته خط دې د مخ په دېباجه کې
که راځي د کېميا ګل ته بوراګان مات
دلکشي چې دې کوره خط د توبې کې
بريالي بېرته قسم کې پر خپل ځان مات

Downloaded By: Afghan Salar Library



# ښکاري سترګي

نـور بـه څـه وایم لـه حالـه کم و زیات
د غمـــو را بـــاندي اوري برســـات

د کونیـنو مهمــات راتـه مـنحل سـوه
چـي مـي ولـیدل د هجـر مهمـات

د وصـال کعبه مـي نـه وزي لـه خـیاله
چـي مقـیم سـم د تصـویر پـر عـرفات

ښـکاري سـترګي د دلـبر دام د زلفـانو
پـه حکمـت لـه عـنقا اخلـي مکافـات

لـه جوابـه مسـتغني د زرو فقـیر دی
مسـاکین یې پاچهـان سـي پـه خـیرات

پـه شـرابو کـي زکـات مګـر نـه بولـي
دا چـي نـه باسـي د سـرو شـونډو زکـات

د غضب آب چـي په سترګو کاندي پوري
ســـره وښـــوروي ارض و ســـماوات

مرحـــبا، مرحـــبا راســـه ســر جـلاده
بـریالـي سـر درتـه ایښـي دی سـوغات

# کښېنوست

دا دي خـال د زنخـدان په خط کي ښکاري
او کـه مـچ دی پـر لیکلي قرآن کښېنوست

پـاس دي تـیک د تورو زلفو په اطلس کي
کـه د قهـر پـه لـباس قوماندان کښېنوست

خـیال د عشق دي نور خیالونه را څه ورک کړه
پهلـوان دي یکتـنها پـر مـیدان کښېنوست

واعـظ پېژنم دښـمن د دوسـت پـه شکل
خرمـن خور دي د بوټ ساز پر دکان کښېنوست

پـه کـرمان کـي قـدر کـم سـو د یـاقوتو
چـي پـر لعل دي د سرو شونډو ېزوان کښېنوست

سـتړی خـیال دي تـر زهـیرو زلفـو لاندي
د سـنبل تر سیوري لاندي باغوان کښېنوست

خدایـه فضـل پـه وصال مي بریالی کړي
زکـندن ته مي د هجر شیطان کښېنوست

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# واخیست

تور لباس چي دي زيبا سپين بشر واخيست
هسي ښکاري لکه تندر چي لمر واخيست

دا سرې سترګي د آبرو په قالب زيب کړي
يا سپوږمۍ په غېږ د ستوري ثمر واخيست

يا کعبه د تور اطلس په پوښ کي پټه
يا پر مخ دي تورو زلفو ګذر واخيست

بوراګان به پر واز کاندي د ګل خنګ ته
د کاکل بورا مي غونډ د زړه سر واخيست

کبرجن ګيسو دي مات مخ په زلفانو
که فرعون و دوږخ ته بستر واخيست

کج آبرو تر کاکل لاندي خدای دي خير کړي
که جلاد په لاس د قتل خنجر واخيست

په کنار د خولې سرې شونډي مناسبي
د ياقوتو قدر حوض کوثر واخيست

د "حميد" لحد به بيا په رقص راسي
بريالي په جېب کي نوی دفتر واخيست

# واوښت

چي مي ستا و شوخ نظر ته نظر واوښت
د ښکاريانو پر نښان مي خيګر واوښت

خو به خان ساتم د زلفو له خنجره
د توبې سپر مي له بېري تر سر واوښت

تېزي سترګي دي د وروځو په هلال کي
ستوني ستخ د سپوږمۍ غېږي ته لمر واوښت

نباتي شونډي آبداري کړي په ناړو
د شرابو په پياله کي شکر واوښت

تللی فکر مي ستا زلفو پسي کش کی
مسافر خيال مي پر نوي سفر واوښت

ما ګټلی دی روغبړ په نره توره
چي د ترکو پر عيدګاه مي ګذر واوښت

بريالي ته شپه د هجر پنځلسي سوه
د روژې په لړمانه کي اختر واوښت

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# مفت

کـوم ظـالم صیاد مو یو وړه پر، وبال مفت
چـي لـه شـره سـو بهر د هوا خیال مفت

ناپوهـي ده نـا پوهـي ده ښـه پوهــېږو
لوړ شوکت را څه پاتېږي کال په کال مفت

ولــي نـه ویښـېږې زمـا بـیده وروركـیه!
مـبادا چـي درځه ولاړ سي سر ومال مفت

چـي تر لوی او کوچني پوري ویښ نه سو
خـدای خبر چي به راځي لاس ته کمال مفت

چـي لالــه رنګـه پـر ښټ بـیابان نـه سي
کله وړای سـي د شـهرت پـر ځیګر خال مفت

چـي لـه مخـه د غفلت رویبند وانه خلي
لـیدای نـه سـي د شفق پر مخ هلال مفت

ناقـابل نـیمچه مـلا مـي پـه وار راغـي
پـه نامـه کـي مـي بې وجهي کړي اعلال مفت

لـه لغـازه څـه مـي مـه کښـېنه بې غمـه
نـه به خلاص سې ته زما لـه غالمغال مفت

بریالی یم د ادب د کوڅې خاوري
مه مي بوله د دردمن زړه قیل وقال مفت

# ګل نه دی ملامت

بلـبل که څه تاراج دی ګل نه دی ملامت
د مینـي دا رواج دی ګـل نـه دی ملامت

کـه زر واري پـه ورخ کـي داړل کـېږم نـه صبرېږم
رقیـب یې سګ مزاج دی ګل نه دی ملامت

ایـږدي کـه کـج د ستار پر کج کاکل ورسره ښایي
دا کج خاصیت د پاج دی ګل دی نه دی ملامت

کـه سترګي پـه ژړا زدویـم او غرق لکه کنعان سم
د زړه بحـر مـواج دی ګل نه دی ملامت

کـه ویـنم بریالی د عزرائیل روغبړ په خوب کي
مـرض مـي نـا عـلاج دی ګـل نـه دی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د ژبې اور

که مې واخیست اور د ژبې په باروت
هاله وابه خلم قصاص د خپل سکوت

د زړه لمر مې د خمول په تندره پټ دی
لکه پټ وي تر اطلس لاندې یاقوت

د جزا په څاه کې تل په سر خړېږم
مکافات دی د هاروت و د ماروت

د دماغ معلم مې بس، بس راته وایي
ګمنامي مې لمن نغاړي په تابوت

فکر او خیال مې له تقلیده حزازت کا
سست اساسه لکه بیت العنکبوت

دا دوږخ دی که برزخ چې پکښې اوسم
که حیزد جبروت و د لاهوت؟

بریالی یم جستجوی د ژوند مې مه کړه
سر مې بایلود په قانون کې د راجپوت

# ساقي ته

معطلي نه سته ساقي پاڅه اوچت
زما له لوري ناروا دی نور مهلت

د خیګر پټک راډک کړه له حیا ته
د خضر په ملني خمه په غربت

د نګار شونډي شراب مخ یې پیاله ده
خماریانو ته رسیږي په نوبت

له تسبیح او له زناره به خلاص اوسم
که مې واخیستی له تانه خپل قسمت

د مستانو په مجلس، که لبوني سم
سي به پاته بتخانه ده که خلوت

په کمند د سنبلي ګیسو چې بند سوم
لار سوه ورکه د دوږخ او د جنت

بریالیه تود مضمون ساقي ته وایه
له سړې غزلي نه اخلي عبرت

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د سترګو غمزې

چې د سترګو په غمزو دي سو مکوټ　　نرګس و ایسته د ځان ژبه تر ځټ
ماځیګر چې مخ ځرګند کړي له حجابه　　لمر د شرمه په پوړني کړي مخ پټ
شنه هډوکي د آسمان غوښې يې ولاړې　　چې غذا سوه ستا د شونډو په کارټ
چې مونده سي په کاږه مغزي له تانه　　مونده نه سي د پټوارو په پرمټ
که د زړه په حیث مي غم دلبند وکاږي　　ستا له عشقه به بې زړه سمه کوړټ
فوج د بحر ته دي درس د جولان ورکی　　نیوۀ نه سي په ایرټ وپه مرټ

چې قیاس دي نتیجه دایاس باسي
بریالی به ولي نه ژاړي په ورټ

# د کبر غندنه

کبرجنه یو وار زما و خواته غوږ کړه　　دا یو قول د زړګي پر سر کړه نوټ
پر خیالي ډګر له تا ولي ځان ورک سو　　چې هر وروړ دي کی وخپلي پښې ته بوټ
ته هم ما رنګ یو سړی یې له سړو څه　　کمیني درڅخه صرف کی پشمي کوټ
تکبر دي تر فرعون دی اړولی　　وهامان ته ښکاري اصل د مینوټ
د سلام اچول عار درمعلومیږي　　عجب مفته ګټه بولي لکه چوټ
آخر دومره فکر هیڅ درسره نسته　　چې تر څو به وي روان د ژوند اوګوټ
دا خوږ ژواک پۀ غم ببشکه لګیا کېږي　　چې پر مرګ سي هدف سور د کرمبوټ
سترګي روني کړه له خوبه څه راویښ سه　　د غفلت پر بستر مه وهه منجوټ

اې زخمي په دې بیتو که څوک عامل سي
خوندور دي هم تر "جوګ" او هم تر "سروټ"

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/　Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# غـوث

لاس چـنگاو مـي پـه لمن د هغه پير غوث   چي يې وړی هر خای نوم د دستگير غوث

هـېيخ يو دم مې دده نوم د زړه هېر مه سه   نـنگوم بـه پـر هـر کـار ؤ پـر تدبـير غوث

نازولـــی نازنيـــن لمـــر د بغـــداد دی   سـر حلقـه و سـر مرشـد د هر ځنځير غوث

ســر ســالار دی گېلانــي اعظـــم لقـــبه   پـه کومـک دی د هـر شـاه و د فقير غوث

د فلـک پـر مـخ بـه جـوړ کړي حشر ؤنشر   کـه پـر ووايـي لــه جوشـه يـو تکبير غوث

و قـــدم تې د هـــر شـــيخ اوږه کـــړه ده   پـر اووم آسـمان ياديـږي پـه امـير غـوث

پـــه عـــزت د غوثيـــت دي وه کاملـــه   مـدد راکـړه يې د هـر خوار ؤ حقير غوث

بـريالـی بـه سـره لمـبه سکور او ايره سي

کـه يې گـير کـی د نظـر په اتشگير غوث

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# عبث

هدایــت و نــا اهلانــو تــه عبــث
لاربنــوونه و رندیــانو تــه عبــث

استعداد چــي د تهدیـد ورپـوري نـه وي
ورم هســـي انســـانانو تـــه عبـــث

د اسـرار و پـتول پـه زړه کـي نـه دی
گډېـــدل وبـــیدردانو تـــه عبـــث

چــي یې زړه وي لــه تاثـیره مسخه سوی
رغـــېدل دې ســـامعانو تـــه عبـــث

د اخلاقـو پـه شـعبه کـي چــي وي صفر
خطــاب هغــو ناپوهـــانو تـــه عبـــث

چـي یې خـوی بـده وراشه وي گرزېدلې
گـــیله هغـــو کجـــروانو تـــه عبـــث

پـــه زیبــره ژبـــه ویـــل د لائـــمې
د خـــوږې میـــنې رندانـــو تـــه عبـــث

چي د دوو ورونو په صلحه خوشحال نه وي
لغـــاز دغـــو مفســـدانو تـــه عبـــث

چــي د خـیر ویـنا شـر، ورتـه ښـکاریږي
خـــیر دغـــو کـــج بـــیانو تـــه عبـــث

چــي د زړه ســوزش و جوش ورسره نه وي
کښېنســـتل هـــا مطـــربانو تـــه عبـــث

لـــه ازلـــه خـــه چـــي ورې نوشـــته وي
تعطـــا دې حریصـــانو تـــه عبـــث

د خـــان داد او تسـلي پـــه صـبر کـــانده
الـــتجا و مـــنعمانو تـــه عبـــث

و کـــرم تـــه د غنـــي منـــتظر اوســـه
امـــید کـــړل و کنجوســـانو تـــه عبـــث

د امـــي ســـري تدریـــس د علمـــي چـــارو
منطقـــي او حکمتـــیانو تـــه عبـــث

چـــي پـــر خـــای د امـــتحان یې په ښه نسي
زده کـــول و طالـــبانو تـــه عبـــث

د روحـــي مـــرض ابـــراز صـــلحي لـــپاره
وظاهـــره طبیـــبانو تـــه عبـــث

چـــي ریـــا او نـــوم وتـــل پکښـــي غـــرض وي
دا رنـــگ زهـــد زاهدانـــو تـــه عبـــث

د عـــروض لـــه (ق) لـــیري شـــعر کـــړل
و زخمـــیانو شـــاعرانو تـــه عبـــث

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# خاج

زه له نازه هغو ښکلو کړم تاراج — چې غمزه یې له ترکانو اخلي باج

ولاړې زما و استغنا وار سره تېر سو — خدای چې کړمه وګلرخو ته محتاج

چې د مینې په طاعون یې تن تغمه سي — هغه نه لري بې مرګه بل علاج

دا چې هر مرد، و نامرد ته سر کوزي کا — چا پوخ کړی پر مینو دا رواج؟

چې د صبر د متاع خریداري کړم — راخه خپې مې د طاقت نقده وواج

چې د ګل له بندګیه مې آزاد کا — خدای مې مه کړه سر افراز په هغه تاج

چې پښه رنګ مې سینه سوه تپلي تپلي
بریالی سوم په اوله بازي خاج

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# موج

چي لـه درده مي وهي د زړه آسمان موج
خـود وهي به مي سرې اوښکي پر ګريوان موج

پر ګـريوان مـي د تودو اوښکو ځپې دي
کـه د نـوح پـر کښتۍ بيا راوړ طوفان موج

زه تـنها يې پـه طلـب بـاندي چـور نه يم
پـر کوڅـه يې وهـي ما رنګ هزاران موج

محبـت مـي پـه سينه کـي لکـه غـر دی
پـه دا څـه سـوکه پر راوړی ناصحان موج

نـنګ و شـرم يې تحفـه د جـاه پرسـتو
پـر مرداره باندي خوښ لري کارګان موج

سـره څـه دي د ګلـرخ او د شـيخانو!
پـر ډېـوه کلـه وهـي شـب پـرکان مـوج؟

بـريالـی لـه تعجـبه پـه خـندا سـم
چـي وهي راباندي خوشي واعظان موج

# اصلاح

آبادېـرې پـه نېکـي ښـار د فـلاح
نېکـي بولـه د جنـت ورلـه مفـتاح

نتـيجه لـه ژونـده عـيش معـنوي دی
عيش مونده سي که اول ځان سي اصلاح

ثمـره و مـيوه وړه لـه دغـه باغـه
نـو شـوه يې پـه عمـل د هـر صـباح

خدای دي نه کا چي مهمل ترې نه واړه سي
يـا دوکـه نـه کـړې د بـد فعـل ارواح

لـه آزاره د کونيـنو خسـران زيـږي
د مظلـوم ژړا کـه ورسـي پـه نکـاح

چـي دي خـوی د غريـبانو قصابي سـوه
نوشـته کـره پـر تـندي نـوم د ذبـاح

هغـه ورځ چـي د حساب و منځ ته راسي
خلاصـېده بـيا هلـته نسته پـه الحـاح

کـه مېره يې اوس لا ځان ورته چمتو کړه
هـر عبـث او حـرام مـه بولـه مـباح

کـه پـه صـدق بـريالـی و ځانته وايي
پـر درياب د بـيداری ځان کړه ملاح

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# صبح

پـر ګلشـن سـو بـیا روان رکیـب د صـبح
لــه شـبنمه غـخـه ډک دی جیـب د صـبح

پـه بـیدیا کـي مـي پیدا کـړ، لــه قسمته
د کېمـیا تـر بوټـي لانـدي سـبب د صـبح

واړه شـپه مـي پـه غیرِ خیال د ګل بیده و
عاقبـت را غـه ولاړ کـی فریـب د صـبح

خندنـی یـار پسـله هجـره هسـي زېـب کا
لکـه پسـله تـوري شـپې غـه زېب د صبح

چـي د لمـر تـر ډوبېـدو یې کـی شـبکوره
وشـوم بـم تـه بـس دغـه آسـېب د صـبح

کـه د آه دود یې تـر قافـه جهـان ونـیو
بریالی بـه فـراري کـړي دېـب د صبح

# روح

چـي هر خو مي په عشق پو کی اور دروح
لا یې نــه و ســوله تــاوه کــور د روح

د اختـیار مـتاع مـي خـرغه کـړه په بنکلو
هــم هــنوز پــه ادانــه ســو پـور د روح

دا پـه کـوم قصاص شـهید سوم بې اثباته
مګــر یــار کــړمه مفــتون پــه تــور دروح

پـه عـوض د روح مـي زړه یوسـه دلـبره
واړه خلــګ وایــي زړه دی ورور دروح

هالــه مومــم مرتــبه د بې جانــی زه
کـه لــه سره مـي بهـر سـو شـور د روح

د چـا غــه زده درد ســهل بې دردمــنو
د ژونـدون پـه مزله تلای سي سپور د روح

مینه در دی په سینه کي بریا لیه
شاوخوا وربانـدي پروت منګور د روح

book:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# مخ

بخته یو وار ملاقي مي سوای د یار مخ
بیا مي مه لیدای په عمر د اغیار مخ

د طلب نغده چي وړي په ناکامي کي
بالکل مه وای ددې دهر د بازار مخ

صبحدم یې رهنما دی رویباري کا
شپې په تورو شوندو مچ کی د سهار مخ

زوی چي دم د بې لارۍ په ځان کي پو کی
نور زیاتي ورته بد ایسي د خپل پلار مخ

ما چي دم د شوخو سترګو په خان پو کی
ته وا خه به مي بنه ایسي د بل کار مخ

که د زړه ګویا مي ګډه ده په پټه
فرق یې څه دی که پر کنبړدي د اظهار مخ

بریالیه مخ په مخ ځیني مخمور سه
مخامخ دي مخ ته مخ سو د خمار مخ

# شوخ

باري بیا به کله راسي هغه یار شوخ
چي پر زړه مي نوی نوی ږدي پر هار شوخ

عجب شوخ دی په شوخي یې واړه شوخ سوه
رقیب شوخ سو غماز شوخ سو هم اغیار شوخ

دید یې شوخ کتل یې شوخ سترګي یې شوخي
زلفي شوخي کاکل شوخ نري سینګار شوخ

شونډي شوخي زنه شوخه خط یې شوخ دی
مینه شوخه عشق یې شوخ لري اسرار شوخ

هجر شوخ فراق یې شوخ دردوني شوخ دی
ناز یې شوخ کبر یې شوخ کوي ګفتار شوخ

قد یې شوخ ادا یې شوخه تګ یې شوخ دی
مهر یې شوخ مجلس یې شوخ ګرزي رویبار شوخ

چي دا واړه سوله شوخ، شوخه ناصحه!
ولي نه سي **بریالی** عبدالغفار شوخ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# پــوخ

د غـم سـکروټو مي په تاو د زړه دېگدان کې پوخ
د زگېروي تـوښ مـي لــه درده څه گرېوان کې پوخ

کـه لامکـوټ ولولـپه سـم پـر يوه حال يم
د يکرنگــی د توحيد قول مي ايمان کې پوخ

د گـل د عشـق مکتب مي ولوستی کامياب ووتم
د امـتحان پـه جائزه کې زما دېوان کې پوخ

مـا د تشـهير منصب بخښلی دی اومه زاهد ته
د گمنامـی د پـردې سيوری مي وجدان کې پوخ

تــن پرستان کله طاقت لري چي کړي دا سفر
بې لــه حاتمه بل چا کله خپل سترخوان کې پوخ

مسـت لېونـی پر صحرا خوښ يم له عالمه گوښه
دا وه وآه لـــه ډېره سوزه مي بيابان کې پوخ

اصلي مطلـب مـي د کېميا په څېر لـه سترگو ورک سو
د عـيش د سرو گلانو روڼ مي خزان کې پوخ

لښـکر دَ وهـم مي يقين په يوه ضرب کې تالا
د ژبـي تېغ مي لـه هيبته هر ميدان کې پوخ

د پخـته گـی مقـام لادی آ بـريا ليه ليري
خوشي په محضي افسانو سره دي ځان کې پوخ

# وچ

اې زخمي ژر به دي سي گل د هوس وچ
چي غفلت دي کې جاري لښتي دوس وچ

پــه بـرعکس ترنـيه کــي تاوانــي ســوې
د لوېښـت پـه ملک دي کې کښت د عدس وچ

چـي پـه مينـه کــي غمونـه پـه رنگـو سته
رباب څکـه کـړ، لـه مخه څه نيم نس وچ

تـن مـي هسي ستا په عشق کي سو ببواکه
لکـه سـي چي د چندڼ پر ښاخ ققنس وچ

د تـن وينـي مـي لـه سترگو څه بهر سوې
د فـرياد پـه بـاد مـي هالـه سوکر کس وچ

د خـزان سـاه بــاغ وراغ واړه تــالا کــړه
پـه ببلـتون سـو د بهار هر خار، وخس وچ

د غمـــاز لغـــاز تـــل اورم تحمـــل کـــړم
خدايـه کلـه بـه زړگـی کړې د ناکس وچ

تـر هغـو بـه پـه کـاکل کـي جـوار نه سي
څـو چــي نه کړي د زرگر کټالی جس وچ

دا ناصـح چـي بې تاثـيره نصيحت کړي
ربـه! تې کـړې د ويـنا پانـي پـه بس وچ

ook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# سرنځ

چې په خوا مې سو د ښکلو د الفت رنځ	نور مې ووتی له زړه څه د فرحت رنځ
دل دردي د عشق هر گز دلسر دي مه سه	وړو سترگو ته لایق دی د نعمت رنځ
اشتیاق بلي لمبي راباندي گرځي	قبلومه د گلرخ د محبت رنځ
تن پرهار اوښکي قطار پر بانوگانو	بې ایوبه به څوک وړي د امشقت رنځ
یا مي خیال د برندو سترگو سو په زړه کي	یا په برخه د بدای سو د دولت رنځ
که وصال دي سرې سکروټي په دا څه سو	مهجوران په دعا غواړي د وصلت رنځ

مینه اور مینه اوبه سره یو ځای دي
بریالي عجب پیدا کی د صحت رنځ

# شپه او ورځ

چې پر مخ وهي خالونه شپه او ورځ	راکوي پر زړه زخمونه شپه او ورځ
د مژگانو د خونریز د شوخو سترگو	په سینه مي ځي سیخونه شپه او ورځ
تورو زلفو د خوبانو زه تاراج کړم	استوي پر مافو څو نه شپه او ورځ

ښادي نسته په دنیا کي بریالیه
بېلتون اړوي گلونه شپه او ورځ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# ړمونځ

چي په عشق کي ځان تالا کي لکه ړمونځ
عاقبت بـه ځـان رسـواکي لکـه ړمونـځ

محـــرمان تـــل د شـــبرنگو کـــاکلانو
لــه غـیرته وي پخساکی لکـه ړمونـځ

چـي د مشکو همسایه اوسـي وهـي بـه
تـل پـه پـته خولــه بلغاکـي لکـه ړمونـځ

تـر هغـو بـه واصل نه سي څو چي نه سي
تـن غلبـېل څـيگر تناکـي لکـه ړمونـځ

کـه څوک ځای غواړي د زلفو په حرم کي
سـي اول دي چاکـي چاکـي لکـه ړمونځ

دا پرېشـــانه يوســـتوی شـــور انگـــېزی
بـیا به څوک تهوک تهوک جلا کي لکه ړمونځ

چـــي د گـــل د مـــخ ژړا بې ادبـــي وه
بـريالـي کـړې اوښـکي پاکـي لکه ړمونځ

# هیڅ

پښتون نـه سـو سـم لــه خـپله سیاله هیڅ
نتـیجه يې د ژونـدون لـــه مالــه هــیڅ

هـر يـو فـرد يې جـلا ځانته حکمران دی
خـبر نــه دی د دنــیا لـــه جالــه هــیڅ

ازلـي عظمــت يې وو پــه بــرخه شـوی
اوس يې نســته لـــه هغــه منالـه هــیڅ

د لټـي سايې تـه پـروت وي بر يې کښلي
بـاک يې نسـته د تذویـر لــه حالـه هـیڅ

وظـیفه يې لـــه تـر بـور سـره بـدي ده
زیـات يې مـه پوښـته لــه ماه وساله هیڅ

د امید کښـت يې پـه شـنه خسـېلو وخـوړ
حاصـل نـه سـوله لــه تـېره کالـه هـیڅ

د غفلـت پـه خـوب بـیده مـزه مـو نسـته
مجتنـب نـه سـو ولــه بې و دالـه هـیڅ

د سـبا پـر ترقـی مـي سـلام عـرض کـړه
مگـر نـه ده حالـي زمـوږ لــه حالـه هـیڅ

بـــريالـیه عبـــث مـــه ورتـــه گدېـــږه
کانـه نـه اوري د بـل لـــه قالـه هـــیڅ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د ځانه سره بد

دا چي ژر در خخه ورک سو د خان حد
واړه کاندې د خپل ځانه سره بد

هيڅ په لاپو چا مطلب موندلی نه دی
بلکي سي يې د مقصد و مخ ته سد

د عشق مغز له دنيا څه مجنون يو وړ
بېهوده دي ګډېدل د خال و خد

که مېړه وي څوک پر علم دي کوښښ کړي
چي وځان او و جهان ته سي مدد

په مذهب د عاقلانو او پوهانو
څه فرق نسته د بې علمه و د، دد

شنې په غلا نه چيچل کيږي زما وروره!
فايده نه کا دا بې ځايه مد، وشد

د الفاظو زده کول او لغتونه
په رشتيا دي د رشتيا په ميدان رد

اې زخمي و بل ته ګډ يې ځان دي هېر دی
په عبث سبا کوې هر غد په غد

# هنر ته خطاب

هنره! کوم ځای دي تاتوبی چېرته کړې سکونت
په څه مونده سي د کوم بحر په لايوبي لژند؟

آيا د عرش پر کناره دي پاس نسيم زنګوي
او که عنقا يې چي مو ستا پسې کوښښ دی ژژند

او که ثرأ کې دی اطاق، ځان له شاهينه ژغورې
که په عدم د استعداد وګړي بولې رژند؟

# هنر ته ځواب

زلميه! دې خواته راډېل سه ګوندي سمه به پيدا
د بينايي په يم غوته کړه د خپل فکر لوته

زه تر کاني ياقوت يم قيمت بها خواصه!
راپسې يوپ سه يم په تل کي د الماسو توته

اما رهبر به دي ادب وي زما تر ځايه پوري
. که ادب نه وي نه به مومي زما مسکن وکوته

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# عبث ژوند

مذبذبـــه ووره وړ د ژړا ســـتا ژونـــد
پـه اهمـال دي کـړلو، پای ته دیغما ژوند

ولـي، ولـي د غفلـت پـه خـوب بـیده یې
برابــر پــر طبیعــت دي معــرا ژونــد

هسـي تـا هـم بې ثمـره عمـر تـېر کـی
لکـه تـېر چي پر گونگي سي بې وینا ژوند

پـه عیـبو پسـې د ورونـو مـدام گـورې
خانـته نـه وایې چي تېر سو عبث زما ژوند

چـي غیبـت درورسیږي بـل خـه نه کړې
پـه دړواغـو، دورنگـی دي کـړ لگیا ژوند

لـوی ثمـر دي د آزار رسـول بـل تـه
پـه زیـږه ژبـه دي تـریخ کړ د هر چا ژوند

دا دي هـم جـواب نـه کیږي اې زړگـیه
چـي وا خـوبن یم پتـې وار په بې بقا ژوند

یـو وار سـوز د پـروانې په زړه کي کنبږده
پسـله هغـه کـړه پـه شـمع مبـتلا ژونـد

نتـیجه بـه دي خسـران سـي د کونیـنو
چـي پـه مفته درخـه ولاړی بې بهـا ژوند

آخـر تـه خـو بـه هـم یـو یې لـه مـردانو
خوشنو د خله یې په دا رنگ بې معنا ژوند

پاخـه اوس دي لا د واک جلو په لاس کي
معلـوم نـه دی د سـبا او بـل سـبا ژونـد

پـه ابـلاغ د بـریالـي لـږ عمـل وکـړه
سراسـر کـړه بـېرته نـوی د رشـتیا ژونـد

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# کښېښوه

خدایه خیر ساقي نوی دکان کښېښود
زما زړه يې د تعویذ په عنوان کښېښود

کړې وروځې خال پهانگ تر زلفو لاندي
که يې مشکو انبوهې ته میزان کښېښود

ماځیگر چې خرامان په چکر ووت
لمر د شرمه پر سر باندي اسمان کښېښود

حوري پټې په جنت کي سوې له شرمه
چې پر ځان باندي گل نوم د غلمان کښېښود

سپوږمۍ ولوېده د شپول په اعتکاف کي
چې تناو د خط پر مخ زنخدان کښېښود

ماتې زلفې پر سپین مخ مکتوب د قهر
و عاشق ته يې د قتل فرمان کښېښود

سور کفن دي مبارک سه بریالیه
زما له خیاله يې ستا سر په نبنان کښېښود

# ملذوذ

که ناصح راته مدام وایي ملذوذ
مه يې واورم راته خام وایي ملذوذ

سلامت به مې د آه له سوزه نه ځي
که همېش راته کلام وایي ملذوذ

د تش حلقې صراحي تر تشو چیغو
پیمانه د ملوجام وایي ملذوذ

دم د وعظ مې بدتر پر سینه لگي
د زړه درد ته د لارام وایي ملذوذ

په معنی کي سربها د محبت ده
په ظاهر ورته لیلام وایي ملذوذ

د گلرخو پر کوځه مېنان ژاړي
که مطرب مقام د (شام) وایي ملذوذ

بریالی به دل پغاد "وعلیک" کا
که دلبر ورته سلام وایي ملذوذ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# داد

مفلس زړه مـي پـه ژړا پلـوري وریـا داد آتشـي سـترګي مـي مومـي پـه ژړا داد
چـي د عشـق لـه انـتقامه لاتجـزا سـوم راخــه ولاړې د صــورت و هــیولا داد
زړه کُـره هجـر و فراق یې دوه قطبان دي محبــت یې پــه محــور کـړ مبـتلا داد
چـي پـه مینه اړېـدم عقـل مـي نـه وو خـدای دپاره اوس یې غواړم په رسوا داد
یـا میـن لــه دېـره غمـه پـه خـندا سـو یـا قیامـت سو عاصـي مومي په غوغا داد
چـي اغیار مـې لکـه خـار پـه لـمه مبتلي دا د ګـل لــه بـیدارۍ اخلـي زمـا داد
چـي مریخ په خونرېزي کړې شوندي غوړي لــه زهــرې څخــه یې وړي پښــلا داد
چـي دي یـار لـه وچ ګرېوانه ناراضي کا
بـریالیه! خینـي نـه بـه وینـې بـیا داد

# ستا ښکلا

پـر زېـبا رخســار دي جـوړ کــی شـالمار پـه ښایسـت دي کـړی جهـان ګـل و ګلزار
د سـینې سـالو دي بـاغ د مـرنجان دی چـي پـر وغـوړوې دام زلفـي تـار تـار
هـیڅ مـي ونـه لـیدی سیال د زیبایي ستا کــه مــي وغوښــتی کــابل و کــندهار
نــوی حکــم کـړې جـاري پـر نوکـرانو هـره ورځ چـي نـوی نـوی کـړې سینګار
هـر چـا یـو وړ خپل نصیب ستا لـه ګلباغه معطــر ســوه د وصــال پــه مشــکبار
سـتا لـه خـیاله سره هیڅ منافي نه دی
یـــو نظـــر پـــر بـــریالـــي عـــبدالغفار

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# قلندر

زه د سرو سترګو سودا کړم قلندر
د شیخانو استغنا کړم قلندر

د زلفانو دستګیره لاس را اوږد کړه
د زنخ د خلوت شاه کړم قلندر

خال د وروځو په کعبه کې معتکف دی
و ظیفو یې زه رسا کړم قلندر

جبر وزور یې لکه ګبر، تر سا زور کا
بختور یم که تر سا کړم قلندر

دا د میني برکت دی چې بد ښه سي
ملایانو په ښرا کړم قلندر

د وصلت قطب مدار به مي همدم سي
که آبدالو په دعا کړم قلندر

بریالی به د سیوڼ د سپي غلام سم
که د خپل چارچوب ګدا کړم قلندر

# نسته باور

ددې اوس عصر په یار نسته باور
د ګلمخو په ګفتار نسبته باور

د شوخ چشمو محبت لکه بریښنا دی
د بریښناوو په مدار نسته باور

سهار ریز بلبلان یو په بل وصیت کا
چې (د ګلو په ګلزار نسته باور)

د یوه ګړي تر مخ پر اسمان برخي
د وحشي عنقا په ښکار نسته باور

چې له درده یې شین مخی فلک ګونګ سي
په هغه رنګین نګار نسته باور

خوله په خوله مي دلګوفته کاندي له شوقه
مګر آه چې په کردار نسته باور

چې د هیچا همدرد نه سولې تر مرګه
بریالیه ستا په جار نسته باور

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# سترخوان

چې د خـط پـه ایرو مخ سو د جانان تور
زمـا پـه سترګو کې سوه مڅکه ؤ اسمان تور

دا پـر مخ باندې دې څوکې د خط ښکارې
کـه تـوی شوی دی د زلفو څه ریحان تور

ریحـان نـه دی زمـا د تـور طالع اثر دی
د سیاه بـاد پـه تـوره شپه سو ګلستان تور

دا ریحـــان نـــه دی زمـــا نـــا امـیدې ده
و مبلمه تـه سخې نه ایږدې سترخوان تور

د بهـــار کمـبله تو..له کـړه خـزان ســو
د زاغـــانو پـــه جامـــه ســـوه بلـبلان تـــور

پـه زړه تـور پـه سترګو تور په زلفو تور وې
عاقبـــت دې کـړ لـباس د زنخـدان تـــور

زعفرانـــي څـېره مـې ســوه د ګـروهه توره
وایـه چـا بـه بـل لیدلـی وې زعفـران تور

یوسفې[ع] مخ سو بندې د خط په څاه کې
را معلومـه سوه چې بخت سو د کنعان تور

د ستخوشــي د نامحرم د لاس نصیب سوه
سپی په نیمه شپه بوی کاږې پر دېګدان تور

دا خـط نـه دی مفلـس خـط دی **بریالیه**
تاوانـــي معاملـه دار پرېـږدې دُکـان تـــور

# د عشق زور

کـه څـوک ما پوښتي چې څه دی د عشق زور
بـل څـه نـه دې کـړېدلې دې پـر سره اور

پـه لحظــه د نـــام ونـــګه ســـړی باســـي
پـــروا، نـــه کـــوي پـــه شـــرم وپـــېغور

خـدای اخته مه کړه سړی د عشق په خوږ
چـــي دوا یې نـه پـه پـلار سي نـه په مور

احتـــیاج د زمـــانې هســـې بـــلا ده
و دلاک تـــه باچـــا کښـــېنوي ســـر تـــور

لکـــه زوړ وتــلای نســـي خـاموش کښـېني
لکـه دی چـي وي د خـیال پر براق سپور

چـي لوېدلـی بـریالی د عشق په بند کې
خـدای دې وساتي لـه دې ګردابه نور

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# بې معنٰی ښکلا

چې يې نه وي د معنٰی زيب و زيور
زيبا نه سي د عنوان په سيم وزر

چې د زړه ژرنده محور د نفاق واخلي
په چپه دوران چليږي مضطرر

په کرلي چې يې تخم د شقاق وي
د کنجوتو د خرمن طعمه ده لر

خود خيالي د فکر نه ده حيات بخشه
په عرض قيامه نه سي د جوهر

نتيجې وي د فاسدو هم فاسدي
په پردي خلکو ځوک نه سي بهرور

توت په کروتو پيوند نه اخلي نادانه
پر مهمل ژوند مرتب نه دی اثر

بريالیه څه عجب ځای د تغليط دی
په عرض سره تقويم سي د جوهر

# عزرائيل عليه السلام

د غفلت په زنګ لګيا مې د زړه سر
د افسوس غشي مې مات کړه بال وپر

د ازل قلم به زما په اوښکو لوند وای
که په دې ناوړه لر څه وای خبر

دا چې تول د مځکې مخ راته سور اور سو
دا افسون دی که جادو دی که منتر

د فلک ګره حلقه سوه زما د غاړې
واړه تن مې سو قطبينو ته محور

د پوهې کډې مې بار سوې کوه قاف ته
اوس د خيال پر خرابو وهم چکر

محتسب مې لا هنوز امتحان اخلي
له رندو سترګو څه غواړي زبر و زور

د غواص له هاى وهويه صدف تل سو
نهنګان بې رغ وروغه خوري عنبر

عواصي ونهنګي مې هله ښکاري
که پاسپورټ مې سو وبزه د لوی سفر

ژبه وچه دبر تکليف راته وينا ده
عزرائيل(ع) مې دی وکيل د خيرو شر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# شعر

پـه قلم مي تکولی ور د شعر / په طلب مي کړ پيدا ثمر د شعر
په ازل چي د قسمت پيماني سر سوي / زما په باب سو نوشته کوثر د شعر
سپينه ږيره مي په شعر کي سوله توره / پر بياض مي راغی زبر و زور د شعر
په دنيا کي که له عشقه اسمان جوړ سي / پر افق يې کړم را پورته لمر د شعر
په قوه د تسلي مي دی نيولی / د فراق د توري مخ ته سپر د شعر
کم قوته خلک ځان ځيني جارباسي / ما په خپل اختيار په شا کی غر د شعر
بې خبره مبدعين وايي نحسي دی / ما په والله که ليدلی شر د شعر
گنه هر څه چي پيښيږي دی له خدايه / ولي بولي نا پوهان اثر د شعر
(لاتحرک ذرة الاباذنه) / ورځه والوزه په بال و پر د شعر
هر سبا چي د چمن د گلو فيض وړي / ځکه کان سو د بلبل ځيگر د شعر

په عقبا کې نښانه د ميني غوښته
بريالی لري شاهد د فتر د شعر

# لمر

دا چي گوري د گل مخ ته هر سبا لمر / زښته شوخ دی بې ادبه بې حيا لمر
په نظر چي گل نظر کړي په غرمه کي / دوږخي سو د بلبلو په ښرا لمر
په غمو کي لېونی وحشي مذهب سو / ځکه گرځي پر اسمان باندي تنها لمر
چي د ميني اضطراب يې په سر کښېوت / لکه ژرنده سرگردان سو پر سما لمر
عاقبت چي د دجال انديوال کيږي / کاشکي نه وای همسايه د مسيحا(ع) لمر
بېگا ووينې په خوب کي عرش د وصل / سهار پورته ويره خوله سي په خندا لمر

شپه وداري د فلک په درانه جبب کي
بريالي رنگه په ورځ کړي لېونتيا لمر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# بــور

بورانــی زړه مــي د لــبر تــه مهمانــي ده
شـايد سـي يې د سـرو شـونډو انجمن بور

د شــاهد پــه شــاهدي شــهادت مومــم
عرصـات لـره بـه ورم سـوغات کفـن بـور

بانوګـان يې حـبش فوج سياه پوشه راغی
بـيا بـه کـړي په خون زما د زړه وطن بور

د خـزان خـنجر چـي نـوش عندليـبان کا
پـه بهـار کـي يې پـه ويـنو سي ګلشن بور

لــه دردمــن رفـيقه درد اخيسـتل کـيږي
د تنـبور ژړاوو کـړ د مطـرب تـن بـور

مطـالع د هسـي لفـظ هـيڅوک مـه سـه
چـي يې نـه کې سپين خيګر د معنٰی فن بور

بـريالـيه وظـيفه د عشــق خونخــوره
د مجـنون پـه ويـنو کـې لـيلا د هن بور

# د زلفو شور

چــي مــي ولــتاوه ســتا د زلفــو شــور
ســوم فـرار لــه خـپل وطـنه پـه دا تـور

څـه خـبر وم لــه دا هسـي تاخت وباخته
چـي بـه پـټ وي تـر سنبلو لانـدي اور

عزرائــيل دي لـــه تکلــيفه ســلامت وي
زمـا څـه قـبض سـر جـلاد کړ خون په پور

شين زمـری يې پـه کعبه کي معتکف دی
عـرفات يې پـه هيبـت سـو، سـوی سـکور

د دجـال پـر فتـنه تـېغ د شـکر کـاږي
چـــي خوړلـــي يې وي ســـتا د مينـــي زور

را نـه څـه سـوال و جـواب کـا ملايکـي
بـريالـی يـم پـه ژوندونـي سـر پـه ګـور

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د مینې فقیر

ستا د مینـــي مـــالداري کـــړمه فقـــیر
تـول جهـان مـي تـر نظـر راځـي حقیر

د غنـــی صـــغریٰ کـــبریٰ نتـــیجه فقـــر
څـه عجـب شـېرین مضـمون دی د توقـیر

د سـونې ګوتمـی په لاس ګدایـي غواړم
د دولـــت بـــاج پـــر اوړو ســـومه فقـــیر

ځپلـي سـترګي دي لـه ځپلو سترګو پټي
پـه اوبـو کـه هاتـي ځـان وینـي نقـیر

کـوم مجـوس پـروانه ګل په خندا وخوړ
بـریالـي تـه سـو خـپل بخـت کلـب عقیر

# نـاز

محـبوبان چـي همېش اخلـي یو دبل ناز
دا قـانون دي وي منظور ګل ته د ګل ناز

شـرمنده پـه بـرندو سـترګو نـرګس ګوري
چـي پرېشـان یې کـا، لـه حاله د سنبل ناز

عندلیـب دي ځینـي اوسـي لـیري لـیري
پـر پښـتون کلـه چلـیږي د مغـل نـاز

چنـبه ګـل مـي پـه سینه لاسـونه سره کا
پـه اینـه مـي وهـي ګوتـي د منګل نـاز

بانوګـان یې کـاږه غشـي پیوسـته دي
پـر بید لـوبې صرفي کـا پـه ویشتل نـاز

چـي مدام پـه نـاز رهـي یې شوخه ګله!
آخـر تـه هـم یـو وار واخلـه د بلـبل نـاز

نـا امـید اوســه لـــه بنـګلو بـریالـیه
دوی پـه متـي عملـي کـا اول خـپل نـاز

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# اړ

خولــه پــه ذکـر زړه پــه فکـر د اشـنای اړ
شپه و ورځ يې په تلاښ کي دست وپای اړ

و هغــه صــياد تــه زېــری د تــوبې دی
چـي قسـمت يې کړ په لومه کي همای اړ

د تنصــيح عســکر دورې ســاته ناصــحه!
زمـا د عشـق په بغاوت دی د زړه سرای اړ

معــالج بــه څــه عــلاج پــه تعلـيم وکــي
د هغـه چـا چـي په حکم سي د خدای اړ

د سـکران خيالات په سر کي مستغرق وړي
پـه دې کيف باندي مسکين سي که بډای اړ

يــا مــي زړه کــي تصــادم د حوادثــو
يــا مـيدان د حشـرگاه پـه هوی وهای اړ

بـريالـي غمـی د هجـر پـه گوتمـی کـی
شـايد کړي څانته د يار په لاس کي ځای اړ

# ولاړ

کـباب زړه مـي د گلـرخ پـه مهمانـي ولاړ
د ســرو ويــنو پــه جامــه ارغوانــي ولاړ

نامـمکـن دی چـي بـه بيا و لاسـته راسي
چـي د ښکلو په لاس کښبوت زنداني ولاړ

تللـی لمـر پـر اسـمان نـه راځـي په بېرته
پـر هغـه لـوري چـي ولاړ جاودانـي ولاړ

زمـا خسـته آه تـه بـه کلـه بيعـت ورکـا
هغـه تـرک چـي د کـنعان په سلطاني ولاړ

لـتومه مـخ د مځکـي خوشـي، خوشـي
سپوږمی مخـی يـار لــه مانه اسماني ولاړ

دا هـندو دی د اسلام پـر سـرحد گرځي
که يې خال و سپين تندي ته ظلماني ولاړ

د غمــزو پــنچاته لــږ څــه خومــدد کــړه
بـريالـی پـه دې سـودا کـي تاواني ولاړ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# لــور

چې دي نه کړي په خپل فضل سره خدای لور
نامکـن دی چـې به سې په دست وپای لور

بې توفـيقه دي هـيڅ کـار لـه لاسه نه سي
پـه کومـک د دېوالـزن و اوسـې دای لـور

پـر هـر حـال بـاندي رضا لـه خدايه بويه
صـابرين پـه آخـرت کـي مومـې ځای لور

قناعــت چـــې اشـــتها کـــړلـه وربـــنده
ځکــه ولاړی و اســمان لــره همــای لــور

د بـنده بـايد هـر وخـت عجز، وزاری وي
د مريضـه بې اختـياره سـي وای وای لـور

د ريـا عمـل هـيخ بولـه بـريالـيه!
د دريـاب پـه مـخ کي نه پاتېږي لای لور

# سرابن ته

چـې حـلال و حـرام تـل نغـاړې پـه نس
دا نغـاړل بـه دي آخـر مـات کـړي اودس

نـه يـو تـېغ د قناعـت لـه تـا بهـر سـو
نـه پـه عمـر درخـه واوريـده سـو بـس

چې د حرص پر دسترخوان يې اروی بد سې
و خــورک تې رجــوع نـه کـيږي واپـس

تعجـب دی تاتـه هـر خـو چـې ټمبه سې
لا هــنوز دي اشــتها ســې يــو پـه لــس

لــه ازلــه چـــې دي لــوره ده پـه بـرخه
مـوړ بـه نـه سـې مگـر و دي خـوړ نفس

د عـبرت سـترگي دي ووزه مگـر ړوند يې
د اجـل اور بـه دي دود کـړي لکـه خس

بـريالـيه د اصــلاح امکــان يې نســته
نامکــنه هــر گـز نــه راځــي پــه وس

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# خسیس

ددې اوس زمــانې یــار وي کــه انــیس — په خولــه ښــه وي باصفا په زړه ابلـیس
د الفت په دام یې هـر گز اسیر مـه سه — عاقبـت د خسـیس مـل اوسـې خسـیس
د مـلاح پـه خبر به ډوب سي په سل بحره — کــه دي غوښــتی د دوران درنفــیس
چـي ظاهـره مي مخ سپین، باطن مي تور کا — خـدای مـي مـه کړه هسي وعظ ته جلیس
دې رنگیـن سراب ډیـر خلگ خطا کړي — شـل آبـداره کـړي.بې آبـه یـو پولـیس
پــه عقــبا بــه انگــولا کــاندي د سپیو — چـي ایـړدي ښـوک پـر دنیا د چم تاسیس

عبـث مـه غـواړه رښـتین یـار **بـریالـیه**
د اوبـــو غلبلونکـــی ســـي انئـــیس

# هیله

ساقي ژر مـي پـه هغـه جام کړه مدهوش — چـي مستي یې راځـه یوسي عقل وهوش
صـدقه دي د عـرفان تـر کـتوري سـم — د دورې حـریفان راولـــه پــر جــوش
د ژونـدون لــه کـار وبـاره مـي فارغ کړه — مســتغرق پــه مــیخانه کــي ســبکدوش
د خـم ارخ تـه د سر پـر کرسـی خـای را — پټ لـرمه لـه عمرو پـه زړه کـي خروش
د بـېدردو لــه دیــداره توبــه گــار یـم — لېونـی پـر صحرا خـوښ یـم خـرقه پوش
د مغـــان مشـــره آذان د نشـــې وکـــړه — د رندانــو پـه غـوږ مـه اوره بـل سـروش
و مـــي پـــېژنه مـــرید د صـــراحي یـــم — لایعقــل پــه بــتخانه کــي بــاده نــوش
سر خوشـي د خـرابات مـي نصیبه کـره — چــي دنــیا او مافــیها ســي فــراموش
د زاهـد پـر سـادگی مـي خـندا راغلـه — خطـا درومـي ظاهـر بیـنه‌جنـت فـروش
چـي منصـور یې د طـرب قـبا کـړه جـوړه — و هغـه دار تـه مـا هـم کـړه هـم آغـوش
د نشاط بولـی و چـنگ ته په درس ورکړه — پـه غوغـا او شـور یې کـوڼ کړه زما گوش
د مجــاز لـــه ملکیـــته مـــي خـــارج کـــره — د تحقـیق پـر رسـمیت مـي وکـړه کـوش

**بــریالـي** تـه چې منصـب د شـعر ورکـی
ادبـــاء د کـــندهار یې کـــړه خـــاموش

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# سرابښ

تـر شـیطان زر گوتـی بـد دی هغه سرابښ
چـي يې شـلېږي و غـيران تـه پـرتوگابښ

کـوز، وپـاس گرځـي بې شـرمه روی روی
کـــرکس رنگـــه د مـــرداري پـــه تـــلابښ

فـرق د حـل و د حرمـت ورباندي نه وي
چـي قادر سي پر کنبېکارېي د حرص غابښ

چـي کـوم ځای يې د روپۍ گټه يقين سي
ور رهـــي ســـي پـــر تتـــۍ لکـــه چـــنگابښ

پـر زړه ولـيکه دا پـند لـه بـريالـي خـه
عاقبـت بـه سـي د ژونـد باغونـه لابښ

# خوبښ

د زړه داغ مـي دی په سرو وينو رنگين خوبښ
پر يوه ناورين مي پاس دی بل ناورين خوبښ

د ځـيگر پـر تـپ د هجـر مالگـه ښـه ده
د جانـان خـورک کـبابِ نمکيـن خـوبښ

د زاهـد لـه پاکـه مخـه دي حـيا وي
هـر مجلس مي په مستانو دی سنگين خوبښ

چـي تشبيه سـتا د زريـن خـال راته وايي
د اسمان پر مخ مي ځکه دی پروين خوبښ

چي د خولې کُنجان مي سره وي په شرابو
د ساقي په معجزه مي دی دا دين خوبښ

کافر خط چي دي د شونډو پر خوا گرځي
معلومـدار د بولهـب دی اتشـين خـوبښ

بـــريالـــی و ســـاقي دواړه نازولـــي
دوه دغـه دريم مي يار دی نازنين خوبښ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# وکیښ

لکه شمعي چي له خولې څه لړمون وکیښ
ما هم هسي په ګداز دا مضمون وکیښ

دا تقدیر دی چي د جبر انفعال کړی
له اسمانه څې د رحم بپلتون وکیښ

چي غمزو دي د وحشت توري تیرې کړې
ماله خانه څه امید د ژوندون وکیښ

شپول د خط دي د رخسار پر قمر نه دی
دا دي زما و مرګ ته نوی قانون وکیښ

په ابداع د فارمولو یې سترګي سرې دي
چي و څانتې په لقب افلاطون وکیښ

خوشي محضي په بدنام طوفان د نوح سو
زما و اوښکو تې فرات و جیحون وکیښ

په نامه د بریالي مي هلته ستایه
که په شعر مي له مځکي قارون وکیښ

# اخلاص

هغه چاري چي په چا کاندي اخلاص
نه یې زر کانه یې زور نه یې قصاص

فلک و ګوره د لمر له یکرنګی څه
په خدمت ګرځي همېش لکه رقاص

چي په زور کا فولادي قید څو توکره
هغه نه سي د احسان له قیده خلاص

صداقت لکه کوره له تاوه ګرمه
ویلي کیږي یې په دم د زره رصاص

د معنی بې سعادته بې مخ تور وي
که په خوله کا څوک خان سعد ابن وقاص

بې کرمو ته انسان هر ګز مه وایه
پر سرو، نه دي حساب هسي اشخاص

په نیکي که څوک غلام زرخریده سي
بریالی لا تر هغه سي خاص الخاص

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د حرص غندنه

لا تر څو په غاړه وړې تناب د حرص — غوړولي دي پر مخ حجاب د حرص
ستا د زړه اسمان چې منبع الانوار وو — ولي پټ کړ په ګرزو سحاب د حرص
د دنیا په طلب خدای در څخه هېر شو — شاباس مه پرېږده دغه رکاب د حرص
ګوندي وي چې و دوږخ ته دي تسلیم کړي — که مېړه يې نو ګاله عذاب د حرص
د لحد بې تورو خاورو به موړ نه سې — که د زړه قوت دي ؤ خوناب د حرص
سوانح دي سوه خراب عزت دي ولاړی — چي پر تن باندي دي توی کی آب د حرص
د جهان زر، که په ملک د حریص ورسي — خدای خبر چي به په ډک سي غاب د حرص
دا چي تل دي و مسکین ته سترګي سرې دي — در پوهېږم چې څښې شراب د حرص
صالحان ځانته په ژبه ګټه کاندي — تا هغه ژبه کړ له اسباب د حرص
لکه ته چي د حرص تبغ کړې ژوبل ژوبل — خدای دي نه کا هسي بل خراب د حرص
د عمل د حساب وخت دي آخرت دی — اوس که خورې يې محاباجلاب د حرص
چې د خوار پر غوښو تل تېغونه کاږې — خدای دي و کاږي له تا انیاب د حرص
که دي واک لا یو په دوه د غومره نور سي — آخر ګېل به دي کړي دا سېلاب د حرص
د وجود پر دریاب ښه مل توکل دی — مدار نه کا پر دریاب حباب د حرص
د دنیا د دام تزویر دی پرې ایستلی — تاوارو نور په زړو اصحاب د حرص
(الحارص محروم) معنی يې څه ده؟ — پر حرمان عاقبت څي کلاب د حرص
آخر تا لره هم دومره فکر بویه — چي به څه کړم په عقبا جواب د حرص
د تحریص په غوړې څوک نه دی اوبه سوی — خطا باسي دي ښکاره سراب د حرص

دا چې ته په مطمئین او دلیل وایې
تا په کوم کتاب لیدلی باب د حرص

* * *

هسي مه وایه چې بس دي نصیحت کي — ولي دا یو بیت لا سته زما په نیت کي
که په دې مضمون ویښ نه سې بل به واورې — بریالی یمه ولاړ ستا په خدمت کي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د میني مقراض

زړه مې و سکښتی د مینې په مقراض
خنې جوړه مې قبا کړه د اعراض

کیفیت د شیدایي چې راعارض سو
جواهر د محبت مې سوه اعراض

راځه ورک سي ځوابونه د موقینو
چې وارد کړی د زلفانو اعتراض

چې مي درکی زړه په ښکار د څرخو سترګو
اباحت يې سو بدل په افتراض

پوخ فرمان زما د مرګ دي ږیره نه ده
دا لیکلی خط د ږیري پر بیاض

روا عشق دي راته هجر ناروا کئ
سلا پور دي په لباس کئ د اقراض

بریالیه هغه مې غواړه چې سوځي
د سینې څه د تقوا زاړه امراض

# عرض

نسته بل مې غمشریک چې واوري زما عرض
ستا له لاسه څه به کاندمه پر تا عرض

ملامت هیڅ راته مه وایه اغیاره
مجنون تل کا، له لیلا څه پر لیلا عرض

د سبا له باده پته خوله تېرېږم
هیڅوک نه لولي پر مخ د بې وفا عرض

رقیبانو ته توندي تاته پستي کړم
حیاناکو ته باید دی په حیا عرض

ستا د شوندو له ډکانه نا امید څم
مفلس نه کاندي د لعلو د سودا عرض

د هجران وکیله راسه که مدد کړې
لږ څه وکړه زما د زړه په مدعا عرض

اجازه ورکړه راغلی بریالی یم
ګریوان څیري راځه واوره په ژړا عرض

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# قرض

ېې مغموم که سي درباندي د بدرای قرض
باک دي نسته که درباندي وي د خدای قرض

د سبا لـه مکافاتو وېره بويه
و سارق ته سي کاته د دبست و پای قرض

بنده تول عمر بايد په اطاعت وي
لـه دردمنه ادا مه سه دوای وای قرض

زمونږ وجود دی پيدا شوی عبادت ته
لـه هدوکو څخه نه څي د همای قرض

لـه ابليس څخه بـه وايو ولاحوله
په غنيانو سهل کيږي د بدای قرض

که راحت دي وي مطلب لـه نفسه تېر سه
لـه کمکيو څه څوک نه غواړي د سرای قرض

بريالـيه سـه شاگرد د (اقرضوالله)
مؤسس وري لـه مالکه د تهدای قرض

# فيض

هسي مومي زما سترگي لـه ژړا فيض
لکه مومي لـه باران څخه بېديا فيض

په دا درد چي هر څه سوځم صفا کېږم
پيدا کړی دی لـه اور څخه طلا فيض

د بېدردو سرزنش مي پخته گي کا
د کاچوغي لـه وهلو وري حلوا فيض

اناري اوښکو گرېوان را ياقوتي کړ
د حسين لـه وينو ومونـد کربلا فيض

و ما مړه تـه د زاهد ښرا دعا سي
رسوي و مرده گانو تـه دعا فيض

نو خاسته لسالک دي ذکر د مغان کا
ماموندلی لـه دې پيره لا پخوا فيض

په طلب کي ېې صوفيان لا جاندا دي کا
بريالی لـه سادگی غواړي وريا فيض

Downloaded By: Afghan Salar Library



# نشاط

چې په سر مې سو د عشق شور، و نشاط
عقل و شلاوه له مانه ارتباط

چې تالا نیمه دنیا کړه تېغ د سترګو
وروسته را مه سه د زهد انضباط

چې له نازه سترګي سرې د بل په خون کا
هغه کله منې درس د احتیاط

دوايي د صبر نه وربانديږ لګي
چې یې مینه په ښور راولي اخلاط

لولپه مې کړه فراقه خوښ خوشحال یم
د هر مري بار سپکیږي په اسقاط

د خان لاپي دي تاوان دی شیخه مه کړه
دوږخي کړ خان فرعون په افراط

درد، و غم په سرکوزي کړه بریالیه
منحني خط مستقیم سي په انقاط

# نوی خط

چې د ګل پر بارخو راغی نوی خط
پر بلبلو نوی غم سو مسلط

کې کاکل د کفر توره کړه برمنده
د صنعان به صحیح دین کړي ورغلط

زنخدان چې دي کوهی د ها یوسف دی
له کنعانه دي راوړی دا نمط

په ژړا کې یم خوشحال تر وچو سترګو
تر وچوبي په دریاب کې خوښ وي بط

که په نوم د حب پرسته خان و بولم
پوچ ناصحه راته مه وواېه قط

زه وستا درد او زګېروی ښه محرمان یو
بېګانه رالره رامه سه بربط

له عابد څخه عبث سربازي غواړم
د ناخوان څه زده له علمه د نقط

سخن چین غماز په چم ما کله وړای سي
رود که خلګ وړي سل هم دي مربط

د فلک له غابښ چېچلو بقا مومم
زما وجود دی په دې قهر مشترط

زما په مرګ به زاهدان لاسونه سره کا
د وروکي په مرګ پلار سي مفرط

که په شیخ دا ویل نه کا لمبه پوري
بریالی بې پر دغه خای کړي فقط

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# وساقي ته

آ ساقي يا په يوه پومي سور اور كړه  يا مي نوم د بريالي كړه را غلط
يا په ميو مي د زړه ساغر را بور كړه  يا مي نوم د بريالي كړه را غلط
يا مي ستا د ګرېوانه ګل ته سمسور كړه  يا مي نوم د بريالي كړه را غلط
يا مي مخ د پخته ګۍ په ووسمه تور كړه  يا مي نوم د بريالي كړه را غلط
يا مي محوه د يوه قدح په پور كړه  يا مي نوم د بريالي كړه را غلط
يا نشه مي د غمزو په شر، و شور كړه  يا مي نوم د بريالي كړه را غلط
يا تاراج مي د فراق كفن و ګور كړه  يا مي نوم د بريالي كړه را غلط
يا مي پاس د هر زمري پر پنجه زور كړه  يا مي نوم د بريالي كړه را غلط

# غلط

وروخي كړې خال برابر تير، و كمان غلط  صد آفرين ښكاري تكړه اخلي نښان غلط
چي ښخي نه كړي د مجنون په زړه منګولي د عشق  ولي ليلا نوم د دلكش ايږدي پر ځان غلط
دا چپ وراست سياهي د خط ستا د سپين مخ پر بياض  كه په كړو ګوتو ليكلي چا قران غلط
نسته پروا كه رقيب جوړه كړي حيله د هجران  په مكر و فريب سره ګيدړه كړي زمريان غلط
جادو د زلفو دي كوي چشم بندي د رخسار  كه سو د شپې په تاريكه لمر د اسمان غلط
كه زما د سر امان وي دېر خطا وتلی زاهد  چي يې مسجد كی د شرابو په دكان غلط

نظر چي تېز وي د غلط په غېږ كي ويني صحيح
پر بريالي ساتي غلط خلګ ګمان غلط

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/  Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# حظ

که مي و موند ستا د مخ له پرستۍ حظ　　هاله بیا مومم د خپل ژوند له هستۍ حظ

کمینـي په ما د هجـر سر کـوزي کـا　　را لـه نـه ښایي د زهـد د پستۍ حـظ

کـه د مینـي پـه دکـان کـي صـبر نسته　　په عـوض یې سته د وصـل د نیستۍ حظ

صـراحي رنگـه بـه اوسـي صـاف صـفته　　کـه پیدا کـړي خـوک د میو د مستۍ حظ

مسـیح ولاړی خلـورم اسمان یې ځای سو　　چې همراه یې سو، له عشقه د چستۍ حظ

هغـه یـو وړ هـر خـای نـوم د تـن کهالـه　　چـي یې خوښ کا په خوندو کي د سستۍ حظ

خـود پـه نـام به بریالی په هر میدان وي
چي تر خوله یې وي وتلی د راستۍ حظ

# د شاعر طبع

خـو چـي نـه کـاندي غـنچه پرېشانه طبع　　وبـه نـه ویـني د گـل خـندا نـه طـبع

خـو مـي ژوبل، ژوبل نه کا د عشق چاري　　راځـه مـه غـواړه هرگـز شـادانه طـبع

چـي د هجـر هـم سبق مـي عندلیب سو　　لـــه هغــه فیضــه لــري گویانــه طــبع

بـورا مـوړ د کـنډالې په طـواف نـه سـو　　بـم لـري د کـنډوالې ویـرانه طـبع

د نـرگس لـه شوخ چشمۍ مي کوکه وسي　　چـي پـه زړه کـړم د سنبل خـزانه طـبع

د خالي ډول لـه دربي مي خوا سوه توره　　چـي مـي ولـیدل د نـل گـریانه طـبع

تـو لعنـت سـه د نمـرود جانپرسـتۍ تـه　　جـار قـربان سـه د خلـیل سـوزانه طـبع

چـي د غم دېگ مي ازغ کړ گلاب مثله
بـریالـی مومـم هالـه روانـه طـبع

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د ميني رنځ

هسي رنځ مي سو پر زړه باندي واقع
چي يې نسته بې لـه تـا نـه بـل دانـع

پـر كـتاب مـي رسـا فكـر قاصـر لگـي
خـال و خـط دي را خـراب كـړه مطـالع

كـه د صـبر منـترونه پـر ځـان پـو كـړم
سـي د ټولـو يـو صـلبي نظـر قـاطع

د ققنس پـه څـېر لـه خپله ځانـه سوځم
دا شـرر مـي دی گټلـي پـه طـالع

چـي قـدم د تصـوير كښېږدم په توبه كي
راتـه شـر سـي هغـه واړه منافع

زر دلـيله د پرهـيز پـر مطلـب جـوړ كـړم
پـه يـوه توجـيه د صـبر سـم قـانع

بې چـي سـتا لـه دره سـتا در دی تړلی
بسريالـي لـره بـل هـيڅ نسـته مـانع

# فقير ته خطاب

هـر سـائل چـي نـه لـري پـه لـړ شي قنع
عاقبـت بـه واوري دی جـواب پـه مـنع

كـړوي چـي و هـر چاتـه خولـه پـه جزع
پـه اميد د دې چـي وكـړي يـو څـه نزع

خـبروي چـي هـر واكمـن دور پـه قـرع
جبب يې بولي وخپل خولي او لاس ته مرع

يـا ضـمناً يـا پـه تصـريح او يـا پـه خضـع
بولـي فقـر لـره خـپل د ژونـدون وضـع

كـه سـل واره سـي معطـي دده پـر طمـع
لا هـنوز خوښـوي دی د واخلـه سـمع

هـره ورځ چـي كـا گـردش پـر هـره ضلع
خدايـه تـه وكـړې د هسـي مسـكين قلـع

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# طلوع

باري تل لري وداں کور د طلوع / د فلک پر شنه بساط خپور د طلوع
خو شوندان مي وي د وس په احاطه کي / تر هغو به پو کوم اور د طلوع
يا به ځان و جهان تول پکښي مکوټ کړم / يا به ورم سمندري شور د طلوع
زه و زړه و خپل قلم سره خبر يو / چي پر غاړه مي باقي پور د طلوع
اجنبي په بېکسي عصبي ګرځي / چي نبستي سبي قلمي ورور د طلوع
د سکوت لقمان دي ځان ور څخه کاږي / زما د ځان په باب کي خوښ تور د طلوع

چي سر تېزی ژبی نه وي برياليه
هرګز نه به سي ژوندی زور د طلوع

# د طلوع

ساقي پاڅه مست خمار دی د طلوع / نوبت راکړه بيا مي وار دی د طلوع
چي مي ژبه اخلي اور له ډېره جوشه / زه پوهېږم بخت بيدار دی د طلوع
سهار خوان بلبل به بيا ووزي له حاله / شګوفه ګلوګلزار دی د طلوع
(د پښتو بېدله) ورک مسي ږغېږه / ستا و خوا ته انتظار دی د طلوع
نوميالي پتنه ځان باندي مکوټ کړه / شمعه نه ده جوړ انګار دی د طلوع
د ځيګر ياقوت خوني کړه له قلمه / مناسب مخ په نثار دی د طلوع

انعکاس د بريالي د وينو ښکاري
يا خو نبار يا لاله زار دی د طلوع

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د شاعر نظر

که په مرګ مي شګوفه سو د ژوند باغ — شايد ومومم له دې درده فراغ
عبث غوارم په دوا د علاج زېري — ما مات کړی د صحت سره چناغ
ما د زلفو له شبخون څخه ژړله — خط لا نور ونيو پر مخ باندي وتراغ
هسي نه چي ستا پر زلفو مي نيت بد وو — مناسب به په ګلشن کي نه وي زاغ
ستا په مخ کي که څوک کړي توصيف د ګلو — بلوي د لمر و مخي ته څراغ
دا مي زړه دی ستا پر سترګو مستي کاندي — که کوتره پر شاهين وهي ملاغ

د توبې په بساړه به نشه نه سي
په رشتيا که بريالی وو زما دماغ

# ترجا

خدايه بيا مي تر غوږ مه کړې د هجران ږغ — را څه ليري په درمان کړې د ارمان ږغ
د کاکل تر سيوري لاندي مي دلخوش کړې — د خاطر په سوبه راکړې د پيمان ږغ
د زنخ په کوثر ما تشنه سېراب کړې — د اميد پر وزر وکړې د طيران ږغ
د سرو شوندو ميخانه مشرب زما کړې — په نصيب مي کړې د زلفو  د زندان ږغ
زړه وروح مي کړې نذري تر هاغوږونو — اورېدلي چي يې وي زما د جانان ږغ
زلېخا به هاله خوب پر بستر وکړي — چي بشير، ورلره راوړي د کنعان ږغ
کښتي وان به هادم خنګه شادان نه وي — چي له غوږه څه يې ورک سي د طوفان ږغ

اې زخمي د مراحم ساقي ته کانده
په عنوان د ترجا تل د فغان ږغ

Downloaded By: Afghan Salar Library



# پېيلي اوښکي

زمـا د زړه پـر مـخ غمـو راته ليکلي رديف
پـر بانوګانو مي سرو اوښکو دی پېيلی رديف

د ځـيګر ويني مي لـه سترګو څه قطار بهيږي
پـر کاغذه باندي لـه عکسه څه لوېدلی رديف

سيالي مـي مه کوه اسمان د (زحل) په خندا
ماتـه قسمت دی لـه ژړا څه را وېشلی رديف

(زهـره) عبـث پـه ويره خوله د داغ دعوه کوينه
د سينې درز دي کهکشان ته وربخښلی رديف

د خـرابات پر قلندر يې د زاهد څه غرض؟
هر چا يو کار په خپل اختيار خان ته بللی رديف

منصـور بـه ولـي لـه مستی نه وي د دار په طلب
د يـوه غـوړپ فتـنو يې ماتـه راګټلـی رديف

صنم چي دم لکه غنچه ګرزي سبب يې څه دی
دنـاز لــه بابـه يې په کبر دی لوستلی رديف

صـنم يې مـه بولئ نغمه تر بلبل زياته لري
د (بـت) لــه ژبي څخه چا دی اوربدلی رديف

پـر ده خطانه کړې مطربه (موسيقي) لره څه
ما بريالی پر (بال کسري) باندي ويلی رديف

# د مېني اور

چـي لـه زړه مـي يـو وړ مينـي اشـتياق
و تقـوا تـه مـي تـر خولــه ووت طـلاق

درس د صـبر خـو پخـوا تـر فتنې ښه وي
چـېرته مـړی د کلـو چـېرته تـرياق

افلاطون که په حکمت لـه قبره هسک سي
و بــه نــه ســهي دردونــه د فــراق

رقيـبان پــه محـــبوبانو هســـي ايســـي
لکــه ګــد پــه ملايکــو ســي فسـاق

که سينه مي اور په خوله واخلي ډېوه سي
پــه روښـان دي تـل د ښـکلو وي اطـاق

عشق سبق د ښکلو ورکی خدای دي نه کا
بريالــی لــه دې اسـتاده څخــه عـاق

بـريالـيه رنـدي مـه غـواړه لـه زهـده
د مـنطق لـه علمـه زده نـه سي اخلاق

Downloaded By: Afghan Salar Library



# زه و ساقي

د ســـــاقي ســـــره بــــه وپـــالم میـــثاق
که قسـمت مـي کـړ نصيب يـوم الـتلاق

ګـوره کـوم طعام به پوخ د زړه تنور کړي
پکښــي جــوش وهـــي لمـــبې د اشـــتياق

د قســـمت دارالعلــوم هغــه خــط راکـــی
چـــي عــنوان یې دی لیکلـــی (الفـــراق)

تـر هغـو د شـواخون لـــه غمـه خلاص یم
خـــېږ راخـــي د ګـــل د رېـــږي اتفـــاق

چـي يې لاره ده د ایـاس پـه نردبان کي
مـــا موندلـــی پـــه هغــه طــاق کـــي اطــاق

آه زمــــا قاصـــر قســـمته چـــېرته ولاړې؟
لــــږ زمــــا پــــر مرضـــي وكـــړه انطـــباق

دا ســـوۀ حســـنه لــباس ور جـــوړ كـــړه
کـــه هـــر څـــو وي بـــریالـــی ســـوء اخــلاق

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# ښه ملګري

پر ښه لار به دي رهي کړي ښه رفيق
په هر ځای کي به مو سوم سې په صديق

خصوصًا که بيا عالم و صالح هم وي
در څه جوړ به کړي اصلي کانی عقيق

د مغزي پر دړه غوځار به سې کوهي ته
همېشه که دي ملګری وو فسيق

فسيق هغه مل دی زما د سترګو توره
چي پر تا دي باطني نه وي شفيق

دا د نن وبېغمي ته نظر مه کړه
ژر دي کړي به دي سبا په غم عميق

تاوارو مو شل ليدلي هم يې وينو
چي بې واکه سوه په دې بحر غريق

چي معقول او هم هوښيار و ځان ته وايي
نو پر څه دي دی اخيستی دا طريق

ظاهري اور دی ظاهر لره سوځونکی
او دا اور دی حيثيت لره حريق

انتها د ناکامي به دي مسکن سي
که نښان سولي په دغه منجنيق

وکسوټ ته ستا د تېرو سوانحو
بې له شکه دا مقراض بوله خريق

نتيجه د نېکنامي د ښه ملګري
به دي کاندي له شومې څخه عتيق

ته په خپله په د قيق فکر فاکر سه
آيا خوښ دي دی پر ځان نوم د خنديق

ورکړه سوی چي يو څه عقل و شعور وي
تل مدام به وي د ښه و بد فريق

که هرڅومره درته ګډ له حده تېر سم
خيال مي نه سي چي دي زړه سي په رقيق

د هادي او ذوالکرم بې هدايته
په بل نه سي دغه رنځ لره حذيق

نا اهلان او کوږه لار به سره پرېږدې
برياليه که دي وموندی له غيبه څه توفيق

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د عشق جلوه

چې یې عشق لاس و پښې یوسي په تاړاک
پرتتې بـه شـل و شـوټ سـي لکـه تـاک

یـا تـر مـیانځ بـه د اسـمان او د مځکـي
سربســـته وي ژړي تلـــي لکـــه نـــاک

یـــا بـــه وي الوبـــالو رنـــګ مهـــربانه
یـا پیسـته رنګـه زرغـون زړه سـینه چـاک

یـا پـه درد بـه ختکـی سـر بـریده وي
یـا انـار لـړمون لـه ویـنو ډک هـلاک

یـا بهـي رنګـه بـه لانـدي تـر ګـرزو وي
یـا بـه وي لکـه مـنه پـه بـنه پـاک

یـا پـه غم به شین بادرنګ وي لیکي لیکي
یـا ستمبول بـه وي لـه شرمه سر په خاک

یـا خونـي شـلیل لـه هجـره مـخ تناکـي
یـا بـه ژړ مـخ زردالـو وهـي مسـواک

یـا شـبګیر بـه پـه سـرو اوښکو بریالی وي
یـا بـه وچـي سـپیني سترګي وي اهـاک

# د میني ډک

دا چي جام یې کی په نام د میني ډک
دا ازل دی کې اجـل دی کـه فلـک

دا چـي زړه مي لـه کو ګله په منګل وړي
دا زمـری دی کـه پـېری دی کـه ملـک

دا چـي تـېز او بې پرهـېز کـړي ګذارونـه
دا توپـک دی کـه مـردک کـه مـردمک

دا چـي پاس یې په اوربل کي دی اوربل
دا یې تـاج دی کـه سراج دی که محک

دا چي پټ خاندي په سرو شوندو څه سر دی
دا ملهـم کـه تبسـم دی کـه هـنک

دا چـي سپین عـذار د یـار یې کړ رنګین
دا سـراب دی کـه سحاب دی کـه پالک

دا چـي باسـي لـه محفلـه څـه درمـل
دا بېلـتون دی که جیحون دی که هجرک

دا چـي کـرم یې د زخمي پـه نامـه یـاد
دا انعـام دی کـه پـیغام دی کـه پیټک

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# لـه هجره شکایت

هجـــر و ایســـته غابښـــونه زمـــا غـــبرګ بـیا بـه رانـه سـي د صـبر پـه اشـورګ
پـه کـندولـه خولــه بـه څـه سندري لولم نــه ببلــیړي پــر ســامع ږغ د تخــرګ
زه لا څـه یـم چـي د عشـق لــه غمه ژاړم لـــه هیبـــته یې پـــړانګان اچـــوي ورګ
څـه تعجـب ستـه د رقیـب و دورنګـی تـه پـه مـخ روڼ صـفا سـړی وي پـه سر ګرګ
ښایســـته ســنبله جــار دي تــر حــیا ســم راتــه مــه نیســه د مـخ پـه حجـاب بـرګ
ګلـه راسـه خـوا په خوا مي یو وار کښېنه
بـریالـی بـه سـم د غمـه خوانــي مـرګ

# د زړه رنګ

فلـک ورکـی زمـا و زړه تـه اسـماني رنګ لکــه ګــډ دود پــه لمــبه ارغوانــي رنــګ
د فـراق لـــه درد او دوکــه سـیاهي وړي ګوره څه سي چي لا مومي هجراني رنګ
آتشـي سـي پـه تـش خـیال د لعلو شونډو بـیا شبګیر یې کـړ د زلفـو ظلماني رنګ
خـړ، و بـور یې بـوري سـترګي پـه کتو کا د غمـزو لــه نـازه مومــي سـوزاني رنـګ
زنخـدان یې سـپین صـدف پـه تصـور کـا بـېرته تـور سـي د کـاکل په کفراني رنګ
محبـــت یې بـــیا ګلګـــون او جلـــبل کـــا زار قـربان سـه ګلګونـي جاودانـي رنـګ
شیخه! چـوپ سـه کنه اوس به مي پر ضد کړي کرم به ناري چي پکښي دی د فلاني رنګ
بـریالـیه دا یوســف لـــه زړه مــه باســه
کــه پــکښي و ژر بــه ورکړي کنعاني رنګ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# بـــل

بې لـه عشقه پر خولـه نـه راځي مضمون بل
بې دعـاوو نستته مـړه لـره معجـون بـل

د اشـناى بې فكـره خـياله بـه ورنـه سـي
د غمجـن سـرتكيه ګـاه لـره خـنګون بـل

چـي د مشـكو عطـر پاشـي په صـحرا كـي
د ختـن بې غـزالې نسـته لرمـون بـل

چـي محــراب يې پـه شـرابو الــوده وي
تـر دغـه شـوقي زاهـد نسته ګلګـون بـل

لكـه زه يـم د هجــران طــاعون وهلــى
خدايـه مه وهې مارنګـه پـه طـاعون بـل

چـي تشـبيه يې د لحــد پـه ګيسـو كـاندم
مګـر نسته پـر دنـيا هسـي شـبخون بـل

بـريالـيد زړه صـدف پـه ويـنا مـات كـړ
بې لــه شعره يې ونه موند دُر مكنون بل

# ول، ول زلفي

چـي پـر مـخ كـړې را ايلـه زلفي ول، ول
د چشـــمانو مفصــل دي ســـي مجمـــل

سـتا د هجـڕ مسـئلې دي هسـي ګرانـي
نــه حــل كـيږي پـه صـدرا او مطـول

چـي وصـال دي په نظر كي راحضور سي
بديهـــي ســـي بې بـــرهانه مدلـــل

چـي را يـاد دي تلخګـي د جدايـي كړم
د كوثـر عسـل مـي سـي تـر خولـه حنظل

چـي مـي جسم انفعال د سترګو واخيست
جواهـــر مـــي پـــه عـــرض ســـوه مـأول

چـي د مينـي پـه كـتاب دي مطـالع سـم
د پرهـيز حــواس مــي واړه ســي مختـل

كـه د عشـق پـه مدرسـه كـي بريالى سوم
راتــه واړه مشـكلات بــه ســي مــنحل

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# پاخه ویل

چي يې درس وي د هجران پاخه ويل
خود بې وزي تر دهان پاخه ويل

چي د گلو په هوس يې خورک خار سو
خکه وايي بلبلان پاخه ويل

کوم نسيم به نوشته کړي وبورا ته
د غنچې پر زنخدان پاخه ويل

آفلکه ميگوني سه شفق رنگه
بنه يادگار دی پرگريوان پاخه ويل

(انا لحق) بله لمبه سوه په منصور کي
کړه شروع يې پر ميدان پاخه ويل

د عشق خوب ته مگر واورم له يوسفه
په تعبير يې وو زندان پاخه ويل

سوړ باطن گرمي خبري هی توبه سه
پوچ يې بولي مطربان پاخه ويل

مړ هندو کله فيض مومي له تلقينه
خوښوي به سخندان پاخه ويل

دا قلم به دي رسوا کړي بريالييه
چي ليکي دي پر ديوان پاخه ويل

# تا کړم

شکر شکر چي په وينو رنگين تا کړم
هم سرکوزی د فراق پر بالين تا کړم

شاهدي د عشق مي لوستې په خانگو کي
مسيح رنگه همسايه د پروين تا کړم

د سينې تپ مي د هجر نمکاو خوري
په عطا ددې نمک نمکين تا کړم

چي د غم په تناره کي ايره نه سوم
په سختي کي سمندر اتشين تا کړم

د وصال د مچمچي په تعقيب درومم
خورنده د معجوني انگبين تا کړم

بېدردي راته سوچ کفر معلوميږي
مسلمان د درد په دين و آئين تا کړم

چي د خان په رنگ بل نه وينم سربازه
ستا د مخ په آئينه کي خودبين تا کړم

زړه مي شين سو رنگ مي ژړ بريالی نومم
د الف له سمه قده خه شين تا کړم

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د عشق تور

که د ځان لـه حقـه کـبره خـبر دار سم
د شـناخته اسـلام لــه روه بـه انکـار سـم

خپلـي سـترګي راتـه پټ اورونـه لـخ کـا
زه د خـپلو سـترګو ځـنګه پـر کـنار سـم

د نغـري د دښـمن غـځ نـه اخیست کیږي
عاقبـت بې لــه تاوانــه سـر پـه دار سـم

د عشـق تـور یـم د آرام وطـن مـي نسته
چـي هـر ځـای ورسـم هلـته ګرفـتار سـم

چـي پـه نیـت د عرفات پر توبه هسک سم
پــه حــرم د تــورو زلفــو انحصــار ســم

چـي د اوښـکو بـېماري سـي راتـه پېښـه
پــه زر رنګــه بــېماري ځنــي بېزارســم

د زاړه زخـم دردونـه مـي ځـیګر خوري
پـه کـم وصـف بـریالـی عـبدالغفار سـم

# نه سم

د نظـر جـادو دي ژبــه را ګونګــی کـره
مخــامخ دي پــه نامــه بلــلای نــه سـم

سـتا د غـنو تـورو سـترګو مـي حـیا سـي
چـي د لـیري څـه دي سم لیدلای نه سم

که حال غواړې زما پر نبض ګوتي کښېږده
د زړه کـیف درتـه پـه خولـه ویلای نه سم

سـارنګی رنـګ د زګـبروي پـه ژړا پـایم
پـه کـټ کـټ لکـه ربـاب خندلای نه سم

د تقـوا انجـیل منسـوخ دی ناصـحانو!
پس لــه نسخې دا کـتاب مـنلای نه سم

معصیت مـي پـه رګـو کـي قـرآن پوخ کړ
د ایمــان تــر دائــرې وتــلای نــه ســم

پــه توبــه کــي مصـیبت د دوږخ ویــنم
پـه جنـت کـي بـریالـی ژړلای نـه سـم

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د بېلتون محکمه

چې په تور د تورو زلفو گرفتار سوم / د بېلتون په محکمه کې سر په دار سوم
لا په قتل مې رقيب نه سو دلسرده / په ښغور يې پسله مرگه څه سنگسار سوم
بل مې هيڅ تقصير له لاسه صادر نه وو / خاص په تش نظر د سترگو گنهکار سوم
و به کاږم خپلې سترگې له قالبه / که ددې غمو له خوبه څه بيدار سوم
د ايمان غاښ به مې ووزي صنعان رنگه / که د مينې له محنته څه انکار سوم
ما زخمي له نمکسار څخه څه غوښته؟ / نا خبر په پټو سترگو پکښې غوڅار سوم
چې د زخم کاميابي مي سوه په برخه
پسله هغه بريالى عبدالغفار سوم

# د الست يم

ستا د شونډو د اياغ په ميو مست يم / درندی په درمسال کې بت پرست يم
صراحي طاس د صهبا راکړه سرماله / توان مې نسته عملي زه د الست يم
راځه ليري او گوښه گرځه ناصحه! / بې اختياره د تقوا پياله شکست يم
د عرش بام مي جاودان کور، و مسکن دی / خطا مه سه په ظاهره که څه پست يم
په غلط دليل به هرگز غلط نه سم
زه عبدالغفار په ژبه زبردست يم

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# جانسوزه آه

د لمر مخ او د عشق اور لره یو خس یم
که مي و سوځي ورتېر تر خپل نفس یم

ننګ و نام ته مي ابرا مجاناً ورکړه
د دیدار پر شېریني باندي مګس یم

مامعذور ګڼه زاهده په توبه کي
ستا په زهد مي قسم، که په خپل وس یم

ګاه مي دم د خاموشي ګړي خوله راپټه
ګاه په زر ژبي ګویا لکه جرس یم

د غمزو توره يې بیا کړله برمنده
زه عبث د زیاتي ژوند په بند، وبس یم

آتشي جانسوزه آه زما قاتل سو
عزرائیل ته حاجت نسته زه ققنس یم

که د کور دوره تر منځ مي خلګ پرېږدي
بریالی لا پر دغه حال بوالهوس یم

# خوښ یم

د هجران په تېغ پېيلی زبون خوښ یم
د جفا په اور سوځلی مجنون خوښ یم

تر دې ژوند چي بېدردان افساني وايي
بې پوښتني پروت وهلی طاعون خوښ یم

که غمګین یم که خوشحال په دواړو حالو
ناخبر په خار سپېڅلی مامون خوښ یم

د خپل زړه او د ځيګر په خالصه کي
د شرابو حب کړلی ګلګون خوښ یم

پربانو مي دي تل روني اوښکي زانګي
په عالم کي زړه چاودلی مفتون خوښ یم

په لمسون د غمازانو پروا، نه کړم
د ذلت په تار تړلی د منت په صالون خوښ یم

محضي نوم چي ستا د عشق راباندي پروت وي
په دغه ډاډ د سرو وینو بهېدلی جیحون خوښ یم

ستا د سپین مخ د ډبوې له رسوایي څه
د صحرا پر ډګر پلی په یون خوښ یم

بنګلې ته د شمیم که وړیا هر څوک اوچتېږي
تر هغه پلنه لمن لا یار شړلی ممنون خوښ یم

د کوګل پت مي په سرو وینو زولن سو
تر دغه لا په لحدکي زه تړلی مکنون خوښ یم

رانه لیري سه غاسله لاس دي دور کړه
نر دې آب چي ته مي مینځې زه لړلی په خون خوښ یم

خوار زخمي که یم تاتوبی د غمونو په نړۍ کي
همېشه پر دغه حال باندي نتلی محزون خوښ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# ښه یم

تر ساده سینې په مینه زولن ښه یم — تر ښلتون زه د برزخ پر وطن ښه یم
د سبا شمیمه زما د ږغ قاصد سه — یار ته وایه وا، په غم دي غمجن ښه یم
پر آخر مي دا د مرگ پیغام قبول کړه — پروا نسته بې درملـه خوږمن ښه یم
لاکن آه په زړه کي یو ارمان لرمه — نور تر دغه لابدتر پر سنجنتن ښه یم
پر جلاد زما د مرگ حواله مه کړه — د مژگانو د خنجر په کشتن ښه یم
ستا د لاسه چي شهید سم مفتخر یم — تر عنوان د معنون پر عدن ښه یم
د الله و روی تـه وگـوره غاسله — تر دغه حال داخل سور په کفن ښه یم
په تاراج چي مي اغیار سبک د بدن وړي — تر دغه حال د لحد په خوردن ښه یم

د زخمي د زړه ملهم ستا کر شمې دي
د نغمو په تېز نشتر مبرهن ښه یم

# د المطرح صنعت

که یې مخ کړ د جاله زلفو په دام دم — په جادو بې کړي زاهد د زهدلام لم
د کاکل د اعتکاف و پښلمي تې — کاندي غسل په تودو اوښکو هر شام شم
د گلاب او د شفق سرخي چي زېب کا — ماموندلي یې دی ستا د شوندو کام کم
بیا د ناز خنجر یې وکیښ خدایه خیر — شهداوو کي قسمت د وینو جام جم
چي یې گام په گلشن کښېښودی گلبوتو — په رکوع سو، ورته هرپخته و خام خم
د شغلو قدح لـه لمر څخه چپه سو — باندي پرېووت ستا د شوخو سترگو سام سم
د ختن پر دښت وهي لـه وهم و ترسه — غزاله په پته خولـه ناري د رام رم
بادسبق د اف اف واخیست سرگردان سو — ښوروي هر خس په هیله د انعام عم
زما نیمگړي جملې غم هسي پوره کړې — لکه جنس چي وي قریب په اسم تام تم
د نیمگړي جملې دوغومره تاوان دی — حواله پر (سلاوات) سو د نلغام غم

خپل اصلي نوم راخه هېر دی بریالی سوم
چي محضه مي کړ آبداره ستا د نام نم

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د المکرر صنعت

زړه مي بيا سو ستا د ميني د شيم يم | لګولـی يې د ژبـي محتشـم شـم

اې مجنونه چپ سه وار د وصل زما دی | ورخه ډوب سه د غمونو په تور تم تم

ورک د ژبي په دفتر او په صفحو يم | چي ادا کړم کم صفت ستا د منجم جم

د جنت نسيم کوي استفاده ستا له دهنه | هم دغه رنګ مستفيد د صبحدم دم

چي راستون سو لمر د حسن دی ګلرنګ | د بڼ ګل کړ توی تر سترګو د شبنم نم

ستا د ميني په دردو کي اې بې مثله | بې مارنګه پيدا کيږي بل محکم کم

که په وچ موته مغلوب سپی غمازنه سي | نه په عجز به يې کا نه په قسم سم

چي د سرو شونډو و مخ ته يې لوګی کړم | په وړيا سو راخه ليري د ملهم هم

زخمي مه کړه په وصال کي په غماز باک
په کتو کي دی آسانه د شلغم غم

# هجران

لکه غنچه توی په خپل خان کي کړم خزان د هجران | راخه خطا ايمان د وصل کی شيطان د هجران

که دا قيامت بې وخته نه وي راته وايه جواب | چا مي پر سر رانړولی دی اسمان د هجران

ګوندي په حشر مي مجنون ته سترګي کښته نه وي | بسه دی چي دغسي په ما وخوت ارمان د هجران

سترګي ړندې ژبه ګونګې عجب استاد دی قسمت | پروت مي د عمر په کتاب کي دی نښان د هجران

عبث عبث نارې وهم بريالی نه بريالی
خه دی که وې ويشتم له مخکي امتحان د هجران

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# زه او زړه

مــا د زړه کشـــور تـــه واســتاوه فـــرمان
چــي پــه صــدق او رشــتيا وکــړه فــرمان

لــه دې عشقه توبــه گــار او واگــذار ســه
مـــه را باســـه و عـــالم و تـــه ســامان

نـــه د يـــار وفـــا دي ولـــيده پـــه عمـــر
نـــه دي ووت لـــه کوگلـــه خـــه ارمـــان

تـــور کـــاکل يې هـــندو رنگـــه جادوگـــر دی
خـــه نســـبت ســـته د هـــندو او مســـلمان

د وفـــا وجـــود گمـــان جفـــا يقيـــن دی
يقيـــن کلـــه باطلـــيږي پـــه گمـــان

ده د حـــال پـــه ژبـــه راکـــی دا جـــواب
چـــي زه هـــم غـــوارم لـــه دې اوره امـــان

لاکـــن دا غـــم چـــي پيښـــيږي بې اختـــياره
دا دلـــبر راوړی زمـــا کـــره مهمـــان

کـــه نـــری وروځي لېندی خال غشي نه سو
انشـــاء الله نـــو بـــه تـــبر کـــړمه ايمـــان

# د شاعر تحير

دا دي خـــط ســـو را زرغـــون پـــر زنخـــدان
کـــه شـــپه وخـــتل پـــه غـــبږ کـــي د اســـمان

ادم خـــوري ســـترگي پټـــي کـــړه پـــه زلفـــو
پـــه خـــنگله کـــي مناســـب دي شـــنه زمريان

شـــنه خالونـــه دي د مـــخ پـــه صـــفايي کـــي
لکـــه بـــند ســـي پـــه سيبـــنه کـــي لـــړمان

تـــور گيســـو چي را ايله کړې پر مخ باندي
لکـــه گـــد چـــي پـــه جنـــت ســـي دوږخـــيان

خـــط د زنـــي دي د زلفـــو تـــرجمې دي
دغـــه متـــن دغـــه شـــرحه دا بـــيان

د ســـرو شونډو پـــه گرمی دي کاکل تور سو
کـــه راغلـــی دی عســـکر د هندوســـتان

بـــريالی او ســـتا رخســـار ســـره پوهـــيږي
دا کـــاغذ او دا قلـــم دي شـــاهدان

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د نفس هوابندي

د غرور لـه بـاده ډک مـي سـو لـړمون
پـر نـژدو همسـايه گـانو څـي تعفـون
کـه تـردې لا يـو پـه دوه پسـې بدتـر سم
پـه ظاهـر صـورت سـړی، باطـن ميمون
نـه مـي کـرکه سـي لـه چـا او نه ترهېږم
نـه نرېـږي مـي پـر سـر بـاندي گـردون
زه د نفـس هـوا بـنديو مسـخر کـړم
د شـيطان حملـو پـه وينو کـړم گلگـون
د ناصـح ويـنا وي مـاو تـه عبـث دي
ولـي نـه سپينېږي تـور خـط پـه صـابون
په دې تنگ جهان کې خان لـه مانه ورک سو
را څـه ولاړه سـر شـاري د کـاف ونـون

حـالاً بـس کـړه بريالـيه بـيا بـه گـورو
تمامـيږي پــه اووه بيـته مضـمون

# د طبيعت ښکلا

چـي خمار دي سي د سترگو تور، و سپين
راڅـه ورک سـي د تقـوا ديـن و ائيـن
سـتوري تولـه شپه په خير در پسې گوري
خـپل روند والـی يې سهار تـه سي يقين
چـي خورشيد ستا د سيالي تصور وکړي
شـفق څکـه سـي لـه درده سـور، وشـين
نـور مطلـب پـه راختلـي لمـر کـي نسته
اسـمان کښېښـود ستا و مـخ تـه کـته بين
نـيمه شـپه قـدم د لمـر پر سترگه کښېږدي
تـر تمـام جهـان سـر لـوړی سـي ماپښـين
کـه هـر څـو گـورې پـه نـاز درسره ښايي
مـور لـوی کـړی نـاز پـرور يې نازنيـن

بـريالـی دي څکـه يـاد لـرم پـه ژبـه
د خولې خوند مي ستا په نام دی نمکين

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د مينې پاڼ

هغه وخت به کړمه طی د مينې پاڼ    که قسمت کا په لاس را د وصل سکاڼ
د رقيب په خوش گويې به غلط نه سم    پای بسته وي په اول مزله بهاڼ
هسې بند د محبت په سختولو
بل يو څوک دی بريالیه ستا پرهاڼ

# د مينې سربازي

چې ستا مينې منصب راکی د پتڼ    خود، وهم به پر سر، اور باندې اتڼ
ستا د وصل و شبنم ته سبزه پوش يم    په معنی لرم شين زړه لکه بانجڼ
پای بندي مې ازلې ده گيله نسته    وهل سوی يم د هجر په گزڼ
رنځ گالل مې وظيفه شبگير په اوښکو    سولولی يم فراق لکه چندڼ
بڼ د زلفو يې وريا پيچ وخم نه دی    تالا کړی يې زما د ژوندون بڼ
د حيات تر کُره ووتم لاسومه    مطرب خوشي راته درس وايې د دڼ
د اميد شجر ثمر د مطرب نه کا
بريالی که هرڅه وکا ترتيب گڼ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د میني های ر هوی

چي د عشق لـه های و هویه څه سي کوڼ
د فتـنو پـه غشـو بـار خـي لکـه شـکوڼ

تـر پیکي لاندي يې خال ښکاري په مخ کي
کـه پـر غلـه بـاندي سپېدو وواهـه سپوڼ

زمـا و مرگ ته يې لېندۍ د ورزو کش کړې
خوشـي بولـي يې پـه نـام د تـندي چوڼ

راتـه شـوخ مـه گـوره يـاره زه رندېږم
شـب پـرک و لمـر تـه وي پـه سترگو بوڼ

پـه کـاکل يې د سـنبل تشـبيه غلطـه
کلـه خـای د گلابـتونو وهـي سـوڼ

د شهلا شـونډو پـه ديـد رقيـب نه گرځي
پـر قـند مـه کـړه خـدای هرگـز د مگـس بـوڼ

لمـر د وصل به يې هيـڅکله پـه لمن کي
کـه فلـک رنـگ واړه شـپه وم پـه مـخ روڼ

کـه پاخه دي که اومه دي، دي لـه ځانه
بـريالی مضمون گويـي نـه کـا پـه سوڼ

# سرې لمبې

سـوړ کـه مـي هرڅو کا د دا وعظ په اوبو
سوړ به کله نه سم ستا د عشق لـه سرو لمبو

کـه مي و پوښتي پوښته مي ستا لـه درده څه
څـوک دي بې يوسفه چي تعبير کا د خوبو

زه لـه درده نـه سوځم سوځمه لـه شوقه څه
مـړی لـه مستۍ نه پرېوله کيږي په تلومبو

عيش راحت نه غواړم غواړمه سختي د عشق
څـوک به په جنت کي کاندي مينه د شلومبو

زه پـه خندا نه وياړم وياړمه په سرو اوښکو
ښـه ښـادي (ښادي) ته وريخوا کړله (بيبو)

خـان په ريا نه غندي خو غندي ما په مينه کي
څـه به پوچ زاهد مومي لـه دا هسي توبو

رنځـه لـه تانـه ژاړم، ژاړم لـه طبيبه څه
خـلاص بريالی مه سه د شاهي باز لـه چمبو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# مایوسي

چـي پـه شان د سمندر مي دوږخ کور سو
خـان جهـان واړه وطـن راتـه سور اور سو

دا نـــا وړي واړه ســـتا لـــــه بې نـــيازيه
د ناچـارو چـارو وار رابـاندي پــور ســو

د ســـرو ســـترګو لـــــه آزاره نـــا خـــبر يې
شـفق وګـوره د خـان پـه وينو بـور ســو

صـــراحي لــــه حلقــه وينـــي بهـــر باســـي
چـي يې سر پرې ستا د شونډو په ښخور سو

لـــتوي چـــي هـــندو بـــار د تـــورو زلفـــو
د پرهـــېز لـــــه مسـلمانه وطــن تــور ســـو

کاميابـــي دي د هـــر آن ده کيمـــيا بوتـــي
معلـوم نه دی چي يې سيوری پر کوم لور سو

ســي فــارغ بــه د هجــران لـــه عزرائـيله
بریالی کـه پـه ژوندونـي سـر پـه ګور سو

# چتې سترګي

چـي تـش ته‌ر سمه پر ښنګ د چتو سترګو
تـور فـرنګ سـمه پـه رنـګ د چـتو سترګو

و بــازار تـــه ســر بهـــر ایســتلای نـــه ســم
کــوز، و پـاس اوري خدنـګ د چتو سترګو

د ســاغر شـــراب مـــردار رامعلومـــيږي
چـي نشـه سـومه پـه بـنګ د چتو سترګو

پـه توبـه مـي هيڅ پرهـېز ورخخه نه سي
زه بې نـنګه کـرمه نـنګ د چـتو سـترګو

پـه بـازو کـي مـي امکـان د فتحـي نسته
تبنـــتولی يمـــه جـــنګ د چـــتو ســـترګو

د خـــيګر پـــر آيـــنه مـــي لازياتـــيږي
د تقـوا پـر صـيقل زنـګ د چـتو سـترګو

زړه سينبـــه د بـــريالـــي د لاســـه ولاړه
ريـز مريـز سـوه پـر خـرنګ د چتو سترګو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د غزلو جنگ

زمـا خـیگر اخیسـتی رنـگ دی د غـزلو
را قسـمت خښـلی بـنگ دی د غـزلو
دا قسـمت دی کـه عادت دی چي لـه خوبه
را سـره مـدام آهـنگ دی د غـزلو
د تنصـیح د صـیقل لارنـه ورتـه کـیږي
په اینه کي مي پروت زنگ دی د غزلو
د سـکوت پـه نسـخه لا، لـه حالـه وزي
مـا اخیسـتی تـور فـرنگ دی د غـزلو
پسي گـرخوي کچکـول د شـوق په غاړه
زمـا زړه عجیـب ملـنگ دی د غـزلو
چـي ققنس یې لـه آلاپـه خـه اور اخلي
د مطـرب سـتونی سـارنگ دی د غـزلو
بـریالـیه کـه نـه ډارې ور روان سـه
(د طلوع) پر میدان جـنگ دی د غزلو

# بسمل

خدایـه خـنگه کـړم د هغـه یـار لـیدلو
چـي یې اور اخلـم پـه محضـي یـادولو
نـور مـي مـه پوښـته لـه درده، و تکلـیفه
د مـړه خـه زده دي د قـبر لـه ویلـو
نـور مي مه سوخه پوره زړه په هجران کي
زوړ کالـي نـه لـري تـوان د نښـتېړلو
که هوښیار یې شیخه پټ سه په خلوت کي
دا د عشـق مـیدان دی خـای د سـربازلو
د رقیـب پـه خوشـامند بـه غلـط نـه سـم
د دښـمن ویـنا ورنـه وي د مـنلو
دا نسـیم بـه مـي کـوم زخـم رارفوکـا
حـال یې راوړ د زاره تـپ د سـپړلو
بسـمل رنگـه ورتسـلیم سـه بـریالـیه
مـړ مـرغه لـري نصیب د نـس خـیرلو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# روږدو

روږدو په ناز د دلبرانو	روږدو په آه د سوخته ګانو
روږدو په کبر د خوبانو	روږدو په درد د بېدلانو
روږدو په مینه د رندانو	روږدو په زهد د شیخانو
روږدو په غشو د مژګانو	روږدو په مرګ د فدایانو
روږدو په عطر د زلفانو	روږدو په قتل د چشمانو
روږدو په چم د رقیبانو	روږدو په آه د مظلومانو
روږدو په توره د غازیانو	روږدو په خون د شهیدانو
روږدو په درس د ناصحانو	روږدو په کیف د شاعرانو

* * *

روږدو په ننګ د افغانانو	روږدو په رنګ د ترکیانو
روږدو په ګټه د نېکانو	روږدو په قول د وافیانو
روږدو په مینه د یارانو	روږدو د ږوب په کاکړانو
په خندا د وصالي روږدو	په ژړا د بېلتانه روږدو

په دا دوارو مي قسم دی خپله یاره
که تر مرګه ستا له میني سم بېزاره

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# ویني

په خیگر کې مي سو جوړ اسمان د وینو
خکه اوري مي پر زړه باران د وینو

د هجران سوداګر راغی خونفروشه
زما پر سترګو یې کړ جوړ دکان د وینو

شاید پوه سي د رقیب فرعوني ړله
زما تر خوله دی رودنیل روان د وینو

د وصال قارون پر مخکه را نه ډوب سو
د قسمت وارث یې وړي تاوان د وینو

چي سیلاب زما د وینو یې خورک سو
د اتک وختی اوس ارمان د وینو

دا محشر که قتلګاه د حسنینو؟
بریالیه که لیکې دیوان د وینو

# خوني خنجر

خونبار د سترګو مي لړلی دی ګریوان په وینو
لکه یاقوت اناري ګرخم د خپل خان په وینو

چي خریدو فروخت د عشق مي وکی د یاري پربازار
غم کړ راډک په تجارت د زړه دکان په وینو

هغومره ډیره زیبایي د دښت ګلان کړي پیدا
چي ورته وژاړي په شنه پلو اسمان په وینو

چي په ژوندون خوني خنجر د هجر خورم پر خیګر
وي پسله مرګه به مي هم سور قبرستان په وینو

په لوی سهار باندي سګلی وهي ناري د جرس
چي مي باریږي له کوګل څخه کاروان په وینو

تل بې پروا ګرخي نګار، نه اوري آه د بیمار
بریالي ډیر ورته لیکلی دی بیان په وینو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# يـو يـو

دلـبرۍ تـر تـن مـي باسـه خدنـګ يو، يو
پـه صـيقل اخلـه زمـا د زړه زنـګ يـو، يو

پـر سينه بـاندي مـي نوى اور، رابل کړه
سـره بخرکي يې کړه پاش پر کرنګ يو، يو

اې مطربه جګ سه کوک دي چنګ ودف کړه
لـــه غلافـه څـه راباسـه سـارنګ يـو، يـو

پـه چـنګـک د تـېز کـتو او اسـتغنا هـم
د امـيد لـــه بحـره باسـه نهـنګ يـو، يـو

د سـالم فکـر غـتري مـي بـيا وران کـړه
بـاندي ښـخ کـړه د مـژګانو سُرنګ يو، يو

د غـم تريـرې د نظـر پـه تـرخ رنـا کـړه
خوږه خواکي مي نښان کړه فرهنګ يو، يو

کرغـېړنه تـراه د زهـد رانـه درو کـړه
ديغـناغ پـه بانـه راکـړه قلـنګ يـو، يـو

د صـحت وږخ مي د ميم په تېږه غوڅ کړه
کـړه د زې ميم مي په لام د نيونګ يو، يو

چـي زخمي لـه ادبي برخي محروم دی
خـود بـه هسي عشقي وايي آهنګ يو، يو

# بيده وو

برايـي مـي پـر بسـتر هجـران بـيده وو
د زګـبروي لـه بـېري صبر و توان بيده وو

چي د بخت پر ګلستان مي وخت چپه سو
د شـبنم پـر اوربـدو اسـمان بـيده وو

وچـي شـونډي بـېهوده تاوانـي ګـوري
د بـاران پـر تبسـم بوسـتان بـيده وو

غـنچې هـم څانـته خفـه ويـل لـه مکـره
درسته شپه يې غبږ کي ګل پرېشان بيده وو

پـر لـيدو يې د کـاروان سترګي ړندې وې
د يوسـف پـر دلـبرۍ زنـدان بـيده وو

وږې، تـږې، خينـي ولاړمـه نامـراده
زمـا نصيب و د حـاتم سترخوان بيده وو

چـي مطلـب د ويښتوب غـواړې بريالېه!
پـه طـالع دي ازلـي عـنوان بـيده وو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# آه

عبث نه دی د ویرجنو د کوګل آه
بې اختیاره یې له درده خیژي تل آه

که پر مخ یې د شبنم سترګې وي خلاصي
دا چمن به لولپه کړي د بلبل آه

هسي نه چي د چغارو اثر نسته
د بورا ژړاوي هم کاړي په ګل آه

نازولي مجلس پای ته تاواني دی
پانې وګوره تک شین کړي د سنبل آه

خدایه دغومره تأثیر پر ژبه راکړې
چي ققنس رنګه لمبه سمه په خپل آه

د قیامت نشه به وباسم له سره
اسرافیل که واوري زما د خوږکوګل آه

دا له جوشه بریالی خیري خیګر یم
عرش و فرش سوخي که ومي کیښ یو بل آه

# د یتیم وینا

که د زړه له تاوه وکاږمه آه
دا جهان به کړم شین دود لکه ګیاه

هر مابنام چي باندي اوسیلم له غمه
څکه واوري د فلک جامه سیاه

زماني په خپل ستم یمه ژوبلی
صبحدم مي د څیګر پر داغ ګواه

بې غمخوره و خواخوږي تنها ژاړم
مګر نسته بل ما رنګه حال تباه

د ذلت دریاب ورکوز کړم له ساحله
اوس به کوم د ستګیر وکړي یو نګاه

د طالع د بېرحمي په تیغ شهید سوم
بې ویرژلو بل څوک نه دی را اګاه

زړه مي پوخ سو په لمرو د ناکامیو
سیوری نسته چي تړې وروړمه پناه

زه په خپلو وینو غرق لکه بسمل یم
خندان خلګ مي په سیل کړي واه واه

که په تینګه مي اوس هم څوک دستګیر سي
بریالی به سم هاله انشاء الله

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# قهرجن کاته

خدای دپاره تـن مـي اور اخلـي ښتابه بـرګ پـه بـورو سترګو مـه ګـوره نوابـه
کـه دي زما د مرګ په نيت خنجر په لاس وي هرګـز مـه اوسـې محـروم لـه دې ثوابـه
خـو کاتـه راتـه پـه قهر، و غضب مه کړه نـه چـي سم په ځان خوني لـه دې عذابه
د لـباس پـه زيبايـي دي لمر لـه شرمه د فلـک پـه غېږ کـي ګرځـي بې حجابـه
پـه سينه کي خاص حساب د هجر ښه دی ګونـدي خـلاص سـمه د حشر لـه حسابه
بې تـوبې مـي د تقـوٰی دوږخ تـه بيايـي زه پوهـېږم ددې دهـر لـه اسـبابه

مسـئله د عاشـقي ده بـريالـيه!
کـه مشـکل جذراصـم دی بې جوابـه

# خپله سوبه

هـر چـا ورسـول سـرته خـپله سـوبه زه لا نـه سـومه راوينې لـه خـپله خوبـه
چـي مـي حقـه لار تـر سترګو کړه ښکاري زمـا لـه هسـي کـج بينـي ځـه توبه، توبه
د غـرور مهلـک مـرض مـي بـدن ونـيو د زړه صـحن يې راډک کـړ لـه مـيکروبه
مـار د جهـل ادامـه ورکـړه نفـس تـه زه غريـب يې فـارغ نـه سـوم لـه سرکوبه
د ژونـدون بهـار مـي تـېر سـو منـی راغی د غفلـت ښپ خالـي نـه سـو، لـه ذهوبه
چـي نې بـروی، نـه يې سيوری، نه عمل دا انسـان هـم مسـاوي بولـه لـه چوبـه

آه (طلـوع) ځـان کـره خالـي و بريالي ته
پـه اووه بيـته يې نـه ماتـيږي لوبـه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# قلم ته حيرت

نـن حـيران وړخـپل قلـم تـه سـومه پاتـه
پـه عجيـب زينـت يې خان ښكاره كړ ماته
لـــه نقابـــه يې صـــورت وو را ايســـتلى
لـه ډېـر نـازه څـه يې نـه كـتل هـيڅا ته
گـاه بـه يـوپ سـو پـه گـړي د تـورو وينو
گـاه بـه بـېرته سـو راستون د وچي خواته
گـاه غوپـل بې سره شـراب لـه ابي جامه
د اطلـس د لـنگ شـغلې بې تـلې سـما ته
گـاه بې غورخـول د سپين بلـوړ پـر مـخ
لگـــول بـــه يې بـــرقونه مـــخ و شـــا تـــه
راتــه وې لـيكل پـر روڼ زبـرجد بـاندي
ويـــل وگـــوره د دا ښـــكلو ښـــكلا تـــه
پـه كوگـل كـي كـره د ميني ډېـوه بلـه!
اهميـــت مـــه وركـــوه و مـــا ســـپوا تـــه
دا يې ووې نـو يې آه كـړه سـو دوه خايـه
پـــه فغـــان يې تمهـــيد كښېښـــود و ژړا تـــه
ول كـه ژبـه كـړم د عشق په داستان گډه
اور بـــه واچـــوم يـــوې اوبلـــي خـــوا تـــه
دې دوو ســـوز و فـــرياد، مـــتأثر كـــړم
د حـيرت پـه ورطـه ډوب يې سـوم وينا ته
زمـا د زړه دريـاب هـم تـېز پـه څپو راغى
سو، لـه جوشـه تـېر د ژبـې و صـحرا تـه

تقاضـأ يې وه چـې وصـف د يـار وكـړي
لېكـن پرېښـودى زخمـې نـن و سـبا تـه

# د زمانې څخه شكايت

دا زړونـه مـو سـود مسخه كه تاثير په زړو كي نسته
رنـگ نـو لـه بلـه اخلو يو مصلح په ملو كي نسته
كـه سـل خلـه دماغ د نصيحت په اوبو، وله سي
هغسـي وي ناپاكـه هـيڅ پاكـي پـه ولـو كي نسته
كـه گـته دي غـرض وي يـو زړه رانيسـه پـه ښـو
تـر دې لويـه فـايده هـم د كعبې په تلو كي نسته
چې سـي بـد همنشين د چـا پـه پـښه يو گړى
تـر دغـه زيـات تـاوان هم د درې په غلو كي نسته
پـه خپله چې بلد وي څه حاجت دى و مهدي ته
زمـريو تـه هـيڅ نفـع د تقلـيد پـه پلـو كـي نسـته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د شاعر تخيل

زاغ د زلفـو مـه پربـړده د مـخ وبـاغ تـه
گسـتاخي ده د پتـڼ تكلـيف خـراغ تـه

زمـا سـترگو سـتا د سـرو سترگو سور عكس
رسـولی دی پـه سـره جامـه د مـاغ تـه

پلوونـه مـې د سـترگو خكـه سـره سـوه
سـرې سكروټې سور لباس وركوي، داغ ته

چې د مينـې پـه كتاب مې كړ لاس پورې
هغـه دم مـې رخصـت وركـی و فـراغ تـه

سـوم پـه تـش (ماعليـنا) جوگـې مذهـبه
كـم ايمـان بـه وړم تحفـه الاالـبلاغ تـه

كـه رسـوا وايـم هغـه صـبغة الله دی
چې يې نـن سـپينه كـړه وركړه صباغ ته

يـا الله لـه داسـې قلـبه مـې مغلوب كړې
چې قليـب لقـب لاس وركـی و اسباغ ته

# د زلفو ستاينه

تـورې زلفـې دې اوږدې د مـخ پـر لورې
كـه هـندو ښـې غخولـې دې قـرآن تـه

كـج گيسـو دې پېچاپـېچ سـره تولـېږې
كـه فـرعون سـجده وكـړه و خپل خان ته

چې پر مخكه دې د حسن تورې كش كړې
لـه هيبـته خـه لمـر وختـې اسـمان تـه

زاغ د خـط دې كړې په مخ منگولې خرخې
كـه شـيطان دی لاس يې واچاوه ايمان ته

بـېهوده تـرمه عشـق پـه تـار د صـبر
زمـری كلـه نيسـې پـزه و پـېزوان تـه

سوه تكـيه د غـره پـر سـر غنچه سپېروني
كـه مې لاړ د اوبنكو توی سو و گرېوان ته

بريالـی خـال كـره گوښـه لـه كړو وروخو
دا كـتاب ضـرورت نـه لـري نښـان تـه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# محبت يې زه گټلی يم په پچه

د رقيب تېز گويی وينه کړه راوچه
حوض کله سي مردار په يوه پچه

سپين نبات خو د گويا بلبلو رزق دی
ستا يې څه کار په شکرو شوخه مچه

که هر څو ملهم د صبر پر پندکی کړم
د زړه گوته نه سي ښه، د عشق له لچه

که مي ښکلي ببدرد بولي ورته ښايي
محبت يې زه گټلی يم په پچه

دوسته! گرځوه رقيب زما له لوري
سر کافته يم د دې سپي له غچه غچه

باري نور يې کړه کاميابه په ياري کي
بريالی يې ځيني ويوست سر په چچه

# څه

اې عاشقه پروا نه رنگ کور و کرخه
مستغني د محبت پر لوی دگر څه

گاه طواف کړه د کعبې پر حطيم باندي
گاه نشه گاه خماري پربحر وبرخه

گاه سر شار په تاج د ميني هدهد وار سه
گاه سر تور د يار پر لور شاه قلندر څه

گاه مجنون وته تعليم د عشق بازي کړه
گاه په ويره خوله په تيغ پيپلي سر څه

گاد همدردو ته نثار کانده خونبار
گاه په اور د جدايي کي سمندر څه

گاه د غم ويني پر فکر باندي پاشه
گاه بالا پر ثرياء لکه عشقر څه

گاه د هيلي دارو پوري کړه په سترگو
گاه په يأس کي اشفته په غم ابتر څه

غماز مر کړه اې زخمي خان په خوني کړه
پسله مرگه په تور مخ، مخ په سقر څه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# سره څه؟

د کوښښ او د حرمان یې سره څه
د افغان او د فغان یې سره څه

چې نتکی د اسارت وړي ګېدړ نومی
د زمري او د پېزوان یې سره څه

چې مطلب په پیدا کیږي خو طلب دی
د بیده او د وجدان یې سره څه

لوی سبب د امتیاز د سترګو دید دی
د ړانده او د عرفان یې سره څه

غم وژلی دی، د روغو سیالي نه کا
د ودان او د ویران یې سره څه

هر سړی په خپل نصیب پسي روان دی
د حزین او د شادان یې سره څه

تباین یې لاله لفظه څه ښکاریږي
د صائم او دسترخوان یې سره څه

د ګلزار وړمه پیدا ده عندلیب ته
د کارګه او د بوستان یې سره څه

مجازات باید په برخه د مجرم وي
د یوسف او د زندان یې سره څه

چې یې نوم د مجتهد یو وړ (نعمان) دی
د شیطان او د ایمان یې سره څه

بریالیه! که دي خوښه ده ډاډ راکړه
ددغه مضمون عنوان یې سره څه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# مسته هیله

ساقي پاخه د پرهېز دوره سوه سر ده
عنایت کړه یوه مسته پیاله زغرده

چې مي جوړ له سده وباسي لېوال سم
سم فارغه د تقوا له سر درده

خماري یم په خمار د خم کتلو
ساغر مه بیایه له دې لوري کج گرده

زمانې په تحریکاتو اتشین کړم
د خمول بازي مې و گټل له نرده

خبره ژړه سترگي سرې گلگون صفته
باري خدای مې نصیبه کړه سرخ، وزرده

د سینې تپ اژدها دودونه باسي
د زړه غوښې مې کوفته سولې له جرده

د کلو خمار به وباسم له سره
بریالی که نشه گیر سوم له پس گرده

# ښه ده

د زړه امانت غوټه تر خیگر وتلې ښه ده
د مستو کلماتو څه جمله وتلې ښه ده

د زلفو دائرې دي ارتفاع ښيي د سترگو
پر مخ د اسطرلاب دا صفیحه لیکلې ښه ده

یاغي زړه مې نښان دی ستا د وروځو و کمان ته
کتل په بسم الله کړه دا هوسۍ ویشتلې ښه ده

تر څو به د زاهد ورستو خبرو ته خاموش یم
کې مړ کړم هدیره مې پر الله سپارلې ښه ده

خیرن په میخانه کې جاروکښ یم د ساقیانو
په تېله د شرابو مې لمن لړلې ښه ده

چوپ مه سه بریالیه گفتگوی دي بریالۍ سه
د عشق په محکمه کې دا دعوه گټلې ښه ده

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# حيراني ده

ستا د سرو سترگو پر بـاز مي سلام وايه
د زړه غوښـي ستا قـدوم تـه مهمانـي ده

د امـيد پـر اسـمان لمـر د انـتظار دی
کـه تشـريف راوړي دا لـو مهربانـي ده

پر سپين مخ يې کفرستان د زلفو پروت دی
ورکـه کـړې يې پـر مـخ مسـلماني ده

کـه کـاکل دي پرېشـان بولم ادب نه دی
پرېشـان گـل پـر بـاغوان لـو بدگماني ده

ناپوهـان بـه پرېشـانيو تـه عيـب وايـي
لـوی کمـال پـه گلستان کي پرېشاني ده

چـي لـيلا کـړه د تـوبې دروازه بـنده
د مجـنون پـه مذهـب کفـر پښـېماني ده

چـي د هجـر عزرائـيل دي همبستر دی
بـريالـيه سـتا و ژونـد تـه حيرانـي ده

# د مسخرو غندنه

مســـخره وشخصـــيت تـــه تاوانـــي ده
نتيجه يې پـه اخـر کـي خفگانـي ده

شـــرافت او ســـنگيني د ســـړي بيايـــي
نـــه کـــول يې د شـــرف نگهبانــــي ده

د حياقـــبا چـــي څـيري پـه مـزاق ســي
گويـا عينـي پـه بـازار کـي عريانـي ده

دوه دوسـتان چـي تمسخر سره عادي سي
عاقبـــت يې د الفـــت رشـــته خالـــي ده

څـوک چي ژبه په خپل واک کي اداره کړي
د هغـــو وړ د مـــاغوتو مهمانــــي ده

کـه هـر څومره وي حليم پای عصبي سي
دا خـــبره مجـــربه و جدانـــي ده

هـا چـي خپله ابـرو يې په بل جار باسي
عـــاقل نـــه دی جذبـــه يې نفســـاني ده

پـــه اثـــر د مســـخرو او خـــوش طبعـــي
د زخمـــي څخـــه خوابـــده د فلانـــي ده

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# منډه خوله

چې مې ولیده د عشق توره برمنډه لــه غیرته مې پر ووهلــه منډه
چې ستا غم مې وو تربور په جدایي کي په میراث یې راخـه یو وره د زړه څنډه
په کوکل کي مي د هجر یتیم پروت دی هربـېگاه ورتــه ژړېـږم لکــه کونــډه
د سینې رپ مې د آه زلـزلې مات کـړ پلې څـه نفس ساتلای سي لــه غونډه

د تقـوا منـتر دي څــه ســو مـلا وایــه!
برېالـیـیم راتــه مــه نیسه خولــه منډه

# پــند

چې پـه ژونـد دي سر تـه ډامـي نغـاره پسله مـرگه بـه هـیڅ نـه وي دوبـاره
پـر څـه گـرځې سـر هـوا بلـند دماغـه! مگــر بــاغ د جنـت ســتا دی اجــاره
پـه عقبـی کـي بـل مـل نسته بې عملـه هـر څـوک خـان گـوري که ښه که بېکاره
دا دنــیا ســنگ محـک دی ســتا لــپاره بــیا دي واک و اختــیار نســته دوبــاره
اوس عجـب دي د تملیک جلو په لاس دی لــړ مــنظور کــړه د خوارانــو گــذاره
چـې دي نـزع ژبـه ونیسـي پـه گوتـو هلــته څـه پـه کـار د سترگو اشـاره

گتــــي واړه ازلــــي دي بــــرېالـــیه
بـېکاره بـه هرگـز نـه سـي هـر کـاره

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د بیکارۍ غندنه

ناتمام خلک تمام عمر بېزاره — وي بېزاره د تمام له کاروباره
د کامل له څنگه ځان او بل لیده سي — د کامل څنگ هم صیقل دی هم هینداره
د بېزار په بېزارۍ کې پټ حکمت دی — ناواقف یې ناخبره له اسراره
کارگه خواست پر عرفات د جیفې کاندي — بلبلان ورڅخه گرځي پرکناره
چې په روکي یې وي ښار د مچمچیو — د هغو عسلو نه وي هوا داره
د حیات زارۍ پرته په بېزارۍ کې — پر مړه ناوې نه وایي حنابکاره

بریالی که له خپل ځان څخه بېزار سوم
بې اختیاره به ځان باسم له اختیاره

# زړه

ستا و سترگو ته دروړ ایښی دی ما زړه — قبلوي که دا تحفه دلبره ستا زړه
که زر زړونه مې پیدا سي په کوگل کي — په خیرات بې انشاء الله وکړم بیا زړه
بې اختیاره مې زړه کاږي له دلبنده — په بردن دی اموخته د دلربا زړه
ما به هلته په خپل زړه پسې ژړلای — که یو چیري دې پرې ایښی وای د چا زړه
په دلکش جادو یې زړه اوبدن کش کی — پر کاه نه سوځي هرگز د کهربا زړه
دلداري ده د بېدل په مذهب کفر — د مجنون په زړه پوهیږي دلیلا زړه

بریالیه که زړه ور یې زړه دي ورکړه
که دي پروت وي په کوگل کي د پخوا زړه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# شاعرانه تصور

چــي ژړا يې را بدلــه پــه خــندا کــړه
برايــي مــي د هغــه گــل تماشــا کــړه

مخ يې لمر زلفـي يې شپې پکښې يو ځای دي
اجـــتماع د نقيضـــينو يې روا کـــړه

فـــتح العيـــن يې وو امروســـاقي تـــه
پـــه ادب يې باريکـــي پکښـــي ادا کـــړه

لکــه وچــوي سـفېدې پـه ماخسـتن کـي
پـه کـاکل کـي يې چـارگل هسي رڼا کړه

کهکشــان يې لـــه هيبـــته دوې پـلې کـړ
چـي غمـزو يې د غضـب تـوره تر ملا کړه

مـا د خضـر(ع) پـه لـباس ورځخـه سوال کړ
حوالــه يې د حـيات پــر چيــنه راکــړه

**برياليه** (پـير محمـد) بـه دي پـيرو سـي
که پر ځان دي د (حميد) نخښه پيدا کړه

# کــړه

راتــه نــوې چــي فلـک د زړه بـدي کـړه
د جانــان شـــرابي ســترگو ابــدي کــړه

مفتــي مهــر د فـتوا وربـاندي کـش کـړ
چې د عشق په محکمه کې مي رندي کړه

د تمــــز کــــوځې زاهــــد راتـــه نيولـــي
ځکــه بـېرته يې دعــوه راپـس گـردي کړه

روروړ رقيـــب فـــراق راغـــی مـــيدان تــه
فيصله يې پخپل جيب کي را خوندي کړه

آزمـــا خونرېـــزه بختـــه نامـــراده
راتــه جــوړه دي مشکله ســر مـدي کـړه

لاس ترلـــی نـــه گـــالم محـــبس د هجـــر
چــي مـي عقل د قسمت سره گوندي کړه

دا دي قلفـــه عريضـــه ده **بـــرياليـــه**
چــي مشــکله دي و ځـان ته سربدي کړه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د زړه بلبل ته

آ زمــا د زړه بلــبل اتــش نفســه
ولــي نــه وزې لــه دې خالــي قفســه

د کاکل کړۍ په لاس بېړۍ په پښو کي
تښــتېدلی يــم د هجــر لــه محبســه

سربازي تر چمبازي په عشق کي ښه ده
دا وصــيت مــي اورېدلــی لــه ققنســه

روغ عنقا دي تر هغه بلبل فدا سي
چي يې زخم وي سينه لـه خار و خسه

د ډلـي تر تجارت د عشق په ښار کي
جانبازي ښکاري مفيده يو په لسه

په کلو ما تجربې دي پکښي کړي
د عسلو تعريف غـواړۍ لـه مګسه

بريالی دی خبردار لـه هر منزله
د کاروان حالات وغواړئ لـه جرسه

# د مينو پېشه

و عكس ته د لبو دي كړ زما زړه کلبشه
رنګين رنګه دي ونيو د ښلتون په ملښه

نهال د محبت دي زما سينه کي نښانه کړ
آخر دي ببرته غوښ کړ د غمونو په تېشه

په طور د نغمو به دي کړګاهي تندی تروش
په پای کي دي کړ تريو تندی وخپل خان ته پښه

د ميني سنجابي قبا دي راکړه په بغل کي
منت يې په نغمو او کرشمو ږدي همېشه

جدا لـه حريفانو دي رهي کړمه پر بټ
خالي لاس دي داخل کړمه د هجر په بلېشه

کرام الکتابينو ته که خپور کړمه دفتر
صفحه ډېري زما به په قلم کاندي رېشه

چي تا رنګه يې وزي لـه دهنه خفي راز
زخمي دا پټ اسرار، هامحرمينو ته وېشه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# برنده هیله

ســاقي راکــړه د عــرفان پــیمانه صــافه
معطلــي د نوبــت لــیري لــه انصــافه

سر خوشي د عشق بې میو ناخوشي ده
خـه زبنـت لـري خولـی بې لـه سجافه

چـي منصور یې د پانسي پر قالب وسکبنت
آوازه یې ســوه خــپره تــر کــوه قافــه

پـر جهان مي خود ستایي نوم جهانگیر سو
چـي تـر خولــه مـي ووتـه د میني لافـه

مدعــي فلــک خونریــز راپســي گرځــي
هلالــه یې پــه لاس تــوره بې غلافــه

د خاطـر کـتاب مـي غـم ورق، ورق کـړ
وقایــه د تســـلي ورکــــړه صـــحافه!

بـریالـی بـه لـه مغان څخه څه غوښتای؟
کــه خــبر وای د ســاغر لــه اخــتلافه

# د زړه لـه جوشه

چـي تـر زړه فـرات د غـم څخـوم څکـه
چـي پـر مـخ د جلـه د غـم بهـوم څکـه

پر موقـع یـا بې موقـع چـي نا لـه کاندم
د ســرو آهونـــو شـــم لگـــوم څکـــه

د ســبا پــه هــیله یــا د بــل ســبا
پــر روان د جفــا جـم نـو شـوم څکـه

د فـریاد پانـي چــي نغاړمـه سینه کـي
سـر د زلفـو پـیچ و خـم پـتوم څکـه

میخانه و مریضـان چـي رانـه هـیر سوه
خـرابه کـي شـپې بـه هـم تـېروم څکـه

چـي اعـراف یې کـړ زمـا خـای و مسکن
مذبــذب د هــر چــا ذم گلــوم څکــه

چـــي د قـــتل د نویـــد و مبشـــر تـــه
شـکرانه کـي روح تـر خُـم ورکـوم څکـه

زمـا زخمي زړه یې په پوست کي دی کوتلی
پـه توبـیخ یې لـه خـپل دره تـرتم څکه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# زما یاره گلرنگه

مرض مي د طاعون دی زما یاره گلرنگه
بې تا مي سخت ژوندون دی زما یاره گلرنگه

هیڅ حال وبلای نه سم وام غماز به را خبر سي
ببریږم چې ببلتون دی زما یاره گلرنگه

تال واچوئ د زفلو عاشق په گرفتار کړئ
د هجر شواخون دی زما یاره گلرنگه

چشماني دي شهلا دي شوخ ته يې نظر بازه
په وينو زړه گلگون دی زما یاره گلرنگه

بریالی عبدالغفار یم تا په عشق کي امتحان کړم
یا جوړ دغه مضمون دی زما یاره گلرنگه

# د خوښی اظهار

مرحبا نگهت نسیم شرف نشانه
صدقه دي تر قدوم سم مهربانه

نیم تشریف دي زموږ بیده زړه رابیدار کی
د امید غنچه مو واوښته پرېشانه

د طلب بلبل مو بیا په چغو کښېووت
چي دي راوړ ارمغان له گلستانه

د گلرخ و نښاني ته انتظار یو
کوم یو لعل دي راوړی له کرمانه

شکرانه يې په کیمیا او گوهر نه سي
مگر سره یاقوت ورتوی کړم له گریوانه

په کفران د جدایي يې مسلمان کړم
چي مرشد مي سو نصیب نا مسلمانه

بریالی وایي فرصت نه راکوي عرض ته
سوه مي پاته سینه ډکه له ارمانه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د مطلوب په هڅه

په مطلوب پسي مي وچاوده سينه
په سرو اوښکو مي لمن سوه رنگينه

سلسلې د بدنامۍ راپسې نوري
رانه ورکه ده جمعه و آدينه

سرگردان پر وطنو ورپسې گرځم
گدايي کړم په لباس پشمينه

سرکوزي کي مي غرض د کاميابۍ سته
که نه نه وي هسي خوی د نارينه

موانع رابانديي هسي دليري کا
لکه نه چي لرم تريخى پر اينه

شفاف زړه مي تسلي غبار آلوده کا
په غبار صفايي مومي آينه

راعارض که عوارض د تعرض وه
عرض به کاندم پر سالار مدينه

بريالی که بريالی وم بر به مومم
که نه بار د غم به وړمه بزينه

# هيله

لږ نظر د مرحمت وکړه اشنايه
مسافر د بل وطن يمه بې ځايه

که مي مړ کړې که تاراج واک دي رسيږي
بل غاور مي دلته نسته بې له خدايه

د سايې په انعکاس دي شاهي مومم
فقير شاه اوسي له سيوري د همايه

دور ستا دی زبردست عالي جنابه
زه غريب يم درته ناست بې دست وپايه

پردېسى مي زړگى يو موتى ايرې کړ
خکه ډارم اوس له هر خوار، و بډايه

بريالی ومه په خپل عزيز وطن کي
اوس مي هره تسلي سي غم افزايه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# او که یه؟

راتــه وگــوره بــېمار یــم او کــه یــه
پــه غمــو کــي گرفــتار یــم او کــه یــه

لکه شم په تولــه شپه پر خـان ژړېږم
خـوار خسته پـه هر سهار یـم او کـه یـه

بســمل کــاندي زمــا پــه پېښــو افــتخار
لــه ژوندونــه خــه بېزار یــم او کــه یــه

حــلال سـوی ستا د مینـي پـه چاره یـم
تــن کباب پــر سره انگــار یم او کــه یــه

د وحشـت پـر بېديا بند سومه په لومه
د صـياد پـه گـير و دار يـم او كـه يـه

د لـيلا پـه هـيله تلـم جـنون مـي وموند
پــر دغــه تحفــه ســر شــاريم او كــه يــه

شـــاو خـــوا د لـــېونو ســـندري اورم
د بــېدلو همجـــوار يـــم او كـــه يـــه

يــو وار لــږ نظــر زمــا و خــوا تــه وكــړه
چـــي زخمـــي عـــبدالغفار يـــم او كـــه يـــه

# غتې اوښکي

چـي پـه غـاره يې حلقـه كړې زلفي چتې
خـوار، غريـب يې دواړه و ايستل لـه گتي

تر دسمال لاندي ساتي سرې شونډي گوښي
لكــه پروتــي ترتبــى لانــدي ســكروتي

چـي قـدم يې د غضب په ملک روان سي
سـي روانـي مـي تـر سترگو اوښكي غتې

په الفـت يې مـا بازلـى ملک و مال دى
خكــه نــه باسـم تــر خولــه كـلام د نتــي

په اخ اخ بــه يې لــه دره آبـي نـه سـم
غمــازان راباندي خوشــي كـاندي لتــي

دم د عشق يې هغـه دم راباندي پـو كي
ملايكـــوچـي خشـتې كـړې زمـا ختــي

طـوق د زلفـو يې هرگـز بې گتي نه دى
بريالى خوشـي انكـار كـاندي لـه گتي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# سوځي

چې آه و کاږم پر مخکه ثرا سوځي
پـه هـوا کـه و ګـورم ثـريا سـوځي

حسيني زړه مې هجران شمر شهيد کړ
پـه غوغـا مـې د کوګـل کـربلا سـوځي

دا زمـا اتشـې دود وربـاندي خـېژي
خکـه هـر ماښام شفق د سما سـوځي

حـوادث د ګـذارې مـې سرې سکروټې
پـه تعبير يې خولـه د بـاد سبا سـوځي

د شکوې دوږخ مې خای پر ژبه ونيو
لـه تقريـره مـې کـتاب و مـلا سـوځي

اهرمـن بـه بهـره مـن پـه توبـه نـه سي
شيخ صنعان هنوز د خان په دعا سوځي

بريالی پـه لمـن نغـاړي اور د مينـې
نـه د لمـر پـه حـرارت مسيحا سـوځي

# د چادی؟

پـر دمـاغ مـې خطـرناک اثـر د چـا دی؟
دا جحـيم بولهبـې شـرر د چـا دی؟

پـوه سـوم پوه سوم دا لـه تا نه دی حبيبه
کـه نـه بـل دا زبردسـت ګـذر د چا دی؟

کـه مـې زړه تـا پـه حکمت ايستلی نه دی
وايـه! نـور دا لقمانـې هـنر د چـا دی؟

کـه اسـمان دې پـه آبـرو وهلـی نـه وي
پکښې پـروت دا هلالې خنجر د چا دی؟

کـه خـيګر مـې کنعانـې کوهـی لانـه وي
پکښـې پـروت دا يوسـفې بشـر د چا دی؟

وايـه تـا چـې بريالی وژلـی نـه دی
دا پـه غېږ کې دې پرې کړی سر د چا دی؟

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# ادب دی

چي سرې په سرې کېږي ها ادب دی
چي د زړه نور په زياتېږي ها ادب دی
چي کرسي يې په شغلو متلاشي سوه
له زربحره څه څخېږي ها ادب دی
چي الياس يې په اثر متأثر سو
تر قيامته چي پاتېږي ها ادب دی
چي بيرغ يې پر اووم اسمان اوچت دی
چي ثريا ورته خمېږي ها ادب دی
چي مشتاق ورته رضوان دی د عدن
چي مهجور په واصلېږي ها ادب
نتيجه چي يې رفعت دی د کونين
چي مطلب په حاصلېږي ها ادب دی
چي سمک له ثريا بيايي سماک ته
چي کردي په امامېږي ها ادب دی
چي اديب يې له سببه څي ماواته
چي زخمي زړه په رغېږي ها ادب دی

# څه سبب دی؟

چي له ما څه پرېشان يې څه سبب دی؟
آزرده خاطر روان يې څه سبب دی؟
کوم تقصير دی صادر شوی زما له لاسه
چي راضي مي په تاوان يې څه سبب دی؟
پر اغيارو بېگانه و نامرادو
زما له قصده مهربان يې څه سبب دی؟
جدايي زما په باب صرفِ خسران دی
مؤسس چي د خسران يې څه سبب دی؟
زما د زړه او د رګو په وينو باندي
د رقيب کره مهمان يې څه سبب دی؟
بريالیه دا مضمون دي جمل ښکاري
خبر نه یم جمل خوان يې څه سبب دی؟

Downloaded By: Afghan Salar Library



# افکار

خـه خـبر یـم چي دا د هر که قدرت دی
چـي هـر ځـای د مخالف سرِي عزت دی

د تشـــهیر او د تقبـــیح درک یې نســـته
په ځـپل فکر یې پر هر سرِي عظمت دی

ځـان مـناط بولـي د ژونـد لــه ترتیـباتو
خـو پـه خیال یې پر فعال عقل سبقت دی

چـي د ښـووی طـرفدار دد ورتـه وایـي
دبـر ممـنون د بـد اِسـاس په هدایت دی

تـل تکذیـب د قـال الله قـال الرسـول کا
دا خدمـت یې د ترفـیع رفـع رفعـت دی

پـه مصـداق د (اطلبوالسـوا د) تعـریف کـا
مرکـب جهـل یې مـل بسـیط دولـت دی

بـریالـی لا نـور د ژبـي زکـات باسـي
بـل مضمون وربانديِ پور دا یې نگهت دی

# د محبوبانو دوپوسته صداقت

چـي مـدام ورسـره ضـد صبر وطاقت دی
هغـه خـیال مـي په ځیگر کي امانت دی

خـبر نـه یـم چـي پـر سـد کـه لیونـی یم
پـر تمـام جهـان اخـتر پـر مـا قیامـت دی

چـي په ژوند مي کړوي غوښي په اور کي
دا پـه کـوم مذهب انصاف او عدالت دی

راځـه ورک حساب د مرګاو د ژوندون سو
جدایـي هـر گـړی نـوی شـهادت دی

پـه توبـه او پـه پښـتو یې بـاور نسـته
دوپوســـته د محـــبوبانو صـــداقت دی

د ملهـــم پـــه نامـــه زهـــر نوشـــومه
د لـرم سـره مـي کـړی قرابـت دی

چـي اسـانه یې بالـه مشـکل د مینـي
بریالـی د اصـلي سـره ملامـت دی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# څه خبر یم؟

چې ظاهـر و باطـن ټـول راته انکار دی
څـه خـبر یم چې جنت دی او که نار دی
چې د غـم پـه تاریکـه مـې صبر ورک سو
څـه خـبر یم چې دا شپه ده که سهار دی
چې د زړه پـر اسـمانو یې شغلې پاشـي
څـه خبر یم چې داغ پټ دی که اظهار دی
چې ګـردن مـې کشـوي و محبـت تـه
څـه خبر یم چې دا طوق دی که زینهار دی
چې مـې سر وتـن د خـان ملکیت بولي
څـه خـبر یـم چې دا زور دی که ادهار دی
چې تـر خولـه مـې بریالی بریالـې وزي
څـه خـبر یـم چې خمـول کـه اشتهار دی

# فریادي زړه

الله الله اور مې واخیست د خدای پار دی
د خلیل رنګـه مـې کور پر سره انګار دی
اې خلـیله د خلـیل و روی تـه ګـوره
پـه زړا او پـه فـریاد مـې سـر و کـار دی
آخـــر زه هـــم مسـلمان یـــم مسـلمانه
پیوسـته جفـاوي لـوی ظلــم و آزار دی
د سـرو سترګو بـاز دي تل خماري ګوري
زمـا د زړه مـرغه یې بـند په چمبو ښکاري
نـه لـــه تـا سـره مې توان سته نه بې تا نه
دا اوس مینه کـه جـادو که بل اسرار دی
د هجـران پـه حکومـت کـې حکمـرانه
مـا درکـړی خپل اختیار ستا په اختیار دی
بې اختیاره چـې دي نـن بریالی پربنود
نـوم یې یـاد لـره (زخمـي) عبدالغفار دی

# د میني زور

چـې یې خضـر سر ګردان په تلاښ ګرځي
زمـا دزړه سـاغر پـه هغـو مـیو بـور دی
چـې د بخـت په شپه معراج وي د رندانو
د هغې مـیخانې خـنګ تـه زمـا کور دی
پـه کعبـه کـې دنـنه مـې نـوش بولـې
څـه عجیـب راباندي زړه د زاهد تور دی
هوسـا نـه اخلـې خـبر لـه خماریـانو
مستغني سـاقي د نـاز پرتوسـن سپور دی
اجتـناب مې خنـې هیڅ په طاقت نه دی
مـا پـر خان باندي وهلی دا خپل زور دی
د هغې مستي مینا خـیال پـه خیګر کې
دا یـاقوت یـا نمـرو دی خـزانه اور دی
پـه یـوه تـېغ بـه بلـبل او بریالی مـري
چـې پـر غاړه یې قصاص د رقیب پور دی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# خوړلی دی

دا لــه خوبــه مــي انــار خوړلــی دی  کـه ګـرېوان مـي بـيا خونـبار خوړلی دی
د تنصيح پـه صـابون نـه پاکـيږي شـيخه!  تـول وجـود مـي پـټ پـرهار خوړلی دی
پــــه قـــانون د دلـــبرۍ ملامتـــيږم  زمـا زړه تـرکو پـه ښـکار خوړلــی دی
دلـــته نســته پـــای بــندي د تدبـــيراتو  د غـم فـوج د عقـل ښـار خوړلـی دی
د تسـليم نـاره مـي نـه وزي لــه حلقـه  چـي تدريـس مـي د انکـار خوړلـی دی
څـه نسخې تـر کيـبوې زمـا عـلاج تـه  مــا پخـــپله زهـــر مـــار خوړلـــی دی

بـريالـی يـم يـو څـه عمـر راته چوپ سه
اوس مـي بـيا سـکوت فـرار خوړلی دی

# نيولی دی

دا مـــي عشـــق واړه څـــيګر نيولـــی دی  کـــه زمـــري راتـــه ســـنګر نيولـــی دی
تـر اسـمان لانـدي مـي ځای د پناه نسته  هـم سـپوږمۍ پـه لاس خـنجر نيولـی دی
تـېغ پـه څـنګ راته په قهر و غضب ګوري  مـا پـه لاس کې ورتـه سـر نيولـی دی
د طـالع ستوري مـي ويني تر خوله پاشي  د غـم تـندري د بخـت لمـر نيولـی دی
د جفـــا غشـــي هـــنوز رابـــاندي اوري  کـه هـر څـو مـي توکـل سپر نـيول دی
زهـره رنګـه زهـره چاودي زهير ناست يم  مســـيحا تـــه مـــي ګـــذر نيولـــی دی

بـريالـی يـم لـږ څـه مهـر و کـرم بويـه
د ژړا لـــيک مـــي د فـــتر نيولـــی دی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# په کار نه دی

کبرجـن گیسـو د مـخ لـه باغـه دور کـړه
دا فـرعون پـه جنـت کـي پـه کار نه دی

خـط و خـال دي شـاهدان د مخ د حسن
بل شاهد په دې حجت کي په کار نه دی

د زړه وینـي دي روغــن د گــل د زلفــو
ادم خـور پـه بـل زینت کي په کار نه دی

خکـه پـټ پـه تصـور سـاتم سـتا عکـس
بل شریک په دې دولت کي په کار نه دی

محـبوبان پـه تـش کـتلو زړونـه کـاږي
گفتگوی په دې همت کي په کار نه دی

گـل دلبـند ورسـره وکـینې آفریـن سـه
د خـان ساری په غیرت کي په کار نه دی

زرغـون خـال دی لـه سرو شونډو برطرف
دا مگس په دې نعمت کي په کار نه دی

بـریالـیه قلـم لـیري کـړه لـه گوتـو
دا جاسـوس پـه دې صحبت کي په کار نه دی

# راوپاڅه

عبـث پـر مادیـاتو تفاعل څه په کار نه دی
د نفس پر خواهشـاتو تقابل څه پکار نه دی

سـودا پـه نقـدو کیږي د ژوندون په کچاری کي
وړیـا په دې دکان کي تبادل څه پکار نه دی

پښتونه پر هر لور دي ترقي سندري سر کړه
پـه ضـمن تاتـه وایي تجاهل څه پکار نه دی

د لـوړ شان و شـوکت لمر دي په کومه تندره پټ سو
پـه تـوره تاریکـه کـي تعاطل څه پکار نه دی

را وپاڅـه په تینگه د غیرت جنډه کړه لوړه
د خـان پـه تشـو لافـو تکامل څه پکار نه دی

میدان د انفعال دي سر او چته باندي درومه
زیاتـي خـوب وغفلت او تکاسل څه پکار نه دی

تـر څوبـه لا ددې بې کمالـی په قید محصور یې
ودې نحـس ساعت ته تطاول څه پکار نه دی

آویښـو بلـبلانو پـه نغمـو انجمـن تود کړ
پـه دې مشـاعره کـي تخامل څه پکار نه دی

کـه نیست مو وي چي تل بریالي اوسئ نو بیدار سئ
پـه روڼو سترگو دومره تغافل څه پکار نه دی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# نه دی

چي وهلي ستا د هجر طاعون نه دي
هغه وړ دی د وصال په معجون نه دي

زړونه وړي په استغناء دا یې مذهب دی
ګلان لاندي د انصاف تر قانون نه دي

د زلفانو په پانسی یې یم ترلی
بېدردان مي لا خبر په جنون نه دي

د غمزو پر تاخت و باخت یې چار ماري کړم
سرکشي مي د حرمان په للون نه دي

ساقي جام له وینو ډک کړ زما له تنه
سره لاسونه یې په میو میګون نه دي

د دوهي ملنګ مي خان ولید په خوب کي
دا سوزاني و ظیفې د قارون نه دي

کمکی شعر مي عشق هسي نکته ګیر کی
چي خبر یې شاعران په مضمون نه دي

**بریالی** یم اور له خپله خانه اخلم
سرې سکروټي د ققنس د پټلون نه دي

# د زماني تقاضا

په اوس عصر کي چي حق برملا وایي
د پاګل عالم په خولو کي لېونی دی

په تا له چاریاک سړی خبري من کا
چي حساب د سنګیني سي سل مني دی

عارفان خپل مطالب ورڅخه اخلي
جاهل پاته څیني ړوند شل کلني دی

له محققه څخه قدر د محقق وي
د رباب له سوز او سازه خبر نی دی

د بلبل رتبه وي تل تر کارګه لوړه
په صورت یې غلط مه سه که کوچنی دی

پروانه اسرار د شمعي دي لیدلي
خکه تل یې و حضور ته سپلنی دی

**بریالیه** ساکت مه سه هر مضمون دي
د (طلوع) په کنداله کي پټونی دی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# ښه دی

زلفي مه لېري کوه لـه برندو سترګو
دا هوسۍ د یاغستان شبګیري ښه دي

حبشي زلفي دي لېري کړه لـه وروځو
تور کفار لـه دې محرابه لېري ښه دي

د مخ بدر دي د خط په غبار زېب کا
د سپوږمۍ پر بارخو باندي خيري ښه دي

کـه د زړه پردې مي خيري سي باک نسته
ګودړۍ د فقيرانو څيري ښه دي

تاوکجک دي په پرېشانه کاکل بند کړه
د سنبل غوټۍ په شپه دلګيري ښه دي

خط د زنې دي ساته تر دسمال لاندي
دا پلټني د سقاو اسيري ښه دي

**بریالی** کړه بانوګان سېراب په اوښکو
د ګل شونډي په شبنم زهيري ښه دي

# د مينانو طريقه

په نياز نياز د مينانو طريقې دي
په ناز ناز د ګلرخانو فريقې دي

مړه کتل يې په خير خير د مستو سترګو
لـه دوږخـه ګرم اويخي طبقې دي

د تقوا سرفرازي کولای نه سم
کږې زلفي مي په غاړه کي حلقې دي

درندۍ تـرويش مـي مه اړوه شيخه
حکم نسته د اغيارو منطقې دي

لـه انکاره يې چوپ ښه يې ناواقفه
ددې وصف توري توري علاقې دي

لـه ببدردو څه ګيله باله سي پوچه
تميز نسته بې انصافه خلقې دي

څه به مومي **بریالی** دولت د وصل
چي مدام پسې د هجر سرقې دي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# معاند ته

په رسوا وایه چې خیال مې د ګوندۍ دی  فـایده نــه لــري خــبري لکــې داري
چې په زړه باندي درځي په خوله يې وايه  پشـــلا خـــبري نـــه دي معنــــی داري
مخـامخ راځـه د پړانګ طبیعت زده کړه  مـېړه نـه کـوي تـر شـا د چغـال واري
مخـــامخ راتـــه لـــبور وايـــه بې دربغـــه  مخـــامخ بـــه درتـــه وايمـــه وربـــنداري
تینګوه ځـان تـر هغـو بـه دي پرې نږدم  ځـو وهلـي مـي پـه تـا نـه دي بغـاري

بـريالــی يـم تـر هغـو بـه لغـاز وايـم
ځـو چـي ستا پـر سـر درواړومـه خـاوري

# نا آرام زړه

کـه هـر ځـو لـــه درده ووهـــم چغـاري  بـېهوده خلکـو تـه تـول بـېهوده ښكاري
سر مـي پـوخ سـو د ګرېوان په تناره کي  پـه ژونـدون راسـره سـي د عقبـی چـاري
کـه د اوسـپني زړه کنبـېږدم پـه ځيګر کي  د يـار سترګي مقناطيس وړي مي بې لاري
انـاري رنـګ مـي د مـاغ ولـي وانه خلي  چـي تصـوير يې د نګـار شـونډي ميزاري

د زخمـــيانو مکافـــات بعـــد مرکـــز دی
کاشکي نه وای باندي نور د غضب واری

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د زلفو سیوری

چـي پـر ولوېـدی دا سـتا د زلفـو سیوری — پـه هغـو رنجـو آهـو کـړې سـترگي توري
چـي منصـور یې کـړ بدنـام په سپینه ږیره — پـر مـا هـم هغـه فتـنې د پاسـه اوري
د غابنـو زیـب دي خزان کړ خط دړیري — پـه پېرونـي پـوري وي هغـه وړ پـوري
تـور گیسـو دي سـو رامـات مـخ پـر لـبانو — حبشـي دي د حـیات پـر میـنه بنـوري
بخت مي تور په تور گیسو کي راځه ورک سو — پـه کـتو مـي سـوه سیاهي د سترگو توري
خدایـه ما هم په دې تورکي پسي ورک کړې — مـه وای اړ ددې کـتاب پـه پـنځه تـوري

بريالـی کاشـکي د خضـر اندیـوال وای
چـي ایستلای مي تر خولې خبري نوري

# لـــري

دا د میـن کـار دی نـاز، و نزاکـت لـري — خـوک یې خریدار دی لب قند و شربت لري
پـروت زمری د سترگو د زلفانو په ځنځیر کي — اوس کـه گرفـتار دی پټ د قتل نیت لري
سبب د زنخـدان که دي د خط په غبار تریخ سو — لانـدي شـکر بار دی نور عجب لذت لري
پاس یې کاکل سیوری د بارخو پر گلاب جوړ کی — بخـت که دي بیدار دی زیری د جنت لري

سـر ښندل آسان دی لیکن شجاعت غواړي
بریالـی تـیار دی یـار کـه مصـلحت لـري

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# بد.وړي

پـه لـړلو مـي د اوښـکو طوفـان بـد وړي
د پرهـېزد صـابونه مـي گـرېوان بـد وړي

راتــه مــه کــاږه ســاږه آهونــه شــيخه!
د خـيلې د کنبـې لـه باده بازان بد وړي

د غضـب د وعـظ تـاب دي دلـته نسـته
لـه ژلـيو خـه شين سوی بوستان بد وړي

چـي دوږخ پـېغور وي ستا بـه تـاوان وي
د اخ اخ لـــه بـــېرولو زمـــريان بـــد وړي

ســـو زنـــده او روان طـــبعه ســـه قلمـــه!
پـه فکـري فکـري غـزلو دېـوان بـد وړي

**بريالیه**! که هوښيار يې خوله د خان کړه
پـه دا هسـي مضمون بيا شاعران بد وړي

# بېردانو ته

تاخـت و باخت چي ستا د هجر د بيدا دسي
دوباجـه نامـراده بخـت راتـه نامـراد سي

رقيـب تـور سـپی زمـا د تور طالع په پېخه
ددې تور سپي لاس ختلی خنگه ښاد سي

د بـېدردو خـه چـي اورم سـپکي سپاندي
د عمـرو کښـلې توبـه راخـه بـرباد سـي

لاهـنوز مـي پـه غضـب اشـنا نيـنې کـړي
زکـندن و قيامـت يـو خـای را پـياد سـي

تعجـــب دی تعجـــب زمـــا نگـــاه تـــه
چـي نـه اړسـم نـه مي بس دغه اراد سي

ـور بـه نـه کـرم آه واوه د يـار، و مـخ ته
نـازک طـبعه گـل زهـير پـه سـاږه باد سي

کـه بـر غـواړې **بريالیه** اوښکي توی کړه
لـــه بارانـــه نـــا آبـــاد وطـــن آبـــاد ســـي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# زوړ پرهار

زما وجدان دي صدقه ستا تر حضور سي
ستا شرف دي را بخښونکی د قصور سي

چي د سترګو و ډاکتر ته بستري سم
زوړ پرهار مي د خيګر راته ناسور سي

چي لښکر دي د غمزو په جولان راسي
هغه دم مي د تقوا ښارونه چور سي

چي چاره د هجر ورم په سينه ښخه
پښور به مي هنوز په وينو سور سي

حکايت له شکايته جنايت دی
لېکن عقل مي و ذکر ته مجبور سي

چي تصوير د ميخورۍ مي خيال ته راسي
ساقي ذهن راته سرې سترګي مخمور سي

بريالیه دا بد نام درد له کوم لوري؟
چي په ياد يې کندهار درته تنور سي

# د عشق وظيفه

چي مذکور مي مخ ته ستا داخط وخال سي
بې اختياره مي الفت د زړه دلال سي

په رخسار کي دي شعبې د جنت ښکاري
دوږخي لمر به دي خنګه د مخ سيال سي

حبش خال دي ددوو وروخو هسي زيب کا
لکه هسک په مناره کي چي بلال سي

توري وروخي د زلفينو په خسوف کي
لکه نغښتی چي تندره کي هلال سي

ستا له وصفه ماسېوا باندي حرام وي
که ژوندی بېرته پښتون خټک خوشحال سي

ناصحان راته زمری د، وهم جوړ کا
چي خارج ته يې راوباسي چغال سي

بريالی به وظيفه د عشق پرې نه ږدم
که ساعت عمر بدل راته په کال سي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د ساقي په انتظار

صبحگاه چې په دوره د میو جام سي
د ساقي لـه مستو سترګو څه مي وام سي

صراحي لـه ګرومه ويني تر خوله پاشي
لـه هيبته سره ګډ کفر و اسلام سي

په سيالي چې يې سنبل ووزي لـه باغه
خپلـي زلفـي يې و خـپلو ښـو ته دام سي

خوښ يم خوښ يم په تکليف کې مي راحت دی
چې رموز د نيکنامي مي په بدنام سي

چې د عشق لـه تاريکۍ نه رڼا غواړي
جهنم بې د پتن پـه څـير مقـام سـي

ريا کاره لکه سپی شبخېزي کاندي
سهارګاه تـه د پيشي پـه رنګ زکام سي

بسرياليه پـته ميسنه، پـته کـانده
ابراز مه کړه که دي سر و مال ليلام سي

# په تقدير رضا

چې خپل فکر محکمه کړم زړه قاضي
د تقدير پـه قـيد وبسـت مـي کړي راضي

کـه لـه ځانـه يـو عقلـي دليل ووايـم
ملامـت سـم پـه فـيروز و پـه قاضـي

د افسـوس پـه انعکـاس تـوره تبـی سـم
چې مي خيال کړي را پياد حال د ماضي

د حيرت پـه کړی يـوپ يـم غوټـه تللي
ختـای نـه سـم بې لـه فـيض فياضـي

کاتبيـن يې لـه تحريـره سـوله سپېړي
لا يعنـي مـي سـو بـدل د فياضـي

کـوم عـلاج به مي نصيب په برخه راکړي
طـالع کـړمه پـه زر رنځـه امراضـي

باقـي عمـر پـه ځـان صـرف کـړه بريـاليه!
پـه ښـه نـه درځـي تعلـيم د رياضـي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# خپل عرض

که هر خومره په دقت سومه ساعي
یو مي نه ولید د حق قول داعي
د مطلب په تکي اړوي اورونه
خپل غرض و شخصیت لره باعي
تاریکي د هیلي واړه جهان ونیو
بدایان کړي و عسعس ته طماعي
اغنیاء پر گدایانو گدایي کا
د مسکین پر اعانه کړي مناعي
د حارص سترگي بې اوره نه مړیږي
د اخبر مي اوربدلي سماعي
بې عمله تش ویل به مفید نه سي
که څه وواییي دفتر اجتماعي

**بریالیه** چي مقصد پکښي پوره سي
څه فرق نسته د مضمون او رباعي

# راغی

سیل د شکر د رحمت پر چمن راغی
د بخت لمر مي د قسمت پر لمن راغی
نوی خای نوی منزل به وربخشش کا
شهنشاه د فراري پر وطن راغی
اطاعت مي د طاعت سدالمسد دی
و ده یک ته خوشه چین پر خرمن راغی
په دعوه د بندگی یې برخه یو وړه
له بعضي غضبه خلاص اهرمن راغی
صد ساله کفن به وړم په غاړه نوی
که مي گل لاس په دعا پر مدفن راغی
لکه بر چي سي مسیح(ع) پر زاړه قبر
هسي زما و خنگ ته صدر یمن راغی

د قوسینو په رموز **بریالی** مومم
د زړه برج ته مي هلالِ حسن راغی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# سنجیده خبري

کاشـکي بیا یو واري ژوند واى په دنیا کي
اویـا واى خـه چـرت وهـل پـه مامضا کي

کـه لــه دغـو دوو خـه یـو شي میسر واى
ملامـت سـړى بـه نه واى په هیڅ ځا کي

چـي هغـه سـته نـه هغـه سـته ورورکـیه!
نـو ښـکاره چـي دى علـت په ما و تا کي

راسـه دواړه پـه اصلاح خان به صلاح کړو
فـایده نسـته پـه لعـب و پـه خـندا کـي

مرتـب اثـر هـر شـي لـري کـه نـه؟
مجـنون خـه شـي وو لیدلـي پـه لـیلا کي

سـنجیده خـبري ښـې دي پـه محفل کي
بـریالـیه وهــه فکــر پــه ویــنا کــي

عفــوه غــواړم، ولــي زه لا بلــد نــه یــم
کـه غلطـي وې د مضمون په شاو خوا کي

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د دولت مفهوم

اغنیاؤ عمر صرف کی په عشرت کي
فقیران مو وږي تږي په ذلت کي

هر بدای د حرص نبان پر تندي ایښي
لاهو سوی د دنیا په معرفت کي

ښه دی ته و دادي خدای سره زاړه کړي
مسکین څه دی چي سي مړ په فلاکت کي

همسایه غریب تې خرنگه سي فکر
عقل و وهم یې مشغول دی په دولت کي

د دولت دغه مفهوم دی اې بدایه
چي په دو ، دو پسي ځغلې پای دي لت کي

چي هر څو عمر تېریږي زړه تنګیږي
تش یې خیال نسته په تګ د آخرت کي

چي حساب سي پر غران باندي خان وژني
وایي څو مي دي لیکلي په حجت کي

د عقبی پر کار چي راسي ړوند و کوڼ سي
ښه بینا دي د روپو په جمعیت کي

چي د مرګ پر بستر پرېوزي لا موړ نه دی
د روپو تولول وایي په وصیت کي

په فقیر وخشند وهل ازار نه بولي
خان اوله نمره ستایي په خلقت کي

زبرخاني یې له غنمو ډکي کړي
چرت یې نسته د مخلوق په هلاکت کي

وایي ګوندي وي چي من په څو روپۍ سي
محتکر د شیطان ورور دی په آیت کي

په خوله وایي خدایه وکړې بارانونه
په باطن کي د ا وریځي څه دقت کي

شین اسمان او اب خشکي یې ډېره خوښه
ولي دی جناب سهیم دی په قدرت کي

خوله مي ګل سه که به نوم د خیرات اخلم
یا به نور څه وایم ستا په شرافت کي

هغه فرض زکات څو مه پرېږده ناترسه
هله جګ سه اوس دي واک سته په فرصت کي

چي په تور مخ سبا کوز سې و لحد ته
نه ښاییږي دغه ستا په لیاقت کي

د قارون کشر ورور مه تراشه له خانه
لږ څه فکر کړه د خان په سیاست کي

د پیسو مریده ښه سره پوهېږو
چي له درده دي سو زړه په حرارت کي

مګر زه دا ستا له درده څه خار نه خورم
خکه دا یو بیت لا وایم په عبرت کي

که په دې مضمون ویښ نه سې بل به واورې
بریالی یمه ولاړ ستا په خدمت کي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د میني وصف

پــــه لــــبانو وهې څوکــــي د زلفــــانو
کــه و مشکو تــه دي آب د نــبات ورکــي

پــه شنه خــال راخــه ګـتې بــازي د وصل
کــه د زلفــو و کــنار تــه دي مــات ورکــي

هغــه ســتا د خــولې کوثــر کــه بــل اثــر وو
چــي و خضــر تې پــیغام د حــیات ورکــي

اسـمان ګرځي د سپوږمۍ څراغ په لاس کي
تــا پــه سوال کي لمر د حسن زکات ورکي

زیــبا مــخ بــندي د خــط پــه کفرستان کي
کې هــندوانو تــه قــرآن پــه خــیرات ورکي

د لالــه پــه خبر یې دښت او په چمن کي
بــریالي تې د زړه داغ پــه سوغات ورکي

# د پیمانې تاثیر

چــي پــر ســد ســړی ســر مسـته دېوانه کي
دا تاثــیر دی د ســاقي پــه پــیمانه کــي

تــور کــاکل دي اتکــړی دي د رندانــو
مناســب دي سرکښــان پــه زولانــه کــي

لــنډي زلفــي تــوري شپې مخ یې بهار دی
شــپې وې لــنډي د بهــار پــه زمانــه کــي

چــي قسمت یې د شرابو وي کــم ســوی
بدبختــي ورولــي خــوب پــه مــیخانه کــي

حبشي زلفــي یې شپول پــه لعلــو شوندو
افعــي مــار وهــي کلچــه پــه خــزانه کــي

شــاپېریو بــازار پرېښــودی لــــه شــرمه
چــي شروع کړ، ګل سینګار په پسخانه کي

بــریالیه پــه هجــران کــي وصــل غــواړه
پــیدا کــیږي مــدام ګــنج پــه ویــرانه کي

Downloaded By: Afghan Salar Library



# ملالي سترگي

چي يـار واړوي پـه نـاز ملالـي سـترگي
لـه قالـبه ووزي زمـا بـد حالـي سـترگي

د شـوخۍ پـه سيالۍ واړه سولې سپيني
لــه غـيرته د نـرگس ناسـيالي سـترگي

د سرو سـترگو پر شفق يې ليندۍ وروخي
خکـه بولـي يې عشـاق هلالـي سـترگي

خـريدو فـروش د زړونـو واړه په ليلام سي
چـي راسـته کـړي پـر بازار دلالي سترگي

صـبحدم عندليـبان پـه کـټ کـټ خاندي
چـي پرې ووينـي د گل خوشحالي سترگي

د پرهـيز پټـي مـي واړه کـړي څرگـندي
چـي راسـتوني کړي اشناى رمالي سترگي

لـه اغـياره يـار پـټ بـه دې بريالـيه
لمـره مـه ويـنه د بـم بدفالـي سـترگي

# د عشق بستر

مرحـبا خونريزمـن، شـاه خسـرو بنگالـي
غـم دي پـر ضـمير ساتم، کعبه تن حوالي

هجـر دا منگـير لـرم، تـل خاطـر زهير لرم
سـتا زلفـي څنځـير لـرم، ياقوت لب سيالي

ستا مينـه چـي قبلوم، ځان په خپله قتلوم
درد والـم گلـوم، اوښـکي گوهـر لوالـي

کشور تخت وتاج لرې، هرنوکر محتاج لرې
زمـا د خـوږ علاج لرې، داغ په سينه چنگالي

پـروت يـم پر بستر د عشق، ياد لرم دفتر د عشق
وايمـه منتر د عشـق، عبدالغفـار قوالـي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# تاولي؟

پر سپین مخ باندي شیدا کړمه تاولي؟
آشفته په واویلا کړمه تاولي؟

ترس د خوف او د رجاء راسره نه وړ
په شناخته دین کي ترسا کړمه تاولي؟

چي خندا دي وه باعث د ژړولو
په خندا کي په ژړا کړمه تاولي؟

پټ په پته مي دفتر په زړه کي پټ وو
پر جهان باندي رسوا کړمه تاولي؟

په نوا د بېدردۍ وم بهره من
له نوا څه بېنوا کړمه تاولي؟

د وحشي په څېر د عیش پر فضا ورک وم
ددې دهر، زه اشنا کړمه تاولي؟

خو سره له دڅو واړو راسره وای
بریالی یکي تنها کړمه تاولي؟

# بریالی

چي په مینه کي منصور سو بریالی
پر جهان باندي مشهور سو بریالی

چي د عشق منصب یې غوره کړ و ځان ته
د رقیب سره تربور سو بریالی

چي لیلام د محبت راغی میدان ته
هغه دم ورباندي چور سو بریالی

په لقب د سمندر آتش مزاجه
تن پخته سر په تنور سو بریالی

بې تاراجه بل وصیت مه کانده ګلبه!
که و مرګ ته در حضور سو بریالی

کوم یو عیب یې په خوا دی باري ربه!
چي د هر سري منفور سو بریالی

په رتبه به د شفق کشری وروړ سي
که د ځان په وینو سور سو بریالی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# پروت وي

چې پر غاړه یې د مینې تاوان پروت وي
امتیاز بې د هجران ارمغان پروت وي

کوږې سترګې پر لبندی د کږو وروځو
لکه غځ ته چې ښکاري پر کمان پروت وي

هغه نه ورځي مجلس ته د ګلرخو
چې ادب یې د خاطر پر دیوان پروت وي

د صحاف د دکان ناسته اسانت دی
چې و هر طرف ته شا سې قرآن پروت وي

چې یې مړ په دم ژوندی سي څه تعجب دی
که مسیح رنګه پر بام د اسمان پروت وي

هسې زیب کا یتیم خال غنچه کاکل یې
لکه باغ کې د سنبلو باغوان پروت دی

بریالی د جنت خوب وربانديي پلوري
په هغه دم چې یې اړخ ته جان پروت وي

# د زلفو سایه

ستا د زلفو تر سایې لاندي سوم لوی
ښکه خي مي اوس تر خوله د مشکو بوی

ستا کاکل هم ځکه رنګ د مشکو واخیست
چې زما د ځیګر مشک سول باندي توی

ستا مي عکس په سینه کي ژوندی پروت دی
عبث کړم د ډاکترانو جستجوی

زه و زړه او خپل مرض سره پوهېږو
بې له تا مي دی علاج د عنقا زوی

بلبلان په سره غرمه چار پېره کیږي
پروا نه کوي په شپه د بلبل خوی

جنازه زما په ډول او په سُرنا وړئ
بریالی دی اموخته په های و هوی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# که نه وي، نه دي وي

مطلـب دیـدن د یـار دی صـحبت کـه نـه وي، نـه دي وي
عـدم دي د هجـران وي ږصـلت کـه نـه وي، نـه دي وي

خـه نسـیمه پـر غـنچه بـاندي روی بـند پـاره، پـاره کـړه
چـي يې وږم معطـر سـي نـور فرصـت کـه نـه وي، نـه دي وي

د زنـخ پـه سـاده جـام چـي جـف جـف وهـي شـراب
دغـه حـظ مکفـي دی نـور لـذت کـه نـه وي، نـه دي وي

د عـرش پـر کـنگرو چـي يې غالمغـال خـي د غوغـب
سـاده وینـا يې ښـه ده لطافـت کـه نـه وي، نـه دي وي

چـي ږغ د تـراني يې د مطـرب پـه غـوږ کـي ورسـي
وچـنگ تـه جـف کافـي دی خجالـت کـه نـه وي، نـه دي وي

زاهـد چـي پـه مذهـد کـي سـره غورخکـه او لمـبه سـيٰ
دغـه گـذار يې بـس دی اهانـت کـه نـه وي، نـه دي وي

نـرگس چـي پـر خـپل خـد بـاندي پـه خـپله ژبـه تـف کـړه
دغـه يې شـهادت دی بـل حجـت کـه نـه وي، نـه دي وي

زخمـي چـي پـه تـاړاک دی دیـدن یـو ور لـه دلـبره
شـاکر او صـابر اوسـه بـل نیـت کـه نـه وي، نـه دي وي

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د دلبر دبدبه

چي خونخـور دلـبر لـه نـازه څه ويېږي ـــــ لــــه هيبــتې د کســـرا مانـــي نړيـــږي
د غضب په ترانو، د زنخ په سيمين جام کي ـــــ يـــاقوت رنگـــه د سـيالي شـراب ايشـيږي
چي يې وزي د غاښـو تـر فنجره هره وينا ـــــ بـېرقونه د مـژې يې د غمـزو په بار رپيږي
کـج کـتل چـي وهـر لور ته په عتاب کړي ـــــ لـــه هراسـه د اسـمان رضـوان رقصـيږي
لـه (زحلـه) سوخاصيت د خونرېـزى هېر ـــــ لـه دې جوشـه لا پر خپل خوناب ببريږي
هازمـريان چي لـه پړانگانو څه باج اخلي ـــــ سـتا لـــه قهـره د گـيدړ رنگـه ترهـيږي
تـر بقـراط او جالينوس چي ډېر ذکي وي ـــــ سـتا لـــه وهمـه يې سليم عقـل سـلبيږي
ظاهـراً کـه د تـېزى پـه عـنوان گـډ دى ـــــ پـه باطـن کـي د شـميم پـه څـېر لگـيږي

زخمي سـتا پـه وېـنا هـيڅ نـه کـوي بـاک
لا هـنوز لکـه تحفـه په سر افرازو هوسيږي

# د ازل مينوشي

حضـرت پـير خرابات راوړى يو جام برايي ـــــ پـه نيمه شپه کي مست کړم حضرت خضر ساقي
مستي به څه وه د ازل سلطان زما کړه نصيب ـــــ څـوک پـه ازل خوشي ملا، د چا په برخه مستي
نصيب زمـا چـي خـرابات سـو نصيحت به کوم ـــــ پـه مـيخانه کـي سربازم، يم د کلو خماري
شـيخه مکې ته ليري مه څه هيڅ نه اخلې مفاد ـــــ زړه دي کعبه ده سجده ورتـه کـوه يې حاجي

زه بريالى عبدالغفار په خرابات کي سوم لوى
عاقبت زما نتيجه دا سوه د ازل مينو شي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# زیبا مخ

خط دي ورکړه مخ ته نوې زیبایي — زیاتوي شبنم وګل ته صفایي
دا اطلس دي مبارک وي دې مکې ته — د حاجي سره احرام وي خوبایي
سپین کاغذ وي بې فایدې ګونګی په ژبه — په تور خط سي د کاغذ خوشنمایي
په سنبلو خارګیري د جنت ښه ده — هرباغوان بدوري د باغ په رسوایي
څیګر خوني سو، هوسی ختن ته ولاړې — دلته باب نه ده د مشکو ګدایي
سوداګر د مشکو بیا سوله خوشحاله — په تاوده بازار کي کیږي کمایي
بریالی به بیا تېز نه ورته ګورم — هسي نه راخخه یوسي بینایي
لکه خط چي پر غلطو تورو کش سي — په خط ښکاري د ساده مخ خطایي

# د میخانې بستر

که په خوند سي څوک خبر د میخانې — خان به خاک کړي پر ګذر د میخانې
په سره اور کي به خلیل رنګه خوشنود وي — وي تاتوبی به یې ور د میخانې
په هیڅ دم و په افسون به مغلوب نه سي — څوک چي دم وي په منتر د میخانې
تر زاهد سل کلني ډېر بهترین دی — مستانه او قلندر د میخانې
افلاکونه به له تاوه څه اور واخلي — که آه کش کړي منجور د میخانې
ظاهر بین په اعتقاد ملامت نه دی — ناخبر دی په اثر د میخانې
په یوه غوړپ چي یې مړی ژوندی کیږي — ها تازه شراب ثمر د میخانې

عزرائیله سرګردان ورپسي مه سه
زخمي پروت دی پر بستر د میخانې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# نصيحت

ژبي همېشه پرکېږه لار باندي رفتار کوي     خانته دي پام نسته د خوږمنو زړو ازار کوي
د عرش په نړېدو به دي آخر هدونه مات سي     پرزړه باندي د ورور چي د لغاز په تېشه وار کوي
په هر ځای دي غريب، مسکين هدف د زيږويلو دی     تېز په تېزی، گډ يې، په چپه وينا گفتار کوي
روغ لـېمه دي وينمه کارونه د احول کوي     ځـان ملامـت نه بولې وبدو ته تلوار کوي
څـه شـی دي حاصل ليدلی دی په زهيرولو کي     زيـان دي راته وايه چي لـه نبکو څه انکار کوي
خـپل عيبونه پټ ساتې د ستر په بقچه کي     پـاش او برملاولي د ورور خفي اسرار کوي
کبنـتی د معصيت به دي د آه په باد هلاکه سي     د ژبـي پـه خنجر چي تل پرهر مظلوم گذار کوي

هيڅ به پټه خوله نه سي زخمي لـه دې ويلو څه
خـو چي په خطاب سره اثر د زهر مار کوي

# مطرب ته

چـــا در وبنـــودې مطـــربه دا جمـــلې     چـي کـوې پـر بـيده زړو بـاندي حمـلې
زړه چي شين سي په پبنتی کي نه خايېږي     د پبنـــتی هدوکـــي څکـــه دوې پـــلې
ستا اواز مـي پـر دمـاغ بـاد او باران سي     شـاهدان ډکـي د سـرو سـترگو شـبلې
وچ کوگـل لکـه د نـوح تـنور چينـه سـوه     طوفانـي مـوج څـي د سـتوني تـرولې
د کـنعان قصـه عـبرت دی زمـا دپـاره     فـايده نـه کـړي پسـله غـرقه غلـبلې
د سکوت کبنـتی تـه تله راتله واجب دي     هسـي نـه چـي مـي سي پرې د صبر پلې

بـريالـيه د تـوبې وصـيت پـه کـار دی
معلومـــيږي دا هيبـــت د زلـــزلې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د غاړي هار

بريالــي مكــتوبه تــف ســه پــه قلــم ســتا
كــه د ګران محبوب په غاړه كي هار نه سوې

شــور و شــر د كــربلا بــه ژونـدی نـه ســي
كــه پــه لاس كــي د علي ذوالفقار نه سوې

د كاروان احوال لـه (شمسه) څه نه غواړه
كــه پــه شپه كي (مشتري) رنګ بيد . نه سوې

تاجــر نــه يې كــه د يــو، يوسـف دپــاره
د تمــام مصــر كــنعان خــريدار نــه ســوې

جهــان تولــه ثمرقــند، قــند يې ثمــر ســو
كــندهاره تــه هــنوز كــندهار نــه ســوې

د غفــران منصــب پــه حشر كي مشكل دی
كــه دلي پــه صــدق عــبدالغفار نــه ســوې

بــريالــيه دا نغــمې دي خطــره بــكاري
كــه بلــبل غونــدي پر ږغ ګرفتار نه سوې

# د شاعر خطاب

ســــتا د وصـــل تمـــنا كـــړمه لېتـــى
خـــرڅوي مـــي د بـــبدردو پرهتـــى

ډاكــتر جــي نــور تكلــيف راتــه معاف كړه
ســالانــه زخــم اوس تــبر ســو تــر پتهــى

تـــزاحم د زړه فـــوج خـــريداري كـــا
لكــه بــند چــي لــړمان ســي پــه پيتهــى

دا تــر غــوږ مــي د يــاججو بغــاوت ســي
كــه ګرمــيږي پــه مــاحول كــي بتهــى

د هغــه شــيخ د تــوبې بــړاس اوچــت څي
چــي بې وخــته كــړي مــور بــوره د چتهــى

د صــحاف مصــافحه رنځــور كــتاب كــړي
بـــريالـــى دی مســـتحق د ســـركتى

Downloaded By: Afghan Salar Library



# څلوريځې

د کم ذاتو محبت خوند د قديد کا
مؤثر يې سم په بدو تاثيراتو
په يوه صحبت مې نرم زړه حديد کا
د کلو باطني خبث مې جديد کا

* * *

معطل نه سې ساقي پاڅه اوچت
د څيگر پټک راډک کړه له حياته
زما له لوري ناروا دی نور مهلت
د خِضر په ملتيا څمه په غربت

* * *

له غروره چې پر لار څي کوږ وکج
تر وينا يې زهر مار لا شيرين تر وي
د هر ورور سره يې نه وي مگر لج
خدايه دا بلا کړې زما له لوري بج

* * *

چې د مينې پر استاد سومه تلميذ
سر درد د عشق مې کله څي ناصحه!
د فراق ترخه مې سوه تر خوله لذيذ
لا بدتر سومه د وعظ په تعويذ

* * *

چې د هجر غم پر ما سو، برابر
سر کوزي د نامرادی راته وای تيټ سه
د اسمان خونه مې تنگه سوه پر سر
چې د عشق مضاف کړ درپه عمل صبر

* * *

د پوهی کډي مي بار سوې کوه قاف ته
ته به هاله بختور سې بريالیه
اوس د خيال پر خرابو وهم چکر
چې پاسپورت دي سي ويزه د لوی سفر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



چې د غم په تال ځنګېږي هر نفس
[illegible] هغه ځانګو يې نوم کنبېسود محبس
چې د ژ[illegible] [illegible] فلم حک سو
[illegible] ورته [illegible]

[illegible] جوهر د عشق مې [illegible]ان سو د سرو ررو
ناعلاجه باندي چوي د زړه بندس
د ځيګر له اوره ځکه يم په وهم کې
هسي نه چې [illegible] وسوځي ستا عکس

*

چې مې وشلېده د يار د وفا طمع
په فرياد مې ګلرخان سوله راجمع
روني سترګ[illegible] په خندا کې ورته ژاړم
تول لړمون مې تر خوله توی سو لکه شمع

*

هسي و سوځې فلکه لکه شمع
بلکي سې لا يو په لکه، لکه شمع
ستا د شنه مخه مي مخ د زړه شين دود سو
له لمبې ځه مې خوله ډکه لکه شمع

*

په سبنه کي مي دی پروت د شعر سېل
په يوه وړه خپه به دي کړي ګېل
[illegible] هر ځومره حونه له [illegible]د سر[illegible] برزي
خدای خبر چي به دي اخلي خوک بګېل

*

هر خوک چي و کاندي ظاهري علم
ورسره نه کاندي ګېنه د حلم
فقط دده هم هسي مثال دی
لکه بې مغزه چي وي پرده د قلم

*

چې دي وواهه نسيم د رلو چوڼ
حوار خسنه يې کړم په غبرګو غوړو کوڼ
بې خبره سوم له خانه و جهانه
لکه بت په زړه جماد په سترګو روڼ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



دا تیک نه دی د شبرنګه په کاکل کي
دا یې چوڼ د تندي نه دی په غصه کي
د مغرب لـه لـوري لمـر راغی قیامت سو
د تـوبې دربسـته ګـی تـه اشـارت سـو

* * *

زه لـه ژونـده یـم ایسـتلی هغـو سـترګو
چـي ومـړه تـه د تـوبې درسـونه وایـي
چـي یې زمـا رنګـه زر زړونـه کړه په ژړګو
سـي لـه درده څـه مـي درد پر پښتورګو

* * *

دا چـي نه چـوي لـه نـوي نـوي درده
وظـیفه اتـش نفســه نــه ده څــه ده
زه پوهـــېږمه ســـینه مـــي ده نامـــرده
چي مدام ګرځم سرې سترګي څېره زرده

* * *

دا ښـکارېږي سـتا د مـخ لـه انجمـنه
لـه جـادو او لـه افسـونه دي معلومـه
ګـل ذقـنه، ګـل د هـنه، ګـل بدنـه
چـي فـرار بـه بـریالـی سـي لـه وطـنه

* * *

چـي تـل ګـرځوې پـه شا د طمعي پلنډه
د غــیرت لــه آبــه ولــي یې بې آبــه
پر سر وخورې لـه اسمانه څه کرکنډه
د حیا سترګي دي کبنلي دي تر ګنډه

* * *

خدایه ماته کړې پر بند هغه پنجه
د ببوزلو مظلومانو پر غصه یې
چـي لــه زوره یې کمـزوري وي رنجـه
د درد غـاښ وي مـدام شـونډو ته شکنجه

* * *

کـه ویـنا د آزار پورتـه سـي تـر نمـرنده
ددغــه مظلــوم د آه پــه تــېره ژرنــده
پـه خطاب غوڅ کړي د بل د زړګي مرنده
دا نګـی غونـدي فیچو کي څواني برندد

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



که دوستي که اشنايي کوې هوښياره | ليري ګرځه له کم ذاته له کم اصله
چا ليدلې ده منه د توت له ښاخه | چا ليدلي دی زمري د سپي له نسله

* * *

هر سهار ساقي په مسته ژبه وايي | ميخوري راته په قسم قسم ستايي
که په دې تعليم کامياب سوې بريا ليه | بريالی بې بريالی درسره ښايي

* * *

قناعت سرې سنګين کا لکه کانی | ګدايي بې خس مثال کا لکه پانی
خان خسته کا په چوپړ د همنوعانو | د غيرت په هوا هسک به لکه زانی

* * *

په صف صف راغله د يار د لبو مې | په کف کف مې ورخه ومونده کامی
په رپ رپ سره بې جذب کړه زما وينه | په چپ چپ راته تر لاسه سو جامی

* * *

پر ککرۍ د فکر مې رقيب مېږي | داني د کوڅې مي پر زړګي خېژي
پټ و لغ نه سي صفا، که څه پرتوی سي | د تسلا له بحره څه دوه ودرې ژي

* * *

د دوه رنګه سره دوه رنګه حکمت دی | توکل دی يا د عقل تجارت دی
چې کاغذو خانته دوه رنګه پيدا کړه | د قلم هم په دوو ژبو حکايت دی

* * *

احمدي انوار حرام پر هغه زړه سه | چې تجويف د څيګر غارحرا نه کړي
بريالی به په مذهب د مجنون نه سي | چې سموال خان ورته مسته ليلا نه کړي

Downloaded By: Afghan Salar Library



دا یې خال دی د دوو وروځو په محراب کې — که هندو دی په حرم د مکې راغی
دا کاکل دی که لښکر د وحشیانو — د ترکانو پر وطن له ډاکې راغی

* * *

په سرو سترګو مې له عشقه صبر نه سي — که مې ووزي په ژړا د سترګو کسي
د بارخو ونوي خط ته یې تسلیم یم — ځکه چې زما په باب لیکي هغه دي وسي

* * *

په دنیا کې هسې ګل راغلی نه دی — چې یو ځوکې یې په یو داغ داغلی نه دی
دغه داغ ودغه درد سرفرازي ده — که نه نور خو بریالی ښاغلی نه دی

* * *

ورکوې چې زما و ژبې ته ګرمی — بیا به وکاږې له شرمه اروړمی
چې سبا په خجالت پټه خوله کیږې — اوس لا ونیسه په لاس د غوړ نرمی

Downloaded By: Afghan Salar Library



# مخمس

د گـل مخـو پـرک پـه تاسـره زيـبا دی چـېرته درومې
دا وطـن و دا چمـن گلشـن پـه تـا دی چـېرته درومې
تـريخ غضـب و کـج کـتل افتخار زما دی چېرته درومې
د خمـارو سـترگو ديـد مـي مدعـا دی چـېرته درومې
زبـون سـوی د ښلـتون صـنمه سـتا دی چـېرته درومې

پـولادي چـنگک د عشـق دي پـه خولـه را کـې
آســـوده ژونـــدون زمـــا دي راتـــباه کـــې
روڼ المـــاس د گمنامـــې دي را دوتـــا کـــې
کرشـــمو دي د جفـــا مـــخ را نمـــا کـــې
خـبر نه يم چي دي نيت کي مرگ دچا دی چېرته درومې

ســتا د مينـــي ســور بـيرغ پـه لاس کـــي ورمـه
پـر چهـارچوب د مـيخانې د گدايـي نـارې وهمـه
هـر مـيخوروته پـه عجـز ونـياز کچکـول نيسـمه
د وفـا پـه هـيله تـريخ ژونـدون مـدام زه گلومـه
تـن صـورت مـي هـيولا څخـه تـنها دی چېرته درومې

لا تـر کلـه بـه پـه سـرو وينـو رنگيـن يـم
د جفـاوو پـه چـنگال کـي بـه نگيـن يـم
وچوگـان تـه د غضـب بـه مـدام گيـن يـم
د فـراق و جدايـي پـه غـم غمگيـن يـم
آخـر نـه يې پوه چي دا مسلک خطا دی چېرته درومې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



پــه اول کـــي دي و مـــاو تـــه تعلـــيم کـــی
یـــا قوتـــي پـــیغام د حـــب دي را تســـلیم کـــی
پــه آخــر کـــي دي خـــبر غمـــاز لنـــیم کـــی
د مابیـــن پـــه پـــټ ســـر کـــي دي کلـــیم کـــی

لــه هغې هـوډي زخمـي پـه الـتجادي چـېرته درومي

*　*　*

# د مرحوم رحمت الله (بابا) پر غزل مسدس

بـــاروې چـــي پـــر اوړو د گـــناه بـــار　　هغــه ســتا و د خـــالق تــر مــنځ اســرار
چـي هـر څـه کـوې هـيڅ نـه درلـرم کار　　لېکــن کــرم لـــه همدردیـــه دا گفـــتار

(چـــي ســـبا یې پــه عمــل یې شرمســـار)
(نـن لا څـان لــه هغـه کـاره کـره کـنار)

دا لست قـول دي هـم شـکر هېر نه دی　　هـر ایسـتل تـر خوله عبث زور وزېر نه دی
لا پـز تـن دي درهـزن قید چار پېر نه دی　　خطـا مه سه چي وای لوټه ده شېر نه دی

(وخت د لوبو دي سو تېر دا لا تېر نه دی)
(پــه تلــوار د استفســار مــه کــوه عــار)

چـي غـیور پښـتون یادیـږي هغـه تـه یې　　د فرصـت دیـم پـر غـاړه شـین واښـه یې
د غفلـت د خوبـه وینن سـه کـه بـیده یې　　نــن سـبا د لـوی سـفر پـه تـگ اوتلـه یې

(کـه هنور ولوست او درس ته فارغ نه یې)
( پوښـتبدل کـوه تـر څـو چـي یې بـېکار)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/　Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



د پخـوا غـيرت پـه ديـن کـي ازديـاد وو　　د روح کښـت يې د طاعـت په باد آباد وو
د شــيطان لـــه بندګــيه څـــه آزاد وو　　نفـس د دوی لـــه رياضـته پـه فـرياد وو

(علميـت د صـحابه ؤ تـول پـه يـاد وو )
(پـه پوښـتنه يـو تـر بـل سـوه خـبردار )

دا لـــه ځانــه ســندونه دي ضـعيف دي　　چـي لـه عقلـه يې را باسې دا نحيف دي
پنبه هر څومره که سپين او هم زليف دي　　تـرازو تـه چـي يې واچـوې خفـيف دي

(دا جلدونـه کـتابونه چـي تصـنيف دي)
(دي د دوی د فـيض آثـار نـورالانـوار)

دا ژونـدون لـه حقيقـته څـه مجـاز دی　　کـه خـورک دی که څښل که مخصوص راز دی
پـــر کولـــو بـــاندي مطلقـــاً جـــواز دی　　ســرمايه د آخـروي عيشـه سـتا نـياز دی

(دا جهـان کـه دي درياب علم جهاز دی)
(لـــه ګـردابه ژغـورل کـيږي پرهـېزګار)

يـو سـړی چـي پـه اخلاقـو کي ممتاز وي　　کـه حـبش وي کـه سـاهو وي که اياز وي
ورتـه ګـوره مـه، په هر ځای سر افراز وي　　نـه د چـا ورتـه ښـکنځا نـه يې لغـاز وي

(لکـه څوک چي پر ګدر ناست وي او باز وي)
(عالمــان ښــيي هــر چــا تــه ســمه لار)

بريالـــيه څلـــه بـــل تـــه رهـــنما يې　　ولـي تـه ځـان پـه خطـاب سره نه ستايې
پـه رشـتيا بـه بريالـی پـر هغـه ځـای يې　　چـــي عـــامل پـــه لـــړ ويلـــو د (بابـا) يې

( رحمـت الله! تـه بـه تر څو دلايل وايې )
(نتـيجه د آخــر کــار ګــوري هوښــيار)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# ترتیب بند

هي افسوس زموږ پر حال	عبث کاندو قیل وقال
بې له اصله اشارې کړو	د رندیانو په مثال
نه دلیل پر مدعا سته	نه تسلیم پر انفعال
حق ویل د ناصحانو	راته ونښکاري محال
یو په بل مغالطې سوې	بې معنا مو اشتغال
چي هر چاو ته نظر کړم	ډوب په غم د خط و خال
وايي عشق مي وظیفه ده	تن مي سو لکه هلال
که مجنون وو که فرهاد وو	یو مي نه وو د عشق سیال
د یار غم مي صبر یو وړ	د هجران په تېغ حلال
لېکن واړه دروغ وايي	زما قسم په ذوالجلال

زه یې وینمه په سترګو تل په تل
منعکسي یې ویناوي سل په سل

په هر کار او په خدمت	لرم هرګز شخصیت
پټ غرض مي وي ساتلی	هم یې بولم فضیلت
بې فایدې راته ښکارېږي	نتیجه د حقیقت
په یو کار کي چي شامل سم	لوی مقصد مي وي شهرت
وایم دا چي نوم مي خپور سي	غمخور نه یم د ملت
چي ښاغلی راته لیکي	دغه هم دی لوی عزت

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



هم مي دا هيله په زړه کي شايد رابه کړي خلعت
خان ته نه وايم چي زه بل ته کړمه نصيحت
نه په خپله را وبښېږم نه له بله څه عبرت
چي دا څه په څه اخته يم دا څه کج خيال د عظمت

کاشکي و پاځم په تينګه ست په ست
ببرته ښه کړم هغه تللی پت په پت

زور او زيار مي پر پېښن يا پر خوب و يا خوردن
لر منصب که لاس ته راغی نو به کارمه کفن
تل به وي ښه رشوتونه زما د جېب کومي مسکن
بې صرفې بې نوشي جان کړم واړه غوښـي د وطن
پر مظلوم به ظلم کاندم يا په لاس يا په ګفتن
که څوک سپين راته ويل کا تريخ يې بولم تر کوشتن
که مي بل وو تر لاس لاندي خوروم بې لکه ستن
تل مي نيت د خرابی وي په سهار و ماخوستن
نه مي کله زړه سرېږي د غائب په ناليدن
د عزت په ميو مست يم دا څه تللی دل سوختن

دا شخصي سبقان واړه فن په فن
مازده کړي آزمويم يې تن په تن

سوم په لفظ مبتلا راڅه مه غواړه معنا
چي هر څه تر خوله راباسم دا تقليد دی د بل چا
په دنيا سره اديب يم له عمله وتقوی يم معرا

Downloaded By: Afghan Salar Library



پـه دقـت کـه راتـه ځیـر سـې / ښـه حـالي بـه سـې پـه مـا
پـه بـاطن مـې خبـر نـه سـې / پـه ظـاهره مصـفا
شـکر ژبـه مـې تېـره ده / چـا تـه نـه یـم وارخطـا
ستا بـه سـل عیبونـه یـاد کـړم / زمـا بـه یونـه کـړې پیـدا
مخـامخ یمـه همـدرده / لـوی دښـمن یـم پشـلا
گـاهي کـړم سـمي خبـري / گـاهي گـډ پـه لېونتیـا
گـاه د حـق فرمـان بـردار یـم / گـاه رهـي پـر چپـه خـوا

نه نعم مې پر نعم نه لا په لا
د ارشاد لـه لوري گرځم شا په شا

د خسـران مـې دا سـبب / چـې آزار مـې سـو مشـرب
خود بیني مې نـوم داخـل کـې / د فرعـون پـه مـذهب
هیڅـوک نـه ویـنم پـه سـترگو / د مسـتۍ بـاده طلـب
نـه مـې ساری پـر جهـان سته / بخـت مـې سـو زهـره کوکـب
پـه صـاحب صاحب بالـه سـم / لـه هـر لـوري پـه ادب
بـار سـوخه یـو سـړی یـم / منتخـب المنتخـب
ابـدي بـه مـې دوران وي / پـه میـدان کـې د طـرب
د امـل پـه تـول مـې قـوت / خدایـه مـې کـړې تسـلب
د غـرور پـر حـال مبنـي یـم / پـه پسـتي کـې معـرب

د راحت په کوڅه گرځم باب په باب
د عشرت جام نوشومه آب پـه آب

بیـده پـروت یـم بـې خبـر / تغافـل مـې دی بسـتر
لکـه زه یـم بـې مفـاده / دم د کهـل پـه منتـر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



بل به نه وي په دنیا کې — هسې روی خاک بسر
چې له دیده یم محرومه — گویا نه لرم بصر
په مجاز حقیقت پلټورم — زر په محضې خاکستر
په نېکې بدي رانیسم — په لوی لاس د ځان ضرر
د مطلوب له لوري نسته — ما راندې ته ېنو نظر
جهالت مې مجلسي سو — راته پېښ دی دا خطر
په اول مزله کې گوډ سوم — لا په خوا مې بل سفر
سیاحت مې سترگو وکی — د ایاس پر بحر و بر

ناکامي مي پاخوي روح لور په لور
امانت مړی یم گرځم گور په گور

پرېږده پرېږدۀ فرېب و چم — چې هر ځای سې محترم
سپین سپځلی ساده لوحه — د اخلاقو ملتزم
تېر ایستل درته نه ښایي — مسلمان يې مکرم
یکرنگي درسره خوند کړي — څه د حق پر لوري سم
کوږ بار نه رسي تر ځایه — عبث منه څه کج و خم
مړده لومې وبل چا ته — نه چې تا کړي منعدم
د تصدیق په چاره کت کړه — نوک د خپل رښتین قلم
رشتیا تل قیمت بها دی — په هر ځای کې مسلم
د درواغو مزل لنډ وي — دا متل گڼه محکم
بې له غشه صاف ویل — هر خوږمن لره مرهم

صادقان تل ستایل کېږي نام په نام
په مقصد سره اوبیږي جام په جام

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



دا لــه کومـه سـو را ورانـدي چـي بـلاوي سـوې رابـاندي
دا ســـتم د زمـــانې دی کـــه فلـک نـاوړي کـاندي
یـا پــه خـپله ملامـت یـو یـا مـو بخـت تـر خـاورو لاندي
یـا پوهــېږو پــه هــر څــه شلوو خپل د زړګـي مـراندي
دا مـو خوښـه تـر هـر څـه ده چـي پـر مخ نـه یـو څغلانـدي
پـر دا هسـي بـد مسـلک بـاید وویـل سـي سـاندي
کـه یـو کـار سـم کـړې زړګـیه پـر هـابل دي خلـګ خـاندي
دا بـــیا زه کلـــه مـــنمه چـي وا تـول مـي پـه فـرماندي
چـــي کـــلاوي نړویـــنه پـه نامـه هغـه فـیلان دي
مـــناقش او مـــنکر دواړه د شـــیطان اندیـــوالان دي

د شیطان اندیوالـي ته بوی په بوی
اړوي لــه سـمي لاري کـوي په کوی

بدبختـــي مـــي یـــوور، وس تـــر همـــزولو پـــوري پـــس
د ذلـــت پـــر ډاګ ولاړ یـــم بې عـــزته لکـــه خـــس
د فـــراق ســـګلی وهمـــه راځـــه ځـــي آخـــر نفـــس
د فرصـــت دوره مـــي ولاړه بې کـاره سـوم لکـه جـس
لـــوی سـبب د فلاکـت مـي لذایـــذ ســـوه د هـــوس
خواهشـــات د محـــروماتو مـــي شـیرین روح تـــه قفـــس
قـوت مـي وو د بـل پـه غوښـو جـیفه خـور لکـه کـرګس
راتـــه یـــو حـــلال حـــرام وه مطلـــق وم مـــرید د نـــس
نـه مـي دار وو لــه عقبي څـه نــه مـي لمونـځ وو نــه اودس
د سـکوت محصـل حاضـر سـو راتـــه درس وایـــي د بـــس

ترزحمت وروسته راحت دی پلس په پلس
بریالیه دا سودا ده لاس په لاس

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# معماوي

عربـــي[۱] فقـــر تـــه لـــړ ورکـــه تخفـــيف
مفـتوح لـس[۲] کـړه په فارسي سره سخيف

که دوه نورباندي زائد کړ سي به دوولس
رانـه ورک بـه دوولـس کالـه سـي تکلـيف

* * *

د مغــزو ماغــزه را واخلــه وچــه غــوا ده
د صــفت پــه لــړمانه کــي مدعــا ده

لــــه ادراکـــه ســـترگي وکـــاږه اشـــنايه
بــريالـــي درتـــه لـــيکلي معمـــا[۳] ده

* * *

يــوه حــرف تــه لــباس ورکــړه د اسـد
خلـــورم ســـتوری مشـــهور د محمـــد

نازولــی نوکــر مــخ خــي لــه پاچــا نــه
شهنشـــاه دی محمـــد نوکـــر اســـعد

معمــا ده ډېــره سـخته کــه حــل غــواړئ
پــه صــلوۀ وربــاندي وغــواړه مــدد

* * *

د علــيم حمَــيد ويــل حــب شــفا ده
تغــافل يې پــه فــتحه د شــين شــفا ده

تــر تفــريق او جمعـــی.وروســـته بــريالــيه
مردانـــي يـــار تــه حاضــر ســه لار صــفا ده

* * *

يــو د خــدای علــيم حمــيد وايــه سـپاس
بــل د لاســه نــه لــس لــيري کــه پــه لاس

د هغــه صــدر ســرحد نــوم بــه بــيا مــومې
چــي په ليک باندي يې فخر کړي قرطاس

* * *

---

(۱) عربي فقر يعني (بؤس).

(۲) مفتوح لس يعني (ده).

(۳) معما کښي مطلب په عربي ژبه قبله راکه په تفصيلي توگه يې تاسي تطبيق کړئ! منه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



لـس لـه کالـه پـوره وړی لمـر کـندو سـو
دبـرش تکـه د اضـافت وهـي کـندو سـو
که لـه نوحـه څـه کـې زږه د آدم ليري
پـه هغـه کال به مهدي کي حجاب څيري

* * *

د اختـر لـه دوو څـه يو صرف معدوم کړه
يـو دزږه پـه زږه پيوند روح ورمضموم کړه
محققـه مطلـب تـام د بريالـي سـو
نـوم د عـبدالواحدجان ځنـي معلـوم کړه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# ادبي توتي

د فـراق د اسـتاد ډېـر سـاتم عـزت
خـبردار يې کـړم د وصـل پـه لـذت

پـه ممات کـي يې سبق د حيات را کی
پـه عـدم کـوي وجـود تـه اشـارت

د يوسـف د سـرې لمنـي تـرجمان دی
لېونـــی نــه وايـــي د کــذب عـــبارت

* * *

خـراب زړه مـي پـه غمزو نګار کشته کړی
د ګـل خــوی دی د کمـزوري سـره زور

زمـا ځـيګر دی اموخـته پـه تـپ خوړلـو
تشـکر يې د خـنجر رابـاندي پـور

افريـن سـه پـه مـزاج مـي يـار پوهـيږي
بـريالـيه مناسـب نـه دی نـور شـور

* * *

محبـت کـي راپـه غـاړه هغـه طـوق
چـي عـنقا يې تـر زنـدی وزي پـه شـوق

پـه تـلاښ يې خضـر ګرځـي سـرګردانه
د حـيات پـه آب کـي نسـته هغـه ذوق

کـه شـبنم غونـدي شـبخيز، وهـم پـه ګلو
لا يې نـه اوسـم سـهار پـر بـاړخو فـوق

بريالـی لکـه غـنچه سـينه پـاره کـره
چـي د زړه غوټـی يې يـار پو کړه پـه سوق

* * *

د خـــــواړه ژونـــــدون غــــرمه دي
ناپوهـــــي کــــــي کـــــړه بـــــرمل

وخـــت د ګـتـــي درخـــه تـــېر ســو
انـــــتها ســـــوه دلـــــرمل

درتـــه اوس لا حکـــيم ناســـت دی
ورځـــــه رانيســـــه درمــــــــل

بـــيا بـــه کـــاندې ارمانونـــه
کــــه پـــــر درغــــی تـــــرمل

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



چي دلـدار راتـه كاتـه كـړي گـرم گـرم    سـي بـېـواكه مـنـي آهـن د تـوبـې نـرم
د شـوق اور مـيٰ د سـكوت پر ژبه بل سي    سـي كوگـل مـي راتـه تنگ د زړه په ورم
كه قلم مي وي په لاس كي ژر به مېخ كړم    پـر خپلـي د كـاغذه د شـعر چـرم

*    *    *

د قلـم دي تـر خولـه وخـېژي لـړمون    جـوړوي چـنې بې لـه تـا بيت و مضمون
چـې كـوم شـعر كي ستا نوم ليكلى نه وي    عبـث تـوف دى د بـازل و دامـون
ستا لـه نامـه څـه انكـار كفـر بـالله دى    حقيقـت دى مجـاز مـه بولـه مـيمون

*    *    *

وطـن بهـار سـو، گـل و گلـزار سـو    شـگوفه راغلـه پـر چمـن بلـبل بـيدار سو
د صبحدم پـر موسم، پر غنچه اوري شبنم    د انجمـن لـه مـيانه ورک زاغ و اغيار سو
نرگس گلاب و سنبل، دى د بورا په منگل    گرځـي سرشـار بې پـروا گلشـن تـيار سـو
د سـروِ گلانو دكان، دى را ايستلى باغوان    د عطـرياتو بې تـن بـيا گـرم بـازار سـو
د شروشـور پر بوستان وهي بالونه طوطيان    لـه خـواږه خوږه څه راويښ عبدالغفار سو

*    *    *

يـاقوت او سـتا لبانـي، لبانـي دي يكرنگه    تـور مشـک او سـتا زلفانـي، زلفانـي دي يكرنگه
انصاف لرې له شرمه چي په باغ كي كښته گورې    نـرگس او سـتا چشـماني، چشـماني دي يكرگنه
كـوي د اجـل زيرى په ميدان ددل بردن كي    بـرچې او سـتا مژگانـي، مژگانـي دي يكـرنگه
غوټـې د شكر سبب دي زنخدان ته سلامي سوه    غـنچې او سـتا شـونداني، شونداني دي يكرنگه
نـارې د بريالـي او د مطرب سـولې بلغا كي    سـكروټي دي سـوزاني، سـوزاني دي يكـرنگه

*    *    *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/    Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



خماري سوم پر هڅو مي وازګي ایشي    اوس بـه ماتـه کـړم د صبر صندوقچه
ساقي ناست دی بې پروا مدهوشه ګوري    پـه خـیال لاس وهـي د زلفـو پـه غـنچه
کـه یـو لـږ د مـیخانې بدنامـي نـه وای    مابـه خـان ویشـتلی وای پـه تفـنګچه

*    *    *

چـي د مینـي په محراب کي ډېوه غواړي    د پتـنګ پـه څـېر به لاس وپښې مکوټ کړي
چـي خـان پلـوري د انکـار پـر قصابانو    د ایـاس پـه مذبحـه کي به سر غوټ کړي
چـي ټـېکه یې د تسلیم وهـلې نـه وي    درنـدي لـه درمساله دي مخ څټ کړي
دا د عشـق مـیدان دی خـای د سـربازلو    نربښـځیان خلـک دي مخ په پلو پټ کړي

*    *    *

د عـلاج چـاره مـي ګـرانه سـوه پوهـېږم    چـي پـر زړه مـي د ویـر غـم سـو راته پېښ
د مسیح پـر لـور بـه سـترګي کـړمه وازي    کـه د مهـره یې قـدم سـو راتـه پـېښ
د امـید نهـال مـي سـر پـرزنګون کښېښود    دا مـرض د خـپل صـنم سـو راتـه پـېښ
خـود بـه زه بریالـی دروم لاس ناولـی    چـي پـه عشـق کي یې ستم سو راته پېښ

*    *    *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

# دریمه برخه

## متفرقات

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# نشره

۱- یاحـــي یـــا حکـــیمه | یـــا قـــادر وقدیمـــه | یـــارازق کـــریمه
۲- د هـــر موجـــود خالقـــه | ثـــناء دي ده لائقـــه | د شـــان دي موافقـــه
۳- اکمـــل پـــه کمـــالاتـــو | موصوف پـه ښـو صـفاتو | مکـــوِن د کائـــناتو
۴- واحدالعالمیـــــــن یې | عافـــي المذنبیـــن یې | اکـــرم الاکرمیـــن یې
۵- رحمـــت دې پـــر نبـــیانو | خصـوص پـر رسـولانـو | پـــر وارو مخلصـــانو
٦- چـي ستا په نورانور دي | احمـــد خیرالبشـــر دی | اظهـــر نجـمِ اکـــبر دی
۷- ســـالار دی د کونیـــنو | ســـردار د ثقلیـــنو | امـــام د قبلتیـــنو
۸- هـادي شمس الهدا دی | شـــافع روز کـــبرا دی | صـاحب د حـق لوا دی
۹- دی زینـت الافـلاک دی | لـباس یې د لـولاک دی | قاسـم کوثـر مـلاک دی
۱۰- تـول آل دی که اصحاب دی | یـانور دده احـباب دی | داخـل پـه دغه باب دی
۱۱- یـاران یې څلور حق دي | پـه صـدق محقـق دي | د شـکه څـه مطلـق دي
۱۲- اول چي یې رفیق دی | ابوبکـــر صـــدیق دی | د ښه توصیف حقیق دی
۱۳- حضرت عمر دوهم دی | اکـــرم و مکـــرم دی | لـوړ شان لري اعظم دی
۱۴- لـــــري امتیازیـــــن | عـــثمان ذی النوریـــن | ضـــیاء القمریـــن
۱۵- صاحب چي د عرفان دی | علـــی شـــیریزدان دی | پر ده بې حده ګران دی
۱٦- رحمـت یې پردوستانو | د بـــدر پـــر غازیـــانو | پـــر وارو شـــهیدانو
۱۷- د زوی پـلاره نـبکرایه | راضـي اوسـه لـه خدایه | بې حـــده شـــکر وایـــه
۱۸- اولاد خـــیر مقـــیم دی | د حـق فضـل عظیم دی | احسان د رب عمیم دی
۱۹-پـه زړري یې خوشحال سه | باعـث یې د کمـال سـه | دښـمن دي په ملال سه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



۲۰- د زوی دغـه خدمت دی | ثابـت فرض و سنت دی | پـر تـا یې تربیـت دی
۲۱- حقـوق یې ور اداء کړه | پـه علـم یې شـنوا کـړه | اسـباب ور مهـیا کـړه
۲۲- اول چـي یې خدمـت دی | اذان و اقامـــــت دی | پـه غوږ کي یې عادت دی
۲۳- دوهم حق یې مختوم کړه | شـرعي نوم ورمعلوم کړه | په ښه نام یې موسوم کړه
۲۴- هـر څوک چي نوم اداء کي | ببشـکه بـه پـیدا کـي | تاثـیر پـه مسـما کـي
۲۵- نومونـه ډېـر ښېـېږي | چـي کـم وي په یادیږي | چـي لوی سي په شرمېږي
۲۶- زړه خـوښ کي بې فرهنګه | نـوم یورنګـه وبـل رنګه | یـا سـکاڼ وي یـا کرنګه
۲۷- غلـــط خطاوتلــــی | لــه حقـه لـیري تللـی | پــه جهـل غولېدلـی
۲۸- دا کـار حق د هغه دی | چـي پـوه په طریقه دی | قـابل یې هـر څوک نه دی
۲۹- اختـیار ورکـړه مـلا تـه | غـوږ مـه نیسـه بل چا ته | ښېـــیږي خـیر تاتـــه
۳۰- رؤف ربـــه کـــریمه | رحمٰـن یې هـم رحـیمه | عـــلام یې هـم علـیمه
۳- قـبول مومناجات کړې | تـر سـره موحاجات کړې | اعلـی مـو درجات کړې
- مرفوع مو شکایت کړې | مدفوع مو هر آفت کړې | ایمـان مـو سلامت کړې
۳۳- ارحـــم یې کـــردګاره | رحمـت دی بې شـماره | بـــنده دي یـم غفـــاره
۳۴- نشـره سـول سـرانجامه | پـــه خـــیر اختـــتامه | لاس پورتـه کـړه امامـه

Downloaded By: Afghan Salar Library



# ځانګړې نشره

الله شروع په نام ستا | شفیع درته کلام ستا
قبول دا مناجات کړې ستا د فضل په دربار کې | توکلنا علی الله
خالق يې د کونينو | رازق د شفتينو
پاشلی دي رحمت دی د تکوین په لاله زار کې | وارحمنايا الهی
ظاهر امر مکنون سو | د کافه سره نون سو
ظاهر يې په باطن کې او باطن يې په اظهار کې | سلمنا يا الهی
تقدير چې د احد سو | زايد ميم د احمد سو
خلوښت تنزلات سوه د يوه دور په ښار کې | توکلنا علی الله
اول الف طالب دی | چې حمد يې مناسب دی
تقدير د دوهم ميم سو محمد پټ په اسرار کې | وارحمنا يا الهی
جوهر چې خان عرض کی | حاصل يې خپل غرض کی
لس کېږي چې الف صِفر د خانه سره شمار کی | سلمنا ياالهی
نه پلاره خلور مندي | خلور سره دي خويندي
پيدا سو مشر زوی د کشرانو په قطار کې | توکلنا علی الله
ابجد نيکه مو پلار سو | په خپل (هوز) اقرار سو
(حطي) د زهري ستوري سو د عفوی په بازار کې | وارحمنا يا الهی
د حق فضل و احسان سو | تکميل بزم کيان سو
تاريکه شپه زحل د هيولاصورت سهار کې | سلمنا يا الهی
اول چې زوی جلا سو | بيا پلار ځني پيدا سو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



دا نخښي د قدرت دي کـه څوک خان ورته بيدار کي — توکلـــــنا علــــى الله
شـرطين چي يې فکه سو — اول کـــور يې مکــه ســـو
د بـدر خونريـزي سـوه ديـثرب په چار کنار کي — وارحمـــــنا يـــا الهـــى
مريخ چي خان يتيم کي — تاثـير يې پــه اقلـيم کـــى
منزل د مشـتري سـعدالاکـبر دی پـه جـبار کي — ســــلمنا يـــا الهـــى
مـرفوع فـتور پـه فـور — جـــــواب د دور، دور
صـدی پـه صـدی نـوی مجدد خان ته تيار کي — توکلــــنا علـــــى الله
ښـکاره نـور لـه پردې سو — لمر لـيري لــه عقدې سو
دا نـور د مديـنې بـه تول جهان نور الانوار کي — وارحمـــــنا يـــا الهـــى
نجـوم له برجـندي څـه — طـالع يې لـــه تـندي څـه
معلوم کړه چي افق دي د کوم جز په انتظار کي — ســــلمنا يـــا الهـــى
اطلـس يې حکايـت وي — پخـــته کـــه کنايـــت وي
امـيد لـرو چي څورلس خان د فيضه څه سنگارکي — توکلـــــنا علـــــى الله
مشـــهور ابـــو ســـعيد دی — نويـــد يې د جـــاويد دی
مـوزون دی وتأثـير تـه د احمـد پـه گلعذار کي — و ارحمــــــنايا الهـــــى
کوچنـی چي پيدا کيږي — پـــه جفـــر معلومــــيږي
تاثـير يې وي اخيسـتی د عنصرو پـه کـردار کي — ســــلمنا يـــا الهـــى
طـالع چـي جـباري وي — هغـه فـيض الـباري وي
کـاف تکـی د مـيزان د دوشنبې سره هموار کی — توکلـــــنا علـــــى الله
که لام د ربيع وخت وي — تشويش د محاق سخت وي
اولاد يې بـايد نـوم فوزالکبـير خانـته اختيار کي — وارحمـــــنا يـــا الهـــى
جـــــزري مطالعــــه ده — د خــــير خاتمــــه ده

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



د فضـل پـه بـاران مـو دي الله گـل وگلـزار کـي — ســلمنا يــا الهــی
مـريض چـي نـا عـلاج سي — عـلاج يې پـه احتياج سي
نسـيم د عاجـزۍ سـرايت وکـی پـه گفـتار کـي — توکلــــنا علــــی الله
نــن ورځ د ظهـور شـپه ده — ياليتنـــــی تحفـــــه ده
هـرجار چـي لــه جـواره سـره نـوي انفجـار کـي — وارحمــــنا يــا الهــــی

Downloaded By: Afghan Salar Library



# نــور عربــي

پــه غلامــی دي پاچهــان وزي لــه ننگه
نـــور عربـــــي شـــــاه فرهـــــنگه

خلانــــده ســـتوري حســـن يـــثرب يې
امـــام د دوو قـــبلو لمـــر د مغـــرب يې
د مدثـر شـغلې ښـکاريږي سـتا لـه خـنگه
نـــور عربـــــي شـــــاه فرهـــــنگه

ســـتا ملاقـــات تـــه رؤف شـــتاب کـــړ
پـــه قـــم الليل يې درتـــه خطـــاب کـــړ
د مـزمل نـاره پېشـکش ده سـتا لـه رنگـه
نـــور عربـــــي شـــــاه فرهـــــنگه

صـــادق جـــبريل دي قاصـــد دراز وو
چـــي مـــدني ســـوې بخـــت د حجـــاز وو
پـاس پـر اوم طـبق بـالا دی سـتا پالـنگه
نـــور عربـــــي شـــــاه فرهـــــنگه

ســـتا پـــه نعليـــنو عـــرش مشـــرف شـــو
د مرحـــبا ږغ پـــر هـــر طـــرف ســـو
لبـيک لبـيک دی د عـبدالغفار آهـنگه
نـــور عربـــــي شـــــاه فرهـــــنگه

# صدر الانام

فخـــــر عــــــرب صـــــدرالانامـــــه
سـلام وصـلوة سـتا د زيـبا رخسـار پـيغام

ســــــتا د اوصـــــافو رقــــــم
کـــــړه ژبـــــه چـــــاک د قلـــــم
لـــــرې هيبـــــت ســـــنگين کلامـــــه
بـايلوی مـنات هغـه گټلـی نـاز اکـرام

ســـــتا د قـــــدوم پـــــه غـــــبار
کـــــوي کرســـــــی افـــــتخار
عــرش دي پــای بــوس دی د اقدامــه
فضـل و تحيات لـه تـا شـروع پـر تا تمام

پـــــنجاه پـــــه پـــــنج ســـــوه بـــــدل
پـــــنج پـــــه پـــــنجاه مکمـــــل
خـــــيرالامـــــت خـــــير الامامـــــه
وايـي سـماوات تاتـه تبريک محمود مقامه

بريالـــــی ســــــتا پـــــه گـــــريوان
لگـــــوم لاس د عصــــــيان
خـــــتم الرســـــول، رســـــل امامـــــه
بـزم مـناجات دي سـتا پـه نام وي اختتام

Downloaded By: Afghan Salar Library



# ما وليدی رښتيا

په تـوره نـيمه شـپه کـي به چا لمر ليدلی نه وي — مـــا ولـــيد بـــرملا
د زاغ بـه پـر وېـوه هـيڅا ګـذر ليدلـی نـه وي — مـــا ولـــيد بـــرملا

* * *

هـندو بـه چـا ليدلـی معتکف وي په محراب کي — سـکروټي پـه دريـاب کـي
لـيا سـتوري لــه آسـمانه رالوېدلـي پـه سراب کي — سپېږمی په ګل ګلاب کي
د سـروي څـه بـه چـا د سـبب ثمـر ليدلی نه وي — مـــا ولـــيد بـــرملا

* * *

پـه مـنځ کـي د روژې دی کوم سري اختر ليدلی — پـــر مـــخ د اوبـــو کلـــی
د سـپو بـه پـر زمـريانو چـا بـری وي اورېدلـی — اســـمان رانږېدلـــی
پـر غـاړه د نغـري بـه چـا سـفر ليدلـی نـه وي — مـــا ولـــيد بـــرملا

* * *

پـه کسر کـي د نيمي شپې څه مراد سياه کاکل دی — روښـانه لمـر چـارګل دی
زاغان يې توري زلفي وېوه سترګي يې مشعل دی — هـندو خال يې کجل دی
محراب يې دواړه وروځي شونډي سو راورمدلل دی — دريـاب د خولې منزل دی
د خـولې پـه شـان به چا هسي کوثر ليدلی نه وي — مـــا ولـــيدی رښـــتيا

* * *

ملغلـري لکـه سـتوري په امبل سراب ګرېوان دی — سپوږمی يې ژړ پېزوان دی
دهـن يې ګـل ګلاب سروه قد سبب زنخدان دی — روږه عيـــن هجـــران دی
اخـتر سـاعت د وصـل، اوبـه زېـری د خزانه دی — د زړه کلـــی لـــرزان دی
ژوندون يې اضطراب دی کې چا شرليدلی نه وي — مـــا ولـــيدی رښـــتيا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



رقیب دی عینې سپی،سره د بخته دی راغلی غالب را رسبدلی
عاشق لکه زمری اسمان یې بخت دی گرځېدلی نغری د غمو کلی
د اوبسکو په مزلو کې همېشه په سفر تللی تر کور نه دی وتلی
صحیح دغه مجاز کې چا دفتر لیدلی نه وي ما ولیدی رشتیا

* * *

یامراد له توري شپې څه اسمانونه زنگبار دی لمر پاک نبي سردار دی
په شپه کې د معراج ختلی پاس نورالانوار دی ثابت موږ ا اقرار دی
له زاغه څه شیطان، ډېوه ادم د تولو پلار دی قائل عبدالغفار دی
قیاس که حقیقت کې تا اثر لیدلی نه وي ما ولیدی رشتیا

* * *

# رمز جهان

آنکه شد روشن زنامش جرم خورشید فخر میکردند به نامش بزم جمشید
طاء طه حجت و برهان عصمت کاف لولاک شاهد اشهاد نعمت
حلقه کاخ و جود، کاخ کائنات است رمز ما رمز جهان درشش جهات است
جلب رویش کعبۀ ادراک ما است سلب خویش جبه اشراک ما است
گر بیادش شاغلم سرتاجرم گر زنا مش فارغم گرفا جرم

* * *

Downloaded By: Afghan Salar Library



# سخي جانه!

يـــم و تاتـــه پـــه ســـوال مهـــربانه     تـر نامـه دي سم جـار سخي جانـه

* * *

ترکســـتان دي مدفـــن و مـــزار دی     مـــنور پـــه تـــانورالانـــوار دی
تجـــلي دي د شـــمس دي تابانـــه     تـر نامـه دي سم جـار سخي جانـه

* * *

رب درکـړی لـوړ شـان و شوکت دی     گـل سـرخ دي هـر کـال برکت دی
کامیابـــي درخـــه وړي ســـائلانه     تـر نامـه دي سم جـار سخي جانـه

* * *

لـــو عطـــاء د احســـان دی رواجـــه     خســـروان دي د در دي محـــتاجه
لـــه نظـــره مـــو مـــه باســـه خوانـــه     تـر نامـه دي سم جـار سخي جانـه

* * *

راخـــه تولـــه جهـــان ســـو بـــېزاره     پـــناه د روړلـــه مـــا عـــبدالغفـــاره
لاس مـي مـه کـاږه ستا لـه گرېوانه     تـر نامـه دي سم جـار سخي جانـه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د بغداد پیر

کـه مـي پـه ښـه نظـر کـړې يـاده
سـم بـه آبـاد پـه مـراد پـیر د بغـداده

شـېرین ژونـدون مي عبث په ګناه تېر کی پـه ناداني مي وصیت داُ ستا د هېر کی
تمامـــــي عمـــــر مـــــي بـــــرباده
سـم بـه آبـاد پـه مـراد پـیر د بغـداده

سـختي خواري، مشکلات مي سوه په برخه لکـه اسـیا سـرګردان د غـم لـه څرخه
نصـــیب مـــي ســـو دورا لـــبلا ده
سـم بـه آبـاد پـه مـراد پـیر د بغـداده

کـه مـي عمـل د بـدی سره حساب سي ځینـي تصنیف بـه کـامل کـتاب سـي
ســـتا شـــفاعت مـــي تســـلا ده
سـم بـه آبـاد پـه مـراد پـیر د بغـداده

ستا د رحمـت پـه ګـرېوان یـم دامنګیره پـړی پـه غـاړه غـلام دي يـم امـیره
کـه پـه احسـان مـي کـړې دلشـاده
سـم بـه آبـاد پـه مـراد پـیر د بغـداده

ستا د چارچوب سګ سیاه عبدالغفار دی ته پر جهان مهربان لوی دي دربار دی
محـروم مـي مـه کـړې سـتا لـه دا ده
سـم بـه آبـاد پـه مـراد پـیر د بغـداده

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# یا امام رباني!

په دعا درته ولاړ یم یا امام رباني
قربان دي تر نامه سم مجدد الف ثاني

سرهند دي په مزار سره روضه ده د جنت د فیض و د رحمت
انور تر قمرینو سر سالاري حقاني
قربان دي تر نامه سم مجدد الف ثاني

مردار دي خپل منکر کړ د چوټي په قوت په زور د کرامت
نصیب سوه د کفارو ستا په دید مسلماني
قربان دي تر نامه سم مجدد الف ثاني

تاثیر دي د کوځې پر اورلگیت باندي عیان عجب دارالامان
عظمت لري بې شانه یې خلیل سبحاني
قربان دي تر نامه سم مجدد الف ثاني

چې مات مي له هیبته څه هډوکي سي د تن پر حال د ځکندن
اوس هم عبدالغفار کوي پر تبرو پښېماني
قربان دي تر نامه سم مجدد الف ثاني

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د شاه نقشبند صاحب پښتو شجره

شروع ښايي په نامه د هغه خدای
چي توانا دی د هر چا مشکل کشای

اول حمد د ذوالجلال والاکرام
بیا د رود پر روح د سید الانام

دا اسناد مجددي دي خان خبر کړه
لطایفي و اسرار په معطر کړه

سر حلقه دي خواجه شاه نقشبند
د ثقه څه په ثقه پوري پیوند

اول ګل د شجرې نور ساطع
ابن الشیخ سیدنا عبدالنافع

خلیفه دي د قدوهٔ کدني
شیخنا حضرت سید عبدالغني

ربنا زدفي حیا ته ضعافاً
واوصله لرضائک معافاً

وابقاه بالسلامة لدینا
و افاض برکاته علینا

شیخ الشیخ د معرفت جام ساقي
لوی آقا سیدنا عبدالباقي

خلیفه وو د سید محمد نور جان
وو هغه ماذون د شیخ ملا محمد جان

په بابک صاحب مشهور پر هر طرف
په مرقد یې کدنی دی مشرف

دی خلف د سید ابابکر صدیق وو
دده شیخ سید حسین صاحب وثیق وو

د ترنک میا نور محمد صاحب یې پیر وو
په عالم کي په اخند صاحب شهیر وو

چي یې بل کی د اخند صاحب څراغ
هغه میاهِ نور محمد وو دده باغ

همدغه رنګه یې شیخ صدر حمیم وو
هغه میا صاحب کاکړ عبدالحکیم وو

د اخند صاحب دوهم شیخ صمیم
میا صاحبِ کاکړي عبدالحکیم

چي د میا صاحب هلال سو ځني بدر
یو سید یو امتی وو هر یو صدر

اول شیخ یې سید لعل شرف وفور
خلیفه دده حضرت عبدالغفور

د هغه شیخ وو سعدي لاهوري
چي مأذون وو د آدم بنوري

دوهم شیخ یې و حافظ الله یار
خورنده سعدي یې پیر وو باوقار

تر هغه لوړ برخودار پهکري دی
خلیفه د یار محمدِ لاهوري دی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



خلیفــه وو یــار محمــدِ لاهــوري — د ســید خواجــه آدمِ بنــوري
د خواجــه صــاحب مرشــدِ ربــاني — دی امــامِ مجــدد الــف ثــاني
بیا خواجه باقي بالله درمکنـون دی — د خواجه امکنگي صاحب مـاذون دی
بیا حضرت محمد درویش زاهد عابـد وو — مجاز سوی د جناب محمد زاهـد وو
بیا خواجه عبیـدالله صـاحب احـرار — وو یعقــوب چرخــي نوربــاانوار
خلیفــه وو د عطــار عــلاء الــدین — وو مــاذون د نقشــبند بهــاء الــدین
میر کلال صاحب کـوزه کـړه پیمانـه — د بابــای سماســي پــه یارانــه
بیــا علــي رامتنــي عــالي جنــاب — د محمود فغنوي چـي شـو فیضیاب
بیا خواجه د یوګري صاحب فـایق دی — تر ده فوق غجدوان عبـدالخالق دی
بیا حضرت ابو یوسف همـداني دی — بـوعلی فارمـدي هـم لاثـاني دی
بیا حضـرت ابوالقاسـم ګرګـاني دی — خلیفــه د بوالحســن خرقــاني دی
بایزید هزار مرید خاوی یـې بسـطام دی — بیا جعفر صادق په صدق کي امـام دی
قاسم زوی د محمد ابن الصدیق دی — د ظـاهر و دبـاطن بحـر عمیـق دی
د فارس برکت جمع په سـلمان کـی — صحابي صاحب قدم دی په ایمان کي
بیا حضرت خیرالامت دی په تحقیق — د هجــرت رفیــق ابــوبکر صــدیق
بیــا ســید فخــر آدم خیرالبشــر دی — عربــــي، قریشــــي نورانــــور دی
اللهــــم ربنــــا صــــلی علیــــه — وســلم کــذا علــی مــن حوالیــه
هم دغـه رنګـه دده پـر تـول امـت — دی نــازل وي مرحمــت و برکــت
وســیله کړلــه وتاتــه دا اخیــار — یــا غفــاره ســتا بنــده عبــدالغفار
پــه شــرف ددغــو تولــو نــازولو — یا فیاضه ما فـایض کـړې پـه بخښـلو

پــه حرمــت د کــدني د خانقــاه
مــاقبول کــړې ســتا د رحــم پــر درګــاه

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## اسماء گرامي مشايخ وپيران سلسلهٔ طريقهٔ طيبهٔ عاليهٔ نقشبنديهٔ مجدديهٔ بنوريهٔ خانقاه بابک صاحب رحمه الله کدنی

افتتـاح بـه اسـم ذات ذوالجـلال
فـالق الاصـباح رحمـن لايـزال

بعد از تسبيح و حمد حق سبوح
صـدتحيه بـاد بـر روح فتـوح

بعـد از سـه واجبـات مشـتهر
نقشـبندم نامهـاء ايـن شـجر

ورد دايـم گرشـود اسمأشـان
حل مشكل بی شک است ايمأ شان

اولـين مـاذون بـدرلامـع اسـت
سـيد الاقـران عبـدالنافع اسـت

فخر اسلام نافع النـاس اسـت بـيش
شد مجاز از والـد ذی مجـد خـويش

بـاز دراكمـال از هـر پـيش پـيش
هسـت سجاده نشـين جـد خـويش

جـامع ظـاهر و بـاطن باهمـت
نورمجسوم خـوانم آن شـيخ الامـت

شـد غنـی و مغنـی از فضـل غنـی
قطـب سـرحد ميـر سـيد عبـدالغنی

دولـت جاويـد شـمع دوجهـان
كرد حاصل از مير سيد عبدالباقی جـان

هـم قريـب اخـوتش بـود همقـرين
مرشـد ارشـد واكمـل بـاليقين

او خليفـه بـود از بحـر صـفا
سـيد سـادات محمـد نـور آقـا

آن منـور نـور صـاحب امتيـاز
بـود از سـيد محمـدجان مجـاز

آنكه هست مَشهور به بابک صاحب او
اهـل دوران فيضـياب گشـتند ازو

مرشـد ماراسـت والـد أنجنـاب
از ابـابكر صـديق شـد بهريـاب

سـيد ابـابكر صـديق بـامراد
سيد حسين شاه صاحب او راكام داد

هم همـين سه شخص انـوارالبلاد
درنسـب هسـتند مسلسـل بـالولاد

سيد حسين صاحب خليفه بيشكی
بـود ازميـا نـور محمـد ترنكـی

شهرت اسمش اخند صـاحب بد ان
تانيايـد اشـتباه درميـان

همچنين شيخش درين نهج قـو يـم
هست حضرت خواجه ميا عبدالحكيم

آنكه شاهان كـرد درش را چـاكری
شـاه درمعنـی فقيـری كـاكری

راه اول آنكـه پيـرش باوقـار
بـود سـيد لعـل شـمس ننگرهـار

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



یافت آن شیخ ما هری و باهری　　ازجناب عبدالغفور پیشاوری
پیر اوبود سعدی لاهوری حضور　　گشت پر نور از سید آدم بنور
خواجه آدم یافت نور حقانی　　شد خلیفه از امام الف ثانی
الف ثانی گشت فائزمردراه　　در بقای خدمت باقی با لله
خواجه آمکنگی بود شیخ او　　محمد درویش بود درویش جو
پس محمد زاهد صاحب شرف　　از عبیدالله احرار شد خلف
حضرت یعقوب چرخی نور تافت　　وز علاء الدین عطار عطریافت
او خلیفه بود در رتبه بلند　　از حضور خواجه شاه نقشبند
آن بهاء الدین بلا گردان شناس　　آفتاب رانور داد از انعکاس
فوق او بود منبع فضل و کمال　　سید امجد امیر صاحب کلال
حضرت بابا سماسی باثمر　　آن علی رامتنی پیرش شمر
خواجه محمود انجیر فغنوی　　خواجه عارف ریوگری شد مولوی
باز شیخ غجدوانی فائق است　　اسم خاص محضش عبدالخالق است
پس ابو یوسف شهیر همدان　　بوعلی فارمدی بود فیض رسان
پس ابوالقاسم شریف گرگانی　　پس حضور ابوالحسن خرقانی
بعد ازو درشهر بسطامی فرید　　مظهرانوار حق ابایزید
اواجازت یافت از شیخ همام　　جعفر صادق ائمه را امام
حضرت قاسم شمر فائز و صال　　یافت از سلمان فارسی او کمال
نور اوشد تام از یار رفیق　　صدر امت شیخ ابابکر صدیق
شد خلیفه آن اتقی الاتقیأ　　از حضور نور فخر الانبیاء
قاسم اسرار امام القبلتین　　صاحب ناموس جدالحسنین
صلی الله برتو ختم المرسلین　　رحمة الله علیهم اجمعین
لایرد آنکه شد منظور هم　　ربنا اوصل الینا نورهم

راجی غفران وفضل کردگار
تاجرعصیان است عبدالغفار

• • •

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/　Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د بابک صاحب رحمة الله علیه مرثیه

ذوالجـلال ته چي منظور وي هغه کاندي   کـبریاء دی که څوک ژاړي که څوک خاندي

د اجـل غشـی خطـا پـر نښـان نـه خوري   یـو سـاعت نه وروسته کیږي او نه وړاندي

جهـان ټولـه پـه یـوه لحظـه یتـیم کـړي   ملائـک پـه تعـزیه کـي وهـي سـاندي

کـه هـرڅو د تسـلي مـېخونه ټینګ کړي   مجـبوري یې کـړي ورپرې د صبر مراندي

اسـمان ټولـه شـپه دودیـږي تـر سـهاره   سـره سـکروټه سـي سـهار تر مشرق لاندي

لـه لمـنې څـه لمـبه سـي تـر ګـرېوانه   ستوري توله کړي راتوی پر مخکه باندي

د (بـابک) په مرګ غمجن دی بل شی نه دی
دا شپې، ورځي چي یې سوې تاندي لباندي

* * *

(بـابک) ولاړی یتـیم پاتـه سـوم محـرومه
لا مـي ولـي زهـره نـه چـوي لـه ګـرومه

لمـر ختـی پـر کـندهار لـه کدنـی څـه
دا ګلشـن وو معطـر لـه پټونـی څـه
نـازېدی بـه د (سـید افغانـی) څـه

ګـل روان سـو ګلشـن پاتـه سـو محـرومه

هـر جهـت یې پـه انـوارو مـنور وو
پـر افـق د کدنـي ختلـی لمـر وو
هـر اقلـیم یې پـه اسـرار سـره مُسـر وو

Downloaded By: Afghan Salar Library



د آقاصــبغة [۱] الله د زړه لـــه خومـــه
مســـتقيم وو پـــر جـــاده د شـــريعت
ربانـــي ســـاقي وو غـــوث د طريقـــت
مســـتغرق وو پـــه دريـــاب د حقيقـــت
پـناه گـاه د هـر مظلـوم وو لـه ظلومـه
مفســـر، ومحـــدث د روايـــت وو
نکـته دانـه بـاريک بيـن د درايـت وو
پـه احکـامو کـي امـام د فقاهـت وو
نـامفهوم يې فهمولـه لـه مفهومـه
چـي بې سرو گـريوانه تـه مراقـب کـی
د عـرش بـام بې پـه انوارو کي غائب کی
سـعادت بې مشـتري تـه مصـاحب کـی
و حلـقې تـه بې تقسيم کړه د فيض شومه
توجــه يې د ســالک د شـپې څـراغ وو
رابطـه يې د عـرفان د گلـو بـاغ وو
د خطـر او وسوسـو څخـه فـراغ وو
د هـر چـا د پـټ مطلـب مـبوه معلومـه
ذوالجلالـه پـه شـرف سـتا د خاصـانو
پـــه ژړا د نـــازولو يتـــيمانو
پـــه ســـاړه آه د دربـــار د خادمـــانو
دې دربـار تـه رفعـت نـور ورکـړې قـيومه

(۱) صبغة الله (تقوا لله) يعني متقى الله.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



د عقبٰی پر لـور د حـق پـه مهمانـي ولاړ حاجـي سـيد المشـايخ عبدالغنـي ولاړ
سپينه ورخ د بخـت مـو سـوه توره تاريکه د مغـرب پـه سـفر لمـر د کدنـي ولاړ
ملائکـو اسـتر شـاد پـه دعـا غوښـتی اجابـت تـه يې مرشـد حقانـي ولاړ
پـه تعمير د فـيض يې کـړه مخکـه ابـاده اوس پـه عـزم د لحـد دودانـي ولاړ
نکير کوږ کچکول د سوال په لاس نيولی ډکـېدو تـه يې حـاتم افغانـي ولاړ
د مـنکر بـس افـتخار د تلمـذ دی چـې تعلـيم تـه يې عـالم ربانـي ولاړ
عزرائـيل و عليـين تـه لار پـيدا کـړه چـې دده روح يې ملگـری نورانـي ولاړ
په خلوت کي يې خلف د خير پرېښود دی د پـاک رب وخلـوت تـه پنهانـي ولاړ
(خيرالناس من ينفع الناس) يې جانشين کی دی سـلف و زخـيره جاودانـي ولاړ
جگر گوش يې کړ مرهم د مهجورانو مشفق يـار پر خدای سپارلی هجرانی ولاړ
لټوم پسي عبث د (هرات) لاري بنايسـته لمـر راخـه پورتـه اسماني ولاړ
د برزخ مصر يې جشن ورته جوړ کی نظـارې تـه يې يوسـف کنعانـي ولاړ
بختوري مخکي ستا دي مبارک سي د بخت ستوری دی وبرج ته کامراني ولاړ
ناز پرور دی چي آزار ځني وانه خلي ارام ورکـړه د سـفر پـه سـتوماني ولاړ
قدرمن دی په ادب ورسره ښوره! پـر موږ گران دی ستا ولاس ته ارزاني ولاړ
بېش قيمته خزانه دي خدای نصيب کړه شکر وايـه چـي ستا غېږ ته احساني ولاړ
ستا د خواست پلو يې ډک په خپل جسد کړ پـه معـراج د قدسـيانو روحانـي ولاړ
د (بابک) د جد په روی دي وا خالقه! تې حـافظ سـې سـتا حضور ته ارماني ولاړ
ذوالجلاله ته په خپله يې سېراب کړې سـتا ديـدن او ملاقـات تـه ارمانـي ولاړ
پر مرقد يې د رحمت گلونه شنه کړې لـه دنـيا څـه ستا پـه رحـم نښاني ولاړ
پر مزار يې د زعفران گلونه پاشو مقـتدا د شـبخېزانو زعفرانـي ولاړ

د افسـوس لاسـونه اوس وريـسي مـوږو
زمـوږ لـه لاس څخـه عـنقا په نادانـي ولاړ

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د قصې تفصیل

خبر راغی د (بابک) د انتقال — په هیبت سو منقلب د هر شي حال
د اسمان شونډي شنې سوې په چیچلو — هم د ستورو سترگي سپیني په ژړلو
مځکه کښېنستل گونگې حک حیرانه — مرغان ستخ سول په فریاد مرثیه خوانه
درختي رپ وهي سرې تبي کړې لاندي — اوبه سر په کانو ولي وهي ساندي
د ژوندو لاس په دعا سترگي الوتي — زړه بې حاله ستوني ډک ژبي یې تتي
بې له تندري لمر تاریک په ورځ کي شپه سوه — خوشحالي د زړله کوره څخه خفه سوه
لویه خدایه دا د خوب یو کیفیت سو — او که بې له خپله وخت څخه قیامت سو
هسي نه چي له تقدیره شکایت دی — بلکي صرف له واقعې څه حکایت دی
د قصې خلص مضمون واوره له ما نه — معنون څانته معلوم کړه له عنوانه

اشتیاق وهي ناري له هر طرفه — چي په حفظ یې سینه کړه مشرفه
د هرات پر لار یې قصد د ترکستان وو — له کابله پر غزني باندې دوران وو
زیارتونه د سفر ظاهر عنوان وو — په باطن وداع د ټول افغانستان وو
مبارک عزم یې ورکړه مشوره — د افغان د پاکي خاوري په دوره
(بابک) واخیستی له کور څخه رخصت — سوه شروع مقدمه د مصیبت
ورځ د پنجشنبې او وخت د مازیگر — د مغرب پر خوا احرام تړلی لمر
دبرش د حوت کاله ډکه کړې پیمانه وه — زر ودرې سوه او یو څلوېښت سنه وه
حاجت نسته نور حساب او جنترۍ ته — دغه شپه یې تشریف یووړ (سنزرۍ) ته
(ارغنداب) ته یې تقسیم کړ برکت — د (میوند) پر خوا یې وکي حرکت

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



شهیدان په سره کفن کې خندېدله
ببر تې مخ ټینګېدو، ته کړ راستون
لیکن حیف چې شاوخوا څوک خبر نه وه
بازاریان او سرداران ټول په هیبت غرق
آه زما نامراده بخته بخت دي تور وو
بې وفا سترګې بې آب وبې حیا
نابینا به دي د هغه سترګو توره
که هر څو سوځېږې ولټول مځکه
په بابو نې حیزو نه کړې ورته لاري
خبر د مخصوص ذي پاته وي پر خای
په تشریف د تیکرګد ته آماده سو
د دین دوست په دینداری کي وو فائق
مازیګر د ګرشک جامع خای د قیام
بس تر نه نحو واصل د (دلارام) سو
حرکت یې بیا شروع کړ په سبا کي
نه (فراه) څخه سو روان نور جسیم
نیمه شپه وخت د دعا و مناجات
د هرات پر اولیا وو لوی اختر وو
په شرف یې د قدوم او ملاقات
په نه شپو کې یې پوره کړ خپل مطلب
د هرات مشهور زیارت (خواجه غلطان)
چې پوره یې قیام ګاه کړه د هرات

د بابک د مخ انوار پر تویېدله
چار اطراف یې په نظر کړله ممنون
استقبال ته مشتاقان منتظر نه وه
بې لیدلو خیني تېر سو لکه برق
رابطه په کدني کي یار پر کور وو
چي یار نه ویني ړندي سئ نابینا
چي په شپه د شب قدر سي شبکوره
د کیمیا د ګل سایه سوه راخه ورکه
نه مې سترګي کړې پرلاري ورته خاوري
پر قصه باندي توفیق غواړو له خدای
د (شاهي جامع) د دید په اراده سو
د اسلام و مشاعرو ته شائق
په سفر یې مشغول وخت وو د مابنام
دلارام په دلارام کي دلارام سو
د ماپښین لمونځ یې ادا کړ په (فراه) کي
پر (شیندند) باندي یې خیر کي تقسیم
بجي دوولس وې داخل سو په (هرات)
چي مبلمه یې داسي شخص بختور وو
مشرف یې مړه ژوندي کړه د هرات
باوقار، طي مدارج کړه د ادب
کرامت وو د بابک سو ناغلطان
سوه شروع یې د مرض مقدمات

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



درد پیدا پـر چـپ طـرف سـو د خـېگر
ورخ د دوشـنبې غـرمه دوولـس بـجې
چې روان سو، لـه هـرات څخه حضرت
پـه زیـارت کـې د کـرخ صـاحب یقیـن
چـې یې وکـړ د کـرخ څخـه رفـتار
پـر پـاوکم اتـه بـجې سـبا روان
چـې (مـرغاب) ته رسېدی بجې دوه نیمي
پـه دغـه ځـای کـې یې واچـاوه بستر
تـر سـهاره یې سـینه تکورولـه
چـې سهار سـو جماعـت یې کـړ ادا
لېکـن پـټ مـتحمل وو د تکلـیف
چـې مـرض یې ترقـي وکـړه شـدت تـه
پـه ادب د حـق قاصـد و کـړ دعـوت
د تقدیـر پـه مېلمسـتیا سـره راضـي ولاړ
پـاک جسـد یې کـړ احسان قعـر زمیـن ته
چهارشـنبه دیـارلس د حمـل وخـت سهار
پاوبـالا شـپږ بـجې وخـت د مصیبت
دوځلوېښـت و دیـارلس سـوه وه سـنه
قمـري وه دیـارلس سـوه دواتـیا
پـه تذکـار یې د تـاریخ کـوي تعلـیم

پـه سـفر کـې دېـباجه سـوه د سـفر
لمـر د حمـل پـر یوولـس درجې
د (کـرخ بابـا) پـر لـور یې حرکـت
پـه تعدیـل یې کـړ ادا و خـت د ماپښین
سـو د شـپې (قلعـه نـو) ځـای د قـرار
تـزاید یې د مـرض وو آن پـه آن
مازیگـر ولاړ د (غورمـاچ شریف) تر سیمي
هـم دغـه آخـري شـپه وه د خطـر
وظـایف یې پـه تکلـیف اداکولـه
مراقـب پـه خـپل عـادت سـو د پخـوا
و مضـجع تـه یې واپـس راوړی تشـریف
عزرائـیل یې ځـان حاضر کی و خدمت ته
مطمئـن نفـس یې قـبول کـړ اجابـت
و خـپل رب تـه سـو راجع عبدمرضي ولاړ
شـریف روح یې عـروج وکـړ علیین تـه
لـه هیبـته رنـګ د ورځـې اصـفرار
اسـمان تـوی کـړ پـر عـالم باندي حسرت
(یاغفـران[1]) یې پـه ابجـد سـوه نمونـه
بـابک ولاړی.د اجـل پـه مېلمسـتیا
یـا واحـد[2] و یـا غنـي و یـا کـریم

(۱) یعني د ابجد په حساب ورځخه همدغه سنه جوړېږي ۱۳۴۲هـ ش.
(۲) یا واحد (۳۰) یا غني (۱۰۷) یا کریم (۲۱۸) او همدا راز د نوح نوم یعني عبدالغفار.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



یاد نوح له نامه زړه د نوح کړه لیري — د نوحي په سیلاب وړه د سترګو خیري
یادګار هم د تاریخ قمري — مستنبط که په حساب شجري
جیم د حاء څخه جیم دواوه که موضوع — جیم له هاء بې له الفه که موضوع
که راتلونکی[۳] کال ته غواړې نښاني — نسنګوه سید الناس عبدالغني
کاشکي پرېږدم پسله دې څه طوالت — هسي نه چي درته پېښ کړي ملالت
پنځه شپږ کسه اشراف د کندهار — د بابک سره ملګري وه پر لار
د (غورماچ) څخه یې وکړ حرکت — غرمه سو په (میمنه) کې اقامت
ترتیبات سوه د تغسیل و د تکفین — په تابوت یې کړ مصروف وخت د ماپښین
مغتسل په نېکبختی، ډکه پیاله کړه — (میمنه) یې میمونه په غساله کړه
چي شروع د میمني څه سو رفتار — بیا نه خوب وو نه فراغ و نه قرار
خدای دي ورکي رفقاوو ته جنت — په اخلاص یې (د بابک) وکی خدمت
و خلور شبانه روزه دا تکلیف — خو قدوم یې (کندهار) ته سو تشریف
استقبال وه منتظر نن و سبا ته — په سرو سترګو شول حاضر (ښارصفا) ته
په عیدګاه کي یې لمونځ وکړ سو ماپښین — خای د عید وو لېکن وخت یې وو غمګین
حکومت دي سر فراز کړي ذوالجلال — د بابک قدر یې وکړ په کمال
و بیدار نائب د وخت په شبقدر — قدردان د قدرمن پېژني قدر
که حق وایم حق بیني مي راته وایي — د دغسي چا خدمت دغسي ښايي
په وقار و په تعظیم و په عزت — په ادب یې و مدفن ته کړ رخصت
مبارک دي مسافر ته دا عزت وي — مبارک دي حکومت ته نجابت وي
ترقي دي د سلطان او سلطنت وي — بریالی افغانستان دي په رفعت وي

---

(۳) راتلونکی کال له قمري سنې څخه (۱۳۸۳) هـ ق کېږي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



د عـــیدگاه څـــه ډکـــېدلـه موټـــران — پـــر طـــرف د کدنـــي يې کـــړل روان
مازيګـــر د يکشـــنبې وخـــت د غـــروب — شپه د دوشـنبې چـي دفـن سـو محبوب
خـدای خبر چي بيا به رغ د (بابک) واورو — خـزانه وه راخـه لانـدي سـوه تـر خـاورو
پـر محـاذ د (ډبـرۍ) د ريـګ و خـوا تـه — د بـابک صاحب زيـارت معلـوم هر چا ته
د هغـه مشـرف خاى (خاک) يې نصيب سو — و خـپل پـلار بابک صاحب ته ور قريب سو
ذوالجلالـــه ســـتا د رحـــم پـــه بـــاران — ورتـــه تولـــه مقـــبره کـــړې ګلســـتان
مـــبارک دي دا مکـــان وي پـــر مکيـــن — پـــه جـــوار کـــي داَ زحـــم الراحميـــن
ســـو خلـــف د خانقـــاه جـــاده نشـــين — پـه قـوت و پـه سـن شـاب شـيخ د تلقيـن
د ظاهـــر و د باطـــن علـــم جـــامع — د بـــابک مشـــر فـــرزند (عبدالـــنافع)
هـــم کـــامل دی مکمـــل هـــم مؤيـــد — د خـپل پـلار سـره مـاذون دی مسـتند
تـر هغـو چـي وي (حاجـي آغـا) حـيات — رشـتيا داده چـي (بـابک) نـه دی وفـات
ترقـــــي وُ تـــــزايد د فيوضـــــاتو — سـره غـبرګ سـوه د ژونـدو او دامواتـو
پـــه نامـــه د الله بشـــه دی اختـــتام — پـــر قـــاري او ســـامعانو والســـلام

منـــتظر دی والطـــاف تـــه د جـــبار
حويقـــر خـــادم افقـــر عـــبدا لغفـــار

* * *

ابوالفـــيض اســـت از نـــزد تـــو طالـــب
دعـــاء غائـــبه در حـــق غائـــب

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# شیروشکر (مربع)

چې آشنا مې سو د عشق شور و شغب　　جـاء القـرح للفـؤاد مرتـب
رفـت از بـیمش مـداوای ادب　　کـیا سـورج پهـر نهیـن آتاهـی کـب

* * *

ناکامـي مـې سـوه لـه عمره سره سمه　　پـه اینـه کـي مـي زهره چوي لـه غمه
لا راځـه کـړې د فـراق درد والمـه　　الالسـت بالتـنکاء معـذب

* * *

حـوادث لکـه بـاران رابـاندي اوري　　د فتـنو غشـو هـدف کـړم لـه هر لوري
تـر سـینه مـي اوړه وزي پـوري ووري　　هـم دریـد ازمـا گریـبان طـرب

* * *

دا مي زړه دی په کوگل کي چي ویلیږي　　او که شم دی په فانوس کي پټ بلیږي
بـریالـیه دا گـردون کلـه خپلـیږي　　وه دکهـ دیتاهی چهوتی برتی کو سب

* * *

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د پښین پر اصطلاح

که په رشتیا یو څو خبري بـر مـلا سـي　　　خندا به دي پر راسي د پښین پـر اصـطلاح
پـــه شـــپه د غـــړو دوري دوري　　　کـــه زورور وي کـــه کمـــزوری
ابلکـــي ســـترګي ورتـــه ګـــوري

وهي حملې لـه ډېره شوقه په غوغـا سـي　　　خندا به دي پر راسي دَ پښین پـر اصـطلاح
کـــه دائـــرې تـــه غـــړي ورســـي　　　هغـــه ســاعت پـــر ده اختـــر ســـي
وطالبـــانو تـــه ببـــر ســـي

لکه چغال ته چي مرداره ورپیـدا سـي　　　خندا به دي پر راسي د پښین پـر اصـطلاح
کـــې څـــوک د مخـــه غـــړی کنبـــېږدي　　　دده چـــارخول بـــه ورتـــه ریـــږي
پـــه والله بـــالله کـــه یـــې پرېـــږدي

ملا به دعا کوي دده پر بسـم الله سـي　　　خندا به دي پر راسي د پښین پـر اصـطلاح
کـــه دي ګولـــه کـــړه خینـــي پورتـــه　　　دی ګـــدوي څـــان وســـره اورتـــه
وای څه حاجت دی شر و شـور تـه

لکه چي توري یې د سړو څه جلا سـي　　　خندا به دي پر راسي د پښین پـر اصـطلاح
کـــه دده نـــس پـــه غـــړي مـــوړ ســـي　　　دده هـــا ګـــرم څـــای پـــه ســـوړ ســـي
لـــه هـره درده څـه بـه جـوړ سـي

لا ډېر خوشال دی که بدل دین په دنیا سي　　　خندا به دي پر راسي د پښین پـر اصـطلاح
د مجمـې خنـګ تـه ناسـت وي غلـی　　　لکـــه غویـــو چـــي وي مرورلـــی
پـــر بربتـــو لاس تېـــر کـــړي نبـــاغلی

**عبدالغفار** ببربرم دواړي بې خطـا سـي　　　خندا به دي پر راسي د پښین پـر اصـطلاح

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د غماشو لـه لاسه شکایت

تـر مـرگ د مخـه جوړ سو و ما خوار ته گورستان
غماشـي نه دي وروره دا زما د صورت سوهان

د مخکـي پر مخ جوړ راته دوږخ سو د عذاب　　د اور بـرچې ورځخـه کوي واري د قصاب

الوتــي پــه هــوا دي وزر داره لــړمان
غماشـي نه دي وروره دا زما د صورت سوهان

خـبر له ځانه نه وم چي وخت د ماخُستن سو　　په غوږکي مي بونکی راباندي نوی څکندن سو

دا جـته کـه ډاکـتر کـه د غماشـو نشـتران
غماشـي نه دي وروره دا زما د صورت سوهان

ترلـی يې پـه شـا پوري د زهرو دی منگی　　طاقـت و آرام نه کيږي يوه شپه يې مرگی

د خـان پـه گـرولو يې را وايسـتل نوکـان
غماشـي نه دي وروره دا زما د صورت سوهان

بې ژبـي يې بونکـی وي نـېښ يې وي لکه نشتر　　نـه دم منـي سپين سترگي نه منتر لري اثر

پر ما عبدالغفار باندي يې اور کی (مرنجان)
غماشـي نه دي وروره دا زما د صورت سوهان

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د وطن ترانـه

مـوږ افغانـي عسـکر پـه سـر نـېزه بـازان يـو  ملـي زمـريان يـو
پـر ځـاى د جـنگ او د جګـړې پهلوانـان يـو  ملـي زمبريان يـو

*  *  *

د مـوزو ګـرزمو د اسـمان د مـخ رويبـند دى  ازاد مـو ژونـد دى
پـر ملاتړلـى پـه رشـتيا مـو کمربـند دى  يـاد مـو (مـيوند) دى
د خپلـي خـاوري پـه رشـتيا محافظـان يـو  ملـي زمـريان يـو

*  *  *

د شـجاعت پـه زور مـو لـيري اسـارت کـى  ورک مـو ذلـت کـى
د استقلال پـه لـوړ نښان مو ځـان اوچـت کى  پـراخ مـو طاقـت کى
د هـنـر غلـيم د رګ د ويـنو شـرابيان يـو  ملـي زمـريان يـو

*  *  *

پـلار او نـيکه مـو پـه غـيرت دى نـوم ګټلـى  هـر چـا منلـى
هـر مـؤرخ پـه توريالـي لقـب ليکلـى  د غـيرت ځلـى
مـوږ هـم پـه صـدق د هغـه نـيکه لمسيان يـو  ملـي زمـريان يـو

*  *  *

کـه د اجـل پـه نـېزه سر لـه مـوږه بـېل سـي  پـښې نـوى کـېل سي
د وطـن حـب مو د زړګـي لـه مـنځه ګـېل سي  تـن مـو غلبـېل سـي
سـر و مـال واړه پـر ښـندو قهـرمانان يـو  ملـي زمـريان يـو

*  *  *

افغـان لـه نـنګه بـرى وړى د مطلـب دى  غـيور لقـب دى
پر ګـران هـيواد مـو جانبازي دين و مذهب دى  دا مـو مشـرب دى
پـه وچ موټـه پـر هـر غښـتلي (بريالـيان) يـو  ملـي زمـريان يـو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# ملي بيرغ

واوره پښتونه غيرت ونګ کړه
بيرغ په وينو د دښمن رنګ کړه

د اسمان ستړګي بيا سوې خونکاري   بېرته ژوندۍ کړه د ميوند خاوري

پر وطن باندي د توري شرنګ کړه
بيرغ په وينو د دښمن رنګ کړه

غليمان راغله پر سرحد ښوري   ځان يې تيار کی و تاته ګوري

بسم الله وايه په رسوا جنګ کړه
بيرغ په وينو د دښمن رنګ کړه

پښتون مدام دی ميدان ګټلی   ځان يې په هر چا دی پېژندلی

ژر د مړانې خوری په ځنګ کړه
بيرغ په وينو د دښمن رنګ کړه

مخامخ جوړ ورته د هيبت صف کړه   د ښارګو ځه يې ويني غوړف کړه

ورځه په پاک وصاف د سينې زنګ کړه
بيرغ په وينو د دښمن رنګ کړه

وطن و موږ ته پرې اينبی پلار دی   تر سر ومال ورتېر عبدالغفار دی

عزت يې غواړه ځان يې ملنګ کړه
بيرغ په وينو د دښمن رنګ کړه

---

د يادوني وړ ده چې د "بريالي" صاحب نيکه محمد معشوق د ميوند د جنګ غازي او هلته شهيد شوی او ښخ دی.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# بې ځایه مېلمستیا

بې شـــکه ندامـــت ده د دنـــیا و د عقـــبا بې ځایـــه مېلمســـتیا
پوهـانو تـه معلومـه چـې هـیڅ نـه لـري معـنا بې ځایـه مېلمســـتیا

* * *

(والله لایحـــب المســـرفین) آیـــت ولولـــه مفهـوم یې یاد کړه ګله
لـو نوعـه د اسـراف کـه درمعلومـه ده پخـپله یـا زده یې کړه لـه بله
ښکاره په ناپوهـي بـه دي عـالم تـه کړي رسوا بې ځایـه مېلمســـتیا

* *

لږ دومره فکر وکړه چې دا ناست ستا پر سترخوان دي دوسـتان که دښمنان دي
رشـتیا په یکرنګۍ سره که دوی دي مخلصان دي خـوښ ولـي ستا په زیان دي
کـه دوست نه وي دښمن وي ولي وسي ستا لـه خوا بې ځایـه مېلمســـتیا

* * *

دغـه پیسې چـې سـتا خـه پر دودي سولې برباد مسکین کړه په زړه ښاد
یـا خـپله پـه نصیب کـړه خوشـبختي د اقتصـاد چـې کهول دي سي آباد
یـا راوړه هغـه شـی چـې د عـیال وي تمـنا بې ځایـه مېلمســـتیا

* * *

څښـتن چـې درعطـا کـړله وتاتـه نعمـتونه شـل رنګـه سـالنونه
لازم دی پـر تـا بـاندي پـه تصدیق سره حمدونه نعمـت غواړي شکرونه
پـر ځـای د تشـکر پـه تأسـف سـوې مبـتلا بې ځایـه مېلمســـتیا

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# سرابن سرې ته

نفس مخ تورى کړې خو واره په لعنت  لا دي وانه خيست له بدکاره عبرت
رقصوي دي پسر ميدان د ضلالت  تر بيزو يې لا بدتر کړې په ذلت

نه دده زړه در سرېږي
نه په تا کښي سته غيرت

شپه و ورځ دي يوه کړې په محنت  د دنيا چمبر په غاړه لکه جت
چي اشنا سوې د حرامو په لذت  خوله په وينو مردار خوره سګ صفت

نه دا حرص درته صبرېږي
نه په تا کښي سته غيرت

د طلب توره په څنګ ولاړ اوچت  په بل مخ يې تولوې ګرځې بې پت
تر قارون که څه هم زيات لرې دولت  لېکن سته دي په نصيب دا مشقت

نه اسمان پر تا نرېږي
نه په تا کښي سته غيرت

که دي زر خله په غوږ سي نصيحت  لا هنوز يې هغه ته هغه خصلت
يافاسد دی له ازله دي طينت  يا دي نسته په باطن کي مروت

نه مي خوله درته درېږي
نه په تا کښي سته غيرت

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د پسرلي ورمه

نسیم راوړ د شبنم د گیسو وړ — بیا به مور سي د گلابو په روغبړ
د گلاب پر گلابي مخ خوله راغله — خوړ بورا یې کړ په عطرو وزر غوړ
هر سبا یې استقبال نوی ژوندون دی — عندلیبه په چیغارو کوه خر

* * *

پنگی هم له کمیس څه نبکر جوړ کړ — شگوفه یې تر خوله وزي زړه یې سوړ کړ
د شنو پانو نکتایي یې پر څیگر ده — نوی کال سو د خزان کالر یې زوړ کړ
صبحدم شفاخانه بلبل مریض دی — هر زخمي یې د نگهت په تحفه موړ کړ

* * *

تر سنبله پوري یاد مي سو دلبر — د نرگس پیاله په لاس توپی پر سر
کاذبان ژبه تر ښت مرحبا وایي — لالي مخ په وینو پرېولی سور څیگر
نه تپسر کچکول په څنگ کي موتیا غواړي — مجلس گل ومخ ته و خیژاوه لمر

* * *

د زمبق برچه په لاس وای توریالی یم — چمبه گل په پانه پټ وای ننگیالي یم
بنفشې پالنگ پر مخکه غوړولي — پتوني اعلان کوي وای جنگیالی یم
چي شفق په انعکاس جریبند سوړ کړ — زما قلم په لوړ اواز ول بریالی یم

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# نن یو رنگ سبا بل

د دهــر آشــنایان ایــږدي چمونــه د مغــل نــن یــو رنــگ سـبا بــل
پـه پشـلا دي خـاروي، مخـامخ وي لکـه گـل نــن یــو رنــگ ســبابل

* * *

شـل مکـره پـه تمهـید درته رامخ کړي معلومداره د پــټ غــرض دپــاره
چـي نوم د صدق یاد سي، دی صادق هم باوقاره خــان بولــي وفــاداره
پــه زرلباســي ژبــي درتــه گــډ لکــه بلـبل نــن یــو رنــگ سـبا بــل

* * *

مطلـب چـي یې د سـره سـي واپس گرځـي پر شا نــه تــا کــړي نــه مــا
مـخ سـتا لــه لـوري گرځوي شوه هېر یې ما مضا دروا‌غ وه کــــه رشــــتیا
کـاږه پـه مانـي گـوري چـي تـېرېږي پـر بغـل نــن یــو رنــگ سـبا بــل

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# باطن يې د شيطان

ظاهــر تــه يې وګــوره قــيافه يې د انســان باطــن يې د شــيطان
لــه قالــه معلومــېږي بې معنــى خالــي عــنوان باطــن يې د شــيطان

* * *

عمــل او وظــيفه يې همېشــه وهــل د لافــنو د خپل خان د اوصافو
لغــړ مدنظــر يې نــوم وتــل دي پــر اطــرافو چــي سمه لــه اشرافو
اصلي خفــي مقصــد يې هــم شهرت دى پر جهان باطــن يې د شــيطان

* * *

لــه عملــه كــه يې وپوښــتې بــالكل پــه ناخبر دى شــجر بې ثمــر دى
چــي څــاى د امــتحان سي نو د صفر په لمبر دى تــر صفر لا بــد تر دى
تقلــيد يې لــوى هــنر، تــن نــه ړدي پــر آسمان باطــن يې د شــيطان

* * *

دوسـتي كي وي دوه رنګه كه څوك سي غزي وواښ وروبــه باســي غــاښ
د مــخ او د شــاتګ يې خــورا زده لكــه چــنګاښ ګــاه جــنګ كــړي ګاه بګاښ
غــوږ ژبــى وي ببخــي پيشــو بــازيو كــي طوفــان باطــن يې د شــيطان

* * *

پــه ورور پســي څــارو وي چــي كلــه بــه خطا سي لږ شک چي پر پيدا سي
پــه خپله وښــوېږي مســكن يې پــاى د څــاه سي تورمــخ نتــيجه راســي
آخــر توكــي پــر خــان، لا جــواب لكــه حــيوان باطــن يې د شــيطان

* * *

چــي څــوک تر ده څه لوړ وي د هغه سره حسيد سي په زړه كي لوى عقيد سي
افســوس يې پر حال مه كړه چي تر هر حريف نفيد سي دده په خيال سعيد سي
هــزار شــكرونه وايــي برابــر يې وي ســامان باطــن يې د شــيطان

* * *

"زخمي" د ها دښمن دى چي هر څوک كړي داسي كار او دا ډول روزګـــــار
پــه خــان يې خبرومه چــي بې څايــه كــړي ګفتار پــر بــدو كــړي تلــوار
د خــان اصلاح كې وكړه دى بې شكه نكته دان باطــن يې د شــيطان

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# نسته ارمان ولي

لمر دی لوېدلی توره شپه سوه پر جهان ولي — نسته ارمان ولي
په خوله د نفس و هوا — رشوت کړي ځانته روا
د خدای ترسی پر مسلک نه ځي حاکمان ولي — نسته ارمان ولي
لاندي تر پښو شرعیات — طمعه کوي د زکات
د خدای حق نه راوړي پر ژبه ملایان ولي — نسته ارمان ولي
د ساره توک په خیرات — غواړي جنت نعیمات
سپېرې شلومبې بولي پر خدای باندي احسان ولي — نسته ارمان ولي
ظاهر دي دوست کړي خپل ځان — پټ يې مطلب وي غیران
د زماني له کجرویه یم پرېشان ولي — نسته ارمان ولي
تش پر الفاظو گذر — په معنی نه وي خبر
د شاعری پر قانون نه ځي شاعران ولي — نسته ارمان ولي
عبدالغفاره انصاف — ببشکه صدر الا وصاف
د بل و عیب ته دي نظر، هېر دي کړ ځان ولي — نسته ارمان ولي

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# بیا ژر درځم وطنه

که خدای دا واري خلاص کړم د پردو لـه انجمنه بـیا ژر درځـم وطـنه
کـه سر مي را بهر کی گویا خلاص سوم لـه کشتنه بـیا ژر درځـم وطـنه

* * *

سپېرې غښي غونډۍ سپېره خټان په سپېرو دوړو فقـط لکـه د مـړو
مخلـوق يې پـه ډېلـه ژبـه وایـي اړو، اړو گویـا جنگ دی د اندړو
تـر دغـه ژوند مي خوښ د کندهار مرگ بې کفنه بـیا ژر درځـم وطـنه

* * *

نېکبخـته بخت مي دې ځای سکونت سره منحوس سو خوشنود حال مي معکوس سو
طـالع مـي شاهي باز وو په جوار کي د تپوس سو بـېکاره او خـړوس سو
ثانـي د نحسیت نـه لـري تـر چیـنه او چمـنه بـیا ژر درځـم وطـنه

* * *

بـازار او آبـادي يې لکـه ښـار د چغـالانـو مرکـز د پـېریانانو
هرگـز نـه دی لایـق د سـکونت د انسـانانو محـبس دی د دېـبانو
د کومـي خـوا نصـیب دلته دېـره کـړمه غمجـنه بـیا ژر درځـم وطـنه

* * *

چـي نوم دي را په زړه کړم پر هډو مي راسي تبه بې واکـه مـي سـي ژبه
پـه دار خوړند، خوړند خوښ یم نه تا کي بې موجبه د عقـل وحـس مخـربه
یـم هلـته بریالـی کـه تلـم لـه تـا اې مخـتورنه بـیا ژر درځـم وطـنه

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د يو نامراد ځلمي فرياد

خدايــه خــنګه بې کمالــه ســومه لــوی
هــيڅ مــي رانــه غی دماغ ته د حس بوی

دا ماغــزه چــي راخــراب کــړه — دا ســـبق د کـــوم اســـتاد وو
چــي د غــم پــه ډم يې ډوب کــړم — دا د کـــوم نـــاپوه ارشـــاد وو
چــي د عيش بـاغ يې راچـور کـړ — خـــنګه تـــېز د منـــي بـــاد وو
چـــي مـــي ســـترګي وې ړلـــي — دا جـــادو کـــه بـــل فســـاد وو

آه! دا ولـــي بې زړه ســـويه جفـــا کـــاره
دا خـو تـه وې بـل خـوک نه وو زما پلاره

زه پـــه ســـن د کوچنيوالـــي — يـــو هيـــنداره د عفـــت وم
لـــه خطـــاوو خـــه فارغـــه — معصـــوم ســـوی پـــه عصـــمت وم
فـــرق د ښـــو او بـــد مـــي نـــه وو — د هـــر ملـــه ســـره نصـــرت وم
صـــفايي مـــــي تجـــلا وه — بـــل خـــراغ د شـــش جهـــت وم

نـــو نهـال وم د قـــدرت نسيم شين کـــړی
ســـتا عـــدم تربـــيې کـــړمه نـــيمګړی

Downloaded By: Afghan Salar Library



چــــي راوونــــم کــــوځې تــــه تــا ایلــه کــړمه خـپل ســر تــه
بیا دي چـوړت نـه وو پـه مـا کـي کــه خــه تلمــه لــر او بــر تــه
دارزالــــو همنشــــین ســــوم لــوی باعــث د خــان ضــرر تــه
پــه نســـوارو يې عــادي کــړم نې کـــتله زمـــا خطـــر تـــه

مقـابل د دې چـي کـړلای بـه مـي درس
صـبحګي مـي وو پـه لاس چلـم و چـرس

چــــي مــــي اوس راپــــیادیږي خــي لــه سـره خــه مــي تـاو
د تاريــاکو يــو، يــو مــاش مــي د هفــــتې وزن ســــو پــــاو
پـه شـېږ خـط مـي ګـذاره سـوه هــم ســه خــر او چکــه پــاو
چي پـه لاس کـي بـه مي خه وه اوربــــدل مـــــي (ایدرجـــــاو)

هســــي وم د لاس آلــــه لکــــه زړوکــــی
هــی افسـوس دی هی افسوس چي وم وړوکی

کـه يـو خـه وخـت دي بابکـه خـه خـواري واي پـه مـا کښـلي
د ښــــووني شــــبريني دي زمـــا پـــه ژبـــه واي ښـلـــي
د تعلـــيم عـــرش، و کرســــي دي زمــا پــه ســترګو واي ليدلــي
زمــا د ذهــن پـر بــياض دي عرفانـــــي حـــــروف ليکلـــــي

اوس بـه ولـي مغمـوم پـروت ومـه نتلـی
د پوهنــــي لــــه مرکــــز څخــــه ترتلــــی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



زمـــا غوټـــۍ د اســـتعداد دي　　پـــه باطـــن کـــې راورســـته کـــړه
د بهـــار بـــاد يې ونـــه لـــيد　　پـــه خـــزان دي سربســـته کـــړه
د شخصـــي غـــرض پـــه حيـــث دي　　را مـــــروړلې او خســـــته کـــــړه
نـــور همزولـــي يـــاران ويـــنم　　چـــې خـــانونې گلدســـته کـــړه

اُف زمـــا آرزوگانـــې ربـــه څـــه ســـوې
د وجـــود پـــر ډگـــر څـــه چـــاري راوســـوې

کاشـــکي نـــه واى پـــيدا ســـوى　　زه غمجـــن پـــه دې دنـــيا کـــې
بـــــالکل نـــــه واى راوتلـــــى　　د ژونـــدون پـــه ســـبنما کـــې
نـــه لوبدلـــى واى پـــه جـــبر　　د تـــرخه عمـــر پـــه څـــاه کـــې
د فلـــک هجـــوم پـــرې نبنـــود　　د راحـــت تکـــى پـــه مـــا کـــې

واى دا څـنگه غمکـده کـې مـې گذر سو
د حـدث پـه تـبره تـبغ مي پرې ځيگر سو

توجـــــه ســـــتا زمـــــا مشـــــره　　زه پـه هـر بـاب کـې ناکـام کـړم
پـــــه بـــــازار د بې ننگـــــى دي　　پـــه يـــوه صـــدا لـــيلام کـــړم
د عصـــري ځلمـــيانو مـــخ تـــه　　معرفـــې دي پـــه بدنـــام کـــړم
نـــه يـــوه او بـــل خـــوا خـــوږي　　تســـــــلا او دل آرام کـــــــړم

نبـه دى اوس بـريالـى نـه سـوم پر ميدان
پـه قيامـت يې زمـا لاس سـتا يې گـرېوان

*　　*　　*

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/　Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# عناد

چـې اوســه مـه رغـېږه د غـزلو پـر ميدان
پـه سـمه نـه پوهېږې محضې رنګ دي د انسان

د ساز لـه شوقه ذوقه خبردار نه يې تپوسه
د عشق لـه انجمنه څه ګوښه ګرځه خروسه
يادم سه يا ولاړ سه ته يې سپک لکه سبوسه

په خوله کې دې فتنې دي فسادې يې تر شيطان

لـه دوارو خواوو ګډ يې لکه سپى د مسافرو
فقـط لکه چې اينبى دې بلغار وي د خبرو
دربـى ذی تر موږ تېر سي لکه ټک د بغل پرو

کـه خـوښ په آبدارې يې راته پرېږده دا ميدان

پـر خوله دې لاس درنيسه مه ګډېږه بې درکه
دا خـاى د ټوکـو نـه دى ورته مه ګوره په سپکه
مجلس به را خراب کړې خداى دې لاندې کړه تر مځکه

نـه ښايي پـه دې ځاى کې ستا په رنګه لچګان

کـه وسـاتې په غوږ کې د عبدالغفار وصيت
د خلګـو د ښـکنځلو بـه مدام يې سلامت
يو لږ ګرى تکيه سه که تکليف وي که زحمت

چـې وار دې د سُرنا سي زياتې وکاږه ارمان

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/71822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# گيله دي ده لـه ځانه څه

خـه گوښـه چغالـه د زمـريانو لـه ميدانه څه
اوس مـي لا خبر کړې بيا گيله دي ده لـه ځانه څه

رنـگ دي د شـکانه دی د بلـبل گفتار دي نه بولم
راز د شرمنـکۍ کـوې معلـوم يې مـار دي نه بولم
پښې دي ذ کوته دي د هوسۍ د ښکار دي نه بولم
انگـولې پـه کور کې ليري نه ځې لـه ديگدانه څه
اوس مـي لاخبر کړې بيا گيله دي ده لـه ځانه څه

ږغ دي لکـه ډول خـورا تـر ډېـره پوري تللی دی
نـس لـرې اجـوف لکـه کـدو مـنځ دي ختلی دی
خـوار سـې ټول عالم دي په عنوان خطا وتلی دی
گـرځې پړسـېدلی دماغـي ډک لـه سـامانه څـه
اوس مـي لا خبر کړې بيا گيله دي ده لـه ځان څه

نـه دي ده پـه وس پـوره هرگز گوندي لـه ما سره
نـه ښـايي سيالي د شـومانده بـم لـه بـورا سره
ستا پـه رنگـه زامـي وې لايقـي لـه سُرنا سـره
وزې نـنوزې ضـامن اخـلې لـه سترخوانه څـه
اوس مـي لا خبر کړې بيا گيله دي ده لـه ځان څه

تـا لکـه چـي نـه وم پېژندلـی زه عـبدالغفار
دا دي لا پـرده بولـم چـي کښته کړې د ځان بخار
اوس لا ښـه په آب يې زياتي ته لرې د ځان اختيار
ژبـه مي اور اخلي زړه مي وزي لـه خپل توان څه
اوس مـي لا خبر کړې بيا گيله دي ده لـه ځان څه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

# څلورمه برخه

## "غزلیات"

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

book:https://www.facebook.com/groups/182281287129768/

Downloaded By: Afghan Salar Library



# مطلب جاني

خمــار مــې د کلــو دی ســاقیا    یــوه مســته پــیمانه د مــیو را

مطلــب جانــي، مطلــب جانــي

په سـوال د مـيخانې مې تول عمر کی تمام    د زړه ثمـر مي ورکـی شکرانه د یوه جام
سـردار د میفروشـو حوالـۀ راکـړه پـرتا    یــوه مســته پــیمانه د مــیورا

مطلــب جانــي، مطلــب جانــي

چـې سـومه د شرابو د لقب په خـورک تور    زاهـد کـی را ته بل درسوایي پر لمن اور
ناچـاره بـه وروړمـه د مغـان پـیر ته پناه    یــوه مســته پــیمانه د مــیورا

مطلــب جانــي، مطلــب جانــي

چـې وزي مي لـه خولې څه فریادونه لکه نی    پر سر باندي مي پروت د میني کانی سل منی
هجـران يې را اغوسـتی دی لـباس د لبونیتا    یــوه مســته پــیمانه د مــیو را

مطلــب جانــي، مطلــب جانــي

که سم د غم په اور کي سپلنی عبدالغفار    یا نور جبر وستم وي گله ستا تر سر يې جار
دا واړه مـي قبول دی، قبول په لحاظ ستا    یــوه مســته پــیمانه د مــیو را

مطلــب جانــي، مطلــب جانــي

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# دا خوب که لېونتیا؟

د زلفو په تورات کې دي لیکلی دا مضمون　　چې ځان کړه را جلا
د وصل پر اسمان ختلی لمر د کاف ونون　　پیغام د مرحبا

* * *

د بخت په میخانه کې دي تحفې د خپل قسمت　　رسېږي په نوبت
تصویر جوړه قبله کړه په ځیگر کې د مجنون　　بېده مسته لیلا

* * *

د خولې قیامت مې وزي په لباس داوه وآه　　گرېوان سو حشرگاه
دماغ مې په جنت و په دوږخ سره گلگون　　د ازهر که کېمیا؟

* * *

د کفر په دفتر کې فیصلې دي د اسلام　　د ستخط سو انتقام
فرعون ځکه کنبېښودی پر ځان نوم د مفتون　　د مرگ په تمنا

* * *

ناري د الصلوة والسلام کړمه مجبور　　تشریف کړه را حضور
مدهوشه د ساقي پر لمن پروت سر په ځنگون　　دا خوب که لېونتیا

* * *

عبرت دی بریالیه پر هینداره د ادراک　　کاږه گوري افلاک
د عقل په بازار کې سودایي سو افلاطون　　علاج یې سو عنقا

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# ساقي!

ساقي که مي باقي پيمانه راکړې په خندا
تـرتابه رأس المـال د جلالـت کـړمه فـدا
حـريف يـم د شرابو وظـيفه مي ميخوري
نصـيب مي د رندانو پياله راکړه په قسمت
څښـم يې پـه نوبـت د مهـر پـه نسـبت
مطـرب دف و مـزمار وايـي پاخـه زاهـدا
مغـان پـر منـبر وختـي آذان د نشې وايي
بـاده پـه کټوري کي يې عامل کړ حفاظت
د جـام پـه لطافـت، تائـب کـي ندامـت
مدهوشـه نمدپوشـه له خـپل غـواړي ادا
نغـمې د ساز وبـاز لـه چنګه وزي په پردو
آهـنګ د بېرومي لـه ملکه ليري کړي ظلمت
د زيـر وبـم پـه بـت، د نـت پـه برکـت
مـنهار و ډفـک سوال و جواب بوله سرمدا
بېدرده څه خبر دی په احوال د شبخېزی
رسـوا بـه ولـي نـه وايې پتـن تـه ملامـت
چـي ګرځـي سـلامت، د سوز په کرامت
عبدالغفـاره حفـظ د تلقيـن کـړه ابـدا

# اوبنکي درياها

سـيمين تنه، ګلذقنه، مى دهنه، ژوند مي شو مشکل بې تا
اوبنـــکي درياهــــا
خولـه غنچه ګلاب لرې
لـب شـکر شـراب لـرې
شـاه د چيـنه، ما جبينه، نازنينه، ورک دي سي جهان تنها
اوبنـــکي درياهــــا
حـال مـي تر فرهاد بدتر
خـيزي مـي فـرياد بدتـر
زمـا حبيـبه، زمـا قريـبه، زمـا طبيبه، وکړه يو نظر پر ما
اوبنـــکي درياهــــا
زمـا د بدحالـى نـارې
سـتا پـه نظـر مسـخرې
ګـرخم ابـتر، چـاک مي خيګر، زخم خنجر، لاهنوز د غم بلوا
اوبنـــکي درياهــــا
مـا تـه د عـبدالغفار
حـال پـه لېونتوب اظهار
اى پـري جان، نوري جهان، سه مهربان پر عبدالغفار ګدا
اوبنـــکي درياهــــا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# سـاقـیا

ساز و سارنګ مي ببرته نوی کی خمار ساقیا

* * *

ســاه مــي راتولــه ســوه خــیګر تــه د خـــیګر دود وختـــــی ســــرته
نفـس مـي خـیژي پرپـیاله وکـړه تلـوار ساقیا

* * *

لاس پــــه شـــــرابو لــــرم دواړه وبــال دي تـول وي د شـیخ پـه غـاړه
پـه وازه خولــه وایمـه ستا یم منت بار ساقیا

* * *

د مـرګ پـه ورځ مـي پـه میو مـوړ کړه د خـم و خـوا تـه مـي لحـد جـوړ کړه
ساده کفـن مـي پـه شـرابو کـړه ګلـنار ساقیا

* * *

کـه نامـنظور سـم پـه درست جهان کي بریالـی لاس وهـم ستا پـه ګریوان کي
دوسـت و دښـمن مـي دي سي تولـه تر تا جار ساقیا

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# صفا مي

ساقي بـد مي احوال دی راکړه مي صفا
پـه شپه و ورځ مي سوال دی راکړه مي صفا

مطـرب و شـهباز وچـنګ وايـي مست مقام
وايي خيست د سروټ آهنګ زېر وبم تمام
تـال ودريـه سـاز و شرنګ وړي د زړه آرام
ورک مـي نـور مجـال دی راکړه مي صفا

زنـه دي د زرو جـام سـرې شونډې شرابه
عکـس دي د بې ولام ډېـر کـړلـه کـبابه
سپين تـندی کعبه رخام وروځې دي محرابه
شـين خـال دي بـلال دی راکړه مي صفا

ناســت درتـه پـه انـتظار واړه مـيخورانه
کلـه بـه سـي بـيا پـه وار صراحي خندانه
نصـيب وقسـمت اختيار غواړي درد کشانه
عجـب خمـاري کـال دي راکـړه مي صفا

پـروت يـم ناعلاج زبون، مرګ ته يم قريبه
راکـړه د وفـا معجـون زمـا د زړه طبيـبه
بهـر خـدا کـړه راسـتون رحـم پـر غريـبه
بـريالـی پايمـال دی راکـړه مـی صـفا

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# بې پروا يار

ياره بې پروا يې، ډېر ستم نما يې، څه تقصير زما

سـترگو مي پېيلی پر گرېوان امېل د اوښکو    ولـــي آخــر خــوښ د گـدايــانو پــه ژړا يې
لــب آب حــيات بــانو دي مصــری تــوري    نــه يمــه خــبر چــي ســر جــلاد که مسحا يې
طـوق د مرېي توب دي ورم په غاړه کي خوشحال يم    داغ بــه پر تندي کړم که راضي په دې سودا يې
آه زمــا پــر حــال ستا پــر بيدا د شېرينه ياره    زه پــر اور ســوځلی تــه لــه نازه په خندا يې

نــوم د بــريالــي وره پــه لقــب عــبدالعفاره
د اجـوش د محبـت دی چــي پر هر ميدان رسوابې

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# زیبا مخ

کــه مــخ زیــبا وویــنم بــیا
پــه لیونتــیا بــه ســمه گلــه مشــهور

کــــړمه تـــالا ســتم د تـنــرکو نســته پــر مــا کـــرم ذ تـــرکو
خـــنگه نصـــیب دی زمـــا چـــي مـــل رقیـــب دی زمـــا
ســترگي شــهلا کــړه را حضــور

* * *

کــه ستا جفــا وي ســل جدلــه زمـــــا ژړاوي مسلســـــــله
ســـم بـــه آخـــر طوفانـــي پـــه دې دریـــاب کنعانـــي
بهـــر خـــدا مـــه ســـه مســتور

* * *

مســـته راجامـــي بـــاده نوشـــه ورتـــه ولاړ يـــم نمدپوشـــه
خـــيرات د شـــوندو کـــړه بـــیا کـــړه پـــه اخـــلاص را عطـــا
پـــه دې غـــنا مـــي کـــړه مســرور

* * *

جـادو قـبا، پـه تـن مـي پـوري هجـر بـلا پـه زړه کـي ښـوري
عـــبدالغفـــار يـــم زبـــون د جدایـــي پـــه مضـــمون
نـــور د بلـــوا مـــه کـــړه مذکـــور

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# لب شراب، شراب

قبله حاجات رابه وري سوغات
لب شراب، شراب قندو نبات

شپه په انتظار پر لور د روببار
رابي وور صادق اخبار پر کاذب سهار
نفی په حجاب کي د اثبات
لب شراب، شراب قندو نبات

خي کنار، کنار پر لور د گلزار
اخلي په غمزو نگار غم د هر بیمار
شهدو شکر ناب، عجیب یې لذات
لب شراب، شراب قندو نبات

ډېر یې کړه شاهان په نظر د احسان
خضر دی د خپل دوران نه پرېږدي ارمان
زه یې کړم سېراب په آب حیات
لب شراب، شراب قندو نبات

کړم به تر قربان سرودل وجان
عبدالغفار دا تاوان خوښ لري پر ځان
پښېماني عذاب و تکلیفات
لب شراب، شراب قندو نبات

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# سر غواړي سوغات

د قسمت ومحکمې ته هجران راغی سر جلات(۱) راځه سر غواړي سوغات

* * *

د محنت پر میخانه نوشومه مستانه
د سرو وینو پیمانه د شرابو په بانه

* * *

د ازل ساقي راکړی د خپل بخته خه زکات راځه سر غواړي سوغات

* * *

د ګلریز په نامي و هر ګل ته سلامي
یم د وصل اسامي د جمشید جم جامي

* * *

یم کچکول په خنګ ملنګ پیاله د بنګو کړه خیرات راځه سر غواړي سوغات

* * *

یا رقیب کړه ترخان جار یا زما کړه سر په دار
یا ګربوان لکه انار کړه زما په خون خونبار

* * *

یا انعام کړه را اعطا شربتي لب قندونبات راځه سر غواړي سوغات

* * *

د عبدا لغفار غریب خونخوري سوله نصیب
چې دښمن یې سو طبیب سو، بې پره عندلیب

* * *

د زخمي خیګر ګفتار یې په قیمت سومنات راځه سر غواړي سوغات

* * *

(۱) د شعري ضرورت لـه امله د (د) پر ځای (ت) راغلې ده.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# مست

ستا د خال وخط معراج کړم هسي مست    چي مي عرش وفرش راځي په نظر پست

اشاره چې دي شروع په بشارت کړه    امتحان په مدرسه کي د الست

زما عشق تر اوده تبر په هغه دم سو    جادوگر چي د جفا منتر پر لوست

چي مي مي د سرو شونډانو د اياغ سو    د رندۍ په درمسال يم بت پرست

اسلحه د هدايت چي مي په لاس وي    پر دښمن د ضلالت يم زبردست

هدايت دي په نمره کي برياللی کړم

در بخښم په شکرانه کي نيست وهست

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# لونګ

بلبل که څه تاراج دی ګل نه دی ملامت
د مینې دا رواج دی ګل نه دی ملامت
ګلرنګ ودل سنګ حال زما تور فرنګ
لونګ و ګوهر په افلاکو خو شرنګ
جانان مي هسي تاج دی ګل نه دی ملامت
کتاب و محراب و ملا وراهد
تفسیر د ضمیر دی شباب یې شاهد
دفتر کې یې ګل خاج دی ګل نه دی ملامت
طالب وقانع د نګار پر مزار
ګل صنوبر د هجران پر انګار
ستم که یې مزاج دی ګل نه دی ملامت
ابتر واکسیر و تدبیر و تعبیر
اجل و کاجل مبتلا په تفسیر
پر سر د صنم تاج دی ګل نه دی ملامت
کوتر و آهو ښه پوهېږي په راز
ګستاخ و ګلناخ په نازیږي په ناز
که حال زما سراج دی ګل نه دی ملامت
عبدالغفار حال کې ظاهر پر دفتر
بریالی ننګیالی دی پر ښاخ د ثمر
دا ستا د مخ زجاج دی ګل نه دی ملامت

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د وصل لذت

ناصحه راته مه وایه نور چپ کچه گفتار
د وصل د شربتو په لذت یم خبردار

د زړه په خلوت گاه کې اعتکاف د صنم ښه دی
د خان لرم اختیار، خوک څه رالري کار
هر گز به دې په قول قبول نه کړمه انکار
د شهدو په قیمت مې رانیولی زهر مار

* * *

آواز د صراحي مې په مستي له حاله باسي
خان بولم بهره ور یم دم په دې منتر
د ږغ په شکرانه یې ورکومه مال وسر
حلقه په غاړه خوښ یمه د ترکو پر بازار

* * *

مسلک د مینوشی مې ازلي نصیب گټلی
د میني پر دکان ناچله صبروتوان
گلرخ مې په کاکل دې راتړلی دل وجان
عبث راته زاهد درس د تقوا کړي هر سهار

* * *

عزت او رياضت مې دربخښلی دی ناصحه!
چې سي پکښي تالا راضي په دې سودا
دې اور د بدنامی ته کړه عبدالغفار رها
ستا هر خواږه ویل مې پر سینه باندي پرهار

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# خمار

ساقي پاخه پاخه مطربان خمار
مى را آلود كړه په شرابو زما ګرېوان خمار

نيمه شپه د صراحي خګونه جوش وهي
د اُميد لمبې دماغ د هر مينوش وهي

ډک په ستورو ستورو دى اسمان خمار

پيالې سر په غېږ کي ايښى دى دغاب نسكور
پتنوس پروت پر وظيفه مست وخراب نسكور

يوه جام ته، جام ته دي مستان خمار

د ګلاس و مرحباته ژبه خنګ وهي
انتظار په تصور، بوزه وبنګ وهي

تقسيم جوړ كړه، جوړ كړه حريفان خِمار

د نشې په مملكت كي سترګي تاخت وهي
سر په دو، ورته ايږدي قسمت يې باخت وهي

خيګر سوخته، سوخته سو ميدان خمار

دا چي سو په يوه واري ټول جهان خمار
زه وته و بريالى واين و آن خمار

زما له خياله خياله، ساقي جان خمار

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# سیاه چشمان دي

نـازک مزاجه نـن دي بـیا کـاږه زلفان دي خمار    سیاه چشمان دي خمار
خونخواري سترګي دګل    لګـوي خـولې پـه منګل
مسـته ملالـه شـرابي سـرخي لـبان دي خمـار    سیاه چشـمان دي خمار
بوسـه د سـر پـه سـودا    بولمـــه مفـــته پنـسیدا
نسته پـروا کـه مي کشتن ته ستا مژګان دي خمار    سیاه چشـمان دي خمار
آزاري خـــال برابـــر    پـه نښـان اخلـي ځـيګر
د زړه و سـر تـه کـرول ابـرو کمـان دي خمـار    سیاه چشـمان دي خمار
سـاقي کـه وبش سو پر تا    بـريالـی نـه کـړې خطـا
سـترګي و ستوني ورسره د خولې کونجان دي خمار    سـیاه چشـمان دي خمار

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# تور

افسوس افسوس پشم د خط مخ د خوبانو کی تور
دې بې فایدې نالش ځیگر د بلبلانو کی تور
چیري دي زده کړه استادي تعلیم د ناز ونمط
خصلت د کبر دي پر ځان دی حصر کړی فقط
سیاهي مي واوښته پر سترگو ستا د عکس د خط
په تش نظر بسرې باطن زما د چشمانو کی تور
سپیني بورا ځان ښایسته کی د سکرو په زینت
مشک په ختن کي سوه ایرې لاندي تر قهر وهیبت
چي سي تاریک اسمان د شپې دا ستا دخط برکت
د ملنگی په نام لباس ورته زاغانو کی تور
چي د ځیگر کباب مي کښېښود ستا د سترگو پر اور
د صبر پیک مي پر واهه لمبې یې واخیستی زور
غنچې دود وکی د گیسو پر وطن جوړ شر وشور
بخار و توښ یې هم پوښ زما د مژگانو کی تور
گرم آهونه د واعظ و مخ ته کاږم په درد
چي ورته یاد کړم مخامخ د توبې کرد ونا کرد
چي تأثیر نه وورباندي وکی راته کښیني دلسرد
پر بریالي باندي یې زړه د واعظانو کی تور

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# منظور

ناعلاجـــه هـــې راتـــه فـــرار مـــنظور
دل سنګين جانـان نه کی دخدای پار منظور
سـودايي زړه د تـاوده ځيګر په کور کي پروت
لکـه وي ژونـدی هـد کـباب په اور کي پروت
لا تـــر څـــو بـــه هـــاوي دا آزار مـــنظور
چـې د وروځـو پـه بـرچو راتـه مـيلان وکـی
د ځـيګر وينـي مـې مځکـي تـه سېلان وکـی
د قســـمت واواســـرته کشـــتار مـــنظور
پـټ د مکـس پـه لـباس کـي تاج د فاج رواج
پـر خـپل ځـان کلمـه وايـي فرعونـي مـزاج
و خودبيـن تـه هـودي د ځـان سـينګار منظور
کـه ستا رسـم وي ستم پـر مسلمان بـاندي
يـا دي ظلـم نـذر کـړی وي پـر ځـان بـاندي
مـوږ تـــه نـــه ده هـــوا د کـــندهار مـــنظور
پـه مـيدان د مجـبورۍ کـي ګـنهګار بـندي
تـر پانسـی لانـدي د ژبـي پـه اقـرار بـندي
اوس و مـــرګ تـــه هـــو دی انـــتظار مـــنظور
مسـافره خـه خـپل آب دي په سکوت کي وړه
بـريالـيه بـېرته مـړی پـه تـابوت کـي وړه
دلـــته نـــه دی هـــا عـــبدالغفار مـــنظور

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# ای مسیحا

ای مسیحا راکړه دوا، شوندې اکسیر

* * *

زهــره دواء حزیــن لقــبه ورمــه وریــا د غــم شــغبه
ســینه کــباب لــرمه ځــیگر خونــاب لــرمه
لکـه بلـبل یمـه د گـل پـه زلفـو گـیر

* * *

جـام د صـهبا را عنایـت کـړه بهـر خـدا لـږ مرحمـت کـړه
دا گدایــي مــي نصــیب ورمــه منــت د طبیــب
طوبـا خلـیل مرشـد وکـیل د مغـان پیر

* * *

صـبر عـنقا ولاړی لـه لاسـه مشـکل کشـا جبیـبه راسـه
دوږخ د هجــر گــرم د زړه آهــن مــي نــرم
بې نـام و ننگ ورځم په جنگ د زمهریر

* * *

شـوخه شـهلا سـتم رواجـه کوثـر صـفا صـاحب خـراجه
دا خـــه د ظلـــم قـــانون چـي مـي سور اور سو ژوندون
چـا کـړ روا کشتن زمـا پـه کـوم تقصیر

* * *

انگشـت نمـا سم چهـره ضـفر ورم پــه رضـا د زهـد کفـر
خورســـنده عـــبدالغفار ددې محنـــت پـــه نـــثار
پـه شـپه د آج یمـه محـتاج د دسـتگیر

* * *

Downloaded By: Afghan Salar Library



# کمٔ یو دی؟[۱]

خنگه موږ غم دی د هجران عاشق يې وړی وخوړ
دا اوس خفقـان دی کـه دسل مرض مي سږی وخوړ
په ژړا ستخ سوم د خدای پار دی پخلا کم یو دی

* * *

زاهـد يې خايـه شـروع کـړی دی د صبر تلقيـن
د ملایکـو پـه روغـبږ ســي مـړي تـېر تـر ياســين
شـش کلـمې را بـاندي واپـه مـُلاکـمٔ يـو دی

* * *

دا اوس سر سام که لېونی يې که د خوبه يې گډ
دا مـردار کـړی ظاهـر بيـنو پـه شـرابو دی هـډ
مخکـه اسـمان دی نـاروا کـړه روا کـم يـو دی

* * *

مطـربه جـار دي سـم تر ږغ که دي مرجان وپيل
پـر بـريالـي بـاندي لگـيږي نـازک خـياله غـزل
چـي بلـبلان ورتـه گونگـيان سوه استا کم يو دی

* * *

(۱) د (کم) څخه مطلب (کوم) دی.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# جل وبل

یا دي خالونه پر رخسار اینبي قطار جل وبل زیب دي د رخسار جل وبل

* * *

جور دي ختن کی د زلفانو جور دي ختن کی د زلفانو
مستي غمزې دي د چشمانو مستي غمزې دي د چشمانو
تبغ په گردن د بلبلانو تبغ په گردن د بلبلانو
سره دي لبان سور دي زنخ لکه انار جل وبل

* * *

گرزې د قتل په اسبابه گرزې د قتل په اسبابه
که دي له ما خاطر خرابه که دي له ما خاطر خرابه
چې پر دوره کې د میونابه چې پر دوره کې د میونابه
وهر طرف ته نوي نوي کړې خمار جل وبل

* * *

پر تا مي دو کی نام وننگه پر تا مي دو کی نام و ننگه
که را معاف کړې پیاله بنگه که را معاف کړې پیاله بنگه
مرض مي سو نا سور پرنگه مرض مي سو ناسور پرنگه
خوی دي د باز، کاري کوگل په چم د ښکار جل وبل

* * *

ولي سم نه گورې د خیاله ولي سم نه گورې د خیاله
خان کره خبر زما له حاله خان کره خبر زما له حاله
بس کره آزار د زړو د لاله بس کره آزار د زړو د لاله
عبدالغفار دي سو په هجر کي سنگسار جل وبل

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# توري زلفي

پر سپين رخسار دي توري زلفي سنبل
زیب و زیبا زینت نښان دي د گل

درس د جفا وایي هر دم صنم جان
تعليم د عشق دي د حکمت پر میدان
اخلي هردم د خورو زړو امتحان
کتاب د هجر دي په څنگ د بلبل

خمار په لاس په نغمو اخلي قدم
سترگي صیاد لري سردار غنچه فم
دام ورسره لري شهباز پیچ وخم
د باز په رنگ اخلي کوگل په منگل

جانان چي خوښ لري منصب د جلات
ماهم پر لاس سر ورته ایښی سوغات
مال و سامان به لا هنوز کرم خیرات
که را زهیر کړي ځان زما په وژل

په عین هجر کي یې خیال د قربت
عبدالغفار یې دی ممنون د منت
لري په زهرو کي د شهدو لذت
خوښ يې دي خوښ د داسي زهرو څښل

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د ګل

که نصیب مي فرصت را کی پر بازار د ګل
ځان به سوی سپلنی کړم پر انګار د ګل
* * *
ساقي که ستا رضا ده، یو جام مي خونبها ده
د عمـرو عمـرو ددې سـودا ارمـان لـرم
روح مي ستا دی که ځای راکړې پر کنار د ګل
* * *
شراب دي په نوبت کړه، پیالې را مرحمت کړه
شـراب آب حـیات را، دل سـوزان لـرم
لا تـر کلـه بـه مـي وژنـي انـتظار د ګـل
* * *
ګلشن لره چي خمه، د یار د دید په طمعه
پـه تـش خیالـي کـتو یې د زړه تـوان لـرم
قـبلوم لکـه بـورا پـر سـینه خـار د ګـل
* * *
د عشـق پـه قـبلولو، لایـق یـم د وژلـو
لـه تهمـته یې غـنچه خاطـر پریشـان لـرم
د فـرح جلـوه مـي درومـي پـه انکـارّ د ګـل
* * *
عـبدالغفار پـه شـوق، وړم پـه غـاړه د غـم طـوق
پـاد عـرش پـر بـالایـي قـدم د ځـان لـرم
کـه مـي سـترګي سـولې روڼـي پـر دیـدار د ګل
* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# گل

وران مي د زړه ښار کی گل　　عمر مي په دار کی گل
رنگ په رنگه ناز د گل　　تېز د سترگو باز د گل
زړه راڅخه ښکار کی گل　　عمر مي په دار کی گل
دی لقب خونخور د گل　　زما په زړه کي کور د گل
تن مي لاله زار کی گل　　عمر مي په دار کی گل
مل مي دی په فکر گل　　خپل مي دی په ذکر گل
ځکه مي تکرار کی گل　　عمر مي په دار کی گل
عبدالغفار وايي گل　　تل په غزل ستايي گل
خوښ مي دا گفتار کی گل　　عمر مي په دار کی گل

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د گل احتیاج

عجیب عجیب د سرداری خیال و مزاج دی د گل
د کړو وروځو په خنجر کشتن رواج دی د گل
د سپین رخسار پر کعبه پاس د تورو زلفو غلاف
د مینوشـي لـباس احـرام بـاندي کومـه طـواف
نـن عـرفات راتـه هـرځه، سوال و خواستونه معاف
چـي پـر مجلس مي وي همدم دغه معراج دی د گل
جـام د قربـت سـو عنایـت پکښـي د وصل معجون
ضـمني جـواب پـه رمـوز وایـي د ادب په مضمون
چي بخت بیدار وي نوی عقل ځني اخلي مجنون
خمـار کـتل د هـر مـرض مـوزون علاج دی د گل
وایـي نکـتې عکـس د حـال مـي تولـوي پـه هـنر
سـوه بي اختـیاره راځـه توی د سینې لعل و گوهر
زاهـدهٔ! هـیڅ دي نصـیحت رابـاندي نه کړي اثر
پـوخ مـي د زړه پـر مملکت دغه خراج دی د گل
پـه چنبیلـي عطـرو افشـان معطـر بـاغ د کـاکل
پاشـي انـوار طـبق طـبق ورتـه خجـل دی سـنبل
تاثـیر و جـوش یې را باسـي تـر خولــه ساز وغزل
چـي سـو رسـوا عبدالغفار توله احتیاج دی د گل

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د عشق سفر

سـفر د عشـق پـر مسـلک    راتـــه نیولـــي فلـــک
د تهمـــــــت لاري دي    مشـــکلي چـــاري دي

* * *

د درد وغـــم پـــر مـــیدان    مې ورتسلیم کی خپلْ ځان
قاضـــي د عقـــل ســـومات    پـــه لاس د هجـــر جـــلات
تـــوري خونکـــاري دي

* * *

ســـــاقیا آبِ حـــــیات    را پـــیمایه کـــی بـــسوغات
پـه مـیخانه کـي سـور اور    خمـان خالـي دي نسـکور
پـــیالي خمـــاري دي

* * *

جـــنجال مذهـــب رقیـــبه    اې مدعــــــي طبیـــــبه
د کـم قاضـي پـه صـلاح    مـی درتـه خـون سـومباح
د قـــتل چـــاري دي

* * *

هغـــه جانـــان شـــکرلب    کـــه را روا کـــئ مطلـــب
سـم بـه د حـق پـر بـازار    بـــریالـــی عـــبدالغفار
د فـــریاد نـــارې دي

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د عشق مناجات

د گـرېوان پـه خلـوت مـناجات د عشـق

تـرخې آوښـکي انـاري سـوغات د عشـق

* * *

کـه مـي د سره سو مطلب د دلربا ددیدن    په ورځ د حشر به لـه جوشه کړمه څیري کفن

سـم پـه خـندا بـه روان    پـر لـور د هغـه جانـان    وای    وای    وای

چـي شـیدا سـر ورکـړي خـیرات د عشـق

* * *

زمـا مرگ و ژوند دي قربان سي تر یوه پیاله می    د بل تر سازوسروز مي خوښ ځپل ژړا وزگېروی

تـر پاچهـي یـم خوشـحال    کـه لا بدتـر مـي سي حال    هـــای هـــای هـــای

و مجـنون تـه معـراج خـرابات د عشــق

* * *

ورته سائل وم بادولې به مي خاوري پر سر    د درد و غم دولت يې راکی په کچکول د خیگر

د فقـــیري پـــه نظـــر    راتـــه جهـــان ســـیم وزر    وای    وای    وای

کـرم غنـي هغـه یـار پـه زکـات د عشـق

* * *

خـو کاله پېش مي لا په سترگو لیدی اور د هجران    خـو چـي آخـر پکښي قسمت کړمه کباب وبریان

زهـــر د لاســـه د گـــل    عـــبدالغفار تـــه عســـل    هـــای هـــای هـــای

پسـله مـرگه مـي لا ولـيد حـيات د عشـق

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# مدام

صـنم پـه سـودا د بـل چـا خـي مـدآم
رســوا مــي ژړا و غوغــا خــي مــدام
زلفــي کمــند يې ول ول پــر گــردن
جــام د لــباس ور ســره مــي بــدن
شــوخ کــبريا کــوي قــتل و کشــتن
عجـب پـه غضـب بې پـروا خـي مـدام
بلــيږي نــيران پــر ممــبر د هجــران
دود انـو يې شـين کـی گـريوان د اسمان
يـوازي پتــڼ پکښــي نــه ســوځي ځــان
سـل نـور پـر سـره اور پـه خندا خي مدام
چــي راغــی مـيدان تــه د مينــي خمــار
بلـبل کـی پـر دَو سـر و مـال پـه تلـوار
ناصــح نصــيحت کــي شـروع پـر کــنار
عبــث پـر عبــث يې ويــنا خــي مــدام
کـه وايــي زاهـد هـر څـه ويـل ملامـت
يـا نـور څـه لــه خانـه غمـاز پـه تهمـت
د عـبدالغفـار بـه خـراب نـه کـړي نيـت
پـر لــور د مـيحور بـرملا خــي مــدام

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# در څه ځم

ساقي شربت دهانه، خمار به درځه ځم
میخور آتش لبانه، آزار به درځه ځم

د سترګو پیاله مسته، خونکاره خون پرسته
ګذار یې زبردسته، پرما باندي پیوسته

دا واري يې درمانه، پرهار به درځه ځم
میخور آتش لبانه، آزار به دزځه ځم

سوزان یم لولپه، دا ستا په وظیفه
قیامت دی ورځ و شپه، د ژوند پیاله چپه

چاره مي دلې ګرانه، کنار به درځه ځم
میخور آتش لبانه، آزار به درځه ځم

راپېښ کې ستا دیدن، دا یې مرګه خکندن
پردېس مي روح وتن، درپرې به ږدم وطن

خوشنود اوسي سلطانه، فرار به درځه ځم
میخور آتش لبانه، آزار به درځه ځم

عبدالغفار هلاک، یم ابتر خیګر مي چاک
زخمي ضمیر يې واک، نوی غم کې مهر ولاک

سوخته ډک له ارمانه، انکار به درځه ځم
میخور آتش لبانه، آزار به درځه ځم

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د مينې تور

په تور د مينې يم بد نام نام
نوش د زهرو جام جام

خدايه مافرار کړې د بېدردو له وطنه     ليرې دا کميس کړې د تقوا زما له گردنه
زړه را پکښې وروست سو اوس مې بوی ځي له دهنه     مرگ راته منظور په بل وطن کې بې کفنه

په تور د مينې يم بد نام نام
نوش د زهرو جام جام

پروت يم هډ و پوست حلق مې سو تريخ له هره خونده     هيڅ مې حاصل نه کړه د واعظ له ساړه پنده
باز د ناکامۍ مې خيگر وکيښ له پيونده     بخت لاسونه سره کړه زما په وينو تر مړونده

په تور د مينې يم بد نام نام
نوش د زهرو جام جام

سر مې د سودا په پلمه زور وهي گرېوان ته     غوښې د خيگر مې مېلمستيا سوه وهجران ته
نـنوزم په مځکه او که وخېژم آسمان ته     څه چاري راوسوې حيران تللی يم و ځان ته

په تور د مينې يم بد نام نام
نوش د زهرو جام جام

و مې چاودی تريخی د اينې په لاله زار کې     سرې مې سوه خوړين وارېسه په انتظار کې
پاته سوه نور څه په برياليي عبدالغفار کې     دا د ځکندن شپه دي خدای ژر باندي سهار کې

په تور د مينې يم بد نام نام
نوش د زهرو جام جام

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# آه و فریاد

بخت پټ په مینه د یار مبتلا کړم
آه و فریاد په عالم کې رسوا کړم
مست چې د میو په خوند یم بې ځانه
دا وظیفه بولم د پیر مغانه
دېر سر افراز یم چې هجر گدا کړم
آه و فریاد په عالم کې رسوا کړم
تبغ د نظر چې په قهر نما کړي
غرق به په وینو لاله د صحرا کړي
تېز تېز کتو یې له ژونده جلا کړم
آه و فریاد په عالم کې رسوا کړم
خوښ یم که هر څومرې عشق سور انگار دی
خان چې په سوځم خپل مې اختیار دی
ولاړ سه زاهده تر څو به تقوا کړم
آه و فریاد په عالم کې رسوا کړم
پاڅه مطربه زېر، وبم وایه
عبدالغفار یم زړه مې دوه ځایه
تل د زړه خون لرم شور هر سبا کړم
آه و فریاد په عالم کې رسوا کړم

* * *

# د عشق معذور

نور مې معاف کړه شیخه معذور یم
دین و ایمان مې گرو په زلفانو

گراک د میو یم، وهم د میخانې اجاره
ناصحه تا لرې د خیره دلته یې چې کاره
په نیمه پوه سه سخت په ضرور یم
خوښ په تهمت کې د زاهدانو
د زني خط یې کړم تر ستر گو لاندې داسې بندې
لکه قاتل چې وې تړلی توپ ته مخ پر تندې
دا زه یوازې د مرگ تربور یم
راسره ژاړئ مسلمانانو
په لاس تسبیح په زړه کې پټ د یار د سترگو معبود
ظاهر پر شرعه برابر، په باطن گبر ویهود
هر څه چې کیږي ورته مجبور یم
خان راڅه تول کړئ پاکدامنانو
که شر له خانه څه رخصت کړم بریالی په پانسی
یا غر غره مې کړئ د یار د کړو زلفو رسی
راسره ښایې وروور د منصور یم
چې رابدنام نه سي نوم د مستانو

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# پیرمغان ته

ای پـــیر مغـــان، ســـمه دي قـــربان
یـــو جـــام د عـــرفان، راکـــړه پـــه احســـان

پوخ مي په هجران ځیګر، ژوند مي په عذاب
وایــــي د فـــراق منـــتر، مطـــرب وربـــاب
خواســت لـرم پـه مـال و سـر، پیمانه شراب

مســت کـړه پـه لـذت د صـراحي میفرستان

پـاس پـر سـپین رخسار لرې، توري زلفي دام
دېـر زړنـت سینګار لـرې، لمـر دي کی غلام
تـــل د ســـترګو ښـــکار لرې،کفـــر و اســـلام

پـروت درتـه سـوالي یـم لـږ پـر ما سه مهربان

خـــورم د پـروانه پـه رنـګ، ستا د هجـر اور
مینـه دي ناسـور فـرنګ، سـخت لـري پـېغور
ستا د سرو لـبانو بـنګ، غـوارې خون په پور

مـرګ و ژونـد مـي دواړه ستا په لاس دي دلستان

کښـې چـې ښووی تانګار، نوم د خان خونریز
پرېښـــود مـــا عـــبدالغفار توبـــه وپرهـــېز
دی پـه رسـوایي اظهـار، سـتا د مـخ ګلرېز

خــود بـه لیونــی درپسـې ګـرځم سـرګردان

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# ډېر دي نوکران

کـج زلفي ماران لرې، لب لعل و مرجان لرې
حکـم د سـلطان لـرې ډېـر دي نوکـران

کـړم دي پـه هجـران زهـیر    ګـرځمه زخمـي ضـمیر
سـتا پـه ګیسـو یـم اسـیر    سـتا و در تـه یـم فقـیر
لـوړ عـزت وشـان لرې، زړې د احسان لرې
حکـم د سـلطان لـرې ډېـر دي نوکـران

سـتا کـاږه مـژګان خدنـګ    را یې وړ اخـبار د جـنګ
بـوږ پـه خـپلو ویـنو رنـګ    سـوځم د پتـڼ پـه رنـګ
ولـي مـي سوزان لرې، جبر خوښ د ځان لرې
حکـم د سـلطان لـرې ډېـر دي نوکـران

ومـي کـیښ فـراق نفـس    سـو مـي نـیمه خـوا هـوس
ځـای مـي سـو دغـم قفـس    ورک مـي سـو آرام ووس
څنګ ته غمازان لرې،زما د مرګ فرمان لرې
حکـم د سـلطان لـرې ډېـر دي نوکـران

زمـا عـبدالغفار غریـب    سِـل د جدایـي نصـیب
تـه مـي یې د رنـځ طبیـب    نـه لـرم تـر تـا قریـب
زمـا د زړه درمـان لـرې، نوم د مهربان لرې
حکـم د سـلطان لـرې ډېـر دي نوکـران

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د پغمان سېب

عطــرو وگــلاب غــنچه گــل زنخـــدان
شـــهد و شـــراب شـــکر ســـېب د پغمـــان

شــونډي دي کــړې نــوي نــوي مــېوې
د کـــابل جشـــن دي د ســـترګو ډېـــوې
د زلفــو دام دي کـــړي مکـــر و شـــېوې
شـــهد و شـــرابو شـــکر ســـېب د پغمـــان

چـي دي چـارګل سـي د کـاکل پـه اتاک
ورتـه خجـل سـي نـور د شـمس الافلاک
د خـوار بلـبل سـي زياتـي تـېره تـرواک
شـــهد و شـــراب شـــکر ســـېب د پغمـــان

درملامــــت يـــم د يـــارۍ پـــه ســـبب
چـــي لېونـــی نـــه ســـومه ســـتا پـــه طلـــب
ياولـــي نـــه ســـوم د منصـــور پـــه مذهـــب
شـــهد و شـــراب شـــکر ســـېب د پغمـــا

کـــه نـــه کـــړي بـــس عـــبدالغفار گفـــتگوی
پـــه محکمـــه کـــي د انصـــاف جســـتجوی
ســـي پـــه ســـزا بـــه بـــند پـــر بـــند ســـره توی
شـــهد و شـــراب شـــکر ســـېب د پغمـــان

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# ستا تجلي

وارِه لطيفې مي د بل ذکره څـه کمـزوري سـوې    ستا تجلې خپوري سـوې

* * *

سـتا مينـه مشـرب زمـا    مهـر دي مطلـب زمـا

* * *

ترک د وهم راغې د جفا حلقـې مستوري سـوې    ستا تجلې خپوري سـوې

* * *

خوف مي د فـردا وخـوړ    هجـر مـي رجـا وخـوړ

* * *

شپه ده په برزخ کې که د قهر جامې توري سـوې    ستا تجلې خپوري سـوې

* * *

خوش نسيم خبـر د يـار    کـې نثـار پـر هـر ديـار

* * *

حوري په فردوس کي ستا لـه شوق څه سرتوري سوې    ستا تجلې خپوري سـوې

* * *

مـا عبـدالغفار سـبق    واخيســـت د ازل ورق

* * *

کام د بريالی دی ترانې يې پـر هـز لـوري سـوې    ستا تجلې خپوري سـوې

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# های های

یار که رشتیا وي پر ما مهربان لږ دي پر لار کړي دا خپل رقیبان
های های، وای، وای

لکه چي زه خورم د خان خیگرخون بل به د چا دا سي تريخ وي ژوندون
راسره تل غماز مشت وگرېوان لږ دي پر لار کړي دا خپل رقیبان
حضرت مقامه، لب غنچه فامه
شکر کلامه زیب وزیبا

لکه لاله په خپل خون یم خونبار دا مي اخیستی له چا خه آزار
لا ولي نه مرم یم خانته حیران لږ دي پر لار کړي دا خپل رقیبان
له کومه لوري، راباندي اوري
دیدني نوري، صد، واویلا

لکه آسمان توله شپه یم بیدار لکه شفق مخ مي ژیړ سي سهار
سرې سترگي موږم له خوبه پرېشان لږ دي پر لار کړي دا خپل رقیبان
دا ستا لپاره، لمرمخي یاره!
له انتظاره، دا حال زما

مور د فراق په شیدو کرمه لوی په هډو پوست مي سو غم خوی و بوی
بریالی ورور سکنی د هجران
لږ دي پر لار کړي دا خپل رقیبان

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# خواږه او شيدې

| | |
|---|---|
| ترتا قربان مې دل وجان | پيکرپري سالار من |
| تحفه نسيم بادصبا | راوړ شميم پر لور زما |
| وفاى توشفاى من | سروري سالار من |
| مخ دې کعبه زلفې غلاف | احرام جبه کوم طواف |
| څه جنايت صادر له ما | سر مې هديه باداِر من |
| مست يې په بنګ زما د خون | کوي آهنګ د غم جنون |
| وايم هنوز دا مرحبا | جفاى تو اسرار من |
| نور و حجاب د خودستاى | سلب وايجاب سره يو ځاى |

جذراصم[1] بريالى بيا
وايي عبدالغفار من

* * *

(۱) جذر اصم د حساب د فن يوه ستونزمنه مسئله ده.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# کباب

د گـل پـه مینـه مـي بایللـی دل وجانـه
سـوځلی یـم هجـرانه، کـباب مـي انـدرون

تل فریادي هی هی لرمه، د زړه قطرې درپسې خورمه آخـر بـه ستا لـه غمه مرمه

بد مي احوال دی یم لـه ژونده څه پرېشانه
سوځلی یم هجـرانه، کـباب مـي انـدرون

لکه وحشي مخ پر صحرا یم، ورک لـه عالمه څه جلا یم لـه بلـه فکـره څه تنها یم

لکـه ققـنس لـه خپله جوشـه یم سـوزانه
سوځلی یـم هجـرانه، کـباب مـي انـدرون

حرم د زلفو دي حضار کړم، کاکل لـه نازه سر په دار کړم په رقیبانو دي سنگسار کړم

پـه دېـر تهمـت مـي د خاطـر خونـه ویـرانه
سـوځلی یـم هجـرانه، کـباب مـي انـدرون

دا زمـا نصـیب کـه ستا جفا ده، چي شپه و ورځ مي واویلا ده زمـا ژړا سـتا اسـتغنا ده

عـبدالغفار لـه خـپله بخـته یـم گـریانه
سـوځلی یـم هجـرانه، کـباب مـي انـدرون

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د زلفو ارمان

نامراد صیادیم کښې ایستلی په زندان د زلفو
کړی په غاړه یې کړم گډ په کفرستان د زلفو

که مې اغیار په ظلم وترټې په درکې د یار    په سل افسوسه به کړم توی ورته د اوښکو خونبار
په ناچارې به کړم اخته لاس په گریوان د زلفو

دا پرېشانې د ښکندن ده که د هجر جنجال    چې بې اختیاره راځه ولاړی د طاقت رأس المال
عقل و جدان دې دلبر وړی په تاوان د زلفو

سراسر عمر مې کی تېر د خیگرخون په خورک    لکه انار په خوله خندان لړمون په سرو وینو ډک
صبر و آرام دی راځه تللی پر دکان د زلفو

**عبدالغفار** یم راځه مه غواړه بل کار بې ژړا    ډېر سره لیرې خرابات وریاضت وتقوا
چاودلی زړه به وړم لحد ته په ارمان د زلفو

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/    Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د سترګو تيغ

راتول سئ مطربانو، صحبت دی د يارانو
په داسي شپه روا دی غيبت د رقيبانو
تقسيم په ميخانه کي، کړيی دی د پيالو     مينوش په مستانه کي خمار دی د کلو
ګام غټ کئ خمارا نو، ست مه غواړئ مستانو
ساقي خپل زما وستا دی او موړ يو د ساقيانو
په شوق د ميخانې مې خمير دی جداي اخبلی     عزت د زمانې مي زاهد ته وربخبلی
مور ابنسی يم شيخانو دروړ د ګلرخانو
قبول په خوښه زما دی وصيت د حقدارانو
کافر که مسلمان يم ستا څه کار دی ملا     هر څه چي يم د څان يم زړه مه سوځه پرما
ناحقه شاهدانو بدمه وړئ بدګمانو
اوس وخت سوی پر چا دی اثر د واعظانو
د قتل پر ميدان يې لاسونه راتړلي     مارنګه بريالیان يې شل نور دلته خوړلي
تر مخ د دوو زمريانو يم بند په ځنځيرانو
د سترګو تيغ رسا دی په پيچ کي د زلفانو

# ګلستان

مخ د حجابه راڅرګند کره ماهتابه
شمس و قمر قمر لب شراب شرابه
صادق سهار دی ستوري ځليږي     نري شمال دی ګلان غوړيږي
پر ګلستان بلبل شبخيز وهي بدخوابه
په الوداع د ساقي جام سو     د ساز و باز مجلس تمام سو
شمع سوزانه د پتنګ له اضطرابه
که په ديدار مي مشرف کړي     غم به له ما څه برطرف کړي
آخر احسان دی سر افراز مي کره جنابه
چي يې په سوال درته ګفتار وو     دغه ګدا عبدالغفار وو
مست و مستانه درڅه ولاړی بې جوابه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# سمندر

سـینه مـي سمندر دی طاقت کوي سره اور ته
یـا لعـلِ قلـندر دی طاقـت کـوي سـره اور ته

شـــگفته گـــل گشـــته بلـــبل مســـتان فرســـته
آهســـته ســـوه بســـته محکمـــه ســـوه دلبســـته
مــــلاو زاهـــــد مــــیخانه شـــــباب گشــــته
یـا زړه مـي کور و کر دی، طاقت کوي سره اورته
معمـــور یـــم د عشـــق راکـــړه جـام شـــرابي
طالـــب وطلـــب دواړه ســـول زهـــر آبـــي
مطـــــرب و شـــــهباز کـــــوي ږغ نوابـــــي
گـرېوان په اوښکو تر دی، طاقت کوي سره اورته
ســـلطان د جهـــان زه غـــلام یـــم د مینـــي
ســرباز و جانــباز یــم کــه خــورم د زړه وینــي
صـــراحي وکوثـــر پـــر طـــرف درنگینـــي
پـه مینـه کـي ابتر دی، طاقت کوي سره اورته
عـــبدالغفـــار وایـــي شـــعرونه د ځانـــه
اذن و مـــؤذن ســـوه پـــر خـــنگ ســـتا روانـــه
نونکـــــته، آشـــــفته عاشـــــقي ســـــرگردانه
د یـار خواتې نظر دی، طاقت کوي سره اورته

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د ژوند ډېوه

سباقي شربت لذتـه، سـردار دولايـته

یم پروت بر پتاري تر خوله مي خگ وزي لـه جوشه    پـياله راكـه مدهوشـه

غمـزه فتـنه انگـېزه، شـفق رنگه خونرېزه

الماس خنجر په لاس اعلان د جنگ په مناره کي    حملـه پـه کـناره کـي

د زهـرو جـام پـه لاس کي، د قتل په لباس کي

سرې سترگي آتشي راخي ميدان ته سرخي پوشه    پـياله راكـه مدهوشـه

د ازهر مي علاج دی، که ستا عطا رواج دی

خبر مي پـه علاج يې حال مي سو موت القريبه    اختـيار لـرې طبيـبه

کـه مړ دي سم په درکي، د هجر په بستر کي

د افخـر بـه مـي كـړي تكـليف د قـبر فراموشـه    پـياله راكـه مدهوشـه

عجيب عكسي تاثير دی، چي قتل مي اكسير دی

پـه لمـر د محبـت مـي سوه د ژوند ډېوه شبگيره    راضـي كشـتن پذيـره

دا سوال کـه مـي منظور سي، جلاد مي را حضور سي

او مـا كـي د ژونـد لــه كـار، وبـاره سبكدوشـه    پـياله راكـه مدهوشـه

نــواب د پېښــوره، د صــدر مهاجــره

دا اور د خـپلو سـترگو تـه لـر وركـړه هدايـته    زمـا لــه شــكايته

توبه به مي سي ماته، سرحد به سي درپاته

غربـت دې كـه غريـب عـبدالغفار وي هم آغوشه    پـياله راكـه مدهوشـه

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د مژګانو جنګ

نن بیا دي د چشمانو د زړو خریدازي ده — پیاله دي د لبانو عجبه خماري ده
محال دی راته تېز، وصیتونه د پرهېز — معذور یم ناصحانو راپېښه ناچاري ده
یا ګل دی د سمن، یا مشک دی د ختن — دکان دی د زلفانو د عطرو عطاري ده
هی هی دی د وژلو، اسباب د قتلولو — پیرې دي د مژګانو و جنګ ته تیاري ده
عبدالغفار یم تور، ستا د عشق په شر، وشور — سینه مې د عینینو په وینو اناري ده

* * *

# د ملایانو پېغور

تروس مې تېره ده تقوا نوره
مسلک د مینې اموخته کړم شراب خوره

کوم احتیاج د مینوش — کې کړم په میو مدهوش
ورته ملنګ سبکدوش — هردم و غم فراموش
خوښ تر شاهي یم د ډیلي و د لاهوره

د خماریانو مذهب — مې دی ګتلی منصب
زاهده څه دي مطلب — چې دي مدام دی غضب
آخر به سې زما له آزاره څه شبکوره

د میخانې پرګذر — مې ورته اینښی بستر
خم د قسمت په سفر — لاس به وانه خلم مګر
مګر په مرګ مي سوه د ژوند پیاله نسکوره

یم په بېلتون ګرفتار — ولاړی د عقل اسرار
ثابت برهان کی تیار — په تصویر عبدالغفار
خان مي کی خلاص د ملایانو له پېغوره

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# پانسی

ای ګـل نوابـه تـن مـي سنګسـار کـړه
مجـرم د عشـق يـم سـر مـي پـه دار کـړه

* * *

د ناکامـی تـر ژونـدون خـوښ يم د مرګ پر بستر د بدنامـی په خنجر سل ځايه څيري ځيګر

د اجــل زهــری زمــا پــه وار کــړه
مجـرم د عشـق يـم سـر مـي په دار کړه

جــام د زقــوم راکــوي طبيــب زمــا دی کيمـيا د زهــرو پــه آب نصـيب زمــا دی

سـتا پـه رضـا يـم رضا، ژر مي کشتار کړه
مجـرم د عشـق يـم سـر مـي په دار کړه

پــه تــور د ســترګو دي زه ځــان قــتلوم کــه ســتا رضــا وي د ســرتاوان قــبلوم

کـه لا بـل نـاز لري اوس يي اظهار کړه
مجـرم د عشـق يـم سـر مـي په دار کړه

چــي مينـه سـتا لـري دغـه بي حـال وي چــي دا سـودا لـري تـل بـه پايمـال وي

سـر پـه پانسـی جـزا عـبدالغفار کـړه
مجـرم د عشـق يـم سـر مـي په دار کړه

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# تلقین

زلفانـــــي گـــــل کــــړه
ســـــنبل خجـــــل کــــړه

* * *

د مـخ کـتاب دي پـه خط مشکین سو    تـور پـه کـتو مـي د سـترگو سپین سو
د بخـت اسـتاد تـه مـي دا یقیـن سو    چـي مضـمون نـوی نـوی تلقیـن سو
پټ پـه دسـتار کـي غـنچه کـاکل کړه

* * *

د سـتړگو بـاز دي پـه غضـب گـوري    بـیا بـه پـه چـا کـړي منگولـي پوري
خـنجري وروخـــي دي آدم خـــوري    کجـک مـژگان دي کړي نغمې نوري
زړه سـتا ومـخ تـه ډک پـه مـنگل کـړه

* * *

چـي پـه خـندا کـړې شـوندي لبرېزه    راتــه حـرام سـي صـبر، و پرهـېزه
پــــه قســـمو مـــي ژبــــه ســـرتېزه    خـوک بـه سر یوسي لـه دې جنگرېزه
درتــه نبسـان یـم کـاري ویشـتل کـړه

* * *

پـه گونگـه ژبـه نـیم حکایـت دی    اظهـار د حـال دی کـه شـکایت دی
پـوه مي په خان کړه لوی عنایت دی    سـر زد لــه مـا څـه کـم جنایـت دی
روی د غفـار دی بریالـي خـپل کـړه

* * *

Downloaded By: Afghan Salar Library



# فریب نمایه

راځـه جـلا دي کې په چم د زړه همرازه رسـوا بدنـام نـام اوسـي غمـازه

پـه دواړو کونـو سـي مخـتوره

* * *

تـر مـا بدتـر پـه غـم اختـه سـې فریب نمایه
د سـل ودق مـرض دي سـي درپښې بدرایه
پـر دولـس سره، سره پـرې سې دولس ځایه
تـوکـر تـوکـر سـې لکـه پـیازه
پـه دواړو کونـو سـې مخـتوره
د بدخواهـانو دښـمنانو زړه دي یـخ سـه
پر دې دنیا دي د خوارۍ پر وطن مخ سه
پـه آخـرت کې سئ محروم ځای دي دوږخ سه
تـر ابلـیس زر کوتـي چمـبازه
پـه دواړو کونـو سـې مخـتوره
خـو چـې دي عمـر وي مـه وزې لـه احتـیاجه
پـه ژونـد مـیراث سـې د بدانـو لـه تاراجـه
چـې آخـر تـه سې د خـان مرګ ته ناعلاجه
درد او بـلادي سـه دمسـازه
پـه دواړو کونـو سـې مخـتوره
ارمـان دي مـه خـېژه فـرار سې لـه وطنه
مـړ وړی تـړی سـې بې ارزه بې کفـنه
هـم لېونـی سـې د عـبدالغفار دښـمنه
کـار دي وېـران اوسـه بـدرازه
پـه دواړو کونـو سـې مخـتوره

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# درواغ

یــار د لباســه، ورک ســه خناســه    تولــه ژونـدون مـي شبخون ستا د لاسه
نــه سـوې خوشـحال لاهـنوز بې سپاسـه

* * *

گــرخه پــر شــانزدیکت دي ســور اور
هیڅ نـه يې اړ پـه حـیا، نـنگ او پـښغور
خـدای دي پـه دواړه جهان کړه مخ تور
مـه وړې بـری شــرمنده پــه افلاســه
کــار دي مــدام دی درواغ وســامان
فریــب دي ایســتلي د ډېــرو نوکــان
پـروت دې پـه زړه کـي کـتاب د شیطان
عمــر پــه دار یمــه ســتا لــه وسواســه
خــوی دي د زاغ چـم کــوې د بلـبل
خونــد د شـلغم نــرخ ایــږدې د عسـل
بــوی دي د پـیاز عـزت غــواړې د گـل
ولــي کــښمخا ځانــته وایي کــر باســه
خــان کــړه خــبر پــه مــا عبدالغفــار
یــم د کــم اصـله دو رنگــه بــېزار
ســتا پـه دوسـتي مـي خـیگر سـو پـرهار
خــدای دي بدنـام کـړه رسـوا شرالناسـه

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# چابک

اشـنای لباسـي رنگـه  ولاړ مـي سـه د څـنگه
هغـه لـره ورځـه چـي تاړلـی پـه کمـند دی  پـر ما دي جادو بند دی

خـو عمـر دي پـه مکـر  کـاوه د مینـي ذکـر
خواږه خواږه یاران مي تول پر تا راځه خفه سوه  راسته ورځ مي چپه سوه

ددې پـه ایسـته یـاره  د رنگـه دي بـېزاره
هغـه لـره ورځـه چـي زړه یې تا پوري پیوند دی  پـر ما دي جادو بند دی

په فریب دي گذران دی  هـر چم دي د شیطان دی
پـه حلـق کـي دي زر ژبي په زر رنگه رهنما سې  صـاف دلـه خطـا باسې

په ورځ دي مناجات دی  پـه شپه دي خرابات دی
عجـبه یـم وتاتـه کـوم ابلـیس درکـړی پـند دی  پـر ما دي جادو بند دی

زیاتـي مـه کـړه خـبري  چـابک سـه راځـه لـیري
سـینه مـي سـوله تنگه خوله مي وزي لـه اختیاره  ورځـه د خـدای لـپاره

وصـال دي تـوره تـبه  بـېواکه مـي سـوه ژبـه
رشتیا عبدالغفار دي لـه هجرانه څه خور سند دی  پـر ما دي جادو بند دی

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# تیم

صبح صادق مسته غنچه گوري ملاله    بلـبلان بـيا، بـيا وزي لـه حالـه
وايـي د وصـل تـرانې
شـراب را ووتـه د شـوندو لـه دُکانـه    ساقي ولاړ فـروش و قسمت کوي ارزانه
پيمانه نوش حريف يې خلاص دی له تاوانه    پـه دې سـودا، دا گرځـي سرشـاره
وايـي د وصـل تـرانې
صراحي خاندي په کټ کټ د خم له جوشه    پـه محبـت خـيژي آواز د ميفروشـه
خمار بدل کـي پـه نشـه هر باده نوشه    سـر خـوش گـدا، دا قلـندر خـياله
وايـي د وصـل تـرانې
مطرب د بزم اشنايان پـه طرب ستايي    تـيم ودريـه ورتـه د سـوز غزلـي وايـي
مجلـس د مينـي د ساغر پـه دوره پايـي    د مرحـبا، بـا رغ کـړه بلالـه
وايـي د وصـل تـرانې
شـرنگ و آهنگ په شهباز واخيستی ربابه    **عبدالغفار** دی ورتـه ناسـت سينه کبابه
ساز و صـحبت و پريشاني يې همجوابه    دی بې پـروا، والـه بلـه سـواله
وايـي د وصـل تـرانې

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# لقمان

لکـه وحشـي ژوند مي پر دښت و بيابان سو　　سـور راتـه جهـان سـو دا سـتا د لاسـه گله
پـه غـم اختـه کـار مـي ژړا ورک مي آرامه　　لېونــی گــرخم ســودايي رســوا بدنامــه
اوس مي په غاړه کي حلقه زمين آسمان سو　　سـور راتـه جهـان سـو دا سـتا د لاسـه گله
تر مرگ بدتري سوې راپېښي سختي چاري　　زمـا پـه ويـنو اموخـته سترگي خونخواري
څـه به کوم چي شرابي خوی د جانان سو　　سـور راتـه جهـان سـو دا سـتا د لاسـه گله
د عشـق مـرض تـر سل بدتر زما په خوا سو　　حکـيم لقمـان يې عاجـز پاتـه لــه دوا سـو
پر کومه ولاړ سمه زه خوار علاج مي گران سو　　سـور راتـه جهـان سـو دا سـتا د لاسـه گله
پـر لـوی سـهار مـي ژبه ستا جبرونه ستايي　　د بـاغ بلـبل مـي د فـرياد کسـرونه وايـي

عـبدالغفار دی سـينه سـوزه سهار خوان سو
سـور راتـه جهـان سـو دا سـتا د لاسـه گله

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/　Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# الماسي توره

زړه د ببدل وړې پـه منگل صنمه
تـور دي کـاکل عطـر، و سنبل صنمه

چي د هجران زقوم نصيب سو زما — حلق مي سو تريخ له هره خونده څخه
چي د کلو دښمن طبيب سو زما — اميد مي وختى له ژوندده څخه
چي د جفا خنجر قريب سو زما — زړگى مي پرې سو، له پيونده څخه

زمـا پـه دغـه تېغ قتلول صنمه

خونـي گولـى دي د غمزو ويشتلى — کـاري کـاري د زړه پـر څوکه يمه
لکـه لالـه تـن و گريوان لړلى — پـه خپلو وينو سرتر نوکه يمه
څان مي په خوب کي په وارو ليدلى — چي آخر مر لـه دغه دوکه يمه

دا سختي چاري د اجل صنمه

دا د غمناکو وظيفو بربادي — چي راپېښېږي د دلبر پـه مينه
د بورو سترگو د فتنو بېدادي — تـل رارسېږي د څيگر پـه مينه
د يارى فال دي راکوي نامرادي — وارخطايي ده ددفتر پـه مينه

لکه چي خام مي وو توکل صنمه

عشق الماسي توره چليږي په زور — مـا بريانـي ورتـه گـردن اېښى دى
پر مخ د مځکي بولم څان سر په گور — چي مي پر سر د غم کفن اېښى دى
لکه پتن څان گڼوم پـه سره اور — ما شکرانه خپل سر، و تن اېښى دى

آخـر وصيت مـي دا غـزل صنمه

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# اوښتي کندهار

اوس بـه خونـي سم پـه خـپل خانـه صـــورت مـــي وزي لـــه فـــرمانه
بســته قســمته د خــدای پــار دی نــور مــي تمــام صــبر و اختــيار دی
لــه دې ژوندونــه مــي زړه تــور دی يــا لېونـــتوب يـــا اثـــر نـــور دی
سرگردانۍ کړمه لـه عمره څه پرېشانه اوس بــه خونــي سـم پـه خـپل خانـه
پـر وطـن بـل د غضـب اور دی کـــه ښنـــي وزمـــه پـــښغور دی
را بــاندي مــه گـــرزه آســـمانه صـــورت مـــي وزي لـــه فـــرمانه
دا اوس رضـــا ده او کـــه زور دی کـه بخـت بیده د بـل پـر کـور دی
يا مي اخيستی ستا د سترگو څه آزار دی نــور مــي تمـام صـبر و اختـيار دی
د مخکـي مـخ دي دا کـه گـور دی چـي مـي تـر غـوږ.د قيامت شور دی
يـا زه د خوبـه يـا اوښتی کندهار دی بســـته قســـمته د خـــدای پـــار دی
نـــه مـــي ښـــرا رســـېږي څـــای تـــه نــه طاقــت وېــنم دســت و پــای تــه
چـي د جفا پېټۍ کړم ليري لـه ميدانه اوس بــه خونــي ســم پــه خـپل خانـه
هدايـــت بويـــه دې خـــودرای تـــه ايـــېږدي دامونـــه وهمـــای تـــه
ښه دی چي ولاړ دغسي ډک سي له ارمانه صـــورت مـــي وزي لـــه فـــرمانه
پـه آخـرت چـي ورسـو خـدای تـه د حشـــرگاه و هـــيوهای تـــه
هلته به گورو که رشتيا جواب په وار دی بســـته قســـمته د خـــدای پـــار دی
دې دريـــاب تـــل کـــړمه ولای تـــه ژبـــه گونگـــۍ ســـوه وواي واي تـــه
آخـر نفس ملک الموت راته بيدار دی نـــور مـــي تمـــام صـــبر و اختـــيار دی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



وینه مـي خـګ وهـي لـه جوشـه   خمـار ابسـتلی یـم لـه هوشـه
فکـر مي نه کاږي منګولي لـه ګریوانه   اوس بـه خونـي سـم پـه خـپل ځانـه
کاشـکي هـر غـم وای فراموشـه   مسـت قلـندر نشـه مدهوشـه
غـنچه د بـنګو دود وتـلای لـه دهانه   صـورت مـي وزي لـه فـرمانه
زه او کچکـول وای هـم آغوشـه   خـیري چهـل تـارګودړی پوشـه
اوس لا عجـب نیولی خیږ د زړه پرهار دی   بسـته قسـمته د خـدای پـار دی
سـتوني مـي ډک وای لـه خروشـه   لـه هـره بـاره سبکدوشـه
دغـه نقشـه ده اجـازې ته انتظار دی   نـور مـي تمـام صـبر و اخـتیار دی
مـرض مـي خـي د زړه و خواتـه   د ژونـدون کـار دی راځـه پاتـه
پـه متي ځان کړمه نژدې تر ګورستانه   اوس بـه خونـي سـم پـه خـپل ځانـه
راځـه د هجـر سـر جلاتـه   روح مـي سـپارلی دی وتاتـه
دا مـي وصیت ما مسافر کړه لـه جهانه   صـورت مـي وزي لـه فـرمانه
چـي پاتـه نـه سـم لبونتـیا تـه   د پـردو خلکـو وخـندا تـه
واخله د ستخط دا مي د خپلي خولې اقرار دی   بسـته قسـمته د خـدای پـار دی
امـید مـي نـه کـیږي بـل چـا تـه   بې د خـنجر لـه ملاقاتـه

درتـه نیولی سر په لاس عبدالغفار دی
نـور مـي تمـام صـبر و اخـتیار دی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# خنجري وروڅي

خنګ ته راسه يو په يو، سر وري خوبانه
مه خه راځه رو په رو، شهزاده سلطانه

غــنچه د زلفــو دي زهــيره
مــخ دي تابــان بدرالمنــيره
ډيــوه د لمــر يې کــړه شــبګيره
دور کــړه حجــاب تــو پــه تــو خســرو جهانــه، شــهزاده ســلطانه

بــاغ د کــاکل دي پرېشــان دی
مشــک وريحــان يــا ګلســتان دی
ښــاخ د ســنبل ورتــه حــيران دی
يــــو دي ور، زړه دو پـــــه دو شــوخه دلســتانه، شــهزاده ســلطانه

وروځــي خــنجر المــاس نومــيږي
تــر فــولادي ځــيګرو، لويــږي
لـــــباس د کـــــبر ور، رســــيږي
زړونـــه ربيـــي لـــو پـــه لـــو خوک يې لري توانه، شهزاده سلطانه

عــبدالغفاره خــان خــبر کــړه
ســر پــه بهــا د تســليم ورکــړه
عقــل وکــيل د خــير او شــر کــړه
دا ســـودا ده جـــو پـــه جـــو نــه لــري تاوانــه، شــهزاده سلطانه

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# لبوال

سر شوخه گل خندانه، رنځور یم بې درمانه    د هجر له دورانه
عجبه کبریا یې ناخبر زما له حاله    گلفامه، گل خصاله

* * *

گل رسمه، گل هیبته، گل زنخه، گل نشینه    گل چشمه، گل جبینه
گل بخته، گل دهانه، گل تخته، گل لبانه    گل درخته، گل زبانه
گل چشمه، گل کرمه، گل جماله، گل جلاله    گلفامه، گل خصاله

* * *

د گل په اندېښنو مې د زړه چارې گلابې سوې    د گل په خرابې سوې
دا واړه د گل زور دی، چې زما د زړه پر کوردی    لازم دغه راپور دی
د گل په برکت که مې نصیب سوې گل کماله    گلفامه، گل خصاله

* * *

دا گل دی چې مخ مینځي د شبنم په رونو اوښکو    زما د تن په اوښکو
دغه دی بې پرواگل، چې سي په استغنا گل    هیڅ نه گوري تر شاه گل
زهیر راپسي ژاړي کرم بې واکه بې وباله    گلفامه، گل خصاله

* * *

دا گل به مې آخر له دې اسرارو څه لبوال کړي    خبر که مې په حال کړي
دغه د گل مطلب دی، زما خون یې مشرب دی    کشتن د گل مذهب دی
عبث عبدالغفاره د گل مه غواړه وصاله    گلفامه، گل خصاله

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# دوک

تـن و گـرېوان مـي رنگيـن د زړه پـه ويـنه لـړ مهـربان سـه نازنيـنه

لکـه لالـه خيگر داغلی، خپل په خونباريمه لړلي ناچـاره گـرخمه نتلـي

صبر و طاقت راخه وحشي سو ستا په مينه

شـوخه نرگسه ستمکاره، ولي هيڅ نه يې خبرداره د خـپلو سـترگو لـه آزاره

مـلال کـتو دي ډېـر ايستلي دي لـه دينه

مفـتون د هجر يم څو کاله، په تېغ د غم گردن حلاله پـه تهمـتو يمـه پايمالـه

زه دي نوکـر، تـه شهنشاه يې تخت نشينه

چي په دنيا کي غم پيدا سي، هغه زما په برخه راسي د کلـو دوک مي را په خواسي

عـبدالغفـار لـه خـپله بخـته يـم حزيـنه

* * *

# چوک

ساقي په يوه سترگه کړه اوس خپل او بېگانه د بـاندي ورتـه پروت يم نسته وار پر ميخانه

راکـړی کـوم ناپوه طبيب پرهېز وو د شرابو خـتېـل د پـيالې راکـړه خمـاري يـم سالانه

دزلفو په سرحد کي مي مالونه د زړه گرو وه پـيرې د کـړو وروڅـو يې سر غواړي خيرانه

کـه نـنگ وو که ناموس وو که غيرت و هجر يو وړل تـر ښـځي يې بدتـر کـرم تش مي نوم دی مردانه

په ژوند بريالی نه سوم په مجلس کي د خوبانو

تـر چـوک د گلرخانو مي اوس خوښه دامانه

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# لمن

شیدا مخمور و مستانه
وهي شبخېز پرمیخانه

* * *

غواړي هغه د میو بنګ    چي خونبهایي نام و ننګ
په نښانګاه کي د عشق صید    د پېچ و خم زلفانو قید
بند یې خنځیر وزولانه

* * *

د ښکلو اوښکو انجمن    ډکه د سرو لعلو لمن
سفر د هجر په محل    سودا د وصل په بدل
ورکه لب رنګه پیمانه

* * *

د عاشقۍ مهلک مرض    لري د زړه سره غرض
ظاهر د دوست په رنګ دعا    باطن د قتل مدعا
زهر د شهدو په بهانه

* * *

چي سي د مهر په لباس    ورکي رقیب ته لاس په لاس
چي په غضب کش کړي خنجر    عبدالغفار یې په نظر
اې زما بخته بېګانه

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# پیشملی

صبح صادق دی وخت نژدې سو د آذانه
بوسه خیرات، خیرات کړه ساقي جانه

د شپې آخر دی اوس بیده بلبل ژړیږي
د ګل په پاڼو د رحمت شبنم خړیږي
د نور باران دی د غضب دوږخ سړیږي
تاته درخواست درخواست دی د لستانه
بوسه خیرات، خیرات کړه ساقي جانه

نری شمال سو په آسمان کې ځغلي ستوري
نرګس له خوبه د غنچې په غېږ کې ښوري
بورا په غلا، ګل شبې تر پلو ګوري
باغ و باغوان، باغوان سره خندانه
بوسه خیرات، خیرات کړه ساقي جانه

په بد خوابي مو کړه شپه تېره تر سهاره
د پیشلمي سترګه پر سر ګوري بیداره
د زړه خبري راځه کیږي بې اختیاره
خاطر ملال، ملال نه کړې مستانه
بوسه خیرات، خیرات کړه ساقي جانه

که د بوسې په نام دي سو زهیر مزاجه
یا داسې خواست، ددې وطن نه وي رواجه
ملامت نه یم مجبور کړی یم احتیاجه
تقصیر معاف، معاف کړه مهربانه
بوسه خیرات، خیرات کړه ساقي جانه

بسته پر خدای مو یې سپارلی دلې یاره
مرګ و ژوندون دی حق راپل کړه ګل نګاره
ورځه د خدای په امان سې عبدالغفاره
واخله ترتا، ترتا بوسه قربانه
بوسه خیرات، خیرات کړه ساقي جانه

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# کونډه لیلٰی

نه کارم لاس ستا له گریوانه
خپل حق شراب غواړم پیر مغانه

د مجنون ورور سوم پیدا غواړمه کونډه لیلٰی
غیرت ایستلی یم له توانه
خپل حق شراب غواړم پیرمغانه

که چپه واورم جواب په مطلب نه سم کامیاب
شل به د مخه کړم تر ځانه
خپل حق شراب غواړم پیرمغانه

اخلم له درد څخه اور وهمه گوتي په زور
مجبور یم تېر تر هر تاوانه
خپل حق شراب غواړم پیرمغانه

بریالی داسي زبون چي سوم میراث په ژوندون
خیال دي غلط، غلط گمانه
خپل حق شراب غواړم پیرمغانه

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# خابنت او تعویذ

مـرض د هجـر مـي وراسـته کـړه پـيوندونه  تـوی مـي سـوه بـندونه

سترگو مي خان په اوښکو موړ کی
د گـريوان بل اور يې په سوړ کی

تـر خولـه مـي وزي مـنجله د زړه دودونـه  تـوی مـي سـوه بـندونه

مينـي رسـوا هجـر لـيلام کـړم
نشـه نسکور د زهـرو جـام کـړم

تر خوله مي سوه د عشق خواږه خوندونه  تـوی مـي سـوه بـندونه

پـــير وطبيـــب، و ملاناکامـــه
خابنـــت وتعويـــذ دوا بدنامـــه

چـي عـلاج نـوی کـړمه نـوي سـي دردونـه  تـوی مـي سـوه بـندونه

مطـــربه ږغ کـــوه پـــه زوره
د بريالـــي خاطـــر تـــه گـــوره

مـيده مـيده نغـمې مـي باسـي لـه ژوندونـه  تـوی مـي سـوه بـندونه

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# بانو

بیا دي تورو زلفو د کشتن ترلی لام دي　　کج بانو فوجونه

* * *

بیا دي تورو زلفو په غضب کنبلي خنجر دی　　زړه مي ورته سپر دی
بور مي د سرو سترګو په خونبار بدن خیګر دی　　تول عالم خبر دی
جار دي سم خونکاره دودسته درته سلام دی　　لر کوه قتلونه

* * *

جار دي سم خونکاره په حجاب کي مخ خراغ لري　　سوی پتن داغ لري
سپین بدن بهار پکښي تازه سینه ګلباغ لري　　خنګه ته رقیب زاغ لري
پروت غنچه کاکل د بلبل په پښو کي دام دی　　ډېر مي فریادونه

* * *

رنځ مي تر سودا ؤ سِل بدتر سو صنم جانه　　سوه چاره مي ګرانه
نور مي د ژوندون امید ختلی دی له خانه　　تېریم تر تاوانه
وایي طبیبان د لبونتوب درباندي وام دی　　وکړه علاجونه

* * *

خوار عبدالغفاره د بل وطن درته سوالګیریمه　　درته، دي فقیر یمه
بند د محبت دي تینګ ترلی په خنځیر یمه　　سخت په قید اسیر یمه
سوال په رمازه او عاجزي آخر کلام دی　　وایه جوابونه

* * *

Downloaded By: Afghan Salar Library



# سره لمبه

شـهباز پـه رباب سور کړه، زړه مي پرې دی خو، خو خایه    مطربه پاخه بیا غزل وایه

* * *

پـردې د موسـیقي دي د هـنګام په سلطنت کي    د عشـق پـه مملکت کي
نشـاط، صـحبت و تـرانه دي د غمجنو غم افزایه    مطربه پاخه بیا غزل وایه

* * *

مقـام د سـوز و سـاز دي، لـه ژوندونـه بـېګانه کـړم    جـبري يې زولانـه کـړم
نـا چـار پتـې بـه هم آخر ګډ سي په اور بې سروپایه    مطربه پاخه بیا غزل وایه

* * *

د جوشـه بـه مي اوس تن او جامه سره لمبه سي    که خوله مي در ایله سي
یـو وار ګونـدي را سـره مـه کوه زاهده دلکشایه    مطربه پاخه بیا غزل وایه

* * *

د درده لېونـی درتـه سـاکت عـبدالغفـاره یـم    لـه قولـه دي بـېزار یم
هـنوز د خـدای لـپاره بـس کـړه خالي جوفه خودستایه    مطربه پاخه بیا غزل وایه

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# سکروټي

د گل د شوخو سترگو یو دید مي درمان دی        شوندي میخانه ورسره
مال و دولت زړه و صورت مي تر قربان دی        سر هم شکرانه ورسره
د خپل طالع بې وفایي مي زړه دوتا کی        چپ راسره گرځي همېش
کجرو فلک مي ژوندون واړه نیمه خوا کی        نه لري رحمت کم و بېش
لکه شفق د خونخوری منصب یې راکی        سوم خرقه پرسته درویش
مینه سکروټه ده کوگل مي په بریان دی        ستونی تاوخانه ورسره
دا پیاله بولم د ازل له میفروشه        چي را یې کړه په برخه زما
په یوه غوړپ یې یم مریی حلقه بگوشه        سر خوش گرځم په هغه سودا
لکه پتنګ په اور اتن وهم له جوشه        د شمعي د وصلت په هوا
د داسي گټي سره پروت دغه تاوان دی        هجر خزانه ورسره
آه وفریاد به مي نور نه خیژي له خانه        یو وار مي حضور ته کړه تېر
لکه لاله داغ پر سینه ډک له ارمانه        نه سوم د یارانو په خبر
د ناکامی دود مي تل وزي له دهانه        بل کار و روزگار مي سو هېر
په یاقوتي اوښکو لړلی مي گرېوان دی        غم یې زولانه ورسره
ورته سائل سه په زاری عبدالغفاره        غواړه هغه مي بې بها
چي په مستي یې مري پاخي له مزاره        کړه ننگ و ناموس تر فدا
که پر خیگر وخوري واروته په زر واره        مه خه خني ببرته ترشا
ساقي همېش پر ببدلانو مهربان دی        مسته پیمانه ورسره

Downloaded By: Afghan Salar Library



# غلبلې

جرس رنګـه مـې خـېژي لـه کوګلـه هـيو هـای    د لاسه د اشنای

* * *

کـانې يې د هـاروت و مـاروت وکـړې پـه مـا خـوار    خړېږم سر پـه دار
نـارې و غلـبلې مـې پورتـه کـيږي د وای وای    د لاسـه د اشـنای

* * *

د مـخ پـه انجمـن کـې يې شـغلې دي د خورشـيد    جامونـه د جمشـيد
قمـر دي پـه خسـوف کـې پـر تـندي د زلفـو لای    د لاسـه د اشـنای

* * *

معلـوم دي پـه نجـوم کـې د عشـق ستوري بخـتور    پـر مـا عکـس اثـر
راپېښـه بدبختـي سـوه پـه سـايه کـې د همـای    د لاسـه د اشـنای

* * *

دولـت و سـلطنت د شـاه اورنـګ نـه دی پـه کـار    زمـا عـبدالغفار
ملنګ په زړه خو رنګ يمه خوشحال بې دست و پای    د لاسـه د اشـنای

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# قبر تیار دی

په خوله اقرار دی، په زړه انکار دی
اخیستی ما د گل د سرو سترگو آزار دی
ناست پر دکان د ساقي لاس په گرېوان د ساقي
ما و قسمت سره پخلا کړئ د خدای پار دی
ستا په تصویر لېونی بند په خنځیر لېونی
د خپله زړه سره مي تول عمر په دار دی
د سینې دین و ایمان یو وړی د هجر شیطان
ساز و سارنگ په ولا حوله گرفتار دی
غسل، کفن و دعا څه ضرورت دی ملا؟
رغ د تلقین کوه جواب ته انتظار دی
ربابه مه ژاړه نور پر خدای مي وسپاره گور
راځئ راواخلئ بریالی قبر تیار دی

# د کوځې خاوري

په وینو رنگ یم داغ مي خیگر دی
ناسور پرنگ یم حال مي بدتر دی
په مریې توب یې یم سر افرازه
دېر مهربان دی فقیر نوازه
ورته ملنگ یم شاه کشور دی
ناسور پرنگ یم حال مي بدتر دی
شرم و عار مي باندي بندلی
د زړه په وینو مي را نیولی
بې نام ونگ یم نورالبصر دی
ناسوز پرنگ یم حال مي بدتر دی
دی مي علاج دی که مي عرض واوري
راته اکسیر یې د کوځې خاوري
سینه څو رنگ یم خدای راخبر دی
ناسور پرنگ یم حال مي بدتر دی
مرشد د هجر چي خان اظهار کی
ورته دروېږي عبدالغفار کی
له ژونده تنگ یم مرگ مي بهتر دی
ناسور پرنگ یم حال مي بدتر دی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د ریا پردې

تل چې يې پر ما باندې د جبر و ستم واري دي
سرې شوندې گلناري دي

* * *

سور کفن به په خندا خمه د لحد پر خوا
نوم به د شهيد يوسم چې ستا سترگې خونکاري دي سرې شوندې گلناري دي

* * *

شيخه تهمت بس کړه نور وزي مې له خولې څه شور
چوپ سه ناواقفه د عشق نوري نوري لاري دي سرې شوندې گلناري دي

* * *

ستا د عبادت کتاب زما د هجر يو جواب
وينم پر خلوت دي د رياء پردې هواري دي سرې شوندې گلناري دي

* * *

ما عبدالغفار ته زيات مه وايه د غم لغات
کله زما انکار او ستا ويناوې سره ساري دي سرې شوندې گلناري دي

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د هجران شک روژه

دا اثـر د جنـون او کـه زور د بېلتـون دی
چې مي سر نشه پروت د تصوير پر زنگـون دی

ښه دی ښه دی چي زړه مي سي پوخ په ځيگر کـي
گوندي وي چي په حال مي نگـار ځـان خبـر کـي
چـني کوگـل سـي خـالي فريادونـه اثـر کـي
مطـرب کښـلی پـه قصـد لـه ربابـه لړمـون دی

چي لـه نـازه کاکـل پـر کـړو وروځـو غوځـار کـي
لکه ورکه چـي مياشـت سي د شـپې پـه غبار کـي
شـک روژه د هجـران سـي د مينـي پـه ښـار کـي
د عشـاقو نصـيب پېشـلمی ځيگــر خــون دی

د ميخــور پــه لبــاس زاهـد راسـي ميـدان تـه
زمـوږ عکس کـړي پـړول، بيا يـې وايـي جهان تـه
هـم د خـدای پـه حضـور مرتبـه ايـږدي ځـان تـه
پـر لـيلا خـو نفـروش حلـوا خـوره مجنـون دی

د کلـــو مشــکلات را اســـانه کـــه لـــږ کـــړې
ستا د زلفـو حلقـې پـه خپـل لاس راپـه غـوږ کـړې
پــه نامــه د رضــا مــي خپــل ځانتــه دروږ کــړې
بريـالـي تــه منظــور دا د فخــر مضـــمون دی

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# بېهوښه

دښت وچمن ګل سو بيا نوبت د خماريانو دی | دور د ســـاقيانو دی
عطر و ګلاب، ګل بهار | پاشـي پروطـن سـهار
باغ وراغ جنت سو عجب شور د بلبلانو دی | دور د ســـاقيانو دی
مست په شرابي لباس | ګرخوي پيالې په لاس
درس د مطربانو لوی اختر د ميخورانو دی | دور د ســـاقيانو دی
بنګ د سر خوشي په جام | يـو ور هـر بېدل انعام
سرې سترګي بېهوښه په دسته کي د ترکانو دی | دور د ســـاقيانو دی
تل چي د غنچې په شان | ګرخومه خفه خندان
ما عبدالغفار منلی حکم د خوبانو دی | دور د ســـاقيانو دی

* * *

# د ډک زړه کتاب

شوخه ستمکاره لـر نظـر کـوه عـذاب دی | حـال د اضطراب دی
زړه مي ستا د سترګو د زمري په چمبو ښکار سو | سـخته ګرفتار سـو
ژوند مي مسافر سو باقي وخت په مرګ حساب دی | حـال د اضطراب دی
پای به د منصور په مذهب زما ژبه اقرار سي | سر به مي په دار سي
دا مضمون ليدلی ما په خوب د خان په باب دی | حـال د اضطراب دی
عمر مي کی تېر، په ناکامی دا ستا د لاسه | ګـل غضب لباسه
تل دي په غمزو د استغنا سوال وجواب دی | حـال د اضطراب دی
خنګه به ساکت عبدالغفار سم له ګريانه | نه مي ده په توانه
ستا د جفايي په بحث مي ډک د زړه کتاب دی | حـال د اضطراب دی

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# په وینو لحد

راســـه طبیـــبه دا مـــي حـــال دی
د زړه پـر سر باندي مي زخم سر و کال دی

• • •

گــزن د مینـي یـم وهلـی پاینـده ناسـت یمـه نتلـی فقـیر پـه طمعـه یـم راغلی
راخخـه پاتـه د دنـیا جـاه وجــلال دی

• • •

کـه دي ربلـېږي د خدای پار کړه گلگـون شراب مي راپه وار کړه خـار و اغیار راخه کنار کړه
په سلطاني کي سر بلنده دا مي سوال دی

• • •

ښه دی چي سوځم په اور باندي تل دي لـه غمه وهم ساندي تن پرستان راباندي خاندي
گلانـو اینبـی پـر بلـبل دغسـي جـال دی

• • •

شـهید د هجـر لــه پـرنگه لحد مي سو په وینو رنگه عبدالغفار یـم ســمد تـنگه
د نامـرادی پـه تـېغ زمـا گردن حلال دی

• • •

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# پوچ ویل

وې ایستم د ژونـده د یار دواړي سترګي بوري دي    بـیا یې نغـمې نوري دي

تـور ګیسـو یې دام ایښی    زړه مي پکښي کام ایښی
مینـي پای بسته کړم فریادي مي دا سندوري[1] دی    بـیا یې نغـمې نوري دي

تـل پـر ګلـو بـاج لـري    دا رســـم رواج لـــري
کج ګوري لـه نازه غزالې ورته شبکوري دي    بیا یې نغمې نوري دي

خون مي تر ځیګر وزي    تل مي دود تر سر، وزي
مړ یم د ګلو تش مي هډونه پرلـه پوري دي    بیا یې نغمې نوري دي

پـوچ ویـل ناصـحه سـتا    نــه لــري اثـر پـر مـا
مـا عبدالغفـار پـر زړه لیکلـي د عشـق تـوري دي    بیا یې نغمې نوري دي

* * *

(۱) د شعري ضرورت لـه امله واو زیات سویدی.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د ځیګر وینه

گلگـــون زړه زمـــا پـــرهار دی
انـــدرون مـــې لالــــه زار دی

* * *

د اشـــــنای د مینــــې زور دی
چــې مــې کـل و جود په بنور دی
غــم زمــا پــر غـــاړه پــور دی
چــې هجــران مــې ســروکار دی
گلگـــون زړه زمـــا پـــرهار دی

چـــې دلـــدار پـــه مانـــې گـــوري
زمـا پـــه تـــن ســې لمـــبې پـوري
د جفـــــا بـــــاران یې اوري
دم پـــــه دم د خــــنجر وار دی
گلگـــون زړه زمـــا پـــرهار دی

روی د خــــدای دی نازنیــــــنه
لـــږ نظـــر، وکـــړه پـــه میـــنه
دا زمـــــا د ځــــیگر ویــــنه
چــې گـریوان مــې پـه خونـبار دی
گلگـــون زړه زمـــا پـــرهار دی

چــې فــراق مــې ســتا اســتاد ســو
د ژړا دفـــتر مـــې یـــاد ســـو
تمامـــې ژونـــد مـــې بـــرباد ســـو
غــــم کشــــته عـــبدالغفار دی
گلگـــون زړه زمـــا پـــرهار دی

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# اینبی دی

د سـور شونډو په فانوس کې دي انګار اینبی دی
که خونخور یې دا دي عکس د خونبار اینبی دی

* * *

خـود سوخته کاکل دي دود باسي شبرنګه ملال
لـــه غـیرته پـیچ وتـاب سـو نفس تـنګه مـلال
د کـرو، وروځـو خـنجر دي دی د ځـنګه مـلال
سـرې خـور دی پاس یې لاس پر ذوالفقار اینبی دی

خماریان یو، را ژوندي مو عقل وهوش کړه ساقي
پسمانده تـرخه شـراب راباندي نوش کړه ساقي
د مستۍ پـه خرابات کې مي مدهوش کړه ساقي
شفاعت مي ستا حضور ته د خدای پار اینبی دی

لګولـي مـي لاسـونه پـر ګـریوان سـتا د عشـق
د زړه غوښي مي ونډۍ کړې پر دُکان ستا د عشق
سـنجولې مـي ده ګـته او تـاوان سـتا د عشـق
پـر خـپل سـر باندي مي نوم د ګرفتار اینبی دی

کـه سـر تـیز مي کړي خدای د سینې اور تر دغه
رانبـکاره کـړي ناکامـي، جـبر، و زور تـر دغـه
ناعلاجـه مـي سـي درد او مـرض نـور تـر دغـه
شـکرانه مـي بـریالـی عـبدالغفار اینبـی دی

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ننځ

چې رقیب دې رهي همرکاب دی
که پوهېږم په نیمه جواب دی
که دې ماته په خیال کې کشتن دی — مرحبا ما هم سکښتی کفن دی
مرګ مې خیر تر داسې عذاب دی
که یو ځای د وصال چکه پاوسې — په سر باک نه کوم که چپاو سي
دا چپاو، زموږ په کلي کې باب دی
یو هجران ژوندی ننځ کړم په ګور کې — لا هنوز مې لړې نور په اور کې
کوره دا کم مذهب کم کتاب دی
بریالی چې دې ورک کی له میانه — خال و خط به نور اورې له چا نه
لږ مې پوه کړه دا زور که حساب دی؟

## اندیوال

ساقي ولاړ پیاله په لاس کې خمار کم یو دی — هو! خمار کم یو دی
یوسف لیلام سو پر میدان خریدار کم یو دی — هو! خمار کم یو دی

* * *

یوسف لیلام نه وو خطا وتم غلط نه کړې پام — د کنعان پوه طبیب راغلی ببمار کم یو دی
د لال قیمت یوسف ته ایښی دی یوه زلیخا — عزیز د مصر یې شوقي بل تجار کم یو دی
په هر ځنګله کې د کیمیا د بوټي شناخت دی مشکل — چې خرځېدی پکښې یوسف هغه ښار کم یو دی
زندان بهتر دی تر جنت چې وي یوسف اندیوال — مبارکي نن د محبس پیره دار کم یو دی
یوسف یوسف شیرین یوسف دی تر نامه یې سم جار
ـو بریالی دی بل په تاسي کې جار کم یو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# کــانې

کوګـل مـي کونـډه، زړه يتيم وهي سرې ساندي ســــترګي شـــاهدان دي

* * *

قسـمت بد ورد، راځخه تللى چــا راتــه بــد دى پوهولــى
خـداى دي دا بخت کړي تر اوومه مځکه لاندي ســــترګي شـــاهدان دي

* * *

ولـي مـي اوښکې نه پاکيږي دا خه کانې دي چې راکيږي
د ورځــي لمـر د شـپې اسـمان راباندي خاندي ســــترګي شـــاهدان دي

* * *

څه چاره درد بې درمان ته واچول لاس د چا ګرېوان ته
څـوک ملامـت نـه دى را پېښي د خپل خان دي ســــترګي شـــاهدان دي

* * *

په نېک شاګم چي خيګر داغ سي ګوندي په قبر کي څراغ سي
وايــو تــبريک د بريالــي پــر کفــن بــاندي ســــترګي شـــاهدان دي

* * *

# لاري لاري

پـاس مـي د سينې پر سر، ستا د خنجر واري دي تـل مـي لـه فرياد څخه، اوښکي لاري لاري دي
هجـر لکه تاب وتب، ښوروي مي لاس ولب عيني د شفا مطلب، شونډي کوثر واري دي
تارنګـه چـي يـار لـرم، تـل پرتـن پرهار لرم زخـم نمکسار لرم، اوښکي ګوهر باري دي
شـکر تـار و تـير زمـا، وصـل دا منګـير زمـا آب حـيات پـير زمـا، بـيا مژدې سهاري دي
نـوم عـبدالغفار لـرم، سـتا د مـخ ګلـزار لرم
درد د شـهريار لـرم، سختي د غم چاري دي

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# ولچک

که سمه لېونی په عشق کې باک نه لري
و یار ته د توبې مې زړګی واک نه لري

* * *

د مینې اور چې بل سي په ځیګر کې د مین
د زړه بخار یې اوښکې سي تویېږي پر لمن
پرهار یې په سینه کې پاشي عطر د ختن
دلبر یې ذکر وفکر بل ادراک نه لري

د غم په قیدخانه کې پای بسته په لاس ولچک
کړی د محبت یې په ګردن کې تعویذک
مکتوب د خلاصېدو یې وي په جیب کې د فلک
په تن کې بې نفسه نور املاک نه لري

محبوب کوي له نازه قسم قسم بې لاری
عاشق په ادب خواست کوي په رسم د یاری
بې حس و حرکت سنم لکه پروت پر فطاری
دغه د مرګ پیغام دی بل هلاک نه لري

عبدالغفاره ځای د سکونت دي سو بېلتون
لباس د خپلو سترګو کړه رنګین د زړه په خون
درپاته دا میراث دی د فرهاد و د مجنون
اغیار په دې دولت کې اشتراک نه لري

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# میوند

راوړه اې ساقي شـربت، پـه نوبت، کړم فرقت، لت وپت گــــرخم خمـــــاري

* * *

اور د محبـت دی زر داغونـه انـدرون لري

تـوان ددې غمو کله لقمان و افلاطون لري

ژر پـه ژر بـه مـا نامـراد، سـتا بـېداد، کړي برباد، په فریاد ای دل ازاري

* * *

فـوج دي د مژگانو راتـه جـوړ کـی خونريزي ميوند

تېغ دې د جفا رېبي زما د خوږ ضمير پيوند

ستا د استغنا درياب، کړم غرقاب، خورم خوناب، په عذاب ژونـد مـي د شـواري

* * *

دوک د ناکامـی مي سو د عمره سره سم نصيب

نسـته بي لــه تـا درنخورانـو د عـلاج طبيـب

کلـه بـه سـي مهـربان، دلـبر جـان، گل خندان، په پرسان زمـــا پــه بـــېماري

* * *

سـتا د کـبر وار پـه سـر منلـی دی عـبدالغفار

سـتا پـه رضـا مـرگ و ژونـد تړلی دی عبدالغفار

اوس هم لرې ته اختيار، اې نگار، شهريار، گلعذار نــه يــم انکـــاري

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# تال تال

جــار مــي ســر و مــال دی تــر تــا پــري
واړوه پـه خـيال، خـيال سترگي خماري
تــل پرهــر شــيدا لــرې واری د غضــب	بـل د خـان همـراه لـرې خـيال عجب عجب
پـاس دي پـر مـخ تـال، تال زلفي عنبري
سبب زنخ سو خونخور لاندي تر دسمال	باسـي نـوی نـوی نـور، رنـگ پـه رنگ جمال
شـين زمری د خال، خال شونډي سناري
ور دي كـی لـبانو تـه زمـا د ويـنو بـنگ	ژړ دي وزاغــانو تــه كــی د بلــبل رنــگ
نه راخي سم فال، فال ستا په دلبري
ناســت يــم ناعلاجــه زه عــبدالغفار	يــم درتــه محــتاجه زه عــبدالغفار
پروت درته پايمال، مال سخت يم بستري

# سپين شفق

۱ بـيا خمـاري گـوري گـل، سرې شونډي شربت لري
تـوري زلفي تور كاكل، دام د محبت لري
سم قد وقامت د خان،دی د صنوبر په شان	چـم يې د ښـكاريانو دی، اخلـي د كوگل نښان
مستي سترگي، مې د هن ډېر زېب وزينت لري
تور كجک يې پېچ وخم، اخلي په ناز ناز قدم	ډېـر ورتـه پـراته زخمـيان، نه گوري د خياله سم
ځي پر لوري د گلشن، سيل په نوبت لري
توره شپه پر سپين شفق، كج بانو ورق ورق	څـه عجيـب كـامل استاد، را يې كی د غم سبق
هجر اخلي امتحان، نور پكښي حكمت لري
نقش د خط پر بياض، غورځوي د زړه امراض	اخله ځني خپل مطلب، نه دی ځای د اعتراض
عبدالغفار دلته پټ، كيف و كيفيت لري

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# تر لېمو اوښکي

چې سومه په غمزو د شوخو سترګو چار ماري
لـه درده مي همېش څي تر لېمو اوښکي جاري

کـه يوسي څوک لـه مانه و اشنای ته دوړ خبري غنچه رنګه به کړمه ورته ټوله کميس څيري
د خـدای دپاره ولـي مـدام ګـرځې ليري ليري خـزان په شبګيری يم لکه ستا زلفي زهيري
د هجـر پـه اور و مـي پوخ خـيګر صـورت کباب مـدام يمـه ګويـا پـه زېـر و بـم لکـه ربـاب

دا ډېـره اسـتغنا بـه دي آخـر کـړي آزاري
لـه درده مي همېش څي تر لېمو اوښکي جاري

دې ډېـرو نامـراديو مـي.آرام وصـبر وړی لـه خانـه نـا اميد يمـه بې حسه لکه مړی
کـه ستا د در غلام سمه درځم په غاړه پړی نـالش د لېونـتوب مي کی دماغ و عقل سټړی
ليکلـي مـي فراق دی پر خاطر د غم کتاب مـدام يمـه ګويـا پـه زېـر و بـم لکـه ربـاب

مينوشـه سـمندر يـم پـه اورو کـي خمـاري
لـه درده مي همېش څي تر لېمو اوښکي جاري

د زلفـو پـه پانسـی مـي لاس تړلـی دی عسـس د عشـق و څکندن ته مي سپارلی دی نفس
مفـتون پـه بـنده ژبـه يـم رسـوا لکـه جـرس د هجـر طوفانـي يم راځه تللی صبر، ووس
چـي ستا بـاندي رضا ده واخله زما د مرګ ثواب مـدام يمـه ګويـا پـه زېـرو بـم لکـه ربـاب

ګـرېوان مـي پـه ژړلـو سـو سـور رنګـه انـاري
لـه درده مي همېش څي تر لېمو اوښکي جاري

کـه ښکار د خپلو سترګو مي وړيـا بولـي صنم يا داغ د غلامی راباندي کښېږدي غنچه فم
قـبول مـي پـر چشـمانو دی لـه عمـره سره سم مـنم بې تـر قيامـته پـوري دا لطـف وکـرم
سـراب رنګـه مـي حـال سرګردان پـه اضطراب مـدام يمـه ګويـا پـه زېـرو بـم لکـه ربـاب

زمـا عـبدالغفـار بي کـړه پـه بـرخه بـېماري
لـه درده مي همېش څي تر لېمو اوښکي جاري

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# ولاړی ولاړی

دلـداره تر زړه مي خوناب ولاړی ولاړی
روان پر گـریوان مي سېلاب ولاړی ولاړی

عمـــل د ازل مـــي مســـتي مينوشـــي
باطـــن مـــيخوري پـــه ظاهـــر درويشـــي
په سوال مي د حال کړي زاهد دردکشي
عبـث پر دې باب مي جواب ولاړی ولاړی

نــه ځــان پــه بــاور، نــه عــالم را خــبر
نظـــر ذ بصـــر ځـــي ابـــتر لـــر وبـــر
پرېشـــان وپښـــېمان ســـو مـــلا و دفـــتر
مسـجد و محـراب و کـتاب ولاړی ولاړی

روغ عقـل پـه نقـل د عشـق سـو رنځـور
تـل خـيال د وصـال پيره دار دی حضور
عـلاج د مـزاج پـه چـيغارو پـه چـور
تـاوان پـر مـيدان د حساب ولاړی ولاړی

درنگـه خورنـگ پـه معنـی تـور پـرنگ
لـــباس د افـــلاس مســـتانه وملـــنگ
ايـــنه وســـينه د عـــبدالغفار زنـــگ
صـيقل پـه عـتاب ناصـواب ولاړی ولاړی

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# محکم

لــه استاده مــي تــر غــوړ جذراصـم راغــی    توجیهـي مـي دا جواب په خیال محکم راغی

حـــق دی ماقلـــنا    حـــق دی ماقلـــنا

کیفیـــت د جائـــزاتو دي خطـــا بولـــم    اعتـــبار د تقنـــیداتو لا وفـــا بولـــم
دا نـــظام د حکمـــاؤ لا جـــلا بولـــم    کـــیف لا یأتـــي، کـــیف لایأتـــي

د شـــمول عمـــوم بقالـــه مـــنعدم راغـــی
توجیهـي مي دا جواب په خیال محکم راغی

د عـنوان پـه احاطـه کـي چي راغلی دی    پـه نطـاق د بعضـیت سـره تړلـی دی
د تفصـــیل د انعقـــاد وزن تللـــی دی    مـــالکم طوبـــي، مـــالکم طوبـــي

قانونـي تعمـیم د خـالص رفع الحکم راغی
توجیهـي مي دا جواب په خیال محکم راغی

په صورت کي د حادي تخریب الفن راخي    انقسـام البسـایط کشـف المنـن راخـي
پـر ابطـال د زاویې طـول المحـن راخـي    نفـــــي منفـــــي، نفـــــي منفـــــي

د اطـلاق و د مطلـق لـزوم مجـزم راغـی
توجیهـي مي دا جواب په خیال محکم راغی

دا تنبیه و قلـع الاصـل تـه رفعـت کـوي    باصـــره د ســـطحیاتو کفایـــت کـــوي
د ثالـث عـدم هـنوز دلـته نگهـت کـوي    فـــیها ســـیما، فـــیها ســـیما

شـک و فـک لـره عبدالغفار اعلـم راغـی
توجیهـي مي دا جواب په خیال محکم راغی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# محراب او کعبه

د ورځـي پـه کعـبه کي، د شپې په ميخانه کي
طـواف پـه بـتخانه کـي، تهمـت په مدينه کي

زاهـده طـواف پرېږده هيڅ دي مراد نه حاصلېږي
سـماء و ايـازات د سـجرت پـه غـم ډوبـېږي
شـيفته وشـهينه هر ځای د دواړو ساعت تيرېږي
گـذار پـه جودانـه کـي، افـراس پـه افرانه کي
امـام هـندو ولاړ دی پـه محـراب کـي عالمـانو
طـواف ښښـکه کـيږي پـر کعـبه د کافـرانو
گوهـر، و نقـاش دواړه ملکـوت دي د حاجيانو
شـاکر پـه خـزانه کـي، مـنکر پـه افـرانه کـي
عشـرت و سـر کښـي د مجـاهدو پـه معـنا کـي
خـرمل و شـاميران اوړولو بـه دي پـه صحرا کي
قـدح و صـراحي دي فريـب بخښـه په دنيا کي
مـدام په انديښنه کي، سور اور مي په سينه کي
انگـيز و خاطـر کلـه بـه حيـن د بريالـي سـي
سـل ملکـه د سلېمان بـه نگيـن د بريالـي سي
عـبدالغفـار بـه کلـه مـؤذن د بريالـي سـي
فـريد پـه شـکرانه کـی، تـبريک پـه زمانـه کـي

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# کمیس او شرمښ

گـل چـې په خونکـارو سترګو توري زلفي دام کي غـواړي غیرتمـن منسـور، چـي سر ورته لیلام کي
تولـه شپه نرګس په رندو سترګو درته ژاړي تـوی یې کړې پر خان ستا په لحاظ د شبنم ناړي
خـیر ستا د جسن په کچکول کي درخه غواړي بـوی سـتا د کاکل بورا په سره دوبي زکام کی
کـوم استاد راوړی دا حکمت دی له کنعانه سـم کمیـس کـړي خیري دلمني تر ګرېوانه
مفـت یوسـف دی، مبارک دي سه کاروانه خای چي د جواب سي بې ګناه شرمښ بدنام کي
نـه خـي پـروانه اجـل نـیولې لـه انګـاره پښـې وزر یې دواړه ورتـه سـتړې لـه تلواره
شـابس آفریـن سـتا پـر همـت صـادقه یـاره خـای یې شکرانه کی په روغبړ او په سلام کي
روړد مـي سـو د زړه پـه رګو عشق د نازنینو چـا کـړ اموخـته دا شین زمری زما په وینو

بخـت مـي خان بایللی د قسمت پر تورو سپینو
خکـه بریالـی یـم د خـپل خانه څه په وام کي

# لیلة قدر

چـي خـان مي په نجوم کي مست خمار دی لیدلی د عشـق په محکمه کي مي سنګسار دی لیدلی
د وروخــو هــلالې دي پــر ســما دي ختلــي د سترګو کوکـبان دي په ضـیا دي ختلـي
د زلفــو تاریکــي دي پــه رنــا دي ختلــي یو خای مي ستا پر مخ لیل ونهار دی لیدلی
دا ستا لـه بې نیازیه مـي ژړا پـه ګـرېوان کي یـا شـپه د لیلة القدر مي پیدا په ګرېوان کي
د هجـر زلـزلې لـري بربښـنا پـه ګـرېوان کـي تر چاک مي د خیګر د زړه پرهار دی لیدلی
چـي ګـورې شرابي دغـه جـواب دی د قـتل پوهېږمه په خیال کي دي اسباب دی د قتل
پـه درس دي رقیـبانو تـه کتاب دی د قتل پـه خـوب کـي مـي خوواره سر په دار دی لیدلی
چـپه مـی د یـاری راغلـی فـال قلـندره را مهـرکه چتـی کـړې د وصـال قلـندره

پـه داغ د نوکـری دي یم خوشحال قلندره
ملـنګ مـي د دوهې عبدالغفار دی لیدلـی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# بېلتون

پـه تـور د عشق دي لـه وطـنه كـړم فـرار ولـي    گـرخـم كـنـار ولـي
تـر ناسـازۍ د بېلـتون    يمه خوشحال په جنون
په ناكامي مي تويوې د زړه خونبار ولي    گـرخـم كـنـار ولـي
رهـي پـر خـنـگ د اغـيار    كوې د قتل گذار
د خـان پـه وينـو دي كـړم سـور لكـه انـار ولـي    گـرخـم كـنـار ولـي
د زيـبا مـخ پـر گلـباغ    دي كي باغوان رقيب زاغ
لـه هـري خـوا اخلـي بلـبل پـر خيگر خار ولي    گـرخـم كـنـار ولـي
گلـزار د زلفـو سـنبل    دي په نصيب كي د بل
پـه تهمـتو دي كـړ بدنـام عـبدالغفار ولـي    گـرخـم كـنـار ولـي

# ملائكي

كه مړ درپسې نه يم ژوندى هم نه يم چنداني
و داسـې ځكندن ته ملايكي دي حيراني

پـه شـپه د هجـر، يـم زيړبدلـې    د غـم پـه تـال كـي يـم، زنگ دلـې
لاري د وصـل اوس راتـه گرانـي
ولـي وچ نـه سـوې د سـترگو آبـه    پـه سـپينه ږيـره دي كـړم بې آبـه
د رقيـب سـترگي دي وي روښـاني
چاودلـې سـتونى باطـن تناكـي    ځـنگه كـړم اوښـكي د سـترگو پاكي
ايـنـدې د زهـرو، نـه دي اسـاني
د اجـل تـېغه راوړه تشـريفه    بريالـي خـلاص كـړه لـه دې تكليفه
پـه مـرگ سـميږي د ژونـدون وراني

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# لينډۍ

جفـا خـوی لا ابالـي دلـبر بـيا ګرځـي خيالـي
زمـا د غـم پـه بـد فالـي کـړي لـه قصده خوشحالي

د عـرفان لـه سـازو سـوزه فکري ناست يم شب وروزه
د مهـو شـو لـه نـوروزه امـيد واريـم دل افـروزه
تـن پرسـته عـيش مـيٰ ولاړی سـوم لبـندی يـا هلالـی جفـا خـوی لا ابالـي

تذکـرې د کـم تدبـير دي چـې دي بياکتل خير خير دي
اشـارې دي د سـرير دي دا خـيالونه د امـير دي
مـبارک دي سـه خوشـبخته خـوش صـفت خـوش خصـالي جفـا خـوی لا ابالـي

دا د کـوم بې پـروا پـور دی چې مي کل وجود په شور دی
زمـا د زړه پـر سر بې کور دی لـه هيبته چې سور اور دی
آب و تـاب د بـدن ولاړی سـوم بـبواکه حمالـي جفـا خـوی لا ابالـي

بهـره مـن عـبدالغفـار يـم د فـتوا پـه ګـير وُدار يـم
کـه هـر خو وربت په انګار يم لـه تاوانـه څـه کـنار يـم
ګمـنا مـي اسـتراحت دی خوښـوم بې کمالـي جفـا خـوی لا ابالـي

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# مسلماني

افسوس چي هرڅه وکړمه لـه درده ګرياني
دلـدار رابـاندي نلـري هرګزمهربانـــي

کـه ورکـړم وسـاقي تـه سرومال ودل تمـام    بهـــا د يـــوه جـــام

هـنوز پـر دې سربېره لا ځان بولي تاواني
دلـدار رابـاندي نـه لـري هرګـز مهرباني

جانـان چـي ځان تيارکي په لباس کي د رحمت    د مهـــــر و قرابــــــت

غمـاز ظالم وريښنه کړي له قصده پښېماني
دلـدار رابـاندي نلـري هرګـز مهربانـــي

شـل قولـه د تـوبې را سـره جوړ کي سلامت    بـيا نـور وايـي تهمـت

هـيڅ نه ده په باور د سپي رقيب مسلماني
دلـدار رابـاندي نلـري هرګـز مهربانـــي

بې ځايـه تـر خولـه نـه وزي دردونـه د پرهار    زمـــا عـــبدالغفـــار

را اينبـي بې پـر زړه دي زر داغونه نښاني
دلـدار رابـاندي نلـري هرګـز مهربانـــي

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# اضطراب

ستا بې لیدو مي حال خراب دی زما روح جاني بې تـا مـي ژونـد پـه مرگ حساب دی زما روح جاني
عشق مي په زړه کي بل څراغ دی دود مي تر سر هـره ورځ نـوی نوی داغ دی غوځ مي ځیگر
هجـر مي ورځ خوړ. وُخواب دی زما روح جاني ستا بې لـیدو مي حال خراب دی زما روح جاني
لـه هـري خوا یې را حصار کړم ستا د شونډو ناز لکـه کوتـره هسـي ښکار کړم ستا د سترگو باز
آخـر نفـس د اضـطراب دی زمـا روح جانـي ستا بې لـیدو مي حال خراب دی زما روح جاني
چاودلـی زړه درپسـې ژړام ورک مـي سـو آرام د خـیگرخون پـه خـورک ویـاړم تـا کړمه ناکام
بسته زیاتـي مـي کلـه تـاب دی زما روح جاني ستا بې لـیدو مي حال خراب دی زما روح جاني
عبدالغفار درتـه رنځـور یـم سـوم لکـه فـرهاد په سر، وبال درباندي چور یم وا مي وره فریاد
لږ مرحمت کړه سخت عذاب دی زما روح جاني ستا بې لـیدو مي حال خراب دی زما روح جاني

# سپی رقیب

قـد صـنوبر لـب شـکر مـخ زیـبا یې
یـــاره دلـــداره ســـر و، یکـــتا یې

بـل چي دي اور د نظر کی د خیاله بـیا لبونـی پتـڼ باسـې د حالــه
مسـت بې پـروا گرځي شوخ کبریا یې

شربت په لاس د ساقي پر څنگ ښوري اخـلي خمـار خمـاري مـلال گوري
گـوره پسـې بـیا پـه قـتل د چـا یې

مـه وړه شـراب سـپي رقیب ته دلبره زاغ د عسـلو پـه خونـد، نـا خـبره
دا عـرض مي واوره که دوست زما یې

خـان تـه سـي تـبر کړه لیري کنار یم نـوم کـه مـي غـواړي عبدالغفار یـم
ســائل ولاړ یـــم کـــه جـــواب وایې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# حوضِ کوثر

سرې سترګې خونکارې، بنګالې زلفې لښکر لرې      حکم د کسرا او سکندر لرې

• • •

حسن دې تر لمر دی زیات      ورې درڅه هرګل زکات
ډېر درته حیران یم سرداري زېب و زېور لرې      حکم د کسرا او سکندر لرې

• • •

تور کاکل پر سپین اوربل      اور کړې پر خوارانو بل
یو وار مهربان سه سپینه خوله حوض کوثر لرې      حکم د کسرا او سکندر لرې

• • •

ستا د خال وخط صفت      نسته د هیچا طاقت
څه چې ستایل کېږي تر هغه مقام اکبر لرې      حکم د کسرا او سکندر لرې

• • •

کړمه د هجران طاعون      زه عبدالغفار زبون
لیرې غمازان کړه که پر ما غریب نظر لرې      حکم د کسرا او سکندر لرې

• • •

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# ښاغلی

مـالک اختیاره رامعاف کړه یو وار باغ د سینې پـه ناسـوري زهـرو آلـود لرمه داغ د سینې
درد و فغـان په تحفه وړم د عرصات پر میدان د سناري اوښکو په آب مي تپلي تپلي ګرېوان
پـه تـش نظـر دي قـبلومه د کونیـنو تاوان آب حـیات یې تاثـیري کی په ایاغ د سینې
منصب د مینـې مي رسوا په بداهت ګټلی دوږخ د هجـر مـي هـنوز پـه سعادت ګټلی
د زړه ګلشن مي دی ګلرخ په نزاکت ګټلی د ګلـو بوټـي پـه مـنګل پټوي زاغ د سینې
ملک الموت یې لـه هیبته غلې غلې ګرځي قدم بوسي ته یې سرکښته هر ښاغلی ګرځي
لـه انتظاره یې نسرین خیګر داغلی ګرځي دم د صحبت یې سرمدي غـواړي فراغ د سینې
ښـه دی چې زهر د ایاس په جام خوري عبدالغفار ددې زقـوم پـه حلول پای به ومري عبدالغفار
پـه لـوی لاس سرور کی بهٔ خوله د زمري عبدالغفار
وتاریکـې تـه د برزخ بهٔ وړم څراغ د سینې

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د پښتورګو سوز

مه کوه پرسانه روی د ذوالجلال دی

پرې مې رده چې ژاړم پر ما سوي دي ظلمونه ډېر مې ارمانونه
تېت مې سو حیاته ولاړ سم کومې خوا ته عرض وکړم و چاته

* * *

ډېر سو اضطراب یازلزله ده له آسمانه مه کوه پرسانه
جان په خون پشان لباس کې د رقیب لاس په لاس خوله یې شکرنی ګیلاس
وروخې یې خنجر د زړه مرغه مې په حلال دی روی د ذوالجلال دی

* * *

داغ مې زبردسته سو واري یې پیوسته سو یار مې خود پرسته سو
راغله د هجران د مملکت څخه فوجونه ډېر مې ارمانونه

* * *

عمر مې برهم په دار ګرخمه ابتر کنار نه یم په ژوندو شمار
دا کاني په ما وکړې رقیب نا مسلمانه مه کوه پرسانه
هر دښمن دیرینه یخه کره په ما اینه رنګ مې په خونبار سینه
کله په دنیا کې پر بل چا دغسې حال دی روی د ذوالجلال دی

* * *

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



کـاندي غمـازان طـرب     گـوري پـه غضـب غضـب     لاس کـي يې دفـتر عجـب
زمـا د مـرگ فـرمان دی بـاندي ويې کـړه دسـتخطونه     ډېـــر مـــي ارمانونـــه

• • • • •

رنـگ پـه رنگه سخت عذاب     دی ليکلـي زمـا پـه بـاب     نـوی سـويوم الحسـاب
ناســت لکــه عاصــي پــر حشــرگاه حــک حــيرانه     مـــه کــــوه پرســـانه

• • •

ســوي غلــبلې نــارې     تــېزي فــولادي ارې     درختـه مـي دزړه پـه پرې
پـروت مـي د خـيگر پـه مـناره کـي عشـق بـلال دی     روی د ذوالجـــلال دی

• • •

تاراکــي ســبق د شــور     تاکــړمه ســوزان پــه اور     تـه مـي يې د غـم غمخـور
کـړم بـه سـتا د لاسـه خـه' پـرتا بـاندي عرضـونه     ډېـــر مـــي ارمانونـــه

• • •

زړه چـې مـي پر ژړگو دی     ســوز د پښــتورگو دی     پـښې د خـپلو سترگو دی
کـــيږي د عـــبدالغفار گـــيله د خـــپله خانـــه     مـــه کـــوه پرســـانه

• • •

حـال مي د هاروت په شان     قـيد راتـه د سر وښـتان     کـيږي پـه مـا امـتحان
تـپ مـي د ناسـور لکـه ريـدي پـر خـيگر خـال دی     روی دذوالجـــلال دی

• • •

جـوش مي د فـرياد غـزل     باســي تــر دهــن ويــل     اور پرگــــربوانه پاشــــل
وزي مـي د خـولې خـه د پاخـه خـيگر دودونـه     ډېـــر مـــي ارمانونـــه

• • •

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د عشق د مدرسې متعلم

چې غضب دې تیغ په لاس گرځي قصاب ته حاجت نسته
د کاکل په لومه بند یم و تناب ته حاجت نسته

رنگارنگ جفاوي جوړ ساز وصحبت دی
چې مې رغ په ژړا خیژي و رباب ته حاجت نسته

ستا د عشق د مدرسې متعلم یم
تصور دې را سره دی و کتاب ته حاجت نسته

د هجران د میخانې شراب مې نوش کړه
د خیگر په وینو پایم و کباب ته حاجت نسته

د گلرخ په بنده گۍ چې ایمان تېر کړم
مجازات مې دغه بس دي نور ثواب ته حاجت نسته

قتلوې مې په بل چا نگاره ولې؟
د مېړي د مرگ دپاره و اسباب ته حاجت نسته

بریالیه په سکوت یې قلعه بویه
چې سوال صرف غلط وي و جواب ته حاجت نه سته

پای

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

چي پرسد سري سرمسته ديوانه کي
داتاثير دی د ساقي په پيمانه کي

لندي زلفي توري شپې مخ يې بهار دی
شپې وي لندي د بهار په زمانه کي

چي قسمت يې د شرابو وي کم سوی
بدبختي ورولي خوب په پيمانه کي

حبشي زلفي يې شپول پر لالو شوندو
افي مار وهي کلچه په خزانه کي

شاپېريو بازار پرېښووی له شرمه
چي شروع کی گل سنگار په پس خانه کي

بريالیه په هجران کي وصل غواړه
پيداکيږي مدام گنج په ويرانه کي

بريالی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar